# نجم القرآن

## د قرآن کریم اسانه ترجمه او تفسیر



ډاکټر محمد عثمان نظامی

سپاره نمبر 14

# سورة الحجر

بسم الله الرحمن الرحيم

الٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ وَقُرۡءَانٖ مُّبِينٖ (1)

الٓرۚ دا د حروفو مقطعاتو څخه دي،مطلب او معنى يې يوازې الله تعالى ته معلومه ده تِلۡكَ دا ءَايَٰتُ آياتونه دي ٱلۡكِتَٰبِ د الكتب وَ او قُرۡءَانٖ د قرآن مُّبِينٖ روښانه (1)

الٓرۚ دا د حروفو مقطعاتو څخه دي،معنى يې يوازې الله تعالى ته معلومه ده

تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ وَقُرۡءَانٖ مُّبِينٖ (1) دا د لوح محفوظ (او د لوح محفوظ څخه د نازل شوي) روښانه قرآن آياتونه دي.(دا مبارک آيت د قرآن او د قرآن د آياتونو سرچينه او عظمت ښيې،يعنې د انسان پواسطه نه دې جوړ شوي،بلکې د لوح محفوظ څخه د جبريل عليه السلام پواسطه په محمد«صلى الله عليه وسلم» باندې نازل شوي دي).

رُّبَمَا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡ كَانُواْ مُسۡلِمِينَ (2)

رُّبَمَا ډېر ځله يَوَدُّ به ارزو کوي ٱلَّذِينَ هغه خلک
كَفَرُواْ چي کفر یي کړی لَوۡ کاش كَانُواْ چې:وای
هغوی مُسۡلِمِينَ مسلمانان. (2)

رُّبَمَا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ډېر ځله به کافران ارزو کوي(يعنې په ډېرو ځايونو کې به کافران ارمان کوي!) لَوۡ كَانُواْ مُسۡلِمِينَ چې کاشکې دوی(هم) مسلمانان وای(کله چې د مرګ په وخت کې د عذاب فريښتې وګورې،په قبر کې:کله چې د عذاب نښې ووينې،د قيامت په ورځ چې د مؤمنانو نجات او د کافرانو عذاب وګورې،کله چې:مسلمانان د جنت خوا ته روان شي نو دوی به ووايې چې کاش چې مونږ هم مسلمانان وای،او کله چې ګنهګار مسلمانان د څه وخت نه وروسته الله تعالی د دوزخ څخه وباسي،نو دوی به وايې چې کاش چې مونږ هم مسلمانان وو،چې يو وخت د اور څخه وتلای وای.)
(2)

ذَرۡهُمۡ يَأۡكُلُواْ وَيَتَمَتَّعُواْ وَيُلۡهِهِمُ ٱلۡأَمَلُۖ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ (3)

ذَرۡ ته پريږده هُمۡ هغوی يَأۡكُلُواْ چې وخوري
وَيَتَمَتَّعُواْ او خوندونه(او مزې) وکړي وَيُلۡهِهِمُ او غافل

يې کړي ٱلۡأَمَلُۖ اوږده امیدونه فَسَوۡفَ خو ډېر زر به
يَعۡلَمُونَ دوی پوه شي (3)

که مشريکان او کفار د واضحه دلايلو او نښو سره بيا هم د
قران او ايمان دعوت ردوې،نو !

ذَرۡهُمۡ هغوی پرېږده يَأۡكُلُواْ چې دوی وخوري
وَيَتَمَتَّعُواْ او خوندونه (او مزې)وکړي وَيُلۡهِهِمُ ٱلۡأَمَلُۖ
او(اوږده اوږده) اميدونه يې غافله کړي (د آخرت څخه)
فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ خو ډېر زر به پوه شي (3)(يعني که کافرانو
د قرآن د روښانه دلايلو او معجزو سره سره بيا هم د قرآن او
ايمان دعوت رد کړو،او ايمان نه راوړي،نو ته مه خفه کيږه
چې ولې ايمان نه راوړي؟تا خپل مسؤليت سر ته ورسولو،ته
د چا د زړه دروازې نشي خلاصولای،نو يې پرېږده،چې
خوري او څکې،خوندونه او مزې کوي،او د دنيا اوږدې
اوږدې خيالي ارزوګانې يې د خپل رب او آخرت څخه په
غفلت کې کړي،خو ډېر زر به په حقيقت پوه شي،کله چې د
مرګ فريښتې په سترګو وګورې،کله چې د خرورونو خاورو
لاندې شي،کله چې د قبرونو څخه راپورته شي او د حشر
ميدان ته د حساب دپاره لاړ شي،نو پخپله به يې عقل سر ته

راشي او په هر څه به ډېر ښه پوه شي،خو ډېر به ناوخته وي.)

وَمَآ أَهۡلَكۡنَا مِن قَرۡيَةٍ إِلَّا وَلَهَا كِتَابٞ مَّعۡلُومٞ (4)

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَ | او | مَآ | نه دی | أَهۡلَكۡنَا | هلاک کړی مونږ مِن |
| هيڅ | قَرۡيَةٍ | يو کلی | إِلَّا | مګر(هر کلی چې هلاک | |
| کيږي) | وَلَهَا | د هغه دپاره | كِتَابٞ | يو تقدير وي | |
| مَّعۡلُومٞ | معلوم . (4) | | | | |

وَمَآ أَهۡلَكۡنَا او مونږ نه دي هلاک کړي مِن قَرۡيَةٍ
(اوسيدونکي) د هيڅ يو کلي إِلَّا مګر(د هر کلي
اوسيدونکي چې هلاک کيږي) وَلَهَا د هغوی دپاره
كِتَابٞ مَّعۡلُومٞ يو معلوم تقدير وي (چې د الله تعالی د علم څخه
په لوح محفوظ کې داسې ليکل شوي وي،چې:د فلانکي کلي
خلک به په خپل اختيار داسې عملونه وکړي،چې د هغې په
سبب به د عذاب او هلاکت مستحق شي،او په فلان وخت کې
به د الله تعالی په عذاب باندې هلاک شي) (4)

مَّا تَسۡبِقُ مِنۡ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ (5)

| |
|---|
| مَّا تَسۡبِقُ مخکې د منځه نه ځي (نه ختميږي) مِنۡ هيڅ أُمَّةٍ يو امت أَجَلَهَا د خپل تا کلي وخت څخه وَ او مَا نه يَسۡتَـٔۡخِرُونَ وروسته کيږي. (5) |

مَّا تَسۡبِقُ مِنۡ أُمَّةٍ أَجَلَهَا هيڅ يو امت د خپل مقرر وخت څخه مخکې د منځه نه ځي وَمَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ او نه(د خپل مقرر وخت څخه) وروسته پاتې کيداى شي.( يعنې يو ملت يا قوم په لوح محفوظ کې د تقدير د ليکل شوي نيټې څخه مخکې نه د منځه ځي،او نه وروسته پاتې کيداى شي.بايد واضح شي چې تقدير د الله تعالى د علم څخه ليکل شوى دى،يعني دا د الله تعالى په علم کې دي چې فلان امت يا قوم به پخپله خوښه او اختيار سره داسې اعمال وکړي،چې د هغې په سبب به په فلان وخت کې پرې عذاب راشي،او ختم به شي.) (5)

وَقَالُواْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِي نُزِّلَ عَلَيۡهِ ٱلذِّكۡرُ إِنَّكَ لَمَجۡنُونٞ (6)

وَ او قَالُواْ هغوی وويل(کافرانو ويل) يَٰأَيُّهَا ٱلَّذِي
ای هغه سړيه نُزِّلَ چې نازل شوی عَلَيۡهِ په هغه
باندې ٱلذِّكۡرُ قرآن (يعنې چې په تاباندې قرآن نازل
شوی دی) إِنَّكَ بېشکه ته لَمَجۡنُونٞ (نعوذبالله)
خامخا ليونی يې. (6)

وَقَالُواْ او(کافرانو رسول الله «صلی الله عليه وسلم ته) وويل
يَٰأَيُّهَا ٱلَّذِي نُزِّلَ عَلَيۡهِ ٱلذِّكۡرُ ای هغه سړيه چې په تا
باندې قرآن نازل شوی دی إِنَّكَ لَمَجۡنُونٞ بېشکه ته
خو(نعوذبالله) ليونی يې (د يوې خوا نه اعتراف کوې،چې په
تا قران نازل شوی،او بيا د مخالفت او ضد په سبب په
تمسخر سره وايې چې،نعوذبالله ته ليونی يې.دا په هره زمانه
کې د حق ويونکو د دښمنانو طريقه ده:چې دليل ته جواب
نشي ورکولای،نو د شخصيت سپکاوی کوي.) (6)

لَّوۡ مَا تَأۡتِينَا بِٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ (7)

لَّوۡ ولې مَا نه تَأۡتِينَا راولې مونږ ته بِٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ
فرېښتې إِن که كُنتَ يې ته مِنَ د ٱلصَّٰدِقِينَ
رېښتيا ويونکو څخه (7)

همدارنګه کافرانو به نبي عليه السلام ته ويل:

لَّوۡ مَا تَأۡتِينَا بِٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ ته ولې مونږ ته فرېښتې نه راولې إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ که ته په رېښتيا پيغمبر يې(چې ستا د نبوت تصديق وکړي.دا د کافرانو عادت دی،کله چې:دليل نه مني،نو د عجيبه شيانو غوښتنه کوي.نن سبا هم ملحدين او شکمن«ايتيپس او ايګناستيک» وايي که دين رېښتيا وي،ولې فرېښتې ښکاره نه راځي؟ ولې مونږ الله تعالی په سترګو نه وينو؟خو منطق دا دی چې ايمان د امتحان په اساس دی،که فرېښتې ښکاره شي،او خلک الله تعالی په سترګو وګوري،نو بيا خو ايمان په زور يعنې جبري کېږي،هيڅ څوک انکار نشي کولای،ازادي،اختيار او امتحان ختميږي.) (7)

مَا نُنَزِّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَمَا كَانُوٓاْ إِذٗا مُّنظَرِينَ (8)

مَا نه نُنَزِّلُ نازلوو مونږ.(نه ښکته کوو مونږ)
ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ فريښتې إِلَّا مګر بِٱلۡحَقِّ د حق
سره(يعنې د وحې يا عذاب سره) وَ او (كه فريښتې
ښکاره شي،نو!) مَا نه كَانُوٓاْ به وي دوى(يعنې
كافران) إِذٗا په هغه وخت كې(چې فريشتې ورته
ښکاره شي) مُّنظَرِينَ مهلت وركول شوي (8)

اللہ تعالی كافرانو ته په ځواب كې فرمايي:

مَا نُنَزِّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ مونږ فريښتې(د دې دپاره) نه نازلوو(چې خلک د ايمان په راوړلو مجبور كړي،ځكه بيا خو د انسان ازادي،اختيار او امتحان ختميږي) إِلَّا مګر(هركله چې فريښتې ښکته كيږي نو!) بِٱلۡحَقِّ د حق سره(ښکته كيږي يعنې يا د وحې د وړلو دپاره، او يا د سزا وركولو دپاره ښکته كيږي،او څه وخت چې انسانانو ته فريښتې ښکاره شي،نور نو د هغوى ازادي،اختيار او امتحان ختميږي،او سمدستي جزا شروع كيږي.) وَمَا كَانُوٓاْ إِذٗا مُّنظَرِينَ او په هغې وخت كې به هغوى يعنې كافرانو ته نور هيڅ مهلت نه وركول كيږي.(لكه په عاديانو،فرعونيانو،او په هره زمانه كې يې خلک په سترګو ګورې كله چې د اللہ تعالی عذاب

راشي،بيا نو پکې مهلت نه
وي،طوفانونه،سيلابونه،زلزلې،وباګاني.....دا ټول د الله تعالی
عذابونه دي،دا چې خلک يې په ځان نه راوړي،او يوازې د
طبيعې افتونو په نوم خبره ختموي،دا نو بيله خبره ده....) (8)

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا ٱلذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ (9)

| |
|---|
| إِنَّا بېشکه مونږ نَحْنُ مونږ(د تاکيد دپاره) نَزَّلْنَا نازل کړی ٱلذِّكْرَ دا قرآن وَ او إِنَّا بېشکه مونږ لَهُۥ د هغه (يعنې قرآن) لَحَٰفِظُونَ خامخا ساتونکې يو. (9) |

<u>الله تعالی فرمايي:</u>

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا ٱلذِّكْرَ بېشکه مونږ پخپله قرآن نازل کړی
دی.

وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ (9) او بېشکه مونږ يې ساتونکې
يوو.(نور آسماني کتابونه لکه تورات او انجيل د خلکو په
لاسونو تحريف شول،ليکن د دشمنانو د کوششونو سره سره
بيا هم الحمد لله قرآنکريم د الله تعالی د وعدې له مخې خوندې

پاتي دی،او څنګه چې د نبي علیه السلام او صحابه کرامو رضی الله عنهم په وخت کې وو،اوس هم په ټوله دنیا کې هو به هو هماغسې دی،یعنې په ټکو،حروفو او حرکاتو کې یې یوه ذره بدلون هم نه دی راغلی)

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ فِي شِيَعِ ٱلۡأَوَّلِينَ (10) وَمَا يَأۡتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ (١١)

| |
|---|
| وَ او (ای محمد«صلی الله علیه وسلم» لَقَدۡ بېشکه أَرۡسَلۡنَا لیږلي دي مونږ (پیغمبران) مِن د قَبۡلِكَ ستا څخه مخکې فِي شِيَعِ ٱلۡأَوَّلِينَ پخوانیو قومونو کې (10) وَ او مَا نه دی يَأۡتِيهِم راغلی هغوی ته مِّن هیڅ رَّسُولٍ یو پیغمبر (داسې چې هغوی وریورې مسخرې نه وې کړې) إِلَّا مګر(هر رسول چې ورته راغلی) كَانُواْ بِهِۦ دوی به د هغه پورې يَسۡتَهۡزِءُونَ مسخرې کولې. (11) |

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ فِي شِيَعِ ٱلۡأَوَّلِينَ (10) (اى محمد«صلى الله عليه وسلم») مونږ ستا نه مخکې هم پخوانیو قومونو ته پیغمبران لیږلي دي.(۱۰)

وَمَا يَأۡتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ (۱۰) او هغوی ته هیڅ یو پیغمبر داسې نه دی راغلی چې هغوی وریورې مسخرې نه وي کړې(یعني هر رسول خپل قوم ته حق بیان کړي،او د واضحه دلایلو او نښو د لیدلو سره یې د شخصي ګټو او نفسي خواهشاتو دپاره د رسولانو دعوت رد کړی،او توقي یې وریورې کړې دي).(۱۰)

كَذَٰلِكَ نَسۡلُكُهُۥ فِي قُلُوبِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ (12) لَا يُؤۡمِنُونَ بِهِۦ وَقَدۡ خَلَتۡ سُنَّةُ ٱلۡأَوَّلِينَ (۱۳)

كَذَٰلِكَ همداسې نَسۡلُكُهُۥ داخلوو(ننباسو) مونږ دا (قرآن) فِي قُلُوبِ په زړونو کې ٱلۡمُجۡرِمِينَ د مجرمانو (12) لَا يُؤۡمِنُونَ ایمان نه راوړي دوی بِهِۦ په دې (قرآن باندې) وَ او قَدۡ ببشکه خَلَتۡ تیره شوې سُنَّةُ دا طریقه(یعني د حق د پیژندلو سره سره د پغمبرانو د دعوت ردول) ٱلۡأَوَّلِينَ د پخوانیو خلکو (۱۳)

كَذَٰلِكَ نَسۡلُكُهُۥ فِي قُلُوبِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ همداسې مونږ. د مجرمانو
په زړونو کې دا(قران) داخلوو(لیکن د حق د پیژندلو سره
سره بیا هم د نفسي خواهشاتو او دنیایي ګټو دپاره) (12) لَا
يُؤۡمِنُونَ بِهِۦ په دې( قرآن) ایمان نه رواړي وَقَدۡ خَلَتۡ سُنَّةُ
ٱلۡأَوَّلِينَ او بېشکه دا طریقه د پخوانیو خلکو (هم) تیره شوي
ده(یعني هغوی ته هم پیغمبرانو حق رسولی وو،خو په حق د
پوهیدلو باوجود یې د دنیایي ګټو او عناد، په خاطر د رسولانو
حق دعوت رد کړی،او د هغوی په خلاف یې د دشمنی اعلان
کړی دی،اوس هم کتابیان او د هرې طبقې خلک ښه
پوهیږي،چې اسلام حق دین دی،او قرآن د الله تعالی حق
آسماني وروستنی کتاب دی،لیکن د دنیا پرستی او عناد په
سبب ایمان نه رواړي) (١٣)

وَلَوۡ فَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَابٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فَظَلُّواْ فِيهِ يَعۡرُجُونَ (14) لَقَالُوٓاْ
إِنَّمَا سُكِّرَتۡ أَبۡصَٰرُنَا بَلۡ نَحۡنُ قَوۡمٞ مَّسۡحُورُونَ (15)

| |
|---|
| وَ او لَوۡ که فَتَحۡنَا خلاصه کړي وه مونږ. |
| عَلَيۡهِم هغوی ته بَابٗا یوه دروازه مِّنَ د ٱلسَّمَآءِ |
| آسمان فَظَلُّواْ او هغوی د ورځې په رڼا کې فِيهِ په |

هغې دروازه کې يَعۡرُجُونَ پورته ختلای (او د الله تعالی د قدرت نښې يې کتلې وی،بیا به يې هم ایمان نه وو راوړی،او) (14) لَقَالُوٓاْ خامخا به يې ویلای وای إِنَّمَا چې بېشکه سُكِّرَتۡ پټې ولړیدلې أَبۡصَٰرُنَا په سترګو زمونږ بَلۡ بلکې نَحۡنُ مونږ قَوۡمٞ مَّسۡحُورُونَ سحر کړئ شوي خلک يو(یعنې په مونږ جادو شوی) (15)

وَلَوۡ فَتَحۡنَا او که مونږ خلاصه کړي وای عَلَيۡهِم هغوی ته (یعنې د رسولانو پورې ټوقې کوونکوو،او ایمان نه راوړنکو کافرانو ته) بَابٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ د آسمان یوه دروازه فَظَلُّواْ فِيهِ يَعۡرُجُونَ او دوی د ورځې په رڼا کې په هغې دروازه کې پورته ختلای (او د الله تعالی د قدرت نښې يې په سترګو هم لیدلې وي،یعنې د دوی د توقع برعکس،چې ګڼې لمر ته په نزدې کیدو سره به رڼا زیاتیږي،ناڅاپه، په سپینه ورځ کې د فضاء په توره تیاره کې داخل شوي وو،نو بیا به يې هم ایمان نه وو راوړی،او د فضاء د تورې تیارې په لیدلو سره به يې:) (14) لَقَالُوٓاْ خامخا ویلای وای إِنَّمَا سُكِّرَتۡ أَبۡصَٰرُنَا چې بېشکه زمونږ په سترګو پټې ولړول

شوي(یعني څه نه وینو) بَلۡ نَحۡنُ قَوۡمٞ مَّسۡحُورُونَ بلکې په مونږ جادو شوی دی(یعني هرې خوا ته به فضا توره تیاره وه،هیڅ به یې نه کتل ،او داسې احساس به یې کولو لکه څوک چې ورته په سترګو پټۍ کیږدي) (15)

د شلمي پيړۍ نه مخکې یو انسان ته هم د دې حقیقت په باره کې معلومات نه ؤو،چې په خارجي فضاء یا سپیس کې تیاره ده.د ۱۹۵۰ کال نه مخکې ساینسدانانو فکر کاوه چه خارجي فضأ یا سپیس به ډیر روښانه او رڼا وي، او عقل هم دا قبلوله چه شاید د ځمکي د نیزدي آسمان یعني اتموسفیر څخه به پاس آسمان یا خارجي فضأ ډیره رڼا او روښانه وي.ځکه چه څومره لمر ته نیزدي کیږي،

کې هغومره باید د لمر رڼا زیاته شي.مګر کله چه په ۱۹۵۰ د ساینسدانو یو ګروپ د ماډرن تیکنالوژي پواسطه د خارجي فضا یا اوټر سپیس خوا ته سفر شروع کړ، هغه وخت چې سپیس کرفټ یا خلایي جهاز د ځمکي څخه ۲۰۰ کېلو میتره پورته سپیس ته داخل شو.نو د ساینسدانانو د توقع سرچپه او برعکس یو ناڅاپه توره تیاره شوه او په سپیسکرفټ یا خلایي جهاز کې موجودو ساینسدانانو داسې احساس وکړ لکه چا چې ورته په سترګو پټۍ کېښودي او سترګی یې پرې پټې کړې.او

دا احساس يې هم وکړ لکه میجک يا جادو چه پرې شوی وي.ځکه دوي فکر کولو چه سپیس کې خو به سپينه رڼا وي مګر د د وي د فکر برعکس توره تیاره وه.( د آیاتونو ترجمه یو ځل بیا: که مونږ هغوی ته د آسمان يوه دروازه خلاصه کړې وای،او هغوی په رڼا ورځ کې په دې(دروازه) کې پورته آسمان ته ختلای .نو دوي به خامخا ویلي وای چې زمونږ په سترګو پټۍ وتړل شوي بلکې په مونږ خو جادو وشو.)

یعني کله چه په رڼا ورځ ځوک د ځمکې د حدودو څخه خارجي فضأ يا سپیس ته داخلیږي، نو هلته ورته هیڅ شی نه ښکاري.یعني خارجی فضأ بالکل توره شپه ده، نو کله چه ځوک یو ناڅاپه د رڼا نه د سپیس یا فضا تورو تیارو ته داخل شي انسان داسي احساس کوي لکه چه ځوک يې په سترګو پټۍ کیږدي .او میجک او جادو پري شوي وي.

قرآن ۱۴۰۰ کاله پخوا فرمايي چه آسمان يا خارجی فضأ تیاره ده.حال دا چه ساينس په ۱۹۵۰ کال کې دا حقیقت کشف کړ.فکر وکړئ چه د نوي تیکنالوجی د کومک څخه په غیر ځنګه ممکنه وه چه ۱۴۰۰ کاله مخکې دي ځوک د سپیس په باره کې داسي معلومات ورکړي؟.

نو دا دي ثبوت دی چې قرآنکریم د الله تعالی کلام دی.او دا
آیت د قرآنکریم علمي معجزه ده.

وَلَقَدۡ جَعَلۡنَا فِي ٱلسَّمَآءِ بُرُوجٗا وَزَيَّنَّٰهَا لِلنَّٰظِرِينَ (16) وَحَفِظۡنَٰهَا
مِن كُلِّ شَيۡطَٰنٖ رَّجِيمٍ (17) إِلَّا مَنِ ٱسۡتَرَقَ ٱلسَّمۡعَ فَأَتۡبَعَهُۥ شِهَابٞ
مُّبِينٞ (18)

وَلَقَدۡ او بېشکه جَعَلۡنَا جوړ کړي مونږ فِي ٱلسَّمَآءِ
په آسمان کې بُرُوجٗا برجونه وَزَيَّنَّٰهَا او ښایسته
کړی مونږ هغه(آسمان) لِلنَّٰظِرِينَ د کتونکو لپاره
(16) وَحَفِظۡنَٰهَا او محفوظ کړی مونږ هغه (آسمان)
مِن كُلِّ د هر شَيۡطَٰنٖ رَّجِيمٍ رټل شوي شیطان څخه
(17) إِلَّا مګر مَنِ هغه څوک ٱسۡتَرَقَ ٱلسَّمۡعَ چې
په غلا اوریدل وکړي(چې پټ غوږ کیږدي،چې په غلا
واوري) فَأَتۡبَعَهُۥ نو د هغه پسې شِهَابٞ مُّبِينٞ یوه
روښانه لمبه شي(یعني څوک چې په غلا سره هم کومه
پټه خبره واوري،نو یوه روښانه لمبه وریسې شي،او د
منځه یې وړي.د دي څخه په واضحه توګه معلومیږي،چې
دا خبرې غلطې دي،چې ګنې جنیات د غیبو خبرونه
کاهینانو ته راوړي،او هغوی یې بیا خلکو ته وایې.څکه

چې الله تعالی آسمان د شیطانانو څخه مخفوظ کړی،د نبي علیه السلام د بعثت څخه مخکې به کله ناکله شیاطینو د ملائیکو خبرو ته غوږ نیولی شو،مګر د بعثت نه وروسته دا دروازې بندې شوي،اوس هیڅ شیطان د ملائیکو خبرو ته غوږ نشي نیولای،او کوم یو چې هڅه هم وکړي نو د اور لمبې ورپسې کیږی،او وژني یې،او د الله تعالی داسې لمبې نه دي چې مخلوق به ځان ترې بچ کړي. ) (18)

وَٱلۡأَرۡضَ مَدَدۡنَٰهَا وَأَلۡقَيۡنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَيۡءٖ مَّوۡزُونٖ (١٩)

وَٱلۡأَرۡضَ او ځمکه مَدَدۡنَٰهَا هواره کړې مونږ وَأَلۡقَيۡنَا او ایښې دي مونږ فِيهَا په هغې کې رَوَٰسِيَ ټینګ غرونه(سورت لانبیا ۳۱ ایت کې فرمایې:مونږ په ځمکه کې ټینګ غرونه پیدا کړل،چې ونه خوځیږي.او ساینس اوس هم دا خبره کوي چې غرونه د ځمکې د قشر یا پوستکي په ثابت ساتلو کې ډیر مهم رول لري.)

وَأَنۢبَتۡنَا او پیدا کړي دي مونږ فِيهَا په هغې کې مِن كُلِّ شَيۡءٖ د هر شي نه مَّوۡزُونٖ په تاکلي اندازه(یعنې هر

شی الله تعالی په خاص توازن او اندازه سره پیدا کړی دی،نه د ضرورت څخه زیات او نه کم.

دلته داسې یو منظم نظام ته اشاره ده،په کوم کې چې هر څه،یعنې ژوندې او غیرې ژوندې موجودات په یو خاص توازن او اندازه سره د ضرورت په اساس جوړ شوي دي،نه د ضرورت څخه زیات او نه کم.د ټولو تر منځ هماهنګي موجود ده،او یو د بل د فایدې دپاره کار کوي،خو که د دې نظام هر فرد یا برخه توازن د لاسه ورکړي،او په اندازه او کار کې یې د ضرورت نه زیاتی یا کمی راشي،نو ټول نظام متاثره کیږي،او ګډوډي په کې راځې.

دې <u>الهي نظام ته ساینسدانان ایکوسیستم وایي</u>.چې د خاورې،هوا،لمر،نباتاتو،حیواناتو،انسان،بکټریاوو،غرونو،سین دونو،ځنګلونو..........څخه جوړ شوی،دا ټول داسې جوړ شوي او داسې دقیق کار کوي،لکه څومره چې ورته ضرورت دی،او که د ضرورت څخه یې لږ غوندې په اندازه او کار کې زیاتی او کمی راغی،نو په ټول سیستم باندې اثر کوي،او ګډوډي پکې راځې.مثلاً لمر انرجي جوړوي،نباتات د نومړي انرجي نه خواړه جوړوي،حیوانات نباتات خورې او ځینې حیوانات هم خورې،انسان دواړه حیوانات او نباتات

خورې،بکتریا د مړو شوو حیواناتو او نباتاتو جسدونه په خاوره بدلوي،خو که په دې ټولو کې هر یو خپل توازن د لاسه ورکړي،او د ضرورت څخه یې اندازه او کار زیات یا کم شي ،نو ټول سیستم متاثره کوي.مثلاً که لمر توازن دلاسه ورکړي،او د ضرورت نه زیاته انرجي جوړه کړي نو:د ځمکې تودوخه لوړیږي،یخونه او واورې ویلې کیږي، د بحرونو سطحه لوړیږي،زراعتي ځمکې د اوبو لاندې کیږي،وچکالي راځي،نباتات سوځیږي،خواړه کمیږي او د حیواناتو او انسانانو ژوند د ګواښ سره مخامخ کیږي،بلاخره ژوند ناممکن کیږي.

او که لمر د ضرورت څخه کمه انرجي جوړه کړي:نود ځمکې تودوخي کمیږي،نباتات وده نشي کولای،او بلآخره حیوانات او انسانان د خوړو د کمښت او یخنۍ په سبب مري.

که نباتات توازن د لاسه ورکړي،فرضاً که د ضرورت څخه کم شي نو څه به وشي؟ خواړه کمیږي،حیوانات او انسان د لوږي سره مخ کیږي،د اکسیجن تولید کمیږي.تنفسي مشکلات رامنځ ته کیږي......

فرضاً که حیوانات توازن د لاسه ورکړي،او زیات شي،نو څه به وشي؟ نباتات به ډیر زر ختم شي،ځمکه وچیږي،ځنګلونه د

منځه ځي،بیا د حیواناتو ډېر شمیر د خوړو د نشتوالي د امله مري.

که بکټریا توازن د لاسه ورکړي،فرضاً که د ضرورت څه یې اندازه کمه شي نو څه به وشي،ډېر مهم یې دا دی چې د نباتاتو او حیواناتو جسدونه به پراته وي،نه به تجزیه کیږي یعنې په خاوره به نه بدلیږي،او ځمکه به د کثافاتو په ګدام بدله شي..........

که هوا خپل توازن د لاسه ورکړي.فرضاً که اکسیجن د ضرورت نه زیات شي،نو څه به وشي؟ د اور لګیدو خطر به زیات شي،د انسان او حیوان بدن د ډېر اکسیجن زغملو توان نلري،د نسجونو زیان او د بدن توازن ګډوډیږي،

او که اکسیجن کم شي ،نو څه به وشي؟دماغ،زړه او نور غړي د اکسیجن د کمښت سره کار نشي کولای—او د مرګ خطر.

که کاربن ډای اوکساید زیات شي څه به وشي؟ د ځمکې تودوخه به زیاته شي،وچکالي او د اقلیم تغیرات به راشي، د اوبو تیزابیت به زیات شي،د ماهیانو او بحرې موجوداتو ژوند ته به زیان ورسیږي. او که کاربن ډای اوکساید کم شي نو نباتات پوره خواړه نشي جوړولای.......

فکر وکړئ د کوم منظم نظام په باره کې چې قرآن په ۷ مه پیړۍ کې خبر ورکړی،ساینس په ۲۰ مه پیړۍ کې هغه وپېژندلو. (۱۹)

وَجَعَلۡنَا لَكُمۡ فِيهَا مَعَٰيِشَ وَمَن لَّسۡتُمۡ لَهُۥ بِرَٰزِقِينَ (20)

وَجَعَلۡنَا او برابر کړي مونږ لَكُمۡ تاسو ته فِيهَا په ځمکه کې مَعَٰيِشَ د ژوند اسباب او ضرورتونه وَمَن او هغو(مخلوقاتو ته هم مونږ د ژوند اسباب او ضرورتونه برابر کړي دي) لَّسۡتُمۡ چې تاسو نه یئ لَهُۥ هغوی ته بِرَٰزِقِينَ روزي ورکوونکي.(بحري حیوانات،الوتونکي مرغان،ځنګلي حیوانات........) (20)

انسان د ژوند د بقا لپاره انرجي،خوړو،مناسبي تودوخي او رڼا ته ضرورت لري،د دې دپاره الله تعالی د لمر ستوری د ځمکې د سیارې نه په داسې مناسبه فاصله کې ځای په ځای کړی،چې ځمکې ته د ضرورت په اندازه انرجي،رڼا او تودوخه برابروي.

د اوسیدلو دپاره یې ځمکه لکه د فرش پشان هواره کړې ده.

د ژوند د بقا دپاره اوبه ضرور دي،الله تعالی په مناسب مقدار اوبه پیدا کړي.همدارنګه پرته د هوا څخه ژوند نه کیږي،نو الله تعالی بالکل د ضروت مطابق هوا جوړه کړې ده،یعني د

اکسیجن او کاربډای اوکساید اندازه پکې همدومره ده ،څومره چې انسان زغملای شي،او ضرورت يې وي.

انسان خوړو ته ضرورت لرې،د دې دپاره الله تعالی د نباتاتو په يوه وړه پاڼه کې هم په ميليونونو ميليونونو داسې کارخانې جوړې کړي دي،چې د لمر انرجې،د هوا کاربن ډای اوکسايد،او د ځمکې اوبه استعمالوي،او بهترين خواړه جوړوي،چې په دنيا کې د ټولو خوړو سرچينه همدا ده،او انسانان يې يا په مستقيم ډول لکه د سبزيجاتو يا ميوو دانو په شکل خورې او يا يې په غيرې مستقيم ډول يعنې د غوښو په شکل خورې،همدارنګه انسان ضرورت لرې چې ماحول پاک وي،د دې لپاره الله تعالی بکټريا پيداکړي چې د حيواناتو اونباتاتو مړه جسدونه بيرته په خاوره بدل کړي،او که دا بکټريا نه وای نو ځمکه به د کثافاتو په ګُدام بدله شوي وه،مرضونه،افتونه او بد بويې به دومره زيات شوي وو چې ژوند به ناممکن شوی وو،همدارنګه..................

وَإِن او نشتته مِّن شَيْءٍ هيڅ يو شی إِلَّا پرته د دې
عِندَنَا چې زمونږ سره خَزَآئِنُهُ د هغه خزانه وي
وَمَا نُنَزِّلُهُ او مونږ نه نازلوو هغه (او مونږ نه ښکته کوو
هغه) إِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ مګر په معلومه اندازه (یعنې څومره
چې ورته ضرورت وي ،نه زیات نه کم) (21)

مطلب دا چې:رزق،نعمتونه،طبیعي قوانین، ټول یوازې د الله تعالی په قدرت او اختیار کې دي،او هر شی په یوه ټاکلي اندازه جوړوي،دا په دې معنی چې د دنیا نظام هسې تصادفي نه دی،بلکې د لویو کهکشانونو څخه تر اتوم او الکترون پورې،هوا،بحرونه،جمادات،حیوانات،انسانان،طبیعې قوانین........په دوامداره توګه ټول د الله تعالی د حساب او کنټرول لاندې دي،هغه «جلا جلاله» دی چې په هوا کې د اکسجن او کاربن ډای اوکساید اندازه کنټرولوي، هغه«ج» دی چې د لمر پواسطه د انرژۍ جوړیدل کنټرولوي،هغه «ج» دی چې،د شنو نباتاتو په واسطه د رزق جوړیدل کنټرولوي،هغه«ج» د طبیعې قوانینو جوړونکی او کنټرولونکی دی،هغه«ج»...............او د دې هر شي اندازه دومره دقیقه ده، که نعوذ بالله د الله تعالی کنټرول نه وای،او تصادف وای،نو د هر یو شي په ډیر کم تغیر د ډیر کم وخت دپاره به ژوند او حتی کائنات ختم شوي وو، د مثال

په ډول که جاذبه یا ګرایویټي د خپل ثابت حالت څخه کمه شوي وای،نو ستوري او سیارې به نورې نه جوړیدلای،او جوړې سیارې او ستوري یعني ځمکه،لمر.......به له منځه تلي وو.او که جاذبه زیاته شي،کائنات به ډېر ژر سقوط وکړي.

که د اکسیجن او کاربن ډای اوکساید جوړیدل او مصرف کیدل او په هوا کې یې اندازه دقیقه کنټرول نشي،د زیاتیدو او کمیدو په صورت کې،په دواړو حالتونو کې ژوند د منځه تلو..................پس د دنیا د نظام په منظمه توګه چلیدل او کنټرولیدل د الله تعالی د وجود، او قدرت نښه ده.

وَأَرۡسَلۡنَا ٱلرِّيَٰحَ لَوَٰقِحَ فَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَسۡقَيۡنَٰكُمُوهُ وَمَآ أَنتُمۡ لَهُۥ بِخَٰزِنِينَ (٢٢)

وَأَرۡسَلۡنَا او لیږو مونږ ٱلرِّيَٰحَ لَوَٰقِحَ بلاربوونکي بادونه فَأَنزَلۡنَا نو نازلوو مونږ مِنَ ٱلسَّمَآءِ د آسمان څخه مَآءٗ اوبه فَأَسۡقَيۡنَٰكُمُوهُ او په تاسو یې څکوو.(دلته د اوبو طبیعې دوراني سیستم ته اشاره ده ،کله چې اوبه د بخار په شکل د آسمان خوا ته جګیږي،د بادونو پواسطه د اوبو واړه واړه زرات سره یو ځای کیږي،وړې وړې داني جوړوي،بیا دا وړي وړې داني سره یوځای کیږي او د اوبو څاڅکي

جوړوي،دا په دې معنی چې بادونه وریځې سره یو ځای کوي، ثاڅکي جوړوي،اوباران کیږي، د باران اوبه څه په غرونو باندې د واورې په شکل ذخیره کیږي او څه په ځمکه کې ذخیره کیږي،او څه بحرونو ته ځي،د واورې ذخیري ویلي کیږي،سیندونه جوړوي،او انسان ترې استفاده کوي،د ځمکې د ذخیره شوو اوبو څخه انسان د چینو د اوبو په شکل استفاده کوي،او داعمل په دوامدار ډول جریان لري.

وَمَآ أَنتُمۡ لَهُۥ او تاسو نه یاستئ د دغو«اوبو» بِخَٰزِنِينَ ذخیره کونکې (یعني دا د غرونو په سرونو،په ځمکه او بحرونو کې د اوبو ذخیره کول،او بیا د ضرورت په اندازه تبخیرول،بیا د هغې څخه باران جوړول،او مصرفول،او بلآخره د اوبو عمومې ذخیره په یو حال ساتل،دا نو د انسانانو د وس کار نه دی،یوازې الله تعالی دی چې دا دومره دقیق سیستم یې جوړ کړی او چلوي یې،چې نه په کې یو ثاڅکی زیاتیږي،او نه کمیږي.باید ووایو چې ساینسدانان دې ته د اوبو طبیعې دورانې سیستم یا واټر سایکل وایې.د عصرې واټر سایکل په باره کې د ۱۷ مې پیړۍ څخه مخکې یو ساینسدان هم معلومات نه لرلو،لیکن قرآن په ۷ مه پیړۍ کې د عصرې واټر سایکل په باره کې ۱۰۰٪ صحې معلومات ورکړې دی.

د ښه پوهيدلو او وضاحت دپاره د قرآن په مختلفو آيتونو کې د واټر سايکل يا د اوبو د دوراني سيستم په باره کې معلومات ته توجه وکړئ:

قرآن

(١) د اوبو اندازه او ذخيره کيدل:

وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً بِقَدَرٍ فَأَسْكَنَّاهُ فِي الْأَرْضِ ۖ وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابٍ بِهِ لَقَادِرُونَ

(المؤمنون 18)

موږ له آسمانه په اندازه اوبه نازل کړې، او دا مو په ځمکه کې ځای پر ځای کړې، او که وغواړو هغه لرې کولی شو

ساينس

ساينس وايي چې د ځمکې د اوبو دوران يو متعادل نظام دی: اوبه په ټاکلې اندازه تبخيريږي، وريځې جوړوي، باران کوي او په ځمکه کې زخيره کيږي. د اوبو د اندازې دا توازن د ژوند د دوام لپاره حياتي دی

(٢) د وريځو جوړيدل او د بادونو رول .

قرآن

اللَّهُ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهُ فِي السَّمَاءِ كَيْفَ يَشَاءُ وَيَجْعَلُهُ كِسَفًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَالِهِ

(الروم 48)

اللہ هغه ذات دی چې بادونه لیږي، نو وریځې پورته کوي، او په آسمان کې یې خیروي،او برغند برغند یې ویشي نو ته وینې چې باران یې له منځه راوریږي.

ساینس

اوبه د لمر په تودوخې سره بخار کیږي، په یخېدو سره د وریځو د څاڅکو په شکل سره یوځای کیږي،بیا

بادونه دغه وریځې خیروي او باران ته یې چمتو کوي

(۳) باران:

قرآن:

وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً طَهُورًا. لِنُحْيِيَ بِهِ بَلْدَةً مَيْتًا وَنُسْقِيَهُ مِمَّا خَلَقْنَا أَنْعَامًا وَأَنَاسِيَّ كَثِيرًا

(الفرقان 48-49)

موږ له آسمانه پاکې اوبه نازل کړې، څو مړه ځمکه ژوندۍ کړو او څاروي او ډېر انسانان پرې خړوبه کړو

سابنس

کله چې وريځې درنې شي، د جاذبې قوې له امله باران، واوره او ږلۍ ځمکې ته راښکته کيږي. دا د ژوند د دوام لپاره د کرنې او ښناک تر ټولو مهمه سرچينه ده

(۴) د سيندونو جريان

قرآن:

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَسَلَكَهُ يَنَابِيعَ فِي الْأَرْضِ (الزمر 21)

ايا ته نه وينې چې الله له آسمانه اوبه نازل کړې، بيا يې د ځمکې په چينو او خوړو کې جاري کړې؟

ساينس:

باراني اوبه د ځمکې د سطحې د لارې د سيندونو،خوړونو او بحرونو په لور بهيږي.

(۵) ځمکې لاندې زخيره کيدل کبدل

قرآن:

فَأَسْكَنَّاهُ فِي الْأَرْضِ

(المؤمنون 18)

او موږ دا اوبه په ځمکه کې زخیره کړې

سائینس

اوبه د خاورې او تیږو په منځ کې ننوځې،او د ځمکې لاندې د اوبو د ذخیرو برخه ګرځې.

نو که د آیتونو تسلسل سم وکړو

المؤمنون 18 → د اوبو اندازه او زخیره کېدل

الروم 48 → د وریځو جوړېدل او د بادونو رول

الفرقان 48-49 → باران

الزمر 21 → د سیندونو جریان

المؤمنون 18 (بیا) → ځمکې لاندی زخیره

دلته په واضح توګه معلومیږي چې:قرآن په ۷ مه پیړی کې د اوبو د طبیعي دوراني سیستم یا واټر سایکل هغه ټولې مرحلې بیان کړې دي،کومې چې نن ساینس په تفصیل سره ثابتوي.

وَإِنَّا لَنَحۡنُ نُحۡيِۦ وَنُمِيتُ وَنَحۡنُ ٱلۡوَٰرِثُونَ (23) وَلَقَدۡ عَلِمۡنَا ٱلۡمُسۡتَقۡدِمِينَ مِنكُمۡ وَلَقَدۡ عَلِمۡنَا ٱلۡمُسۡتَـٔۡخِرِينَ (24) وَإِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحۡشُرُهُمۡۚ إِنَّهُۥ حَكِيمٌ عَلِيمٞ (25)

وَإِنَّا او بېشکه مونږ لَنَحۡنُ همدا مونږ نُحۡيِۦ ژوندي کول کوو وَنُمِيتُ او مړه کول کوو(یعنې ژوند او مرګ صرف د الله تعالی په اختیار کې دی.) وَنَحۡنُ او همدا مونږ ٱلۡوَٰرِثُونَ وارثان یو(یعنې کائنات او په کائناتو کې هرشی یوازې د الله تعالی ملکیت دی) (23) وَلَقَدۡ او بېشکه عَلِمۡنَا معلوم دي مونږ ته ٱلۡمُسۡتَقۡدِمِينَ مِنكُمۡ د ستاسو څخه وړاندې تیر شوي خلک وَلَقَدۡ او بېشکه عَلِمۡنَا معلوم دي مونږ ته ٱلۡمُسۡتَـٔۡخِرِينَ (د ستاسو نه) وروسته راتلونکې خلک (24) وَإِنَّ او بې شکه رَبَّكَ ستا رب هُوَ هم هغه«جل جلاله» يَحۡشُرُهُمۡۚ به راټولوي هغوی(یعنې ټول مخکیني او وروستني یا د اول انسان څخه د اخر انسان پورې به د حشر په میدان کې د حساب دپاره راټول کړي) إِنَّهُۥ بېشکه هغه«جل جلاله» حَكِيمٌ حکیم عَلِيمٞ (او) علیم دی (25)

وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن صَلۡصَٰلٖ مِّنۡ حَمَإٖ مَّسۡنُونٖ (26)

تېکي په ټکي ترجمه:

وَلَقَدۡ او بېشکه خَلَقۡنَا پیدا کړی مونږ ٱلۡإِنسَٰنَ انسان
مِن صَلۡصَٰلٖ د وچې کړنګېدونکي خټې مِّنۡ حَمَإٖ مَّسۡنُونٖ
د تورې بوېناکي خټې نه (26)

ترکیبي ترجمه:

«او بېشکه مونږ پیدا کړی دی انسان د وچې کړنګېدونکې خټې د تورې بویناکه خټې څیني.»

په دې مبارک آیت کې هم د قرآن یو لوی علمي اعجاز ته اشاره ده .

د انسان د تخلیق په باره کې د قرآن په ډېرو آیتونو کې معلومات ذکر شوی دی،خو که په عمومي ډول ټول آیتونه په غور سره وګورو،او د ۲۰ مې او ۲۱ تمې پیړی د ساینسي تحقیقاتو په رڼا کې یې تفسیر کړو، که تعصب او ضد نه وي،نو که هرڅومره کلک ملحد وي،انشاء الله د قرآن او د اسلام په حقانیت او د الله تعالی په وحدانیت به اقرار وکړي،ځکه چې دا معلومات په ۷ پیړۍ کې د انسان د سویې څخه ډېر لوړ وو،حتی د ۲۰ پیړی څخه مخکې هم د هر انسان دپاره ناممکن وو،راځۍ:چې په ۷ مه پیړۍ کې قرآنې

معلومات او د ۲۰ مې او ۲۱ تمې پیړۍ ساینسي تحقیق ته په غور سره توجه وکړئ !

(۱)

قرآن فرمايي:

أَكَفَرۡتَ بِٱلَّذِي خَلَقَكَ مِن تُرَابٖ-الكهف ۳۷

ترجمه: (آيا ته په هغه ذات کافر کيږي،چې هغه«جل جلاله» ته د خاورې څخه پيدا کړئ يې)

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنۡ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٖ -الروم ۲۰

ترجمه: (د هغه«جل جلاله» د نښانو څخه يوه دا ده چې تاسو يې د خاورې څخه پيدا کړې ياستئ)

(۱) ساینس وايي:

انسان د هغو عناصرو څخه جوړ شوی دی،کوم چې په خاوره کې شته دي.

**************************************************

(۲) قرآن فرمايي:

چې انسان د خاورې د ټولو زراتو څخه نه دی جوړ شوی،بلکی د یو څه خاص انتخاب شوو زراتو نه جوړ شوی دی.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٍ مِّن طِينٍ -المؤمنون ١٢

ترجمه:بېشکه مونږ انسان د ختې د جوهر یا عصارې څخه پیدا کړ.(یعنې د خاورې ټول مواد نه،بلکې یوازې هغه ځانګړي عناصر چې د ژوند دپاره ضروري دي)

(٢) ساینس هم وایي:

چې انسان په خاوره کې د موجود ټولو(٩٢) طبیعي عناصرو څخه نه دی جوړ،بلکې یوازې د هغو عناصرو څخه جوړ شوی چې د ژوند دپاره ضروري دي، شمیر یې د ٢٧ څخه تر ٣٠ پورې رسیږي،چې هر یو یې په مختلفو اندازو سره د انسان په جوړښت کې برخه اخلي لکه هایدروجن،اکسیجن،کاربن،نایتروجن،کلورین،سودیم،پوتاشم، کلسیم............

---

قرآن فرمایي:

(٣) د خاورې څخه نومورې غوره شوي مره زرات یا عناصر یا د خاورې جوهر چې د میوو ترکارۍ او غوښنو د

لارې د انسان بدن ته داخلیږي،هلته په یو محفوظ ځای کې په ژوندۍ نطفة بدلیږي.آیت ته توجه وکړئ!

ثُمَّ جَعَلْنَٰهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَّكِينٍ-المؤمنون ١٣

ترجمه:بیا مونږ هغه(سلالة من طین، یا د ختې، یا د اوبو او خاورې جوهر )نطفة کړه په یو محفوظ ځای کې.(یعني د نارینه جنسي ځاځکی چې په سوونو میلیونونه سپرمونه لرې مو ترې جوړ کړو.)

بیا کله چې دا نطفة(یعني د نر جنسي ځاځکی) د مور رحم کې وڅخول شي،قرآن فرمایي:

وَأَنَّهُۥ خَلَقَ ٱلزَّوْجَيْنِ
ٱلذَّكَرَ وَٱلْأُنثَىٰ (٤٥)
مِن نُّطْفَةٍ إِذَا تُمْنَىٰ (٤٦)

ترجمه:او دا چې:هغه «جل جلاله» د نطفې «یعني د نارینه د جنسي ځاځکې» څخه د نر او ښځې جوړې پیدا کړې،کله چې په رحم کې وڅخول شي.(یعني د هلک او جلۍ جوړیدل د پلار

د نطفې پورې اړه لري،نه د مور د هګۍ پورې،ځکه چې په رحم کې صرف د پلار نطفة ښځول کيږي.)

سایینس هم وایې:

(۳) د خاورې ښخه نومړي غوره شوي(۲۷-۳۰) مړه زرات یا عناصر د میوو ترکارۍ او غوښو د لارې د انسان بدن ته داخليږي،هلته د نارینه د تناسلي سیستم پواسطه تري ژوندۍ نطفة(یا نارینه جنسې ښاڅکی) جوړيږي،چې په هره نطفة یا نارینه جنسې ښاڅکي کې په سوونو میلیونونه سپرمونه وي،سپرمونه دوه قِسمه دي: یو د (ایکس) کروموزوم لرونکي،او بل د (وای)کروموزوم لرونکي وي،نو کله چې دا ښاڅکی یا نطفة په رحم کې وښځول شي،دا په سوونو میلیونونه سپرمونه سره مقابله کوي،چې د مور هګۍ یا اوم ته ورسيږي،خو مقابله صرف یو سپرم ګټي،او د ټولو سوونو میلیونونو سپرمونو یا نطفې په نمایندګی همدا یو ګټونکی سپرم هګۍ ته ورننوځي،نو ځکه د دې نه وروسته ورته نطفة امشاج(مخلوطه نطفة) یا زایګوټ وایې.اوس راځو دې خبرې ته! که چیرته مسابقه ګټونکی سپرم د «ایکس»د کروموزوم سره هګۍ یا اوم ته داخل شوی وي،نو جوړیدونکی ماشوم به جلۍ وي،او که مسابقه ګټونکی سپرم د

«وای» د کروموزوم سره هګۍ ته داخل شوی وي،نو جوړیدونکی ماشوم به هلک وي.

****************************************************

(۴) قرآن فرمايي:

إِنَّا خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن نُّطۡفَةٍ أَمۡشَاجٍ-الدهر(۲)

ترجمه:بېشکه مونږ انسان د يوې مخلوطې نطفې څخه پيدا کړ.يعني کله چې د نارينه نطفه رحم کې وڅخول شي،او د مور د هګۍ سره يو ځای شي،دې ته نطفة امشاج (القاح شوي هګۍ،يا زايګوټ) وايې،چې همدا نطفة امشاج(القاح شوي هګۍ يا زايګوټ) د يو ښځينه يا نارينه ماشوم ابتدايي شکل دی،چې وروسته د څو مرحلو څخه په يو کامل انسان بدليږي.د نطفة امشاج دا شکل لکه د تازه،بې بويه،نرمې ختې پشان وي،چه د خاورې د جوهر او اوبو څخه جوړه شوي وي،نو ځکه قرآن د نطفة امشاج دې مرحلې ته «طين» وايې.آيت ته توجه وکړئ!

وَبَدَأَ خَلۡقَ ٱلۡإِنسَٰنِ مِن طِينٍ-سورة السجده (۷)

ترجمه:او د انسان د جوړښت شروع يې د ختې څخه کړی.(يعني د نطفة امشاج يا زايګوټ مواد هم په اول وخت کې لکه د تازه بې بويه نرمې ختې غوندې وی،)

(۴) ساينس وايې:

کله چې سپرم د مور هګۍ یا اوم ته داخل شي،خپل سینګل ډي این ای د هګۍ د سینګل ډي این ای سره شریکوي او یو ډبل او مکمل ډی این ای جوړوي،په کوم کې چې د جوړیدونکې انسان ټوله نقشه او تقدیر لیکل شوی دی،چې د همدې نقشې او تقدیر مطابق د مور په رحم کې جوړیږي،جنس،رنګ،قد، عادتونه سترګې..........ټول د مرګ پورې دهمدې نقشې یا د ډی این ای د هدایت مطابق جوړیږي،دغه کومه لومړنۍ حجره چې جوړیږي ،دې ته زایګوټ ( القاح شوي حجره «هګۍ» یا نطفة امشاج) وایي.زایګوټ په حقیقت کې د یو نر یا ښځې هغه لومړنۍ حجره ده،چې د څو مرحلو څخه وروسته په یو مکمل انسان بدلیږي. زایګوټ په فزیکي لحاظ لکه د نرمې،تازه او بې بویه خټې غوندې ښکاري،شکل یې ګرد او یو پوښ یا قشر ترې تاو وی،نو ځکه قرآن دا مرحله د«طین»یعنې تازه، بې بویه او نرمې خټې په نوم یادوې، زایګوټ هم په فزیکي لحاظ په اول وخت کې همداسې وي لکه نرمه،تازه او بې بویه خټه،ځکه چې حجروې تقسیمیدل او د غلظت زیاتوالی یې تقریباً د ۲۴ ساعتو څخه وروسته شروع کیږي.

**************************************************

(۵) قرآن فرمايي:

إِنَّا خَلَقۡنَٰهُم مِّن طِينٖ لَّازِبِۭ ـالصافات ۱۱

ترجمه: بېشکه مونږ دوی د سريښناکې خټې څخه پيدا کړي دي.

(۵) ساينس وايي:

زايګوټ تقريباً د القاح څخه ۲۴ ساعته وروسته په غيرې زوجي توګه تکثر کوي،د يو نه دوه او ۲ نه ۴ او د ۴ څخه ۸ او تقريباً د ۳-۴ ورځو پورې يې شمير د ۱۶-۳۲ پورې رسيږي،ليکن حجم يې نه زياتيږي،بوازې حجرې زياتيږي، ټولې حجرې د خارجې پوښ پواسطه کلکې ساتل کيږي،په نتيجه کې غلظت زياتيږي،حجرات سره نزدې کيږي،او لکه د يوې سريښناکه خټې پشان پاتې کيږي،نو څکه قرآن د زايګوټ يا نطفة امشاج دې مرحلې ته «طين لازب»يا سريښناکه خټه وايې.او ساينس ورته «موررولا» وايې.

**************************************************

(۶) قرآن فرمايي:

وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن صَلۡصَٰلٖ مِّنۡ حَمَإٖ مَّسۡنُونٖ (۲۶)

ترجمه:او بېشکه پيدا کړی مونږ انسان د وچې کړنګيدونکې خټې د تورې بويناکه خټې نه.

(۶)ساینس:

لکه چې وويل شو چې زايګوټ(نطفة امشاج)په اوله مرحله کې چې يوه حجره وي، لکه د نرمۍ،تازه او بې بويه ختې(طين) په شان وي،خو کله يې چې د درې يمې ورځې پورې د حجرو شمير د ۱۶-۳۲ حجرو پورې ورسيږي، نو په فزيکي لحاظ د سريښناکه ختې په شان کيږي،نو ځکه قرآن دې مرحلې ته «طين لازب» او ساينس ورته «موررولا» وايې، بوی کې يې دومره خاص تغير نه راځې ،خو د غلظت د زياتوالي په سبب رنګ يې د زايګوټ د مرحلې څخه يوڅه خړ کيږي.

د حجرو ويش دوام لرې،شمير او غلظت يې زياتيږي،خارجي پوښ يا قشر يې نور هم کلکيږي،مثال يې داسې دی، لکه د چرګې د هګۍ پوښ يا قشر،خو د چرګې د هګۍ پوښ د کلسيم څخه، او د انساني هګۍ پوښ د پروټينو څخه جوړ شوی دی،خو بيا هم کافي کلک دی.په هر ترتيب د ۵ څخه تر ۶ مې ورځې پورې يې د حجراتو شمير تقريباً ۷۰-۱۰۰ پورې رسيږي،چې د پوښ يا قشر پواسطه ساتل کيږي،خو د وخت دتيريدلو،غلظت د زياتوالي او متابوليزم په سبب يې په رنګ او بوی کې تغير راځې،يعني بوی کوې،او د کثافت او

تراکم په سبب د جنین حجرات تور او تیاره ښکارې، او دباندې قشر یا پوښ یې نیمه شفاف سپین او په کافي اندازه کلک وي،بالکل داسې لکه په جلګه یا جبه کې چې د وخت په تیریدلو د خټو رنګ تور اوښتی وي،بوی یې پیدا کړی وي،او د دې تورو بویناکو خټو پاسنی برخه وچه شوي وی،او د کردونې پشان ټنګار(اواز) کوي،نو ځکه قرانکریم دې قشر یا پوښ ته «صلصل» یا کړنګیدونکي وچه خټه وایې،او ترې لاندې تورو بویناکه موادو ته «حماء مسنون» یا بویناکه توره خټه وایې وایې،او ساینس دې قشر یا پوښ ته «زونا پلوسایډا» وایې،او د قشر دننه تورو او تیاره موادو ته د راتلونکي «جنین» حجرې، او دې ټول شکل ته په ګډه «بلاستو سیسټ» وایې.

باید ذکر شي:چې قرآن د انسان د خلقت دپاره بیلابیل تعبیرونه کا رولي:تراب«خاوره» سلالة من طین«د خټې جوهر» نطفة«د نر جنسې ځاڅکی» نطفة امشاج«مخلوطه نطفة» طین«خټه» طین لازب«سریښناکه خټه» صلصال«وچه کړنګیدونکې خټه» حماء مسنون«بویناکه خټه».

په حقیقت کې دا ټول نومونه د انسان د خلقت بیلابیلې مرحلې ښیې، یعني د خاورې د ۹۲ طبیعي عناصرو د جملې څخه صرف ۲۷-۳۰ انتخاب شوي عناصر د انسان په جوړیدلو کې استعمالیږي، چې کله د انسان بدن ته داخل شي، بیا د عناصرو د دې جوهر څخه په محفوظ ځای کې نطفه(یعنې د نارینه جنسې ښاڅکی) جوړیږي چې په سوونو میلیونونه سپرمونه لرې،او بیا څه وخت چې دا نطفه د مور په رحم کې وځځول شي،نو مسابقه یو سپرم ګټي،او د ټولو سپرمونو په نمایده ګۍ صرف یو سپرم د مور هګۍ یا اوم ته ورننوځې،او نطفة امشاج یا زایګوټ جوړیږي،یعنې د نر یا ښځې لومړنۍ حجره یا کارخانه جوړیږي،چې د «ډی این ای» د هدایت په اساس همدا زایګوټ یا نطفة امشاج په یو مکمل انسان بدلیږي،د فزیکې لحاظه زایګوټ د یوې تازه بې بویه او نرمې خټې پشان وي،ځکه قرآن دې مرحلې ته «طین»یا خټه وایې.دا تازه خټه د ۳-۴ ورځو د تیریدلو وروسته د حجراتو د زیاتوالي له امله په سریښناکه خټه بدلیږي،یعنې د مایکرسکوب لاندې فزیکي بڼه یې داسې ښکارې لکه سریښناکه خټه،نو ځکه قرآن دې مرحلې ته «طین لازب» وایې،۵-۶ ورځې وروسته چې حجرات او غلظت یې نور هم زیات شي،د مایکرسکوپ لاندې یې داخلې برخه توره تیاره

او بهر يې يو كلک نيمه شفاف سپين قشر يا پوښ ښكارېږي،همدارنګه داخلي توره برخه بويناكه هم وى،دا په دې معنى چې داخلي برخه يې لكه توره بويناكه ختېه او بهرنۍ برخه يې داسې وي لكه د تورې بويناكې ختې دپاسه چې وچه كړنګېدونكې كلكه ختېه وي ،ځكه قرآن دې مرحلې ته «صلصل من حماءمسنون»يعنې وچه كړنګېدونكې ختېه د تورې بوى ناكه ختې،او ساينس ورته بلاست سيستې وايې.دا نو هغه مرحله ده چې نطفة امشاج يا زايګوټ نور تيار دى(يعنى يو پوخ د كرلو وړ تخم دى)،چې د رحم په ديوال كې ننوځې(يا د رحم په ديوال كې وكرل شي).نور معلومات د همدې سورت د (٢٨) آيت پسې دى!

*****************************************************

وَٱلۡجَآنَّ خَلَقۡنَٰهُ مِن قَبۡلُ مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ (27)

وَٱلۡجَآنَّ او جنات خَلَقۡنَٰهُ پيدا كړي مونږ هغه مِن قَبۡلُ تر دې مخكې مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ د ګرم اور څخه (27)

وَٱلۡجَآنَّ خَلَقۡنَٰهُ مِن قَبۡلُ مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ (27)

او جنات مونږ (د انسان څخه)مخكې د ګرم اور څخه پيدا كړي دي.

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي خَٰلِقُۢ بَشَرًا مِّن صَلْصَٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ (28)

وَإِذْ (او یاد کړه) هغه وخت قَالَ چې وفرمایل رَبُّكَ رب ستا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ فرښتو ته چې: إِنِّي بېشکه زه خَٰلِقُۢ پیدا کوونکی یم بَشَرًا د یو بشر (انسان) مِّن صَلْصَٰلٍ د وچې کړنګېدونکي خټې مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ د تورې بویناکه خټې څخه (28)

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي خَٰلِقُۢ بَشَرًا مِّن صَلْصَٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ (28)

او یاد کړه هغه وخت چې: کله ستا رب فرښتو ته وفرمایل:چې بېشکه زه د یوې وچې کړنګېدونکي خټې نه چې د تورې بویناکه خټې څخه جوړه شوي ده،د یو بشر(انسان) پیدا کوونکی یم.

د ٢٦ آیت په تفسیر کې ذکر شول چې د خاورې د منتخبو عناصرو څخه نطفه جوړېږي،بیا په رحم کې څڅېږي،بیا نطفة(سپرم) د ښځې سره نطفة امشاج یا زایګوټ

جوړوي،چې فزیکي شکل یې د تازه خټې پشان وي،ځکه ورته طین وایي،دا د انسان لمړنی حجره ده چې د انسان د جوړیدلو شروع ترې کیږي،ځکه چې د انسان تقدیر او «ډي این ای» په همدې مرحله کې جوړیږي.

وَبَدَأَ خَلْقَ ٱلْإِنسَٰنِ مِن طِينٍ -السجده «٧»ترجمه: او د انسان تخليق یې د خټې څخه شروع کړی دی.

تقریباً درې ورځې وروسته زایګوټ یا د طین مرحله د ډي این ای د هدایت په اساس په طین لازب یا موورولا بدلیږي ،او تقریبا په ٦ مه ورځ په صلصل من حماء مسنون «یا بلاستو سیست» بدلیږي،په دې مرحله کې د زایګوټ یا نطفة امشاج داخلي مواد د تورې بویناکه خټې پشان کیږي چې د یو وچ کړنګیدونکي پوښ یا قشر پواسطه محفوظ ساتل کیږي.په حقیقت کې همدا صلصل من حماء مسنون یا د ساینس په ژبه د بلاستوسیست مرحله - یو پوخ شوی انساني تخم دی،چې د رحم په دیوال کې ننوتلو یا کرلو ته اماده وي.

باید ذکر شي،چې د آدم علیه السلام د اولاد یا عامو انسانانو تخمونه په همدې طریقه د پلار د نطفي او د مور د هګۍ څخه جوړیږي ،او بیا د رحم په دیوال کې کرل کیږي یا داخلیږي،لیکن د آدم علیه السلام تخم الله تعالی په خپل قدرت

سره پرته د مور او پلار د نطفو څخه جوړ کړ،چې اصل يې توره بويناکه خټه وه،او شباهت يې لکه د پخې خټې څخه د جوړ شوي کړنګيدونکي لوښي(منګي) پشان وو.

خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِن صَلۡصَٰلٖ كَٱلۡفَخَّارِ-الرحمن ۱۴ ترجمه:انسان يې د کوډړې غوندې د پخښې وچې کړنګيدونکې خټې څخه پيدا کړی دی.

اوس هغه مرحلې تشريح کوو،چې د دې تخم څخه الله تعالی انسان څنګه جوړوي.خو مخکې د دې څخه چې وړاندې لاړ شو بايد ووايو چې: حقيقي ساينس او قرآن قطعاً يو دبل سره په ټکر کې نه دي،بلکې قرآن د مرحلو نومونه اخلې،او ساينس يې تفصيل بيانوي،راځو اول د آدم عليه السلام اولاد يعنې عامو انسانانو ته چې د انساني تخم يعنې من صلصل من حماءمسنون يا بلاستوسيست څخه څنګه جوړيږي؟ الله تعالى فرمايي:

وَٱللَّهُ أَنۢبَتَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ نَبَاتٗا-سورة نوح –۱۷

ترجمه:

الله تعالى تاسو د ځمکې څخه رازرغون کړی ياست(يئ).او په سورة البقره کې فرمايي:

نِسَآؤُكُمۡ حَرۡثٞ لَّكُمۡ -البقره (۲۲۳) ترجمه:ستاسو ښځې ستاسو د کرلو پټي(کروندی) دي.

ساینس هم اوس ثابته کړي چې د مور رحم د هغو موادو یا عناصرو څخه جوړ شوی دی کوم چې په ځمکه یعنې خاوره کې شتون لري.نو کله چې د نطفة امشاج یا زایګوټ څخه د څو مرحلو په تیریدلو سره انساني تخم یعنې صلصل من حماء مسنون یا بلاستوسیست جوړ شي،نو تقریباً په ۷ مه ورځ د تخم خارجي قشر (صلصل یا زونا پلوسایډا) ماتیږي،او دننه تور بویناک مواد،چې په حقیقت د جنین جوړیدونکي حجرې دي، د رحم د داخلي دیوال سره نښلي،او تقریباً د ۹ مې ورځې پورې ټول تور بویناک مواد یا حجرات د رحم په دیوال کې داسې ننوځي، لکه د غنم تخم چې د پټي په خاوره کې داخل کړای شي.او بیا همداسې راشین کیږي لکه د غنم تخم چې په خاوره کې راشین کیږي،چې اول تیغ چې وهي علقه ورته وایي.

ثُمَّ خَلَقۡنَا ٱلنُّطۡفَةَ عَلَقَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡعَلَقَةَ مُضۡغَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡمُضۡغَةَ عِظَٰمٗا فَكَسَوۡنَا ٱلۡعِظَٰمَ لَحۡمٗا ثُمَّ أَنشَأۡنَٰهُ خَلۡقًا ءَاخَرَۚ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحۡسَنُ ٱلۡخَٰلِقِينَ ( المؤمنون۱۴)

ترجمه: (بیا مونږ د نطفې نه علقه جوړه کړه،بیا مونږ د علقې ټخه مضغه(د غوښو یوه بوټۍ) جوړه کړه،بیا مونږ د مضغه ټخه هډوکي جوړ کړل،بیا مونږ هډوکو ته غوښه ورواغوستله،بیا مو هغه یو بل مخلوق جوړ کړو.نو الله تعالی ډېر زیات برکتناک او تر ټولو پیداکوونکو ښه پیدا کوونکی دی.)

و مو ویل چې:د انسان تخم(یعني صلصل من حماءمسنون یا بلاستوسیست) اول د رحم د دیوال ټخه د علقه په شکل راشین کیږی،علقه درې معنی لرې.اول:-لکه یو شی چې د بل شي پورې نښتی او ځوړند وي.اوس ساینسي تحقیقاتو هم ثابته کړي چې:علقه د رحم د دیوال پورې نښتي وي او د رحم خوا ته راځوړنده وي.دوهم:-بله معنی یې لیچ یا ژوره ده،دا لکه د وړوکي چینجي غونډې یو شی دی،چې په پوستکي خوله لږوې او وینه ټکي.پروفیسر کیتمور د علقه او لیچ عکسونه سره مقایسه کړل،بالکل سره یو شان وو.ډېره دلچسپه او جالبه دا ده چې پورروفیسر مور د اناتومي په کتاب کې دا معلومات د قرآن په حواله لیکلی دی،چې جنین یا ایمبریو په یوه مرحله کې د لیچ پشان شکل لرې.دریم:-د علقه دریمه معنی ټینګه غونډې وینه یا د وینې برغنډ ده،ساینسي تحقیقات هم وایې چې کله چې بلاستوسیست یا د انسان تخم د

رحم په دیوال کې ریښي وغځوې،د مور وینه راکشوې،دا
پدې معنی چې جنین په همدې مرحله کې د خپلې تغذیې دپاره
د مور د وینې په څکلو شروع کوې،او لس میاشتې د مور
وینه خورې،نو د هغه چا حق به څوک څنګه پوره کړي،چا
چې د ډوډی په ځای لس میاشتې د هغه وینې خوړلې
وي؟موضوع ته راځو!نو څرنګه چې د علقه په مرحله کې د
وینې د دوراني سیستم کار مکمل نه وي،یعني د دیوال څخه
وینه څکې،خو په پوره ډول یې بیرته ویستلی نشي،پس د
وینې د جم کیدلو په سبب داسې ښکارې،لکه د ټینګې وینې
برغنډ،نو الحمد لله درې واړه معناکانې صحیح دي.

فَخَلَقْنَا ٱلْعَلَقَةَ مُضْغَةٗ -ترجمه: بیا مو د علقې څخه د مضغه یا د
غوښې یوه ټوټه جوړه کړه.

مضغه داسې شي ته وایې لکه په جاولو باندې چې غاښونه
زور شي،او د غاښونو نښې پکې معلومیږي.اوس ساینسې
تحقیق هم ثابته کړې،چې په دې مرحله کې جنین بالکل داسې
ښکارې لکه په جوول شوي جاوله چې د غاښونو نښې
وي.که د مضغه په مرحله کې په جنین یا ایمبریو باندې شق
وشي یعني غوڅه شي،نو وبه ګورو چې ځینې داخلي اعضاء
یې پوره جوړې شوي دي او ځینې پوره نه دي جوړې

شوي.پروفيسر(جانس) وايي:چي د دې مرحلې کومه تشريح
چې قرآن کړي ده،د دې څخه نوره ښه او بهتره تشريح د دې
مرحلې دپاره نشته دی.آيت ته توجه وکړئ!

فَإِنَّا خَلَقْنَٰكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِن مُّضْغَةٍ
مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ - ترجمه:بېشکه مونږ. تاسو پيدا کړي
ياستئ د خاورې نه،بيا د نطفې نه ،بيا د علقه نه،بيا د مضغه
يا د غوښې د يوې ټوټې نه چې يو څه مکمله جوړه شوي،او
يو څه مکمله جوړه نه ده،يعنې ځينې اعضاء يې مکمل جوړ
شوي وي،او ځينې اعضاء يې مکمل نه وي جوړ شوي.

بله مهمه خبره دا ده:ساينسي تحقيقات وايي: چې د مضغه په
مرحله کې جنين يا ايمبريو د ۶ هفتو پورې دوام کوي،چې
۴۲ ورځې کيږي،په دې موده کې يعنې د حمل د اولې ورځې
څخه د ۴۲ ورځو پورې جنين يا ايمبريو نه معلوميږي چې د
انسان ده او که د بل کوم حيوان؟خو د ۴۲ ورځو څخه
وروسته د ۷ مې هفتې په شروع کې د عظام يا هډوکو
جوړيدلو مرحله شروع کيږي،او جنين يا ايمبريو هو به هو د
انسان شکل اختياروي،چې د نورو حيواناتو څخه يې په
واضحه توګه فرق کيږي،يعنې د جنين د بدن اصلي چوکاټ
جوړ شوی وي،د سترګو،غوږونو،لاسونو او د پښو ځايونه

ښکاره کیږي،د مخ د بڼې نخښې ښکاره کیږي، نو په دې مرحله کې ښکاره کیږي چې دا د انسان بڼه لري، نه یوازې یوه د غوښې ټوټه.

اوس یه دی اړه د حدیث شریف اعجاز ته توجه وکړئ!

رسول الله ﷺ فرمایلي:

إذا مَرَّ بالنُّطفةِ ثنتانِ وأربعونَ ليلةً، بعث اللهُ إليها ملكًا، فصوَّرَها، وخلَق سمعَها وبصرَها وجلدَها ولحمَها وعظامَها

(مسلم، حدیث 2645)

ژباړه: (کله چې د نطفې له تېرېدو ۴۲ شپې تېرې شي، الله یو فرښته ورلیږي، هغه یې تصویر(شکل) جوړوي، غوږ، سترګه، پوست، غوښه او هډوکي یې جوړوي.)یعنې

په ۴۲ ورځو (۶ اونۍ) کې د جنین د انسان بڼه څرګندیږي

ساینس وایي: د بدن غړي په همدې وخت کې ښکاره کیږي

حدیث وایي: په همدې وخت کې فرښته د انسان د شکل ځانګړتیاوې ټاکي.فکر وکړئ چې په ۷ مه پیړۍ کې پرته د الهي وحې څخه د داسې مایکرسکوپیک معلومات ورکول د انسان دپاره ممکن وو؟هیڅکله نه.

بايد ذكر شي چې د قرآن او ساینسي تحقیقاتو څخه معلومیږي،چې: عام انسانان د څو مرحلو د تیردلو څخه وروسته د مور په رحم کې جوړیږي،داسې چې د خاورې منتخب عناصر د مور او پلار په وجود کې په نطفه او هګۍ بدلیږي،او د نطفې(سپرم) او هګۍ څخه نطفة امشاج یا زایګوټ جوړیږي،زایګوټ یا نطفة امشاج د طین او طین لازب(مرولا) د مرحلو نه وروسته په صلصل من حماء مسنون یا بلاستوسیت یا پوخ انساني تخم بدلیږي،بیا دا تخم د رحم په دیوال کې ننوځي،او په علقه بدلیږي،بیا علقه په مضغه او مضغه په عظام بدلیږي،بیا د عظامو څخه عضلات او غوښې تاویږي او بیا د انسان شکل او صورت نیسي او انسان جوړیږي.

د آدم علیه السلام د خلقت مرحلې.

قرآن څو ځایونو کې د ادم علیه السلام خلقت داسې بیان کړې دی:

تراب (الکهف:۳۷)------- خاوره

طین (السجدة: ۷) -------- ختّه

طین لازب (الصافات:۱۱)-------- سرېښناکه ختّه

حماء مسنون (الحجر:۲۶)------توره،بدبویه شوي خټه

صلصل کالفخار(الرحمن:۱۴)----- وچ کړنګیدونکی پوښ (لکه منګی)

نو د آدم علیه السلام خلقت هم د مرحلو نه تیر شوی دی،خو دا ټولې مرحلې د ځمکې په خیټه کې تر سره شوې،نه د مور په رحم کې.

دواړه (عام انسانان او ادم علیه السلام) په تدریجي مراحلو کې جوړ شوي دي.

فرق یوازې په ځای کې دی:

عادي انسان---------- د مور په رحم کې.

آدم علیه السلام-------- د ځمکې په خیټه کې(خاوره،خټه،حماء مسنون،صلصل.......)

په دواړو کې د مرحلو اصل یو ډول دی،خو فرق د مکان او طریقي دی.(والله اعلم)




د شپږ هفتو(تقریباً ۴۲ ورځو) د یو حقیقي ساینسي ایمبریولوژي انځور دی

*********************************************

فَإِذَا سَوَّيۡتُهُۥ وَنَفَخۡتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُواْ لَهُۥ سَٰجِدِينَ (٢٩)

فَإِذَا نو کله چې سَوَّيۡتُهُۥ زه برابر کړم هغه وَنَفَخۡتُ
او زه پوه کړم فِيهِ په هغه کې مِن رُّوحِي د خپل روح

ځینې فَقَعُواْ نو پریوځئ لَهُۥ هغه ته سَٰجِدِينَ سجده کوونکې (29)

فَإِذَا سَوَّيۡتُهُۥ وَنَفَخۡتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُواْ لَهُۥ سَٰجِدِينَ (٢٩)

نو کله چې زه هغه برابر( جوړ) کړم،او د خپل روح نه يو څه پکې پوه کړم،نو بیا تاسو ټول ورته په سجده پریوزئ(دا د عبادت سجده نه وه، بلکې د احترام سجده وه)

یعنې کله چې په صلصل من حماء مسنون(یا بلاستو سیست یا تخم باندې د ځمکې په خیټه کې) د علقه،مضغه،عظام او د عضلاتو او د غوښو د تاویدلو مرحلې تیرې شي،د انسان شکل او صورت يې جوړ شي،او زه پکې د خپل روح نه يو څه پوه کړم،نو بیا تاسو ورته (د تعظیم)په سجده پریوځئ.(والله اعلم)

<u>په موضوع د ښه پوهیدلو دپاره مهم معلومات:</u>

د ادم علیه السلام نطفة امشاج یا زایګوټ الله تعالی پرته د پلار د نطفې او پرته د مور د هګۍ څخه مستقیماً د خاورو څخه په خپل قدرت سره جوړ کړ.(یعنې د آدم علیه السلام ډبل ډي این ای او لومړنی حجره مستقیماً د خاورو څخه جوړه

شوه) آيت ته توجه وکړئ: إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ ٱللَّهِ كَمَثَلِ ءَادَمَۖ خَلَقَهُۥ مِن تُرَابٖ ثُمَّ قَالَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ (العمران-۵۹) ترجمه:د الله تعالی په وړاندې د عیسی علیه السلام مثال د آدم علیه السلام غوندې دی،چې الله تعالی هغه(آدم علیه السلام) د خاورې څخه پیدا کړ،او امر یې ورته وکړ چې شه! نو هغه وشو.

یعنې پرته د مور او پلار د نطفو او ارثي خاصیتونو د یو ځای کیدلو څخه یې مکمل <u>ډبل ډي این ای</u> او لومړنی حجره یا زایګوټ جوړ شو،چې قرآن دې لومړنی حجرې یا زایګوټ ته نطفة امشاج وایې،،دا نطفة امشاج یا زایګوټ په اول کې د تازه بې بویه او نرمې ختې غوندې وو،ځکه قران دې مرحلې ته طین وایې،لیکن د طین په مرحله کې زایګوټ یا نطفة امشاج یو خام تخم وو .د څه وخت څخه وروسته د ډي این ای د هدایت مطابق حجرات او غلظت یې زیات شو،ختې یو څه تینګه او سریښناکه شوه،ځکه قران دې مرحلې ته طین لازب وایې،او سانس ورته (مورولا) وایې.باید واضح شي چې دا ټولې مرحلې د ځمکې په خیټه کې تیریدلې،د وخت په تیریدلو سره نور هم د حجراتو د متابولیزم او غلظت د زیاتیدلو په سبب د سریښناکه ختې په بوی او رنګ کې تغیر راغی،او په توره بویناکه ختې بدله شوه،چې

قران دې حالت ته حماء مسنون وايي،باید ذکر شي چې د زايګوټ يا نطفة امشاج يا د طين په مرحله کې هم دا هر څه د يو خارجي پوښ يا قشر پواسطه احاطه شوي وو،خو څومره چې غلظت او حجرات زياتيدل ،پوښ يا قشر يې هم کلک او قوي کيدلو،نو کله چې د حجراتو ،غلظت ښه زيات شو ،رنګ او بوی يې تغير وکړو،نو خارجي پوښ يا قشر يې هم ښه مظبوت او کلک شو،او داسې کلک شو لکه کلکه وچه شوي کړنګيدونکې خټه،چې اصل يې همدا توره خټه وه،يعنې د همدې لاندينيو حجراتو په بنياد جوړ شوی وو،نو ځکه قرآن ورته صلصل من حماء مسنون وايي.او ساينس ورته بلستوسيست وايي،چې دا يو پوخ شوی تخم وو،چې بالکل کرلو ته اماده وو.يعنې پرته د نطفو څخه نطفة امشاج يا زايګوټ يا خام تخم چې د کرلو قابل نه وو،جوړ شو،بيا د څو مرحلو د تيريدلو وروسته په پوخ تخم يعنې صلصل من حماء مسنون باندې بدل شو،چې د کرلو دپاره اماده او تيار وو.

بيا د مور د رحم په ځای د ځمکې په خيټه کې راشين شو ،او ټولې هغه مرحلې ورباندې د ځمکې په خيټه کې تيرې شوي کومې چې په عامو انسانانو د مور په رحم کې تيريږي.يعنې علقه ،مضغه،عظام،د عظامو څخه عضلات او غوښې تاويدل او بيا اول انسان(يعنې آدم عليه السلام) پيدا شو.(والله اعلم)

اوس راځو دې خبرې ته:لکه داروین او د هغه د مکتب پیروان چې وايي: لومړنی ژوندی حجره د تودو اوبو د ډنډونو په ختو کې منځ ته راغلي ده،او بیا د دې حجرې د ارتقا څخه د میوټیشن او طبیعي انتخاب پواسطه د انسان په شمول د ژوندیو موجوداتو مختلف انواع(سپیشز) منځ ته راغلل.

د بده مرغه اوس اکثره دیني علماء هم دا خبره کوي،وايي:چې قرآن هم د ساینس خبره کوي،چې ژوند د ختې څخه منځ ته راغلی،او د قرآن دا آیاتونه(یعني چې:د انسان پیدایښت یې د ختې څخه شروع کړ«السجده:۷» او د کړنګیدونکي وچې ختې د توری بویناکه ختې نه یې پیدا کړ«الحج:۲۶».......) دلیل نیسي.

دې حضراتو ته زما مؤدبانه عرض دا دی:

(۱)چې تاسو د قرآن په مبارکو آیاتونو حقیقي ساینس نه،بلکې د داروین او د هغه د مکتب د پیروانو نظر(تیورې) ثابتول غواړئ،کوم نظر، چې حقیقي ساینس یې ردوي.

(۲)ساینس تر اوسه پورې په تصادف سره نه په لابراتوار کې د ختو څخه د ډي این ای او حجرې جوړیدل تجربه کړې او نه یې مشاهده کړې،او نه ساینس او د ریاضي د احتمال

تیورۍ دا منې چې د ډي این ای یا حتی د یو عادي پروتین مالیکول دې هم په تصادف او چانس جوړ شوی وي،او یا به جوړشي،ځکه چې د (۱۰۰) امینو اسیدونو څخه په تصادف سره د یو فعال پروتین د جوړولو دپاره هم د ټریلیونونو څخه زیات کلونه ضرور دي،حال دا چې زمونږ د کائناتو ټول عمر (۱۳.۸) بیلیون کاله دی،کوم چې د یو عادي پروتین د جوړولو دپاره هم کافي نه دی.

(۳)د دې جواب دوی داسې کوي چې دا هرڅه د میوټیشن،طبیعي انتخاب او طبیعي فلټر پواسطه ممکن او وشول.نو دا خو داسې جواب دی،لکه عذر د ګناه څخه بدتر.ځکه چې میوټیش خو تخریب کوي،تخریبي عمل دی، د تخریب څخه تعمیر څنګه منځ ته راتلای شي؟ځکه چې کوم شی چې تخریب شي،پُرزه پُرزه شي،نو هغه خو بیا تصادف ته پاتې کیږي،دا په دې معنی چې صرف دوه لارې دي،اول:یا به تصادف او چانس وي،او په تصادف خو لکه چې وویل شو،د کائناتو عمر د یو پروتین د جوړولو دپاره هم کافي نه دی.دوهم: یا به عقل مداخله کوي،او عقل خو ملحدین نه منې.دریمه لار قطعاً وجود نلرې خو دوی کوشش کوي چې دریمه لار پکې فِټ کړي،خو په دې سره حقیقت نشي بدلولای،او نه لمر په دوه ګوتو پټولای شي. نو د ساینس او

رياضې د مخې د ميوټيشن پواسطه د يو منظم پروټين د جوړيدلو چانس صفر دی. او دا چې دوی د طبيعي انتخاب ، طبيعي فلټر او طبيعي قوانينو خبرې کوي،نو آيا په دې ټولو کې يو هم عقل لرې؟ ظاهره ده چې جواب نه دی.ښه چې يو هم عقل نلرې نو څنګه بې عقله شيانو وکولای چې:ګټور او ښه شيان انتخاب او وساتې،او بې ګټې او خراب شيان ختم کړي،څنګه بې عقله طبيعت او قوانينو وکولای شو چې:په ډی اين ای کې معلومات وليکې، څنګه دې بې عقله شيانو چې په خپله عقل نلرې خو انسان ته يې عقل ورکړو،څنګه بې عقله طبيعت او قوانين مونږ ته وايې چې د راتلونکو انسانانو د ګوتو نښې(فينګرپرينټونه) به هم ستاسو څخه او هم د هغوی پخپلو منځونو کې مختلف وي،او دا څنګه بې عقله طبعت او قوانين دې چې کائنات داسې منظم چلوې،چې په يو ځای او يو کار کې يې بې نظمې او د عقل خلاف څه شی نشته،او په اخر کې،دا قوانين جوړ شوي څنګه دي؟او ولې داسې منظم دي لکه څنګه چې ورته ضروت دی؟نو کله چې خبره دې ځای ته راورسيږي،نو بيا د داروين پيروان او ملحدين وايې:چې دا د ساينس کار نه دی، ساينس دا نشي ويلای، چې قوانين څنګه پيدا شوي،او ولې داسې منظم دي لکه څنګه چې

ورته ضرورت دي،بلکې د ساينس کار دا دی چې قوانين ځنګه کار کوي.

نو که ساينس دا نشي ويلای چې قوانين ځنګه پيدا شوي دي،خو دا هم نه وايې چې پخپله پرته د خالق څخه جوړ شوي دي.که ساينس د الله تعالی وجود نشي ثابتولای،خو دا يې هم نه ثابته کړي او نه يې ثابتولای شي،او نه به يې ثابته کړي،چې نعوذ باالله- الله تعالی نشته.اصلاً دا ټولې د الله تعالی او حق څخه د ملحدينو د تښتيدلو بهانې دي،کله دطبيعې انتخاب بهانه،کله د طبيعې فلتر بهانه،کله قوانين يعنې د يوې خبرې څخه بلې ته ټوپ وهې،خو کله يې چې ټولې بهانې خلاصې شی،نو بيا په ساينس هم دروغ وايې چې دا د ساينس کار نه دی.ولې نه دی؟ساينس خو درته چغې وهې چې:نه د ډی اين ای د پورزو(نوکليوټايډز) ترتيب په خپله کيږي،او نه پکې معلومات پخپله اچول کيږي،يعنې چا جوړ کړی او چا پکې معلومات اچولی،او بيا دا ځنګه منطق دی؟هغه کار چې تاسو د ټيکنالوجې د استعمالولو پواسطه په لابراتوار کې نشی کولای،هغه پخپله ځنګه کيږي .د ترموډيناميک اول قانون خو درته چغې وهې چې د بيګ بينګ سينګولاريټي پخپله نه ده جوړه شوي،د ترمو ډيناميک دوهم قانون درته چغې وهې چې د بيګ بينګ چاودنه پخپل سر نه ده شوي.دا په دې معنی چې

دا هر څه چا کړي ،دا ټولي چغې د یو خالق طرف ته اشارې دي،خو تاسو په عوض د دې چې هغه خالق ولټوئ،پیدا یې کړئ او معرفت یې حاصل کړئ،برعکس بې دلیله او بې منطقه ترې انکار کوئ،او هغه څه منئ چې نه پرې دلیل لرئ او نه ثبوت،او همیشه د خپل وجدان او فطرت سره په جنګ یئ(یاستئ).په هر ترتیب: چې بیا یې هم څوک نه مني صرف ضد او عناد دی،او تاوان یې خپل ځان ته دی،د چا په منلو او نه منلو هغه«جل جلاله» په پاچاهۍ کې نه زیاتی راځې او نه کمی.

راځو هدف ته! د طین او صلصل من حماء مسنون څخه مراد د سمندرونو یا د تودو اوبو د ډنډونو خټې نه دي،دا د آدم علیه السلام نطفة امشاج یا زایګوټ ته اشاره ده چې په اوله مرحله کې د تازه خټې یعنې طین غوندې وو،او څه وخت وروسته په سریښناکه خټې یعنې طین لازب باندې بدل شو(د ساینس په ژبه ورته موررولا وایې) ا بیا څه وخت وروسته د تورې بویناکه خټې پشان شوه چې د یو کلک قشر یا پوښ پواسطه احاطه شوې وه،نو ځکه قرآن دې مرحله ته صلصل من حماء مسنون وایې،او ساینس ورته بلاستوسیست وایې،چې همدا د آدم علیه السلام پوخ شوی تخم وو،چې کرلو ته اماده وو،او بیا د ځمکې په خیټه کې راشین شو،چې د علقه مضغه،عظام

او د غوبنو د تاوولو د مرحلو وروسته ترې مکمل انسان جوړ شو،البته دا ټولې مرحلې د آدم علیه السلام په اولاد، د مور په خیټه کې تیرېږي،او په آدم علیه السلام، د ځمکې په خیټه کې تیرې شوي دي(والله اعلم). ( وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلٗا «الفتح:۲۳»او د الله تعالی په سنت«کړنلاره/قانون»کې هیڅ ډول بدلون نشي موندلای،مطلب دا دی چې د الله تعالی قوانین تل ثابت دي،څوک یې نشي بدلولای.).

بله ډېره مهمه خبره دا ده چې: د قرآن او اوسني ساینسي تحقیقاتو د مطالعې څخه څر ګندیږي،چې دا خبره صرف د آدم علیه السلام پورې محدوده نه ده،بلکې څومره ژوندي موجودات چې الله تعالی د ځمکې په مخ پیدا کړي دي،د ساینسي تحقیقاتو مطابق نږدې ۸.۷ میلیونه نوعې(سپیشز) موجود دي،خو ساینسدانانو تر اوسه پورې صرف دوه میلیونه نوعې یا سپیشز په رسمي توګه پیژندلي دي،چې د دې جملې څخه یوه نوعه انسان دی،نو الله تعالی د تخلیق په اول وخت کې د دې ټولو انوعو د هر یو بیل بیل ډی این ای او لومړنی حجره پیدا کړې ده،ځکه چې د ساینس او ریاضي د مخې دا ناممکنه او محال ده چې د یو ژوندي موجود ډي این ای د بل ژوندي موجود په ډی این ای باندې بدل شي،ځکه چې د میو ټیشن تخریبي عمل او د طبیعت بې عقل انتخاب،د ډي این ای

۳.۲ بیلیون پورزې یا نکلیو تایډونه داسې نشي په ترتیب
کولای،لکه څنګه چې د بل نوی ژوندې موجود دپاره
ضرورت وي،ځکه:لکه چې ذکر شو چې د ۱۰۰ امینو
اسیدونو، په یوخاص ترتیب ایښودلو دپاره ټریلیونونه کلونه
پکار دي،نو پرته د عقل د مداخلی څخه به ۳.۲ بیلیون
پورزې څنګه په یو خاص ترتیب کیښودل شي؟دا
میوټیشن،طبیعي انتخاب او فلتر هسې خیالې بي حقیقته او بي
ثبوته نظریې دي،چې د خالق د نوم څخه د تښتیدلو دپاره
ملحدینو جوړې کړي دي.الله تعالی فرمایې:(۱) وَقَدَّرَ فِيهَآ
أَقۡوَٰتَهَا فِيٓ أَرۡبَعَةِ أَيَّامٖ -فصلت:۱۰ –

ترجمه:او پلان«او پروګرام»یې کړل په ځمکه کې ټول
ضرورتونه د هغې په څلور ورځو کې).

(۲)

إِنَّا كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَٰهُ بِقَدَرٖ(القمر:۴۹)

ترجمه:بېشکه مونږ هر شی د یو ټاکلي
اندازې(پلان/پروګرم)له مخې پیدا کړئ

یعنې دا هر څه،ټول عناصر،اتومونه،مالیکولونه،غرونه،د
اوبو هر څاڅکی،اتموسفیر او د هوا ترکیب،ایکو
سیستم،........حیوانات،نباتات،بکټریا،او انسانان دا ټول د الله

تعالی د پلان د مخې پيدا شوي دي،اندازه او پروګرام شوي،دا په دې معنی چې الله تعالی موجودات چانس او تصادف ته دې حواله کړي،بلکې د هغه«جل جلاله» د پلان د مخې هر شی بيل بيل پيدا او پروګرام شوی، هر شی د خپل ټاکلي پروګرام مطابق پيدا کيږي،کار کوي او فنا کيږي.د ژونديو موجوداتو د ټولو انواعو يا سپيشز بيلې بيلې لومړنۍ حجرې د ډي اين اې د چپس سره پيدا شوي دي،په کوم کې چې د قيامت پورې هر موجود بيل بيل پروګرام شوی،د هماغه اولنې ډي اين اې مطابق نسلونه پيدا کيږي،کار کوي،او فناه کيږي.

پرته دانسان څخه يو موجود هم ازادي او اختيار نلري،او ټول د الله تعالی د ټاکل شوي پروګرام مطابق پيدا کيږي،کار کوي او فنا کيږي،دا څکه:فرضاً که د تقل قوې ،کازمالوجيکل کانسټانټ،برقي مقناطيسي قوي يا په بل عبارت که طبيعي قوانينو ته اختيار وو،چې پخپله خوښه زيات او کم شی ،نو په يو معمولي تغير به يې کائنات په سيکينډونو کې ختم شوي وو،که هوا ته اختيار وو،چې خپل ترکيب زيات يا کم کړي،نو که د ډير کم وخت دپاره اکسيجن د هوا څخه غايب شوی وو،نو ژوند به ختم شوی وو،که ځمکې او لمر ته اختيار وو،او د خپلو مدارونو څخه وتي وو،او يو بل ته نزدې يا لرې شوي وو،په دواړو صورتونو کې به ژوند د منځه تللی

وو،باید ذکر شي چې انسان ته هم د امتحان د ورکولو دپاره صرف په تشريعي کارونو کې ازادي ورکول شوي،د دې تېولو خبرو خلاصه مطلب دا دی چې:يو شی هم د ړندې ارتقا،ړوند ميوټيشن او بې عقله طبيعت پواسطه نه دی پيدا شوی،بلکې هر شی د ايليکټرون او اتوم څخه تر لويو لويو کهکشانونو

پورې،حيوانات.انسانان،نباتات،خزنده،پرنده،بکټريا، غرونه بحرونه،آسمانونه،ځمکه.........دا ټول د کائناتو د خالق(الله تعالی)د پلان مطابق پيداشوي،پيدا کيږي،چليږي او فناه کيږي.په پای کې د ديني علماوو څخه هيله کوم،چې پرته د قرآن او ساينسې ژور تحقيق څخه د ملحيدينو د نظرياتو(تيوريز) ملاتړ ونکړي،ځکه چې يوه ورځ به الله تعالی د دې ټولو خبرو پوښتنه کوي.

فَسَجَدَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمۡ أَجۡمَعُونَ (30)

فَسَجَدَ نو سجده وکړه ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ پرښتو كُلُّهُمۡ ټولو أَجۡمَعُونَ په ګډه (30)

فَسَجَدَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمۡ أَجۡمَعُونَ (30)

نو ټولو پرښتو په ګډه سجده وکړه.(يعنې څه وخت چې الله تعالی د آدم علی السلام شکل او صورت جوړ کړو،او روح يې پکې پو کړ،نو بيا د الله تعالی د حکم په اساس فرښتو ورته سجده(د تعظيم) وکړه.

إِلَّآ إِبۡلِيسَ أَبَىٰٓ أَن يَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ (31)

إِلَّآ مګر إِبۡلِيسَ ابليس أَبَىٰٓ انکار وکړ(د دې څخه) أَن چې يَكُونَ شي مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ د سجده کوونکو سره (ملګری) (31)

إِلَّآ إِبۡلِيسَ أَبَىٰٓ أَن يَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ (31)

مګر ابليس د سجده کوونکو سره د ګډون څخه انکار وکړو.

قَالَ يَٰٓإِبۡلِيسُ مَا لَكَ أَلَّا تَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ (32)

قَالَ هغه«جل جلاله» وفرمايل يَٰٓإِبۡلِيسُ ای ابليسه مَا لَكَ تا ته څه عذر دی أَلَّا تَكُونَ چې ته نه(ملګری کيږې) مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ د سجده کوونکو سره (32)

قَالَ يَٰٓإِبۡلِيسُ مَا لَكَ أَلَّا تَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ (32)

الله تعالی وفرمايل:ای ابليسه!تا ته څه عذر دی چې ته د سجده کوونکو سره نه ملګری کيږې؟

قَالَ لَمۡ أَكُن لِّأَسۡجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقۡتَهُۥ مِن صَلۡصَٰلٖ مِّنۡ حَمَإٖ مَّسۡنُونٖ (33)

قَالَ هغه(ابلیس) وویل لَمۡ أَكُن زما سره نه ښایي
لِّأَسۡجُدَ چې سجده وکړم لِبَشَرٍ (داسې) یو بشر ته(داسې
یو انسان ته) خَلَقۡتَهُۥ چې تا پیدا کړی هغه مِن صَلۡصَٰلٖ
د وچې کړنګیدونکي خټې مِّنۡ حَمَإٖ مَّسۡنُونٖ د تورې
بویناکه خټې څخه (33)

قَالَ لَمۡ أَكُن لِّأَسۡجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقۡتَهُۥ مِن صَلۡصَٰلٖ مِّنۡ حَمَإٖ مَّسۡنُونٖ (33)

ابلیس وویل:چې زما سره نه ښایي چې: داسې یو بشر(انسان) ته سجده وکړم،چې هغه تا د وچې کړنګیدونکي خټې د تورې بویناکي خټې څخه پیدا کړی دی.

قَالَ فَٱخۡرُجۡ مِنۡهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٞ (34)

قَالَ هغه«جل جلاله» وفرمایل: فَٱخۡرُجۡ وځه مِنۡهَا د
دې ځای نه فَإِنَّكَ ځکه چې: بېشکه ته رَجِيمٞ شړل
شوی یې( زما د رحمت څخه) (34)

قَالَ فَٱخۡرُجۡ مِنۡهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٞ (34)

الله تعالی ورته وفرمایل:د دې ځای(د آسمان یا د فرشتو د
ډلې) څخه وځه، ځکه چې ته (زما د رحمت څخه)شړل
شوی یې.

وَإِنَّ عَلَيۡكَ ٱللَّعۡنَةَ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلدِّينِ (35)

وَإِنَّ او بېشکه عَلَيۡكَ په تا باندې ٱللَّعۡنَةَ لعنت دی
إِلَىٰ تر يَوۡمِ ورځې ٱلدِّينِ د قیامت(پورې) (35)

وَإِنَّ عَلَيۡكَ ٱللَّعۡنَةَ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلدِّينِ (35)

او بېشکه په تا باندې د قیامت د ورځې پورې لعنت دی

قَالَ رَبِّ فَأَنظِرۡنِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ (36)

قَالَ هغه(یعني ابلیس) وویل رَبِّ ای زما ربه
فَأَنظِرۡنِيٓ نو مهلت راکړه ما ته إِلَىٰ تر يَوۡمِ هغې
ورځې(پورې ) يُبۡعَثُونَ چې خلک بیرته راپورته کولی
شي(پس د مرګ نه د قبرونو څخه (36)

قَالَ رَبِّ فَأَنظِرۡنِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ (36)

ابلیس وویل:پروردګاره!ما ته تر هغې ورځې پورې
مهلت(وخت) راکړه چې:خلک بیرته راپورته کولی شي(د
قبرونو څخه)

قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ ٱلۡمُنظَرِينَ (37)

قَالَ هغه«جل جلاله» وفرمایل: فَإِنَّكَ بېشکه ته مِنَ
ٱلۡمُنظَرِينَ د مهلت ورکول شوو څخه یې (37)

قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ ٱلۡمُنظَرِينَ (37)

الله تعالی وفرمایل:بېشکه تا ته مهلت دی(د خلکو د بیا
راپورته کیدلو پورې د قبرونو څخه)

إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡوَقۡتِ ٱلۡمَعۡلُومِ (38)

إِلَىٰ تر يَوۡمِ ورځې ٱلۡوَقۡتِ د وخت ٱلۡمَعۡلُومِ معلوم
پورې(38)

إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡوَقۡتِ ٱلۡمَعۡلُومِ (38)

تر ورځې د معلوم وخت پورې

قَالَ رَبِّ بِمَآ أَغۡوَيۡتَنِي لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَأُغۡوِيَنَّهُمۡ
أَجۡمَعِينَ (39)

قَالَ هغه(ابلیس) وویل رَبِّ ای زما ربه بِمَآ په سبب د هغه څه أَغْوَيْتَنِي چې تا ګمراه کړم زه لَأُزَيِّنَنَّ زه به خامخا ښایسته کړم لَهُمْ هغوی(انسانانو) ته فِي ٱلْأَرْضِ په ځمکه کې(ګناهونه،دنیا...) وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ او خامخا به زه ګمراه کړم هغوی أَجْمَعِينَ ټول. (39)

قَالَ رَبِّ بِمَآ أَغْوَيْتَنِي لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِي ٱلْأَرْضِ وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ (39)

ابلیس وویل:ای زما ربه!په سبب د هغه څه چې تا زه ګمراه کړم،زه به(هم)خامخا د انسانانو (یعني د ادم علیه السلام د اولاد) دپاره(ګناه،د دنیا فریب،مال او مقام)ښایسته کړم،او خامخا به ټول ګمراه کړم.

إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ ٱلْمُخْلَصِينَ (40)

إِلَّا مګر عِبَادَكَ ستا بنده ګان! مِنْهُمُ د هغوی څخه ٱلْمُخْلَصِينَ مخلصین (نشم ګمراه کولای) (40)

إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ ٱلْمُخْلَصِينَ (40)

مګر ستا د بنده ګانو څخه خالص بنده ګان نشم ګمراه کولای(یعني چې،ایمان،اخلاص او اطاعت لرې،د شیطان زور پرې نه رسیږي)

قَالَ هَٰذَا صِرَٰطٌ عَلَيَّ مُسۡتَقِيمٌ (41)

قَالَ هغه«جل جلاله» وفرمایل: هَٰذَا دغه(د اخلاص) صِرَٰطٌ لاره عَلَيَّ ما ته مُسۡتَقِيمٌ مستقيمه(رسیږي) (41)

قَالَ هَٰذَا صِرَٰطٌ عَلَيَّ مُسۡتَقِيمٌ (41)

او دغه (د ایمان،اخلاص او اطاعت) لاره مسقیماً(برابره) ما ته (رسوونکې ده)

إِنَّ عِبَادِي لَيۡسَ لَكَ عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنٌ إِلَّا مَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡغَاوِينَ (42)

إِنَّ بېشکه عِبَادِي زما بنده ګان لَيۡسَ نشته لَكَ ستا دپاره عَلَيۡهِمۡ پر هغوی سُلۡطَٰنٌ زور إِلَّا مګر(پرته د هغه چا څخه) مَنِ څوک چې ٱتَّبَعَكَ (پخپله)یې ستا پیروي کړې وي مِنَ د ٱلۡغَاوِينَ ګمراه شوو څخه (42)

إِنَّ عِبَادِي لَيۡسَ لَكَ عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنٌ إِلَّا مَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡغَاوِينَ (42)

بېشکه زما په بنده ګانو ستا وس او توان نه رسيږي،مګر یوازې په هغو ګمراهانو ته برلاسی یې چې ستا پیروي یې کړي وي.(یعنې الله تعالی ابلیس ته فرمایې:چې زما هغه بنده ګان چې مخلص او مؤمنان دي،تا ته دا واک او توان نه دی درکول شوی،چې د هغوی په زړونو کې مستقیم اثر واچوي یا د هغوی اراده کنټرول کړي.یوازې وسوسه کولی شي،خو واک نلري. یوازې هغه خلک به درپسې لاړ شي چې:پخپله ګمراه شوي وي،د حق څخه یې مخ اړولی وي،د دنیا او نفسي خواهشاتو پیروي کوي،نه د الله تعالی.)

وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوۡعِدُهُمۡ أَجۡمَعِينَ (43)

وَ او إِنَّ بېشکه جَهَنَّمَ جهنم لَمَوۡعِدُ ځای د وعدې دی هُمۡ (د) هغوی أَجۡمَعِينَ ټولو (43)

وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوۡعِدُهُمۡ أَجۡمَعِينَ (43)

او بشکه جهنم د هغوی ټولو د وعدې ځای دی(چې هلته به راټولیږي،یعنې خوک چې د شیطان پیروي کوي په جهنم کې به په ټولنیزه توګه عذاب ورکول کیږي.)

لَهَا سَبۡعَةُ أَبۡوَٰبٖ لِّكُلِّ بَابٖ مِّنۡهُمۡ جُزۡءٞ مَّقۡسُومٌ (44)

لَهَا د هغه(د جهنم) سَبۡعَةُ اوه (۷) أَبۡوَٰبٖ دروازې دي لِّكُلِّ بَابٖ چې د هرې دروازې دپاره مِّنۡهُمۡ د هغوی څخه(د ابلیس د پیروانو څخه) جُزۡءٞ یوه ډله مَّقۡسُومٌ ټاکل شوي ده. (44)

لَهَا سَبۡعَةُ أَبۡوَٰبٖ لِّكُلِّ بَابٖ مِّنۡهُمۡ جُزۡءٞ مَّقۡسُومٌ (44)

د جهنم اوه (۷) دروازې دي.چې د هرې دروازې دپاره(د مجرمانو) یوه ډله ټاکل شوي ده.(یعنې هغوی به د خپلو ګناهونو،کفر،نفاق یا ظلم په اساس د یوې ځانګړې دروازې څخه جهنم ته داخلیږي)

إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٖ وَعُيُونٍ (45)

اوس الله تعالی د پرهیزګارانو بیان کوي:

إِنَّ بېشکه ٱلۡمُتَّقِينَ پرهزګاران(به) فِي په جَنَّٰتٖ باغونو(جنتونو) وَ او عُيُونٍ چینو (کې وي) (45)

إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٖ وَعُيُونٍ (45)

بېشکه پرهيزګاران به په جنتونو(باغونو) او چينو کې وي.

ٱدۡخُلُوهَا بِسَلَٰمٍ ءَامِنِينَ (46)

ٱدۡخُلُو (ورته به وويل شي چې:) ننوځئ هَا
دې(جنتونو) ته بِسَلَٰمٍ په سلامتيا سره ءَامِنِينَ بې
ويرې(بې خطره) (46)

کله چې د قيامت په ورځ حساب،پل صراط او هره ازموينه
پای ته ورسيږي،او متقيان د الله تعالى د رحمت مستحق
شي،نو يا پخپله الله تعالى،او يا د جنت په دروازو کې فرښتې
به ورته وايې چې:

ٱدۡخُلُوهَا بِسَلَٰمٍ ءَامِنِينَ (46)

ننوځئ دغو(جنتونو)ته په سلامتيا سره،بې ويرې او بې
خطره.

(يعنې د هرې ويرې،غم،مرګ،مريضى،زړښت،غريبى،...
څخه به په امن کې يې)

(47) وَنَزَعۡنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنۡ غِلٍّ إِخۡوَٰنًا عَلَىٰ سُرُرٖ مُّتَقَٰبِلِينَ

وَنَزَعۡنَا او مونږ به وباسو مَا هغه څه چې: فِي
صُدُورِهِم د هغوى په سينو کې وي مِّنۡ غِلٍّ د کينې

ځينې إِخْوَٰنًا (اوسې به هغوی) ورونه عَلَىٰ سُرُرٍ په تختونو به مُّتَقَٰبِلِينَ يو بل ته مخامخ(ناست)وي (47)

وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ إِخْوَٰنًا عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَٰبِلِينَ (47)

او مونږ به وباسو هغه کينه چې د دوی په سينو کې وي،په داسې حال کې چې ورونه به وي،په تختونو به يو بل ته مخامخ ناست وي.(يعنې الله تعالى به د جنت د خلکو د زړونو څخه هر ډول کينه،حسد،بغض،يا د پخوانې اختلاف احساس لرې کړي،هغوی به داسې صفا زړونه لرې چې يو بل ته به هيڅ بد احساس نلرې.دا د جنت د نعمتونو څخه يو روحانې نعمت دی.ټول به د ورورۍ،محبت،دوستۍ او اخلاص په فضا کې وي،په تختونو به ناست وي او د يو بل سره به خوشاله وي)

لَا يَمَسُّهُمْ فِيهَا نَصَبٌ وَمَا هُم مِّنْهَا بِمُخْرَجِينَ (48)

لَا يَمَسُّهُمْ هغوی ته به نه رسيږي فِيهَا په هغې(يعنې جنت) کې نَصَبٌ هيڅ تکليف وَمَا هُم او نه به هغوی مِّنْهَا د هغې(يعنې جنت) څخه بِمُخْرَجِينَ ايستل کيدونکي وي (48)

لَا يَمَسُّهُمۡ فِيهَا نَصَبٞ وَمَا هُم مِّنۡهَا بِمُخۡرَجِينَ (48)

دوی ته به په جنت کې هيڅ تکليف نه رسيږي،او نه به دوی هيڅکله د جنت څخه ايستل کيږي.

(يعنې:دوی ته به په جنت کې ستړيا،تکليف يا خفګان نه رسيږي.

نه به د عبادت زحمت وي لکه په دنيا کې،نه به د کار،خوب،تندې،يا ناروغۍ تکليف وي،او نه به د احساساتي غم او پريشانۍ درد وي.)

۞نَبِّئۡ عِبَادِيٓ أَنِّيٓ أَنَا ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ (49)

۞نَبِّئۡ خبر کړه عِبَادِيٓ بنده ګان زما أَنِّيٓ چې بيشکه زه أَنَا زه(په تأکيد سره) ٱلۡغَفُورُ ډېر بخښونکی ٱلرَّحِيمُ (او)مهربان يم. (49)

۞نَبِّئۡ عِبَادِيٓ أَنِّيٓ أَنَا ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ (49)

(ای محمد«صلی الله عليه وسلم»)

زما بنده ګان خبر کړه چې بېشکه زه ډېر بخښونکی او مهربان یم(یعني الله تعالی د بنده د توبې په انتظار دی،ګناهونه بخښي خو په دې شرط چې بنده په اخلاص توبه وباسي او رجوع ورته وکړي)

وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ ٱلۡعَذَابُ ٱلۡأَلِيمُ (٥٠)

وَ او(همدارنګه زما بنده ګان د دې نه هم خبر کړه) أَنَّ عَذَابِي چې بېشکه عذاب زما هُوَ هغه ٱلۡعَذَابُ ٱلۡأَلِيمُ ډېر دردناک عذاب دی (٥٠)

وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ ٱلۡعَذَابُ ٱلۡأَلِيمُ (٥٠)

(او همدارنګه زما بنده ګان د دې څخه هم خبر کړه،که توبه ونباسي،او ما ته رجوع ونکړي!)،چې بېشکه زما عذاب هم ډېر دردناک عذاب دی.

وَنَبِّئۡهُمۡ عَن ضَيۡفِ إِبۡرَٰهِيمَ (51)

وَنَبِّئۡهُمۡ او خبر ورکړه دوی ته عَن په اړه (په باره) ضَيۡفِ د میلمنو إِبۡرَٰهِيمَ د ابراهیم علیه السلام (51)

وَنَبِّئۡهُمۡ عَن ضَيۡفِ إِبۡرَٰهِيمَ (51)

او(ای محمد«صلی الله علیه وسلم») دوی ته د ابراهیم علیه السلام د میلمنو په اړه خبر ورکړه.

إِذۡ دَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَقَالُواْ سَلَٰمٗا قَالَ إِنَّا مِنكُمۡ وَجِلُونَ (52)

إِذۡ کله چې دَخَلُواْ هغوی ورننوتل عَلَيۡهِ هغه «علیه السلام» ته فَقَالُواْ نو ویې ویل سَلَٰمٗا سلام دې وي پر تا قَالَ هغه«علیه السلام» وویل إِنَّا بېشکه مونږ مِنكُمۡ ستاسو نه وَجِلُونَ ویرېږو (52)

إِذۡ دَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَقَالُواْ سَلَٰمٗا قَالَ إِنَّا مِنكُمۡ وَجِلُونَ (52)

کله چې هغوی ابراهیم علیه السلام ته ورننوتل،نو ویې ویل:چې پر تا دې سلام وي (چون میلمانه په انساني شکل کې،فرښتې وې،نو کله چې ابراهیم علیه السلام ورته خواړه مخې ته کېښودل،هغوی خوراک نه کولو،نو د ابراهیم علیه السلام په زړه کې ویره او شک پیدا شوه،چې دا څنګه ناشنا میلمانه دي چې خواړه نه خورې،نو بیا د څه مقصد دپاره راغلي دي؟) نو ورته یې وویل:چې مونږ ستاسو څخه ویرېږو(یعني چې خواړه نه خوری نو بیا خو خامخا د بل کوم

مقصد دپاره راغلي یاست،ځکه مونږ ته ستاسو په نسبت شک او ویره پیدا شوه.)

قَالُواْ لَا تَوۡجَلۡ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٖ (53)

قَالُواْ هغوی(یعنې فرښتو ابراهیم علیه السلام ته) وویل لَا تَوۡجَلۡ مه ویریږه إِنَّا بېشکه مونږ نُبَشِّرُكَ تا ته زېری درکوو(خوشخبرې درکوو) بِغُلَٰمٍ د یو زوی عَلِيمٖ ډېر پوه (53)

قَالُواْ لَا تَوۡجَلۡ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٖ (53)

هغوی(یعنې فرښتو ابراهیم علیه السلام ته) وویل: مه ویریږه!بېشکه مونږ تا ته د یو پوه زوی زېری درکوو.(یعنې مونږ د الله تعالی د لورې راغلي یو،او تا ته د یو زوی یعنې اسحاق علیه السلام د زیږیدو زېری درکوو)

قَالَ أَبَشَّرۡتُمُونِي عَلَىٰٓ أَن مَّسَّنِيَ ٱلۡكِبَرُ فَبِمَ تُبَشِّرُونَ (54)

د تعجب او حیرانتیا په ډول:

قَالَ هغه«علیه السلام» وویل: أَبَشَّرۡتُمُونِي ایا ما ته مو زېری راکړ (د ځوی) عَلَىٰٓ أَن سره د دې (په داسې حال کې) مَّسَّنِيَ چې رسیدلی دی ما ته ٱلۡكِبَرُ زړښت (چې زه بوډا شوی یم) فَبِمَ نو په څه وجه تُبَشِّرُونَ ما ته زېری راکوئ؟ (54)

قَالَ أَبَشَّرۡتُمُونِي عَلَىٰٓ أَن مَّسَّنِيَ ٱلۡكِبَرُ فَبِمَ تُبَشِّرُونَ (54)

ابراهیم علیه السلام (په تعجب او حیرانتیا سره) وویل:چې آیا تاسو ما ته په داسې حال کې (د ځوی) زېری راکوئ،چې زه زوړ شوی یم؟نو په څه وجه تاسو ما ته زېری راکوئ؟(دا د تعجب او حیرانتیا پوښتنه ده،نه د انکار.یعنې:آیا ممکنه ده چې په دې عمر کې زما زوی پیدا شي؟زه خو ډېر زوړ شوی یم.نه دا چې د الله تعالی په قدرت یې شک وکړ،بلکې د حیرانتیا اظهار یې وکړو، فَبِمَ تُبَشِّرُونَ-دا د حیرانتیا او د یقین د غوښتنې پوښتنه ده ،نه د انکار.)

قَالُواْ بَشَّرۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ فَلَا تَكُن مِّنَ ٱلۡقَٰنِطِينَ (55)

اوس د ابرهیم علیه السلام د دې پوښتنې په ځواب کې چې:«آیا تاسو ما ته زېری راکوئ،سره د دې چې زه زوړ شوی یم»

قَالُواْ هغوى(يعنې فرښتو) وويل چې: بَشَّرۡنَٰكَ مونږ تا ته
زيرى درکړ بِٱلۡحَقِّ په رښتيا سره فَلَا تَكُن پس ته مه
کيږه مِّنَ ٱلۡقَٰنِطِينَ د نااميدو څخه (55)

قَالُواْ بَشَّرۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ فَلَا تَكُن مِّنَ ٱلۡقَٰنِطِينَ (55)

(نو د ابراهيم عليه السلام په حيرانتيا) هغوى(يعنې فرښتو ورته) وويل:مونږ تا ته په رښتيا(د الله تعالى په امر)زيرى درکړ،نو ته د الله تعالى(د رحمت څخه ) مه نااميده کيږه(يعني دا کوم مجازي او خيالي زيرى نه دى،بلکې الهي حکم دى،دا حق يعني قطعي وعده ده-هغه زوى يعنې اسحاق عليه السلام به ضرور پيدا کيږي.)

قَالَ وَمَن يَقۡنَطُ مِن رَّحۡمَةِ رَبِّهِۦٓ إِلَّا ٱلضَّآلُّونَ (56)

(ابرهيم عليه السلام په ډېره خوږه او عقيدوي لهجمه فرښتو ته) قَالَ وويل وَمَن څوک دى؟ يَقۡنَطُ چې نااميده
کيږي مِن د رَّحۡمَةِ رحمت څخه رَبِّهِۦٓ د خپل
رب؟ إِلَّا پرته ٱلضَّآلُّونَ د ګمراهانو څخه. (56)

قَالَ وَمَن يَقۡنَطُ مِن رَّحۡمَةِ رَبِّهِۦٓ إِلَّا ٱلضَّآلُّونَ (56)

(ابرهيم عليه السلام په ډېره خوږه او عقيدوي لهجمه فرښتو ته) وويل:څوک دی چي د خپل رب د رحمت څخه نااميده کيږي؟ (يعنې دا کار هيڅوک نه کوي) مګر يوازې ګمراهان (د خپل رب د رحمت څخه نااميده کيږي.يعني ابراهيم عليه السلام په تعجب سره وايې چې: د الله تعالی د رحمت څخه نااميده کيدل ممکن نه دي،دا کار يوازې هغه خلک کوې چي د حق څخه منحرف او بي لارې وي. )

قَالَ فَمَا خَطۡبُكُمۡ أَيُّهَا ٱلۡمُرۡسَلُونَ (57)

تکي په تکي ترجمه:

| |
|---|
| قَالَ هغه(ابراهيم عليه السلام) وويل: فَمَا نو څه خَطۡبُكُمۡ مقصد دی ستاسو أَيُّهَا ای ٱلۡمُرۡسَلُونَ رالیږل شوو(فرښتو) (57) |

قَالَ فَمَا خَطۡبُكُمۡ أَيُّهَا ٱلۡمُرۡسَلُونَ (57)

دا آيت د ابراهيم عليه السلام د عقل،ادب او د الله تعالی د نظام په درک دلالت کوي.

هغه عليه السلام پوه شو چي فرښتي يوازې د زېرې دپاره نه دي راغلي،نو په نرمه ژبه يې پوښتنه وکړه:

ترجمه:

ويې فرمايل:اى رالېږل شوو فرښتو! ستاسو د راتګ هدف(يعنې اصلي ماموريت) څه دى؟

قَالُوٓاْ إِنَّآ أُرۡسِلۡنَآ إِلَىٰ قَوۡمٖ مُّجۡرِمِينَ (58)

تکي په تکي ترجمه:

| | | |
|---|---|---|
| قَالُوٓاْ هغوى(فرښتو) وويل | إِنَّآ بېشکه مونږ | أُرۡسِلۡنَآ رالېږل شوي يو |
| إِلَىٰ قَوۡمٖ مُّجۡرِمِينَ يو مجرم قوم ته. (58) | | |

قَالُوٓاْ إِنَّآ أُرۡسِلۡنَآ إِلَىٰ قَوۡمٖ مُّجۡرِمِينَ (58)

هغوى(يعنې فرښتو ابراهيم عليه السلام ته)وويل:چې بېشکه مونږ يو مجرم قوم ته (يعنې د لوط عليه السلام قوم ته د عذاب ورکولو دپاره)رالېږل شوي يو.

إِلَّآ ءَالَ لُوطٍ إِنَّا لَمُنَجُّوهُمۡ أَجۡمَعِينَ (59)

تکي په تکي ترجمه:

إِلَّآ پرته ءَالَ لُوطٍ د لوط علیه السلام د کورنۍ نه
إِنَّا بېشکه مونږ لَمُنَجُّو ژغورونکي یو هُمۡ د
هغوی أَجۡمَعِينَ ټولو(د عذاب نه) ( (59)

إِلَّآ ءَالَ لُوطٍ إِنَّا لَمُنَجُّوهُمۡ أَجۡمَعِينَ (59)

مګر د لوط علیه السلام کورنۍ(یعني مؤمنان د دې حکم څخه مستسنی دي)،بېشکه مونږ به هغوی ټول(د عذاب څخه) وژغورو.

إِلَّا ٱمۡرَأَتَهُۥ قَدَّرۡنَآ إِنَّهَا لَمِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ (60)

تکي په تکي ترجمه:

إِلَّا پرته ٱمۡرَأَتَهُۥ د هغه علیه السلام د ښځې څخه
قَدَّرۡنَآ فیصله کړي مونږ إِنَّهَا چې بېشکه هغه لَمِنَ
ٱلۡغَٰبِرِينَ خامخا(په عذاب کې) د پاتې کیدونکو څخه ده
(60)

إِلَّا ٱمۡرَأَتَهُۥ قَدَّرۡنَآ إِنَّهَا لَمِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ (60)

مګر د لوط علیه السلام د ښځې په اړه مونږ(د الله تعالی په حکم)فیصله کړي،چې هغه خامخا(لکه د کافرانو غوندې په ښار کې) د پاتې کیدونکو څخه ده.(یعني د هغو کسانو څخه ده چې په ښار کې به پاتې شي او د عذاب لاندې به راشي)

فَلَمَّا جَآءَ ءَالَ لُوطٍ ٱلۡمُرۡسَلُونَ (61)

تکي په تکي ترجمه:

| |
|---|
| فَلَمَّا نو کله چې جَآءَ راغلل ءَالَ لُوطٍ د لوط علیه السلام کورنۍ ته ٱلۡمُرۡسَلُونَ رالیږل شوي(ملائک) (61) |

فَلَمَّا جَآءَ ءَالَ لُوطٍ ٱلۡمُرۡسَلُونَ (61)

نو کله چې د لوط علیه السلام کور ته رالیږل شوي(فرښتې)ورسیدلې.(دا نو هغه وخت وو چې فرښتې د ابراهیم علیه السلام د کوره وروسته د لوط علیه السلام ښار ته ورسیدې،د لوط علیه السلام کور ته په انساني شکل د ځوانانو هلکانو په بڼه ورغلې،په لیدلو یې لوط علیه السلام پوه شو چې دا عادي میلمانه نه دي،او د خپل قوم د بد عملی له امله ورسره ویره پیدا شوه)

قَالَ إِنَّكُمۡ قَوۡمٞ مُّنكَرُونَ (62)

تېکي په تېکي ترجمه:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| قَالَ | هغه علیه السلام وویل | إِنَّكُمۡ | بېشکه تاسو | قَوۡمٞ | |
| مُّنكَرُونَ | ناآشنا خلک یاست(زه مو نه پیژنم) (62) | | | | |

قَالَ إِنَّكُمۡ قَوۡمٞ مُّنكَرُونَ (62)

لوط علیه السلام ورته وویل:بېشکه تاسو ناآشنا خلک یئ (زه مو نه پیژنم،دا د میلمه پذیرۍ او احتیاط له مخې یوه نرمه جمله وه.خو په باطن کې هغه علیه السلام پوهیده چې که د قوم فاسق خلک خبر شي چې داسې ښایسته میلمانه راغلي،نو شر به جوړ کړي.نو د ده علیه السلام دا خبره د ویرې،حیرانتیا او اندیښنې ښکندونه وه.چې دا آیت د نبي د بشري احساساتو ښکاره مثال دی-«ویره،احتیاط،او د میلمه حفاظت اندیښنه)

قَالُواْ بَلۡ جِئۡنَٰكَ بِمَا كَانُواْ فِيهِ يَمۡتَرُونَ (63)

تېکي په تېکي ترجمه:

قَالُواْ هغوی(فرښتو) وویل بَلۡ نه،بلکې جِئۡنَٰكَ راغلي یو مونږ تا ته بِمَا د هغه څه سره كَانُواْ فِيهِ چې دوی(یعنې ستا قوم) په کې يَمۡتَرُونَ شک کاوه. (63)

قَالُواْ بَلۡ جِئۡنَٰكَ بِمَا كَانُواْ فِيهِ يَمۡتَرُونَ (63)

دلته د لوط علیه السلام د پوښتنې ځواب دی:

د آیت ترجمه:

فرښتو وویل(مونږ انسانان نه یو) بلکې (مونږ د الله تعالی استازې یو) او زمونږ راتګ د هغه څه (یعنې عذاب او د الله تعالی د حکم د عملي کولو) دپاره دی،چې دوی(یعنې ستا قوم) پکې شک کاوه.

وَأَتَيۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ (64)

ټکي په ټکي ترجمه:

وَأَتَيۡنَٰكَ او راغلي یو مونږ تا ته بِٱلۡحَقِّ د حق سره(د عذاب د فیصلې سره) وَإِنَّا او بېشکه مونږ لَصَٰدِقُونَ یقیناً رښتینې یو (64)

وَأَتَيۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ (64)

او مونږ تا ته د حق (يعنې د الله تعالی د عذاب د فيصلې) سره راغلي يو،او بېشکه مونږ رښتيني يو(يعنې څه چې درته وايو دا رښتيا دي)

فَأَسۡرِ بِأَهۡلِكَ بِقِطۡعٖ مِّنَ ٱلَّيۡلِ وَٱتَّبِعۡ أَدۡبَٰرَهُمۡ وَلَا يَلۡتَفِتۡ مِنكُمۡ أَحَدٞ وَٱمۡضُواْ حَيۡثُ تُؤۡمَرُونَ (65)

تکي په ټکي ترجمه:

| |
|---|
| فَأَسۡرِ نو ووځه ته بِأَهۡلِكَ د خپلې کورنۍ سره بِقِطۡعٖ په څه برخه مِّنَ د ٱلَّيۡلِ شپې (کې) وَٱتَّبِعۡ او تعقيبوه(او روان اوسه) ته أَدۡبَٰرَهُمۡ د هغوی وروسته وَلَا يَلۡتَفِتۡ او نه دې ګورې شاته مِنكُمۡ ستاسو څخه أَحَدٞ هيڅ يو وَٱمۡضُواْ او لاړ شئ حَيۡثُ هغه ځای ته تُؤۡمَرُونَ چې تاسو ته امر شوی دی (65) |

فرښتو د خپلو ځانونو د معرفي کولو او هدف د ښود لو وروسته لوط عليه السلام ته وويل:

فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ ٱلَّيْلِ وَٱتَّبِعْ أَدْبَٰرَهُمْ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ وَٱمْضُوا۟ حَيْثُ تُؤْمَرُونَ (65)

نو ته د خپلي کورنی سره د شپې په څه حصه کې(د ښار څخه) ووځه،او(د سفر په مهال)ته د هغوی پسې وروسته روان اوسه،او هيڅ يو دې ستاسو څخه شا ته نه ګورې،او هغه ځای ته لاړ شئ چيرته چې (درته د تللو)حکم شوی دی(د نجات لپاره)

وَقَضَيْنَآ إِلَيْهِ ذَٰلِكَ ٱلْأَمْرَ أَنَّ دَابِرَ هَٰٓؤُلَآءِ مَقْطُوعٌ مُّصْبِحِينَ (66)

الله تعالی فرمايي:

تکي په تکي ترجمه:

| |
|---|
| وَقَضَيْنَآ او مونږ خپله فيصله ورسوله إِلَيْهِ هغه ته(لوط عليه السلام ته) ذَٰلِكَ د دې ٱلْأَمْرَ کار(خبرې) أَنَّ چې ببشکه دَابِرَ جرړې (ريښي) هَٰٓؤُلَآءِ د دې(خلکو يعني د هغه د قوم) مَقْطُوعٌ قطع کيدوونکې دي(پرې کيدوونکې دي) مُّصْبِحِينَ سهار (66) |

وَقَضَيْنَآ إِلَيْهِ ذَٰلِكَ ٱلْأَمْرَ أَنَّ دَابِرَ هَٰٓؤُلَآءِ مَقْطُوعٌ مُّصْبِحِينَ (66)

الله تعالی فرمايي:چې مونږ لوط«علیه السلام» ته دا فیصله ورسوله چې د دې خلکو يعنې د هغه د قوم جرړې به سهار پرې شي(يعنې کله چې سهار شي عذاب به پرې راشي،داسې به هلاک شي چې اصل او نسل به يې ټول ختم شي)

وَجَآءَ أَهۡلُ ٱلۡمَدِينَةِ يَسۡتَبۡشِرُونَ (67)

ټکي په ټکي ترجمه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| وَجَآءَ | او راغلل | أَهۡلُ ٱلۡمَدِينَةِ | د ښار خلک |
| يَسۡتَبۡشِرُونَ | چې خوشالي يې کوله (67) | | |

لکه چې ذکر شو چې فرښتې د ښايسته ځوانانو هلکانو په شکل د لوط علیه السلام کور راغلي وي،نو کله چې د ښار خلک يعنې د هغه علیه السلام قوم خبر شو چې د لوط علیه السلام کور ته ښايسته هلکان راغلي دي نو!

وَجَآءَ أَهۡلُ ٱلۡمَدِينَةِ يَسۡتَبۡشِرُونَ (67)

نو د ښار فاسق خلک(د بد عمل په نيت) راغلل،داسې چې:خوشاله وو.

قَالَ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ ضَيۡفِي فَلَا تَفۡضَحُونِ (68)

ټکي په ټکي ترجمه:

| |
|---|
| قَالَ هغه عليه السلام وويل إِنَّ بېشکه هَٰٓؤُلَآءِ دا(خلک) ضَيۡفِي زما ميلمانه دي فَلَا تَفۡضَحُونِ نو ما مه رسوا کوئ(ما مه خجالته کوئ) (68) |

دا آيات د لوط عليه السلام د غبرګون بيان کوي،کله چې د ښار خلک د هغه عليه السلام د ميلمنو د ليدلو دپاره راغلل.

قَالَ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ ضَيۡفِي فَلَا تَفۡضَحُونِ (68)

هغه عليه السلام (خلکو) ته وويل:چې دا خلک زما ميلمانه دي،نو ما مه رسوا کوئ(د دې مطلب دا نه دی چې ګڼې هغه عليه السلام د خلکو څخه ووېريدو،او زارۍ يې ورته کولې،بلکې هغه عليه السلام ته پته وه چې عذاب پرې راځي،ليکن لکه څنګه چې د ټولو پيغمبرانو سنت دي چې هر نبي د اخرنۍ شيبې پورې کوشش کړئ چې امت د عذاب څخه بچ کړي،همدارنګه هغه عليه السلام هم د خپل رسالت د سر ته رسولو دپاره د دعوت او تبليغ لار ونيوله،په دې امېد که څوک د عذاب څخه مخکې ايمان راوړي،او د عذاب څخه بچ شي.

نو اول یې د هغوی د وجدان دروازه وټکوله،تر څو یې د شرم او حیا احساس ته راوګرځوي،ځکه چې د عربو د دود او رواج مطابق د میلمه عزت د کوربه عزت او د میلمه توهین د کوربه توهین ګڼل کیده.نو دا د هغه د رسالت لمړی مرحله وه،یعني د انسانیت او وجدان دلارې د هغوی د اصلاح کوشش.

وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُخۡزُونِ (69)

تکي په تکي ترجمه:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَٱتَّقُواْ او وویرېږئ تاسو | ٱللَّهَ د الله تعالی نه | وَلَا | | |
| تُخۡزُونِ او ما مه رسوا کوئ (69) | | | | |

دا آیت د لوط علیه السلام د رسالت دوهمه مرحله ده

وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُخۡزُونِ (69)

او د الله تعالی څخه وویرېږئ،او ما مه رسوا کوئ(دلته لوط علیه السلام خبره د عرف او رواج څخه پورته کوي،او د تقوا د درجې د لارې خلکو ته وایي:چې دا یوازې د اخلاقو خبره نه ده،بلکې دا د پیغمبرانو علیهم السلام سنت او د الله تعالی

خوښې ده،یعني د میلمه بې عزتي د کوربه رسوايي او د الله تعالی په وړاندې لویه ګناه ده

قَالُوٓاْ أَوَلَمۡ نَنۡهَكَ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ (70)

تکي په تکي ترجمه:

| |
|---|
| قَالُوٓاْ هغوی(یعني خلکو لوط علیه السلام ته) وویل أَوَلَمۡ نَنۡهَكَ ايا مونږ ته نه وي منع کړې؟ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ د خلکو (د دفاع او ملاتړ) څخه (70) |

خو د لوط علیه السلام د دی دعوت او نصیحت په جواب کې خلکو په استهزايي توګه ځواب ورکړو او!

قَالُوٓاْ أَوَلَمۡ نَنۡهَكَ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ (70)

هغوی(لوط علیه السلام ته) وویل:ايا مونږ ته(د خلکو د دفاع او ملاتړ څخه) نه وي منع کړې؟(یعني مونږ ته مخکې د دې کاره منع کړې وې چې د میلمنو او بهرنیانو دفاع مه کوه)

قَالَ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِيٓ إِن كُنتُمۡ فَٰعِلِينَ (71)

تکي په تکي ترجمه:

قَالَ هغه عليه السلام(ورته) وويل: هَٰٓؤُلَآءِ دا(د قوم لونړه) بَنَاتِيٓ زما لورګاني دي إِن كه كُنتُمۡ ياستئ تاسو فَٰعِلِينَ عمل كوونكيِ(تاسو ته د واده او حلالي نكاح دپاره ډېري مناسبې دي) (71)

چون نبي د امت روحاني او معنوي پلار ګڼل كيږي،بيا هم لوط عليه السلام لعنت پرې نه وايې، بلكې: د دې بد او خراب عادت په ځاى د هغه شريعي او فطري حلال بديل ورته ښيې،په دې اميد كه ايمان راوړې چې د عذاب څخه بچ شي،نو!

قَالَ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِيٓ إِن كُنتُمۡ فَٰعِلِينَ (71)

هغه عليه السلام وويل:دا(د قوم لورګاني)زما لورګاني دي.(د دوى سره نكاح وكړئ) كه تاسو(حتمي)عمل كوونكي ياستئ(يعني كه حتماً د خواهش پوره كول غواړئ،نو دا يې شريعي فطرې او حلاله لار ده ،د نكاح د لارې خپل خواهشات پوره كوئ،چې سمه لار شته، نو د ګناه لار ولې نيسئ؟)

لَعَمۡرُكَ إِنَّهُمۡ لَفِي سَكۡرَتِهِمۡ يَعۡمَهُونَ (72)

<u>ټکی په ټکی معنی:</u>

| | |
|---|---|
| لَعَمۡرُكَ | (ای محمد«صلی الله علیه وسلم») قسم ستا په ژوند |
| إِنَّهُمۡ | چې بېشکه هغوی(د لوط علیه السلام قوم) |
| لَفِي سَكۡرَتِهِمۡ | یقیناً (د شهوت او غفلت) په نشه کې |
| يَعۡمَهُونَ | ړانده کاڼه وو (72) |

<u>الله تعالی فرمایي:</u>

لَعَمۡرُكَ إِنَّهُمۡ لَفِي سَكۡرَتِهِمۡ يَعۡمَهُونَ (72)

(ای محمد«صلی الله علیه وسلم») ستا په ژوند قسم! چې پرته د شک څخه د لوط«علیه السلام» قوم د غفلت او شهوت په مستۍ کې سرګردانه(ړانده او کاڼه)وو.

فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّيۡحَةُ مُشۡرِقِينَ (73)

<u>ټکی په ټکی ترجمه:</u>

| | |
|---|---|
| فَأَخَذَتۡهُمُ | نو ونیول هغوی ٱلصَّيۡحَةُ یو هیبتناکه اواز |
| مُشۡرِقِينَ | د لمر راختو پر مهال(سهار وختي) (73) |

فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّيۡحَةُ مُشۡرِقِينَ (73)

نو د لمر ختو په وخت کې يوې هيبتناکې چغې ونيول.

(يعني د سهار په مهال د جبرل عليه السلام چغې او د الله تعالى عذاب هغوی ونيول)

فَجَعَلۡنَا عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ حِجَارَةٗ مِّن سِجِّيلٍ (74)

ټکي په ټکي ترجمه:

فَجَعَلۡنَا نوبيا وګرځول مونږ. عَٰلِيَهَا د هغې(ښارونو)پورته برخه سَافِلَهَا د هغوی لاندې برخه (يعني سرچپه مو کړل) وَأَمۡطَرۡنَا او وورولې مونږ. عَلَيۡهِمۡ په هغوی باندې حِجَارَةٗ تيږې مِّن د سِجِّيلٍ سجيل(په اور پخې شوې تيږې) (74)

دا آيت د لوط عليه السلام د قوم د عذاب طرز او بشپړه تباهي بيانوي.

الله تعالی په دې آيت کې دا ښيي چې هغه قوم يوازې چغې ونه وهل،بلکې د دوی ښارونه په بشپړ ډول د بيخه په بل مخ واوښتل،او د آسمان د لورې پرې ډبرې ووريدې.

فَجَعَلْنَا عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ (74)

نو بيا هغه کلي مونږ په بل مخ واړول،او په اور پاخه کانې مو پرې ووړول.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأَيَٰتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِينَ (75)

تکي په تکي ترجمه:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| إِنَّ | بېشکه | فِي ذَٰلِكَ | په دې(پېښه)کې | لَأَيَٰتٍ | يقيناً نښې دي(عبرتونه دي) | لِّلْمُتَوَسِّمِينَ | د غور او فکر کوونکو دپاره (75) |

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأَيَٰتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِينَ (75)

بېشکه په دې(پېښه يعنې د لوط عليه السلام د قوم په هلاکت ) کې نښې او عبرتونه دي د هغو خلکو دپاره چې:د فکر او بصيرت سترګې لري.

وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُّقِيمٍ (76)

تکي په تکي ترجمه:

| | |
|---|---|
| وَإِنَّهَا | او بېشکه دا(د لوط علیه السلام د قوم تباه شوي کلي) |
| لَبِسَبِيلٍ | په يوه لار باندې |
| مُّقِيمٍ | واقع دي (76) |

وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُّقِيمٍ (76)

او بېشکه د لوط علیه السلام د قوم تباه شوي کلي د يوې لارې په سر واقع دي(چې خلک پرې تيرېږي تيرېږي راتيرېږي،هوښياران ترې پند او عبرت اخلي،او غافلان تش ځي او راځي،دا لار چې دا کلي د هغې په اوږدو کې واقع دي د مکې،مدينې او شام تر منځ ده)

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ (77)

تکي په تکي ترجمه:

| | |
|---|---|
| إِنَّ | بېشکه |
| فِي ذَٰلِكَ | په دې(پېښه) کې |
| لَآيَةً | عبرت دی |
| لِّلْمُؤْمِنِينَ | د مؤمنانو دپاره (77) |

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ (77)

بېشکه په دې(پېښه)کې عبرت دی د مؤمنانو دپاره.

وَإِن كَانَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأَيۡكَةِ لَظَٰلِمِينَ (78)

تکي په تکي ترجمه:

| |
|---|
| وَإِن او بېشکه،یقیناً كَانَ وو أَصۡحَٰبُ ٱلۡأَيۡكَةِ د ايکه خلک(د باغونو خلک) لَظَٰلِمِينَ ظالمان (78) |

او بېشکه د ايکه خلک(هم) ډېر ظالمان وو.

(دا د شعيب عليه السلام قوم وو،په دې سيمه کې ډېر ګڼ باغونه او ونې وې،شرک او تول(تله) کې يې خيانت کولو)

فَٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ وَإِنَّهُمَا لَبِإِمَامٖ مُّبِينٖ (79)

تکي په تکي ترجمه:

| |
|---|
| فَٱنتَقَمۡنَا نو مونږ انتقام واخستو مِنۡهُمۡ د هغوی څخه وَإِنَّهُمَا او بېشکه دواړه(د هلاک شوو قومونو کلي) لَبِإِمَامٖ مُّبِينٖ په یوه ښکاره لار باندې(واقع) دي (79) |

نو مونږ د هغوی څخه انتقام واخستو(هلاک مو کړل) او
بېشکه د دواړو(یعني د لوط علیه السلام د قوم او د شعیب
علیه السلام د قوم وران شوي کلي)د یوې ښکاره(عامې)
لارې په سر دي.(چې خلک ورباندې تګ راتګ کوي،او د
دوی د وران شوو کلو د کنډرو څخه عبرت اخلي،یعني د
راتلوونکو نسلونو دپاره دعبرت نښې شوې،باید ذکر شي چې
د لوط او شعیب علیهما السلام قومونه د شام او مدین په یوه
لاره پراته وو،او د مکې حاجیان یا د شام مسافر به پرې
تیریدل.نو دا د خلکو دپاره ښکاره نښې وي.)

وَلَقَدۡ كَذَّبَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡحِجۡرِ ٱلۡمُرۡسَلِينَ (80)

تکي په تکي ترجمه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| وَلَقَدۡ او بېشکه | كَذَّبَ دروغجن وګڼل | أَصۡحَٰبُ | |
| ٱلۡحِجۡرِ د حجر خلکو | ٱلۡمُرۡسَلِينَ پیغمبران (80) | | |

او بې شکه د حجر خلکو(هم) پیغمبران دروغجن ګڼلي وو.

---

(د حجر سیمه د حجاز او شام تر منځ موقیعت لرې،چې د صالح علیه السلام قوم، ثمودیان پکې اباد وو.)

وَءَاتَيۡنَٰهُمۡ ءَايَٰتِنَا فَكَانُواْ عَنۡهَا مُعۡرِضِينَ (81)

تېکي په تېکي ترجمه:

وَءَاتَيۡنَٰهُمۡ او ورکړي وي مونږ هغوی ته ءَايَٰتِنَا نښې(معجزې) خپلې فَكَانُواْ خو شول هغوی عَنۡهَا د هغې(نښو) څخه مُعۡرِضِينَ مخ ګرځوونکې(بې پروا) (81)

مونږ هغوی ته خپلې نښې ورکړې،خو هغوی ترې مخ واړاوه.

---

(دا قوم«ثموديان» په علم،مهارت او تمدن کې مشهور وو،د غرونو په منځ کې يې کورونه تراشل،خو کله يې چې د الله تعالى نبې ونه منلې،د الله تعالى د قدرت معجزه يعنې هغه اوښه چې د صالح عليه السلام په دعاء د يوې تيږې څخه راوتلې وه،هغه يې ووژله،او د هغه عليه السلام دعوت يې رد کړو،نو بيا د هغوى علم او مهارت د الله تعالى د عذاب څخه بچ نکړل.)

وَكَانُواْ يَنۡحِتُونَ مِنَ ٱلۡجِبَالِ بُيُوتًا ءَامِنِينَ (82)

تکي په تکي ترجمه:

وَكَانُواْ يَنۡحِتُونَ او هغوى به تراشل مِنَ ٱلۡجِبَالِ د غرونو څخه بُيُوتًا کورونه ءَامِنِينَ د امن دپاره (82)

او هغوى د غرونو څخه د ځان د امن دپاره کورونه تراشل.

---

يعنې د تراشلو پواسطه يې په غرونو کې کورونه جوړول،دا کورونه نن هم د «مدائن صالح» په سيمه کې ليدل کيږي،د مدينې شمال ته د پترا ښار ته نږدې.

ثمودیانو دا کورونه د ځانونو د امن دپاره جوړول،فکر یې کاوه چې دا به یې د زلزلو.طوفانونو او عذاب څخه وژغوري،لیکن انسان چې هرڅومره،قدرت،مهارت او ټیکنالوژۍ ولري،خو که د الله تعالی څخه غافل شي،نو د هغه جوړې شوي کلاګانې او ټیکنالوژۍ یې د الهي عذاب څخه نشي خلاصولای.نو ثمودیانو چې هم کله د الله تعالی د نبنو او پیغمبرانو د دعوت څخه انکار وکړو،نو!

فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّيۡحَةُ مُصۡبِحِينَ (83)

ټکي په ټکي ترجمه:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| فَأَخَذَتۡهُمُ | نو ونیول هغوی | ٱلصَّيۡحَةُ | یو ډېر زورور اواز(د عذاب) | مُصۡبِحِينَ | د سهار پر مهال (83) |

نو د سهار پر مهال هغوی یو زورو غږ(چیغې) ونیول.

دا د جبرئیل علیه السلام د چیغې،یا آسماني عذاب غږ وو،کله چې ټول په امن او سکون ویده وو،سهار شو،ناڅاپه عذاب راغی،او ټول هلاک شو.

فَمَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ (84)

تېکي په تېکي ترجمه:

| | | |
|---|---|---|
| فَمَآ أَغۡنَىٰ نو بچ نکړو | عَنۡهُم د هغوی څخه(د الله تعالی عذاب) | مَّا هغه څه چي كَانُواْ يَكۡسِبُونَ هغوی ګټل(چي هغوی لاس ته راوړي وو) (84) |

نو هغه څه چي هغوی به ګټل او لاس ته راوړل،هغوی ته یې هیڅ ګټه ونکړه.

---

یعني هرهغه څه چي د دنیا د وسایلو،قوت،مال،اولاد،د غرونو څخه تراشل شوي قوي او مظبوط کورونه او مهارتونه یې تر لاسه کړي وو---د عذاب په وخت کي یې ورته هیڅ ګټه ونکړه.

وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۗ وَإِنَّ ٱلسَّاعَةَ لَأٓتِيَةٞۖ فَٱصۡفَحِ ٱلصَّفۡحَ ٱلۡجَمِيلَ (85)

تېکي په تېکي ترجمه:

| | | |
|---|---|---|
| وَمَا خَلَقۡنَا او مونږ نه دي پیداکړي | ٱلسَّمَٰوَٰتِ آسمانونه | وَٱلۡأَرۡضَ او ځمکه وَمَا آو هغه څه بَيۡنَهُمَآ چي |

د دې دواړو تر منځ دي (يعني بې هدفه او تصادفي نه دي پيدا شوي) إِلَّا مګر بِٱلۡحَقِّۗ په حق سره(په عدل،حکمت،اندازه او د يو مقصد دپاره پيدا شوي دي) وَإِنَّ او بېشکه ٱلسَّاعَةَ قيامت لَأٓتِيَةٞۖ حتماً راتلونکی دی فَٱصۡفَحِ نو ته بخښنه وکړه ٱلصَّفۡحَ بخښنه ٱلۡجَمِيلَ ښايسته (85)

وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۗ

مونږ آسمانونه او ځمکه او هر هغه څه چې د دوی په منځ کې دي( عبس او بي هدفه نه دي پيدا کړې) مګر(په کائناتو کې هر شی) په حق سره( د عدالت او حکمت په بنسټ د يو هدف دپاره پيداشوی.)

دا په دې معنی:چې هرشی په یوه معلومه اندازه د یو هدف دپاره جوړ شوی،او په خپل ځای کې د عدالت د قانون په اساس د خپل حق مطابق اېښودل شوی دی. چې د امله يې په کائناتو کې توازن او تعادل منځ ته راځي،يا په بل عبارت په کائناتو کې توازن د الهې عدالت اظهار دی.

اول: عدالت او توازون په اتوم کې:

په اتوم کې پروتونونه،نیوترونونه،ایلیکترونونه، هستوې او برقي مقناطیسي قوې،دا ټول په توازون او تعادل کې دي،یعنې د یو عادل نظام پوسطه ټول په مناسبو اندازو او مناسبو ځایونو کې ځای په ځای شوي،تر څو چې عدالت برقرار وي،توازون به موجود وي،او اتوم به ثابت وي،خو که چیرته په کوم یو کې تغیر راشي،فرضاً که د ایلکترون،پروتون،نیوترون په کتلو یا شمیر کې یا په هستوې او برقي مقناطیسي قوو کې، که په هر یو د دوی کې زیاتوالی یا کموالی راشي،عدالت د منځه ځې،توازون خرابیږي،فساد منځ ته راځې، اتوم ماتیږي او ماده تباه کیږي.

لکه څنګه چې یو اتوم د عدل او توازون د قانون په اساس ولاړ دی،همداسې ټول کائنات د همدغه«الهې عدالت» په قانون روان دي.که په هر شي کې عدالت د منځه لاړ شي توازون د منځه ځې،او چې توازون نه وي فساد او ګډوډې منځ ته راځې.

فرضاً که د ځمکې په سرعت یا حجم کې زیاتوالی یا کموالی راشي،یا د لمر او ځمکې تر منځ فاصله زیاته یا کمه شي،یا د لمر حجم او د لمر پواسطه د حرارت جوړیدل زیات او کم شي،عدالت او توازون د منځه ځې،په نتیجه کې په شمسې

نظام کې داسې ګډوډې او فساد منځ ته راځې چې په ځمکه کې ژوند د منځه وړې.

همدارنګه په ټولو ستورو او کهکشانونو کې عدالت او توازون قائم دی، وَٱلسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ ٱلۡمِيزَانَ (٧)ترجمه:(او آسمان یې اوچت کړو،او میزان( توازون) یې قائم کړو.)

یعنې د ستورو پواسطه د جوړ شوي حرارتي فشار او د جاذبې د قوې تر منځ داسې توازن موجود دی چې نه ستورې کولپس کوي،او نه چوې،خو که چیرته په دې میزان(توازون) کې فرق راشي،فرضاً که د جاذبي قوه زیاته شي نو ستورې به کولپس شي(یعنې د مرکز خواته به راکش شي او په بلک هول به بدل شي)،او که د جازبي قوه کمه شي نو د حرارتي فشار پواسطه به ستورې وچوي،همدارنګه که چازبه ډېره زیاته شي نو ټول کهکشانونه به یو د بل سر ټکر او ټوټې ټوټې شي، همدارنګه که په حیواناتو،نباتاتو،اوبو....او هوا کې توازون خراب شي،په ځمکه کې ژوند د منځه ځې.

همدارنګه د انسان د بدن هره حجره او هر سیستم د یو عادل نظام لاندې یو دبل سره هماهنګ او توازون کې دي،او که

عدالت او توازون خراب شي،ناروغي(فساد) منځ ته راځيِ حتيِ ژوند د منځه ځيِ.

خو الحمد لله په کائناتو کيِ د عدالت او توازون د خرابيدلو اختيار الله تعالی هيڅ چا ته نه دی ورکړی،صرف انسان ته يې د امتحان دپاره يو څه اختيار ورکړی،هغه هم صرف په تشريعي کارونو کيِ.خو مونږ ګورو چيِ په ديِ لږ اختيار کيِ هم اکثره انسانان د الهيِ عدالت څخه سرکشي کوي،توازون خرابويِ،د خلکو حقونه خوريِ،غلاګانيِ.....او ظلمونه کوي.

وَإِنَّ ٱلسَّاعَةَ لَأٓتِيَةٞۖ فَٱصۡفَحِ ٱلصَّفۡحَ ٱلۡجَمِيلَ (85)

(ترجمه: او بيشکه قيامت خامخا راتلونکی دی،نو ته هغوی ته په ښکليِ ډول عفوه وکړه.)

خطاب محمد«صلی الله عليه وسلم» او هر مؤمن ته دی.يعني که کفار ستا دعوت نه منيِ،او برعکس ستا مخالفت او توهين کويِ،نو ته ورته داسيِ عفوه او يخښنه کوه،چيِ په زړه کيِ ورته هم هيڅ کينه ونه ساتيِ،ستا کار هغوی ته د الله تعالی پيغام رسول دي،او اجر دي په الله تعالی دی،د عدالت او حساب ورځ حتماً راځيِ ،او الله تعالی به ورسره د زريِ زريِ حساب وکړي.

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ ٱلۡخَلَّٰقُ ٱلۡعَلِيمُ (86)

| |
|---|
| إِنَّ بشکه رَبَّكَ رب ستا هُوَ هغه«جل جلاله» ٱلۡخَلَّٰقُ دوامداره پیدا کوونکی ٱلۡعَلِيمُ ډېر پوه دی. (86) |

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ ٱلۡخَلَّٰقُ ٱلۡعَلِيمُ (86)

ترجمه:

بېشکه ستا رب دوامداره پیدا کوونکی (او)ډېر عالم دی.

(یعني لحظه په لحظه په دوامدار ډول الله تعالی نوی مخلوق،انسانان،حیوانات،نباتات،نوې ستورې او کهکشانونه،د علم او حکمت په بنسټ د یو مقصد دپاره پیدا کوي.او د هرشي مادي مضارع او مسقبل د هغه«جل جلاله» په علم کې دي.

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَٰكَ سَبۡعٗا مِّنَ ٱلۡمَثَانِي وَٱلۡقُرۡءَانَ ٱلۡعَظِيمَ (87)

| |
|---|
| وَلَقَدۡ او بېشکه ءَاتَيۡنَٰكَ درکړې مونږ تا ته سَبۡعٗا اوه (۷) مِّنَ ٱلۡمَثَانِي د تکراریدونکو(آیاتونو) وَٱلۡقُرۡءَانَ ٱلۡعَظِيمَ او ستر قرآنکریم (87) |

ترجمه:

او بېشکه مونږ تا ته اوه(۷) تکراریدونکې آیاتونه(سورة الفاتحه) او ستر قرآنکریم درکړی دی.

لَا تَمُدَّنَّ عَيۡنَيۡكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعۡنَا بِهِۦٓ أَزۡوَٰجٗا مِّنۡهُمۡ وَلَا تَحۡزَنۡ عَلَيۡهِمۡ وَٱخۡفِضۡ جَنَاحَكَ لِلۡمُؤۡمِنِينَ (۸۸)

| |
|---|
| لَا تَمُدَّنَّ عَيۡنَيۡكَ　مه پورته کوه سترګې(په رغبت سره) إِلَىٰ مَا　هغه څه ته　مَتَّعۡنَا　چې مونږ فایده ورکړې بِهِۦٓ　په هغه سره　أَزۡوَٰجٗا مِّنۡهُمۡ　ځینې ډلو ته د هغوی(یعنې کافرانو)　وَلَا تَحۡزَنۡ　او مه خفه کیږه عَلَيۡهِمۡ　په هغوی باندې　وَٱخۡفِضۡ　او ښکته کړه جَنَاحَكَ　وزرونه(د نرمی او شفقت)خپل　لِلۡمُؤۡمِنِينَ　د مؤمنانو دپاره (88) |

ترجمه:

(په رغبت او حسرت سره)هغو شیانو(او نعمتونو) ته مه ګوره چې مونږ ځینې کفارو او مالدارو ته ورکړې دي(دا مالونه،شتمنۍ او نعمتونه یوازې د امتحان دپاره دي،نه د عزت دپاره)او په هغوی باندې مه خفه کیږه(چې ولې دعوت نه مني،ولې ایمان نه راوړي،تا پیغام ورسولی او خپل

رسالت دي سر ته رسولی دی.) او مؤمنان د خپل شفقت او مهربانۍ په غیږ کې ونیسه.

وَقُلۡ إِنِّيٓ أَنَا ٱلنَّذِيرُ ٱلۡمُبِينُ (89)

| |
|---|
| وَقُلۡ او ته ووايه إِنِّيٓ أَنَا بېشکه زه ٱلنَّذِيرُ ویرووونکی یم ٱلۡمُبِينُ ښکاره (89) |

ترجمه:

او(منکرانو ته) ووایه چې زه (ستاسو دپاره د داسي عذاب څخه)ښکاره ویرونکی یم.

كَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَى ٱلۡمُقۡتَسِمِينَ (90)

| |
|---|
| كَمَآ لکه څنګه چې أَنزَلۡنَا نازل کړو مونږ. عَلَى په ٱلۡمُقۡتَسِمِينَ تقسیم کوونکو (په ټوټې ټوټې کوونکو باندې) (90) |

ترجمه:

(منکرانو ته ووایه،زه تاسو ته د داسې عذاب د راتلو نه خبر درکوم) لکه څنګه چې الله تعالی په تقسیم کوونکو( ټوټې ټوټې کوونکو) نازل کړی وو.

ٱلَّذِينَ جَعَلُواْ ٱلۡقُرۡءَانَ عِضِينَ (91)

| |
|---|
| ٱلَّذِينَ (تقسیم کوونکي)هغه خلک دي جَعَلُواْ چې هغوی ګرځولی و ٱلۡقُرۡءَانَ قرآن عِضِينَ ټوټې ټوټې(برخې برخې) (91) |

ترجمه:

( تقسیم کوونکي) هغه خلک دي چې هغوی قرأن ټوټې ټوټې کړ.

* دا مبارک آیت په ظاهره د مکې د مشرکانو دپاره نازل شوی،خو په عمومي مفهوم کې د هغو ټولو خلکو دپاره دی چې:د الله تعالی کتابونه تورات ،انجیل او قرآن یې برخې برخې کړي- (ابن کثیر،طبري،قرطبي)

د یهودیانو علماوو د تورات یوه برخه ومنله او بله برخه یې رد کړه، آیاتونه یې بدل کړل،د آیت معنې او تفسیر یې په خپله خوښه وکړو،حقیقت یعنې د نبي علیه السلام صفتونه یې د خلکو څخه پټ کړل.که دا جرم دې علماوو نه وو کړئ،کیدای شي چې ټولو کتابیانو په نبي علیه السلام باندې ایمان راوړی وو.یعنې یهودیانو څلور قسمه تحریف په تورات کې وکړو.

(۱)لفظي تحريف (په الفاظو کې بدلون):

د تورات الفاظ يې بدل کړل،يا يې ځينې برخې د منځه يوړې،يا يې په لوستلو کې الفاظ واړول.

(۲) معنوي تحريف(په معنی کې بدلون):

الفاظ يې هماغسې پرېښودل،خومعنی يې په خپله خوښه تفسيروله،د الله تعالی حکم يې د خپلې ګټې مطابق تعبيراوه.

(۳) کتمي(د پټولو)تحريف:

هغه آيتونه او احکام يې پټول چې د دوی د خواهش خلاف وو،لکه د محمد«صلی الله عليه وسلم» د نبوت نښې يې پټولې.

(۴) ځينو به د اصل تورات په ځای خپله ليکلې نسخه وړاندې کړه،او ويل به يې چې دا د الله تعالی کلام دی.

کله چې قرآن نازل شو د مکې ځينې مشرکانو خلکو ته ويل: چې دا شعر دی،ځينو ويل جادو دی،ځينو ويل دا د پخوانيو خلکو کيسې دي.نو الله تعالی وفرمايل:

دا هغه خلک دي چې قرآن يې ټوټې ټوټې کړی،هر يو د خپلې خوښې نوم پرې ايښی.

په اوسنۍ وخت کې څه روان دي؟

الله تعالی د قرآن د ساتنې ضمانت پخپله کړی دی:

إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ (۹ سورة الحجر)

ترجمه:ببشکه مونږ دا قرآن نازل کړی،او مونږ يې پخپله ساتونکي يو.

د قرآن لفظي تحريف هيڅ امکان نه لرې،هيڅوک نشي کولای چې د قرآن يو ټکی زيات يا کم کړي.او دا خبره د ۱۴ پيړيو راهيسې رښتيا ده ــــ قرآن هماغسې دی څنګه چې اول نازل شوی و.

هو: دا خبره سمه ده – لفظي تحريف نشته،خو معنوي او کتمې تحريف نن په پراخه کچه کيږي.

اول:معنوي يا علمي تحريف:

يعنې:د قرآن تفسير د خپلې خوښې،سياست،مذهب،يا فکري ميل مطابق کول.

الف:قرآن د الله تعالی د حکم د اقامې امر کوي،خو څوک يې داسې تعبير کوي:«قرآن يوازې د عبادت کتاب دی،د سياست او قانون سره کار نلري.»

ب: قرآن د ظلم پر ضد امر کوي،خو څوک وايې:«د ظالم په وړاندې چوپتيا هم تقوا ده».

ت:قرآن د عدالت،امر بالمعروف او نهی عن المنکر حکم کوي.خو ځوک دا حکمونه یوازې د اخلاقو په سطحه محدودوي.

دا هغه معنوي تحریف دی چې د عقل،سیاست او مصلحت په نوم د قرآن روح وژني.

دوهم:کتمي تحریف(پټول)

یعني: د قرآن هغه برخې یا هغه آیتونه، نه بیانول چې د حاکمانو او خلکو د ګټو پر ضد وي .الله تعالی فرمايي:

وَلَا تَلْبِسُوا۟ ٱلْحَقَّ بِٱلْبَٰطِلِ وَتَكْتُمُوا۟ ٱلْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ (۴۲)

ترجمه:حق د باطل سره مه ګډوئ،او حق مه پټوئ،په داسې حال کې چې تاسو پوهیږئ.

نن دا تحریف داسې کیږي:

(۱)

د عدالت،ظلم،او قانون آیتونه خلکو ته نه ویل کیږي؛

(۲)

د الله تعالی د حاکمیت خبره سیاسي بلل کیږي؛یعنې کله چې ځوک وایي الله تعالی حاکم دی یعنې د قانون جوړولو،حکم کولو،حلال او حرام ټاکلو او د خلکو د نظام واک یوازې د الله

تعالی سره دی.چې دا د توحید یوه برخه ده چې: ورته توحید في الحاکمیه یا د حکم توحید وایې.یعنې د حاکمیت حق یوازې الله تعالی ته شته،نه انسان ته،نه حکومت ته،نه پارلمان ته.نو!

ځینې خلک وایې:دا خو د حکومت او سیاست خبره ده،د دین نه ده!

یعنې د دوی په نظر،دین باید یوازې د لمونځ،روژې او اخلاقو پورې محدود وي.او د دولت،قانون،عدالت او حکومت کارونه باید د دین څخه بیل وي.

نو کله چې څوک وایې«الله تعالی باید حاکم وي» دوی دا خبره سیاسي شعار ګڼي،نه دیني عقیده.

(۳)

یوازې د عبادت،صبر،او ثواب خبرې کیږي؛او د قرآن اجتماعي آیتونه پټ ساتل کیږي.

دا هماغه کتمي(پټ) تحریف دی --«یعنې:پټول،نه بیانول، او د خلکو ذهن د نیم دین پر لور اړول.»

دا په دې معنی:نن تحریف د قرآن په پاڼو کې نه،بلکې د خلکو په ذهنونو کې روان دی؛

په کتاب کې نه،بلکې په تفسیرونو،فتواوو او منبرو کې.

## د قرآن درې ډوله آيتونه، چې خلک يې غلط تفسير کوي:

اول: د حاکميت او قانون آياتونه

قرآن فرمايي:

إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِ

ترجمه:واکمنۍ يوازې د يو الله تعالی ده.

خو ځينې خلک وايي:دا خو د زړه حکم دی،نه د دولت يا قانون.

يعني ځينې خلک داسې فکر کوي:چې د دين او ايمان خبره يوازې د زړه،ضمير او وجدان پورې تړلې ده،حکومت،قانون او سياست د انسان کار دی – د دين کار نه دی.

نو دوی وايي:

د الله حکم د زړه دپاره دی.نه د دولت يا قانون دپاره.

يا دا خو د پخوانې وخت خبره وه،اوس دولت بې دينه هم کېدای شي.

دا فکر د سيکولر يا دين د سياست څخه د جلا کيدلو د نظريې اساس دی.

خو د قران د نظره دا خبره غلطه ده،فرمايي چې حکم(قانون او واک) يوازې د الله تعالی دپاره دی.چې په واضحه توګه معلوميږي چې:الله تعالی يوازې د

زړه«پادشاه» نه دی.بلکې د
ژوند،حکومت،قانون،اقتصاد او عدالت واکمن هم
دی.نو ایمان هغه وخت مکمل کيږي چې د زړه باور د
عمل او قانون په شکل ښکاره شي.
قرآن دواړه(د زړه باور او عمل) لازم بولي – نه دا
چې يو منې او بل پريږدې.
أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ ٱلْكِتَٰبِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍۚ(البقره –
۸۵)ترجمه: آيا د كتاب يوه برخه منئ او بله پريږدئ؟
يعنې يوازې د زړه ايمان لرل،خو د الله تعالى د قانون
نه منل – دا نيم ايمان دی.
هيڅ يو پيغمبر دا نه ويل چې: يوازې زړونه پاک
کړئ،بلکې هغوی عليهم السلام ويل:زړونه او ټولنه
دواړه د الله تعالى حکم ته تسليم کړئ.
<u>مثالونه:</u>
<u>موسى</u> عليه السلام د فرعون د ظالمانه نظام خلاف
پاڅون وکړ.
<u>شعيب</u> عليه السلام د سود او دوکې اقتصادي نظام رد
کړ.

محمد«صلی الله علیه و سلم»د مکي د باطل نظام پر ځای د اسلامي عدالت نظام راوست.دا ټول د دین عملي بڼه ده نه یوازې د عبادت.

دوهم: د عدالت او قسط ایتونه

قرآن فرمایي:

لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَنزَلۡنَا مَعَهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡمِيزَانَ لِيَقُومَ ٱلنَّاسُ بِٱلۡقِسۡطِۖ (الحدید ۲۵)ترجمه:موږ خپل رسولان د روښانه دلایلو(معجزو)،کتاب(د الله د شریعت) او میزان(د انصاف د معیار) سره ولیږل،تر څو خلک عدالت قائم کړي.)یعني دا د نبیانو مهمه دنده وه چې:د انسانانو په منځ کې عدل،توازون او حق ژوندی وساتي.دا په دې معنی چې د نبیانو د رسالت مقصد یوازې عبادت نه و،بلکې د عبادت،عدالت او اخلاقو یو متوازن نظام جوړول و.

شعیب علیه السلام د اقتصادي عدالت د اقامې دپاره واستول شو( أَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ وَٱلۡمِيزَانَ وَلَا تَبۡخَسُواْ ٱلنَّاسَ أَشۡيَآءَهُمۡ-الاعراف:۸۵ ترجمه:تله او پیمانه پوره ورکوئ،او خلکو ته د هغوی په شیانو کې تاوان مه اړوئ).

موسی علیه السلام فرعون ته واستول شو چې د ظلم
او استبداد نظام ختم کړي ( ٱذۡهَبۡ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ إِنَّهُۥ
طَغَىٰ ـ طه: ۲۴ -ترجمه:فرعون ته ورشه،هغه
سرکشه شوی دی.) دا د سیاسي او ټولنیز عدالت مثال
دی

داود علیه السلام د قانوني عدالت د اقامې مامور و. .(
يَٰدَاوُۥدُ إِنَّا جَعَلۡنَٰكَ خَلِيفَةٗ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱحۡكُم بَيۡنَ ٱلنَّاسِ
بِٱلۡحَقِّ ـ ص:۲۶ ترجمه: ای داوده «علیه السلام»
مونږ ته په ځمکه کې خلیفه ګرځولی یې،نو ته د خلکو
په منځ کې په حقه حکم وکړه.)
د محمد«صلی الله علیه وسلم» هدف هم دا و.( لَقَدۡ
أَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَنزَلۡنَا مَعَهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡمِيزَانَ لِيَقُومَ
ٱلنَّاسُ بِٱلۡقِسۡطِۖ (الحدید ۲۵)ترجمه:مونږ خپل رسولان
د روښانه دلایلو(معجزو)،کتاب(د الله د شریعت) او
میزان(د انصاف د معیار) سره ولیږل،تر څو خلک
عدالت قائم کړي).
نو دا د ټولو نبیانو رسالت وو چې د الله تعالی د کتاب
او وحې د مخې عدل ،انصاف او توازون په ځمکه کې
ټینګ کړي.

خو متأسفانه، د دې آیت په معنی او عملي مفهوم کې ځینو مفسیرینو،واکمنو او عامو مسلمانانو په تاریخ کې درې ډوله تحریفونه کړي دي.

اول:-معنوي تحریف(د مفهوم بدلول) یعنې: د آیت معنی د الله تعالی د مراده بل لور ته اړول.

اصل مطلب:

«لِيَقُومَ ٱلنَّاسُ بِٱلۡقِسۡطِۖ » یعني خلک دې د الله تعالی د قانون د مخې عدالت قایم کړي.

«یعنې عدالت یوازې په قضا کې نه،بلکې په ټول ژوند،نظام،اقتصاد او سیاست کې.»

تحریف شوی مطلب:

لیکن ځیني خلکو دا معنی یوازې«د قاضي د عدالت» یا د خپل منځ انصاف پورې محدوده کړه. یعنې: د ټولنیز او سیاسي عدالت مفکوره یې ختمه کړه.

امام فخر رازي وایې:خلک عدالت یوازې د محکمې په شخړو کې ګڼي،حال دا چې دا د ژوند هره برخه رانغاړي.

نو دا د معنوي تحریف لومړی ډول دی – د آیت د مراد او مقصد تنګول،او د ټولنیز عدالت څخه یې جلا کول.

دوهم: د آیت اصلي پیغام نه ښودل یا پرې سترګې پټول.

د تاریخ په اوږدو کې ځینې درباري علماوو او ظالمو واکمنانو دا آیت نه یاداوه،ځکه دا د دوی پر ضد و:

لِيَقُومَ ٱلنَّاسُ بِٱلۡقِسۡطِۖ –خلک دې د عدالت دپاره راپاڅي.

خو ظالمانو نه غوښتل چې خلک د عدالت دپاره راپاڅي ،نو علماوو یې دا برخه یا خو پریښوده،او یا یې صرف «روحاني عدالت» ورته وویلې.

دا هغه تحریف دی چې قرآن یې «کتمان الحق»یعنې د حق پټول بولي: ( وَلَا تَلۡبِسُواْ ٱلۡحَقَّ بِٱلۡبَٰطِلِ وَتَكۡتُمُواْ ٱلۡحَقَّ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ( البقره:۴۲)

ترجمه:حق د باطل سره مه ګډوئ،او حق مه پټوئ،په داسې حال کې چې تاسو پوهیږئ.)

دریم:عملي تحریف (په عمل کې د منځه وړل) یعنې آیت په ژبه منل کیږي خو عمل پرې نه کیږي،بلکې په عمل کې د هغه پر خلاف چلند کیږي.په بل عبارت:تحریف عملي دا دی چې: د الله تعالی حکم په کتاب کې پاتې وي،خو په ژوند،قانون او سیاست کې

پرې عمل ونه شي يعنې قرآن صرف د برکت دپاره ساتل نه د عمل دپاره.

مثالونه:

*خلک وايې «الله تعالی عدل خوښوي» خو نظام يې ظالمانه دی.

* حاکمان د عدالت خبرې کوي،خو قانون د شتمنو په ګټه بدلوي.

* علما د عدالت وعظ کوي،خو د ظالم څخه ملاتړ کوي.

دا هماغه خبره ده چې الله تعالی پرې خبرداری ورکوې: ۞أَتَأۡمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلۡبِرِّ وَتَنسَوۡنَ أَنفُسَكُمۡ - البقره:۴۴ــــترجمه:تاسو خلکو ته د نيکۍ امر کوئ خو خپله يې نه کوئ.

دا عملي تحريف دی -قرآن د عدالت دپاره نازل شوی،خو په عملي ژوند کې د ظلم ملاتړ کيږي.

زيات مذهبي نظامونه او علما، دين داسې معرفي کوي چې:اسلام صرف عبادات او اخلاق دي،او بس،دا دين دی!

خو قرآن دا نه وايې.

قرآن وايې:

وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ (المائدة:44)
وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ (المائدة:45)
وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ (المائدة:۴۷)

*څوک چې د الله تعالی په نازل شوي قانون سره فيصله نه کوي،هغوی کافران دي.
*څوک چې د الله تعالی په نازل شوي قانون سره فيصله نه کوي،هغوی ظالمان دي.
*څوک چې د الله تعالی په نازل شوي قانون سره فيصله نه کوي هغوی فاسقان دي.

د دې ایت معنی ډېرو علماوو محدوده کړې:
«دا خو د قاضیانو دپاره دي،د عامو خلکو کار نه دی.
حال دا چې دا د ټول امت د ژوند قانون دی – د اقتصاد،حکومت،عدالت،جنګ او سولې ټولې برخې رانغاړي.نو دا معنوي تحریف دی – د قانون آیتونه یوازې «فتواوو او قاضي ته محدودل،نه عملي نظام ته.

*د حکومت د واک آیتونه

لکه چې لږ مخکې هم ذکر شو « إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِ – یوسف:۴۰» حکم او واک یوازې د الله تعالی دپاره دی.

په قرآن کې دا د حاکمیت آیت دی – یعنې د قانون جوړونې حق یوازې الله تعالی ته شته.

<u>خو اوسني تحریفونه:</u>

دا خو د زړه حکم دی،نه د دولت یا قانون.

یعنې ځینې خلک داسې فکر کوي:چې د دین او ایمان خبره یوازې د زړه،ضمیر او وجدان پورې تړلې ده،حکومت،قانون او سیاست د انسان کار دی – د دین کار نه دی.

<u>نو دوی وایي:</u>

د الله حکم د زړه دپاره دی.نه د دولت یا قانون دپاره.

قرآن ته د دولت کار مه ورکوئ،دا خو صرف د عبادت دپاره دی.دا د آیت ښکاره معنوي تحریف دی.

*د عدالت او ظلم آیتونه

قرآن فرمایي:

۞إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَٱلۡإِحۡسَٰنِ – النحل:۹۰

هره جمعه دا آیت لوستل کیږي،خو عملي معنی یې پټه ده.

الله تعالى د عدالت امر کوي،خو:
خلک یوازې دا د «اخلاقو» په سطحه تفسیر کوي،او د سیاسي،اقتصادي او ټولنیز عدالت له معنی څخه يې بې برخې کوي.
حال دا چې قرآن د ظلم،رشوت،استبداد،د خلکو د حق خوړلو پر ضد یو بشپړ قانوني نظام وړاندې کړی.دا د قرآن د«اجتماعي عدالت»برخه ده،خو نن یوازې د خطبې زینت ګرځیدلی.

*د اقتصاد آیتونه

قرآن فرمايي:

ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِي يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ مِنَ ٱلۡمَسِّ ـــالبقره:٢٧٥

دا آیت د سود د نظام په ضد ښکاره اعلان دی.
معنوي تحریف نن دا دی:
«په اوس وخت کې سود ضرورت دی،دا خو بانک دی، نه ربا،د اقتصاد اړتیا ده.....»
*دا ډول تعبیر د ربا آیت د دنیاوي مصلحت په نوم بدلول دي.

* <u>د علماو د لوري تحریف</u>

دا یو ډېر خطرناک او دردناک ډول دی.

ځينې علما دا کار کوي:

*چې د ظالمانه حکومتونو ملاتړ کوي،او بيا يې «شرعي» بولي.

*د جهاد ،عدل او حاکميت آيتونه پټوي.

*د خلکو ذهنونه دا ډول روزي چې:

دين د مسجد پورې محدود دی،د عدالت او سياست سره يې کار نشته.

ځينې علما د قسط(عدالت) معنی يوازې د اخلاقو پورې محدودوي،او د ټولنيز،سياسي او قانوني عدالت څخه يې جلا کوي.

ځينې علما پوهيږي چې دا آيت د الله تعالی د نظامي او قانوني عدالت قائميدل غواړي،خو د ظالمانو حاکمانو يا مصلحت له امله دا خبره نه کوي.

ځينې علما د عدالت خبرې کوي،خو د ظلم ملاتړ کوي،يا د ظالم حاکم لاس نيسي د دين په نوم.

دا هماغه کتمي تحريف دی چې قرآن يې په اړه فرمايي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡتُمُونَ مَآ أَنزَلۡنَا مِنَ ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلۡهُدَىٰ مِنۢ بَعۡدِ مَا بَيَّنَّٰهُ لِلنَّاسِ فِي ٱلۡكِتَٰبِ أُوْلَٰٓئِكَ يَلۡعَنُهُمُ ٱللَّهُ وَيَلۡعَنُهُمُ

ٱللَّٰعِنُونَ – (البقره ١٥٩) ترجمه: هغوی چې زمونږ
ښکاره آیتونه او هدایت پټوي،په داسې حال کې چې
مونږ هغه د ټولو انسانانو د لارښوونې لپاره په خپل
کتاب کې بیان کړي دي،الله تعالی هم په دوی لعنت
وایې او ټول لعنت ویوونکې هم وربانديې لعنت وایې.
دا پټول نن هم شته د سیاسي مصلحت او امنیت په نوم.
دا د قرآن تحریف په الفاظو کې نه دی،بلکې په ذهن
او عمل کې دی،یعنې قرآن د ژوند د مرکز څخه شاته
شوی،او یوازې د تلاوت،ثواب او جنازې کتاب
ګرځېدلی.
په لنډه جمله:
نن تحریف په کاغذ نه،بلکې په ذهن،فتوا او تفسیر کې
روان دی.
څوک یې د مصلحت،څوک یې د سیاست،او څوک یې
د نرم اسلام په نوم کوي.
دا د « ٱلَّذِينَ جَعَلُواْ ٱلۡقُرۡءَانَ عِضِينَ» ژوندی شکل دی
– چې قرآن ټوټه کوي: د عبادت برخه منې،او د قانون
برخه پټوي.

فَوَرَبِّكَ لَنَسۡـَٔلَنَّهُمۡ أَجۡمَعِينَ (92) عَمَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ (93)

| |
|---|
| فَوَ نو قسم دی رَبِّكَ ستا په رب لَنَسۡـَٔلَنَّهُمۡ خامخا به مونږ وپوښتو هغوی أَجۡمَعِينَ ټول (92) عَمَّا د هغه څه په اړه كَانُواْ يَعۡمَلُونَ چې هغوی به كول(په دنيا كې) (93) |

ترجمه:

نو ستا په رب قسم،چې مونږ به خامخا د هغوی ټولو څخه د هغه څه په اړه پوښتنه وكړو،چې هغوی به (په دنيا كې) كول

فَٱصۡدَعۡ بِمَا تُؤۡمَرُ وَأَعۡرِضۡ عَنِ ٱلۡمُشۡرِكِينَ (94)

| |
|---|
| فَٱصۡدَعۡ نو ښكاره بيان كړه بِمَا هغه څه تُؤۡمَرُ چې امر يې درته كيږي وَأَعۡرِضۡ او مخ واړوه عَنِ ٱلۡمُشۡرِكِينَ د مشركانو څخه (94) |

ترجمه:

نو ښكاره بيانوه هغه څه چې امر يې درته كيږي،او د مشركانو (د خبرو) څخه مخ واړوه(هغوی ستا هيڅ نشي كولای،ته خپل رسالت پوره كړه،او په ښكاره توګه د الله تعالی پيغام وروړسوه)

إِنَّا كَفَيۡنَٰكَ ٱلۡمُسۡتَهۡزِءِينَ (95)

إِنَّا ببشکه مونږ كَفَيۡنَٰكَ بس یو تا ته (کافي یو تا ته)
ٱلۡمُسۡتَهۡزِءِينَ د ټوقو کوونکو (په مقابیل کې) (95)

ترجمه:

(هغوی چې دعوت نه منې،برعکس ټوقې او مسخرې کوي)،

ترجمه:نو ببشکه د مسخره کوونکو په مقابل کې مونږ تا ته بس یو (چې د ټوقو او مسخرو جزا ورکړو)

ٱلَّذِينَ يَجۡعَلُونَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَۚ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ (96)

ٱلَّذِينَ هغه خلک يَجۡعَلُونَ چې ګرځوي(چې شریکوي) مَعَ ٱللَّهِ د الله تعالی سره إِلَٰهًا ءَاخَرَۚ بل یو معبود فَسَوۡفَ نو ډېر زر به يَعۡلَمُونَ هغوی پوه شي(په حقیقت باندې) (96)

ترجمه:

هغه خلک چې د الله تعالی سره بل یو معبود شریکوي.نو ډېر زر به پوه شي(په حقیقت باندې).

وَلَقَدۡ نَعۡلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدۡرُكَ بِمَا يَقُولُونَ (97)

وَلَقَدۡ او يقيناً نَعۡلَمُ پوهيږو مونږ أَنَّكَ چې ببشكه ته يَضِيقُ تنګيږي صَدۡرُكَ سينه ستا (خفه كيږي زړه ستا) بِمَا په هغو(خبرو) يَقُولُونَ چې هغوى يې وايې. (97)

ترجمه:

بېشكه مونږ پوهيږو،چې ستا زړه د هغو خبرو له امله تنګيږي(خفه كيږي) چې هغوى يې وايې.

(دا ايت د قيامت پورې هر مؤمن ته تسلي ده:

«كه ته د حق خبره كوې او خلک درباندې ملنډې وهي،خفه كيږه مه، الله تعالى ستا احساساتويني،او هير يې نه يې.»)

فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَكُن مِّنَ ٱلسَّٰجِدِينَ (98)

فَسَبِّحۡ نو پاكې بيانوه بِحَمۡدِ د حمد سره(يو ځاى) رَبِّكَ د رب خپل وَكُن او شه (اوسه) ته مِّنَ ٱلسَّٰجِدِينَ د سجده كوونكو څخه (98)

(كه خلک د حق دعوت نه قبلوي،او برعكس داسې خبرې كوي،چې ته پرې خفه كيږې)!

ترجمه: نو د خپل رب تسبيح او حمد(پاکې او صفتونه) بیاونوه،او د سجده کوونکو د ډلې څخه اوسه(پرته د خپل رب څخه نور هيڅ چا ته زوروور او د تعريف لايق مه وايه، يوازې هغه«جل جلاله» ته سر تيټوه،يوازې د هغه«جل جلاله»نظام او قانون منه،او د چا د خبرو هيڅ پروا مه کوه،هر څه الله تعالى ګورې،ستا څخه هم امتحان اخلې،او د هغوی څخه هم،)

وَٱعۡبُدۡ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأۡتِيَكَ ٱلۡيَقِينُ (٩٩)

| |
|---|
| وَٱعۡبُدۡ او عبادت كوه رَبَّكَ د رب خپل حَتَّىٰ تر هغې پورې يَأۡتِيَكَ چې درته راشي ٱلۡيَقِينُ مرګ (٩٩) |

ترجمه:او د خپل رب عبادت(بندګي) د هغې پورې کوه چې مرګ درته راشي.

يعنې:نظام،قانون،اطاعت او حکومت د مرګ د وخت پورې صرف د الله تعالى منه،نه د انسان.همدا عبادت دی،ځکه حقيقي نظام د الله تعالى دی،حقيقي قانون د الله تعالى

دی،حقیقې حاکم الله تعالی دی،نو که څوک په شعورې توګه د انسان په لاس جوړ شوی قانون منې،او فکر کوې چې د الله تعالی د قانون څخه د انسان قانون ښه دی،نو دا لوی کفر دی،ځکه چې انسان ورته د الله تعالی څخه پوه ښکارې(نعوذ باالله).

# سورة النحل

## بسم الله الرحمن الرحیم

أَتَىٰٓ أَمۡرُ ٱللَّهِ فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوهُۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿1﴾

أَتَىٰٓ راغلې ده أَمۡرُ فیصله ٱللَّهِ د الله تعالی(د قیامت،حساب او جزا په اړه) فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوهُۚ نو تاسو پرې بیړه مه کوئ سُبۡحَٰنَهُۥ هغه«جل جلاله» پاک دی وَتَعَٰلَىٰ او لوړ دی عَمَّا د هغه څه نه يُشۡرِكُونَ چې دوی یې(د الله تعالی) سره شریکوي. ﴿1﴾

أَتَىٰٓ أَمۡرُ ٱللَّهِ فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوهُۚ

د الله تعالی فیصله(د قیامت،حساب او جزا په په اړه)راغلې ده،نو تاسو د هغې دپاره تلوار مه کوئ.

(یعنې هغوی چې وایې:که چیرته الله تعالی موجود وي ،نظام،حکومت،قانون او قدرت د هغه وي«جل جلاله»بیا ولې نافرمانو ، سرکشو،ظالمانو او قاتلانو ته جزا نه ورکوي؟یعنې چې هر چا نافرمانې کوله باید سمدستي پرې عذاب راتلو.

دوی باید پوه شي چې دنیا دارالامتحان یا د امتحان کوټه ده،انسان د امتحان دپاره رالیږي،د امتحان دپاره مناسب او کافي وخت ورکوي،کله چې د امتحان وخت پوره شي،د مرګ د دروازې څخه یې د برزخ

انتظارګاه ته بيايي،هلته د قيامت پورې انتظار كوي،كله چې قيامت شي، بيرته راژوندي كيږي،د حشر ميدان ته ځي، هلته د دنيا د امتحان نتايج اعلانيږي،د هر چا سره به زره په زره حساب كيږي،او هر چا ته به د خپلې نتيجې او استحقاق د مخې عذاب او جزا وركول كيږي،دا د الله تعالى سنت دي،يعنې د الله تعالى هغه ثابته طريقه او قانون چې د دنيا د چلښت،امتحان،جزا او بدلې دپاره ټاكل شوى دى.خو كه بيا هم دوى د ايمان راوړلو دپاره د الله تعالى يا فرښتو ليدل يا د عذاب نازليدل شرط ګڼې،او ايمان نه راوړي، د بشر په لاس جوړ شوي قوانين او نظام منې يا د الله تعالى په نظام كې مخلوق شريكوې،او د انسان په لاس جوړ شوي قوانين يا د هغه جل جلاله د قوانينو برابر ګڼې،يا د هغه جل جلاله قانون پريږدې او د انسان په جوړو شوو قوانينو فيصلې كوي،يعنې انسان د الله تعالى څخه پوه ګڼې(نعوذ باالله) نو دا شريكان به يې د الله تعالى څخه خلاص نكړي.او! )

سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿1﴾ الله تعالى پاک او لوړ دى د هغه څه نه چې دوى يې د هغه جل جلاله سره شريكوي(يعنې الله تعالى خپل نظام،حكومت او قانون په خپله چلوې،د هيڅچا شراكت او كومک ته ضرورت نلرې.)

يُنَزِّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ بِٱلرُّوحِ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦٓ أَنۡ أَنذِرُوٓاْ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱتَّقُونِ ﴿2﴾

| |
|---|
| يُنَزِّلُ هغه«جل جلاله»نازلوې ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ فرښتې بِٱلرُّوحِ د روح(وحې) سره مِنۡ أَمۡرِهِۦ د خپل امر نه عَلَىٰ مَن په هغه چا يَشَآءُ چې هغه«جل جلاله» غواړي مِنۡ عِبَادِهِۦٓ د خپلو بندګانو څخه (د دې لارښوونې سره) أَنۡ أَنذِرُوٓاْ چې (انسانان) خبر كړئ |

أَنَّهُۥ د دي نه چې پرته د شک څخه لَآ نشته إِلَٰهَ لايق د عبادت(بندگۍ) إِلَّآ مګر أَنَا۠ يوازې زه (الله) فَٱتَّقُونِ نو زما څخه وويرېږئ ﴿2﴾

ترجمه:

الله تعالی فرښتې د روح(وحې) سره د خپل امر نه په هغو بندګانو نازلوي.چا ته چې وغواړي،(د دې پيغام سره چې) خلک خبر کړئ،چې پرته زما څخه بل معبود نشته،نو زما څخه وويرېږئ.

(«۱»وحې د الله تعالی د طرف څخه د فرښتو پواسطه راځي،

«۲»يوازې هغه بندګان د الله تعالی د پيغام وړ دي چې الله تعالی يې غوره کړي.

«۳»د الله تعالی امر: د الله تعالی د ارادې او حکم مرحله ده،چې وخت،سبب او تدريج ته ضرورت نه وي،يعنې کله چې الله تعالی د کوم شي اراده کوي،نو يوازې فرمايي : «کن فيکون» وشه!نو هغه کيږي. إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿82 يس﴾ :د هغه جل جلاله امر دا دی چې کله د کوم شي اراده وکړي،نو ورته فرمايي: - «وشه» -بس هغه کيږي.دا د الله تعالی د قدرت مطلقه مرحله ده،چيرته چې وخت او وسايل معنی نلري.دا په دې معنی چې:د الله تعالی امر د الله تعالی اراده او تصميم دی،چې وخت،فاصلې او مادې ته ضرورت نلري

.«۴»د ټولو پيغمبرانو يو پيغام دی،چې د يو الله عبادت او بندګي کوئ

(۵) الله تعالی فرمايي: چې زما څخه وويرېږئ،يعنې يوازې زما نظام او

زما د نظام قوانین ومنئ،او پرې عمل وکړئ،دا په دې معنی چې اسلام یوازې د لمانځه او روژې دین نه دی،بلکې یو جامع نظام دی ،چې د انسان د ژوند هره برخه ،

تنظیموي،لمونځ،روژه،زکات،عدالت،انصاف،جهاد او سیاست هم.
پیغمبر«صلی الله علیه وسلم» یوازې د مسجد امام نه و،بلکې د دولت مشر،قاضي،قوماندان،د سولې او جګړې پریکړه کوونکی هم و.مدینه منوره د هغه علیه السلام په زمانه کې یو اسلامي حکومت و چې پکې دا ټول قوانین شامیل وو:

١:عدلي نظام (قضا)

٢:مالي نظام (زکات.بیت المال)

٣:سیاسي تړونونه (مهاهدات)

۴:نظامي دفاع (جهاد)

۵:ټولنیز نظم او قانون

نو سیاست د اسلام د نظام یوه طبیعي برخه ده.نو کله چې مونږ وایو:چې لمونځ،روژه عدل او جهاد د الله تعالی قوانین دي،همداسې سیاست،قضا،او حکومت هم د الله تعالی د نظام قوانین دي.

إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِ أَمَرَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُۚ(یوسف:۴۰)-ترجمه:واکمني یوازې د یو الله تعالی ده.د هغه «جل جلاله» حکم دی، چې پخپله د هغه«جل جلاله» څخه پرته تاسو د بل هیڅچا بندګې مه کوئ.

یعني د فیصلې،د واک او حاکمیت اختیار یوازې د الله تعالی دپاره دی،نو
د سیاست منل «یعني د الله تعالی د حاکمیت منل،د ده د قانون پلي
کولو(نافذ کولو) اطاعت،او د باطل حاکمیت نه منل.»

نو سیاست پریښودل د دین نیمګړتیا ده.که یو ملت لمونځ کوي،روژه
نیسي،خو سیاست یې د انسان د قانون تابع وي،نو دا د دین نیګړی تطبیق
دی،نه بشپړ اسلام.

ٱدۡخُلُواْ فِي ٱلسِّلۡمِ كَآفَّةٗ (البقره:۲۰۸) یعني اسلام په بشپړه بڼه ومنئ.

اسلام د سیاست څخه پرته یوازې د روحاني ژوند نظام نه،بلکې ناقص
دین ګڼل کیږي.

د سیاست هدف د عدالت پلي کول دي.

لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَنزَلۡنَا مَعَهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡمِيزَانَ لِيَقُومَ ٱلنَّاسُ بِٱلۡقِسۡطِۖ
(الحدید:۲۵) یعني مونږ پیغمبران ولیږل،تر څو خلک په عدالت ودریږي.

نو د اسلامي سیاست هدف دا نه دی چې څوک واک او قدرت ته
ورسیږي،بلکې دا دی چې د الله تعالی قانون د عدالت دپاره پلی(نافذ) شي.

خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۚ تَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿3﴾

خَلَقَ هغه«جل جلاله» پیدا کړي دي ٱلسَّمَٰوَٰتِ آسمانونه
وَٱلۡأَرۡضَ او ځمکه بِٱلۡحَقِّۚ په حقه تَعَٰلَىٰ او ډېر لوړ دی
عَمَّا د هغه څه نه يُشۡرِكُونَ چې دوی یې ورسره شریکوي. ﴿3﴾

الله تعالی آسمانونه او ځمکه ( عبس او بي هدفه نه دي پیدا کړې) مګر(په کائناتو کې هر شی) په حق سره( د عدالت او حکمت په بنسټ د یو هدف دپاره پیداشوی.)

دا په دې معنی:چې هرشی په یوه معلومه اندازه د یو هدف دپاره جوړ شوی،او په خپل ځای کې د عدالت د قانون په اساس د خپل حق مطابق ایښودل شوی دی. چې د امله یې په کائناتو کې توازن او تعادل منځ ته راځې،یا په بل عبارت په کائناتو کې توازن د الهي عدالت اظهار دی.

اول: عدالت او توازون په اتوم کې:

په اتوم کې پروتونونه،نیوترونونه،ایلیکترونونه، هستوې او برقي مقناطیسي قوې،دا ټول په توازون او تعادل کې دي،یعنې د یو عادل نظام پوسطه ټول په مناسبو اندازو او مناسبو ځایونو کې ځای په ځای شوي،تر څو چې عدالت برقرار وي،توازون به موجود وي،او اتوم به ثابت وي،خو که چیرته په کوم یو کې تغیر راشي،فرضاً که د ایلکترون،پروتون،نیوترون په کتلو یا شمیر کې یا په هستوې او برقي مقناطیسي قوو کې، که په هر یو د دوی کې زیاتوالی یا کموالی راشي،عدالت د منځه ځې،توازون خرابیږي،فساد منځ ته راځې، اتوم ماتیږي او ماده تباه کیږي.

لکه ښنګه چې يو اتوم د عدل او توازون د قانون په اساس ولاړ دی،همداسې ټول کائنات د همدغه«الهي عدالت» په قانون روان دي.که په هر شي کې عدالت د منځه لاړ شي توازون د منځه ځې،او چې توازون نه وي فساد او ګډوډې منځ ته راځې.

فرضاً که د ځمکې په سرعت یا حجم کې زیاتوالی یا کموالی راشي،یا د لمر او ځمکې تر منځ فاصله زیاته یا کمه شي،یا د لمر حجم او د لمر پواسطه د حرارت جوړیدل زیات او کم شي،عدالت او توازون د منځه ځې،په نتیجه کې په شمسې نظام کې داسې ګډوډې او فساد منځ ته راځې چې په ځمکه کې ژوند د منځه وړې.

همدارنګه په ټولو ستورو او کهکشانونو کې عدالت او توازون قائم دی، وَٱلسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ ٱلۡمِيزَانَ (۷)ترجمه:(او آسمان يې اوچت کړو،او میزان( توازون) يې قائم کړو.)

یعنې د ستورو پواسطه د جوړ شوي حرارتي فشار او د جاذبې د قوې تر منځ داسې توازن موجود دی چې نه ستورې کولپس کوي،او نه چوې،خو که چیرته په دې میزان(توازون) کې فرق راشي،فرضاً که د جاذبي قوه زیاته شي نو ستورې

به کولپس شي(یعنې د مرکز خواته به راکش شي او په بلک هول به بدل شي)،او که د جازبي قوه کمه شي نو د حرارتي فشار پواسطه به ستورې وچوي،همدارنګه که جازبه ډېره زياته شي نو ټول کهکشانونه به يو د بل سر ټکر او ټوټې ټوټې شي، همدارنګه که په حيواناتو،نباتاتو،اوبو....او هوا کې توازون خراب شي،په ځمکه کې ژوند د منځه ځي.

همدارنګه د انسان د بدن هره حجره او هر سيستم د يو عادل نظام لاندې يو دبل سره هماهنګ او توازون کې دي،او که عدالت او توازون خراب شي،ناروغي(فساد) منځ ته راځې حتې ژوند د منځه ځي.

خو الحمد لله په کائناتو کې د عدالت او توازون د خرابيدلو اختيار الله تعالی هيڅ چا ته نه دی ورکړی،صرف انسان ته يې د امتحان دپاره يو څه اختيار ورکړی،هغه هم صرف په تشريعي کارونو کې.خو مونږ ګورو چې په دې لږ اختيار کې هم اکثره انسانان د الهي عدالت څخه سرکشي کوي،توازون خرابوې،د خلکو حقونه خورې،غلاګانې.....او ظلمونه کوي.

او الله تعالی هغه څه نه ډېر لوړ دی چې کافران يې ورسره شريک نيسې.

خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِن نُّطۡفَةٖ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٞ مُّبِينٞ ﴿4﴾

| |
|---|
| خَلَقَ هغه«جل جلاله» پیدا کړی ٱلۡإِنسَٰنَ انسان مِن نُّطۡفَةٖ د نطفې نه (د منې د یو ښاڅکې نه) فَإِذَا خو ناڅاپه هُوَ همدغه (انسان د خپل خالق سره) خَصِيمٞ مُّبِينٞ ښکاره (دلیل راوړونکی او) جګړه کوونکی شو ﴿4﴾ |

په دې مبارک آیات د ښه پوهیدلو دپاره باید پوه شو چې:

د الله تعالی د پیداکولو دوه سنتونه دي(یعنې دوه طریقې دي).

<u>(الف) امر:</u>

د الله تعالی د ارادې مستقیم پیدایښت دی،پرته د وخت،مادې او فزیکي سبب څخه. إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ-یس:۸۲ - ترجمه:کله چې الله تعالی د یو شي اراده وفرمایی،نو ورته وایي «وشه» نو هغه کیږي.

دا په دې معنی: امر هغه طریقه ده چې:د خالق قدرت پکې پرته د واسطې کار کوي،وخت،فضا،او ماده پکې شرط نه وي،او د «کن» په کلمه سره یوشی د نیستی څخه هستی ته راځي.

ژوند: د الله تعالی د «عام امر» څخه دی،چې دا امر د بکتریاوو ،نباتاتو،حیواناتو، انسانانو او ټولو ژوندیو مخلوقاتو د ژوند او حرکت منبع ده .ځکه چې ژوند خو په نطفه کې هم وي.یعنې د روح د پو کولو څخه مخکې هم ژوند وي،ځکه چې روح خو د ۱۲۰ ورځو ورسته په ماشوم کې پو کول کیږي،لیکن ماشوم خو د نطفې د وخت څخه ژوندی وي.

روح:د الله تعالی د «خاص امر» څخه دی،او دا خاص امر يوازې د انسان دپاره دی،څکه د همدې په برکت انسان ته عقل،اخلاق ،ضمیر،وجدان،او د خیر او شر شعور ورکول شوی.

(ب) خلق «تدریجي جوړښت»:

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ (الاعراف:۵۴)

ترجمه: ستاسو رب الله تعالی دی،چې آسمانونه او ځمکه یې په شپږو ورځو کې پیدا کړل.

دا د «خلق» سنت دي(طریقه ده)،چې د مادې د کارولو،د تدریجي بدلون د لارې،د وخت،مکان او نظام په رعایت سره شیان جوړوي.

اوس د آیت ترجمې ته توجه وکړئ!

خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِن نُّطۡفَةٖ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٞ مُّبِينٞ ﴿4﴾

هغه جل جلاله انسان د نطفې(سپرم) څخه پیدا کړو ( په دې ډول چې د پلار نطفه یا سپرم یې د مور د هګۍ سره یواځای کړ،او نطفة امشاج یا زایګوټ یې ترې جوړ کړو،چې د «طین» یا تازه نرۍ بې بویه ختې په شان شکل یې و،بیا یې د«طین» څخه «طین لازب» یا موررولا جوړ کړو،چې د سرېښناکې ختې په شان و.بیا یې د طین لازب څخه «صلصل من حماء مسنون» یا بلاستوسیست جوړ کړو،چې د کړنګېدونکې ختې چې د تورې بوېناکه ختې څخه جوړه شوې وي، پشان و،یعنې د جوړېدونکې یا پیدا کیدونکې انسان تخم یې جوړ کړو،بیایې د رحم په

دیوال کې وکړلو،کله چې راشین شو ،نو علقه بیا یې ترې مضغه(د غوښې ټوټه تقریباً یو سانتي) جوړه کړه، بیا یې ترې عظام(هډوکې) جوړ کړه،بیا یې د هډوکو څخه غوښې تاو کړې،بیایې د انسان شکل ورته جوړ کړو،بیا یې د خپل روح څخه پکې پو کړو،بیا یې د اوریدلو،لیدلو،....او فکر کولو صلاحیتونه ورکړل،بیا یې د مور د رحم څخه دنیا ته راوستو،بیا یې په ماشومتوب کې د ده پالنه وکړه،بیا یې د ځوانۍ مرحلې ته ورسوه،د ښو او بدو د پیژندلو صلاحیت،فطرتي پوهه،عقل،شعور او د فیصلې او فکر کولو قوت یې ورکړو، خو په ځای د دې چې د خپل مهربانه رب د دې بې حسابه احسانونو شکر وباسي) لیکن همدغه انسان د خپل خالق سره ښکاره(دلیل راوړونکی) او جګړه کوونکی شو(یعني د الله تعالی په ذات او په صفاتو کې یې جګړې شروع کړې،څوک یې د ذات څخه انکار کوي،څوک یې د صفاتو څخه انکار کوي،څوک ورسره شریکان جوړوي،څوک یې نظام او قوانین نه مني.........)

وَٱلۡأَنۡعَٰمَ خَلَقَهَاۗ لَكُمۡ فِيهَا دِفۡءٞ وَمَنَٰفِعُ وَمِنۡهَا تَأۡكُلُونَ ﴿5﴾

| |
|---|
| وَٱلۡأَنۡعَٰمَ او څاروي(اوښ،غوا،پسه،وزې) خَلَقَهَاۗ هغه«جل جلاله» دا پیدا کړي دي لَكُمۡ ستاسو دپاره فِيهَا چې په کې دِفۡءٞ پوښاک دی(د ګرمیدلو سامان) وَمَنَٰفِعُ او (نورې) ګټې دي وَمِنۡهَا او د هغو څخه تَأۡكُلُونَ تاسوئ خورئ (هم) ﴿5﴾ |

ترجمه:

او څاروي(اوښ،غوا،وزۍ،پسه) یې ستاسو دپاره پیدا کړي دي،په هغوی کې د تودوخې او د نورو ګټو سامان شته،او د هغوی یې تاسو خورئ (هم)

(الانعام: کې اوښ،غوا،پسه او وزې راځي،چې الله تعالی د انسان د خدمت دپاره تابع کړي دي،د وړيو،ويښتو او پوستکو څخه يې د ژمي تاوده لباسونه جوړيږي،نورې ګټې يې شيده،غوړي،د پوستکو محصولات،د کار کولو توان،او د سپرلی لپار استعمالول دي.همدارنګه انسان يې غوښې،شيده،ماسته او غوړي هم خوري.)

وَلَكُمۡ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسۡرَحُونَ ﴿6﴾

| |
|---|
| وَلَكُمۡ او ستاسو دپاره فِيهَا په هغو کې جَمَالٌ ښکلا(او زينت) دی حِينَ کله چې تُرِيحُونَ تاسو هغوی ماښام مهال بيرته(کور ته)راولئ وَحِينَ او کله چې تَسۡرَحُونَ سهار مهال يې د څر ځای ته ليږئ ﴿6﴾ |

ترجمه:

او ستاسو دپاره په دغو څارويو کې ښکلا (او خوبښې هم)شته،کله يې چې د ماښام مهال د څر د ځای څخه بيرته کور ته راولئ،او کله يې چې د سهار مهال د څر ځای ته بوځئ.

(يعنې دا څاروي(الانعام) نه يوازې د ګټې او رزق وسيله ده،بلکې د ژوند ښکلا،د طبيعت زينت،او د زړه راحت هم پکې دی.)

وَتَحۡمِلُ أَثۡقَالَكُمۡ إِلَىٰ بَلَدٖ لَّمۡ تَكُونُواْ بَٰلِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ ٱلۡأَنفُسِۚ إِنَّ رَبَّكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ ﴿7﴾

| |
|---|
| وَتَحۡمِلُ او وړي أَثۡقَالَكُمۡ ستاسو درانده بارونه إِلَىٰ بَلَدٖ هغه ښار (يا ځای) ته لَّمۡ تَكُونُواْ چې تاسو نه وئ بَٰلِغِيهِ هغه(ځای يا ښار) ته رسسبدونکي إِلَّا بِشِقِّ ٱلۡأَنفُسِ پرته د ډيرې سختۍ او |

| |
|---|
| ستړیا إِنَّ بېشکه رَبَّكُمْ ستاسو رب لَرَءُوفٌ ډېر مهربان رَّحِيمٌ (او پوره) رحيم دی. ﴿7﴾ |

ترجمه:

او دا ښاروي ستاسو درانده پیټي تر داسي ځایونو پوري وړي،چي هلته يې تاسو پرته د ډېرې سختۍ او ستړيا څخه نشئ رسولای.حقيقت دا دی چي ستاسو رب ډېر مهربان او رحيم دی.

وَٱلْخَيْلَ وَٱلْبِغَالَ وَٱلْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةًۚ وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿8﴾

| |
|---|
| وَ او(الله تعالی پیدا کړي دي) ٱلْخَيْلَ آسونه وَٱلْبِغَالَ او قچر وَٱلْحَمِيرَ او خره لِتَرْكَبُوهَا دي دپاره چي سواره شئ په هغوی وَزِينَةً او د ښکلا(او زينت) دپاره وَيَخْلُقُ او هغه«جل جلاله)پيداکوي مَا هغه څه لَا تَعْلَمُونَ چي تاسو(پرې) نه پوهيږئ(چي تاسو يې نه پيژنئ) (٨) |

ترجمه:

او الله تعالی آسونه،قچري،او خره تاسو ته د سپریدو او ښایست (زیب او زينت) دپاره پيدا کړي.او نور هم هغه څه پيدا کوي،چي تاسو يې لا تر اوسه نه پيژنئ.

(یعني د تخلیق عمل روان دی،دلته په« وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ»کي ټولو ساینسي ایجاداتو ته اشاره ده کوم چي د قرآن د نزول په زمانه کي نه وو،لکه موټر،بحري او هوايي جهازونه،کمپيوټر،روباط،مصنوعي زهانت و غيره و غيره،څکه چي د انسان په شمول د عقل،او کوم فطري قوانين او مواد چي انسان استعمالوي،د ټولو خالق او پيدا کوونکی الله تعالی دی)

وَعَلَى ٱللَّهِ قَصْدُ ٱلسَّبِيلِ وَمِنْهَا جَآئِرٌۚ وَلَوْ شَآءَ لَهَدَىٰكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿9﴾

وَعَلَى ٱللَّهِ او په الله تعالی باندې دي(ښودل) قَصۡدُ د مستقيمې ٱلسَّبِيلِ لارې وَمِنۡهَا او د دې( مستقيمې لارې) نه جَآئِرٞۚ كږې (لارې هم بيلې شوي دي،د امتحان د پاره) وَ لَوۡ شَآءَ او كه چيرته هغه«جل جلاله» غوښتلی وای لَهَدَىٰكُمۡ حتماً به يې هدايت كړی و،تاسو أَجۡمَعِينَ ټولو (ته) ﴿9﴾

وَعَلَى ٱللَّهِ قَصۡدُ ٱلسَّبِيلِ وَمِنۡهَا جَآئِرٞۚ.ترجمه:(او انسانانو ته) د سمې لارې ښودل د الله تعالی په ذمه باندې دي.او د دې سمې لارې نه كږې لارې هم( د الله تعالی د حكمت او د امتحان د ضرورت په اساس بيلې شوي دي)

(الله تعالی انسان ته د وحې،فطرت او عقل پواسطه دواړه لارې ښودلي دي،(۱) سمه يا د جنت لار (۲)كږه يا د جهم لار.

فَأَلۡهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقۡوَىٰهَا.ترجمه:او ورته يې الهام وركړ چې څه بد دي او څه نيک.(الشمس:۸)

وَهَدَيۡنَٰهُ ٱلنَّجۡدَيۡنِ (البلد:۱۰) ترجمه: مونږ انسان ته دواړه د خير او شر لارې وښودې.

إِنَّا هَدَيۡنَٰهُ ٱلسَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرٗا وَإِمَّا كَفُورًا (الانسان:۳) ترجمه: مونږ انسان ته(ښه او بده)لاره وښوده،نوره د ده خوښه ده،چې شكر كوونكی كيږي(او د جنت په لاره ځې) يا منكريږي(كفر كوي،او د جهنم په لاره ځې)

د دې مباركو آياتونو څخه په واضحه توګه معلوميږي چې:الله تعالی د امتحان دپاره دواړه د حق او باطل لارې انسان ته واضح كړې،خو نور يې كاملاً ازادي وركړې،چې په كومه لاره يخپله غواړي لاړ دې شي،نه

ځوک په زوره مجبوروي چې په ښه لاره لاړ شي،او نه ځوک مجبوروي چې په بده لار لاړ شي،خو الله تعالی دا نه غواړي چې بنده یې ګمراه شي،بلکې الله تعالی خوښوي چې بنده یې د ایمان،شکر او نیکی لاره غوره کړي(الزمر:آیت ٧).

نو که ځوک د وحې، سلیم فطرت او سلیم عقل په لاره لاړشي،نو مستقیماً د خپل رب رضا او جنت ته رسیږي،او که ځوک په فطرت او عقل د نفسي خواهشاتو پردې واچوي،او د شیطان په لاره ځې،نو د الله تعالی غضب او جهنم ته رسیږي.

یعني الله تعالی انسان ته د ازمویني په ډګر کې د انتخاب ازادې ورکړې ده،خو د پایلو مسؤلیت هم د ده یعني انسان په غاړه دی.

وَلَوۡ شَآءَ لَهَدَىٰكُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿9﴾ترجمه:او که چیرته هغه جل جلاله غوښتلی وای،خامخا به یې تاسو ټولو ته هدایت کړی و.

خو الله تعالی دا نه غواړي چې انسان جبراً بې اختیاره پر حق ولاړ وي.بلکې د الله تعالی حکمت دا دی چې:انسان ته اختیار ورکړي-تر ځو چې په خپله خوښه د حق یا باطل لار غوره کړي.په همدې کې د انسان د امتحان.مسؤلیت او جزا فلسفه نغښتې ده.نو ځوک چې د سمې لارې پیروي کوي،هغه هم د خپل انتخاب د مخې کوي.او ځوک چې په کږه لاره ځې هغه هم د خپل انتخاب د مخې ځې.

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗۖ لَّكُم مِّنۡهُ شَرَابٞ وَمِنۡهُ شَجَرٞ فِيهِ تُسِيمُونَ ﴿10﴾

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| هُوَ | هغه«جل جلاله» | ٱلَّذِي | هغه ذات دی | أَنزَلَ | چې نازل | | |
| کړي یې دي | مِنَ ٱلسَّمَآءِ | د آسمان نه | مَآءٗ | اوبه | لَّكُم | ستاسو | |

دپاره مِّنۡهُ چې د دې(اوبو یوه برخه ستاسو د) شَرَابٞ څښلو
دپاره ده وَمِنۡهُ او د دې(اوبو بله برخه د) شَجَرٞ د نباتاتو او
بوټو( د ودې دپاره ده) فِيهِ چې په هغې(ونو او بوټو) کې
تُسِيمُونَ تاسو څاروې څروئ. ﴿10﴾

ترجمه:

الله تعالی هغه ذات دی چې د اسمان څخه(د باران په شکل)ستاسو دپاره اوبه نازلوي،چې د دې (اوبو څخه یوه برخه ستاسو د)څښلو دپاره ده،او بله برخه یې د نباتاتو او بوټو(د ودې دپاره ده)،چې(بیا) تاسو په هغې نباتاتو او بوټو کې څاروې څروئ.

يُنۢبِتُ لَكُم بِهِ ٱلزَّرۡعَ وَٱلزَّيۡتُونَ وَٱلنَّخِيلَ وَٱلۡأَعۡنَٰبَ وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ (11)

يُنۢبِتُ هغه«جل جلاله» زرغونوي لَكُم ستاسو دپاره بِهِ په
دې (اوبو) سره ٱلزَّرۡعَ فصلونه (غلې دانې،غنم اوربشې....)
وَٱلزَّيۡتُونَ او د زیتون(ونې) وَٱلنَّخِيلَ او د خرما(ونې)
وَٱلۡأَعۡنَٰبَ او انګور وَمِن او د كُلِّ هر قسم ٱلثَّمَرَٰتِ
میوو(څخه) إِنَّ بېشکه فِي ذَٰلِكَ په دې کار کې لَأٓيَةٗ (د الله
تعالی د قدرت واضحه) نښه ده لِّقَوۡمٖ د هغو خلکو دپاره
يَتَفَكَّرُونَ چې فکر کوي. (11)

ترجمه:

په همدې اوبو سره الله تعالی ستاسو دپاره فصلونه(غنم اوربشې..) زیتون،د خرما ونې،انګور او د هر ډول میوو څخه راشنه کوي،چې

بېشكه په دې كار كې د الله تعالى د قدرت واضحه نبنه ده ،د هغو خلكو دپاره چې (د الله تعالى په آيتونو كې غور) او فكر كوي.

(يعني دا هر څه تصادف نه دي،بلكې د خالق د دقيق نظام نبنې دي.)

وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ وَٱلنُّجُومُ مُسَخَّرَٰتُۢ بِأَمۡرِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ (12)

وَسَخَّرَ او هغه«جل جلاله» مسخر كړي(او هغه«جل جلاله» جوړ كړې دي) لَكُمُ ستاسو (د ضرورت او فايدې) دپاره ٱلَّيۡلَ شپه وَٱلنَّهَارَ او ورځ وَٱلشَّمۡسَ او لمر وَٱلۡقَمَرَۖ او سپوږمۍ وَٱلنُّجُومُ او ستورې (هم) مُسَخَّرَٰتُۢ مسخر دي بِأَمۡرِهِۦٓۚ د هغه«جل جلاله» په حكم سره إِنَّ بېشكه فِي ذَٰلِكَ په دې(كار) كې لَأٓيَٰتٖ نبنې دي(د الله تعالى د معرفت او قدرت) لِّقَوۡمٖ د هغو خلكو دپاره يَعۡقِلُونَ چې عقل استعمالوي(غور او فكر كوي) (12)

ترجمه:

الله تعالى ستاسو (د ضرورت او فايدې) دپاره شپه او ورځ ، لمر او سپوږمۍ مسخر كړي دي.او ستورې هم د هغه جل جلاله په حكم سره مسخر دي(يعني مكمل شمسي نظام او ټول فلكي اجرام د الله تعالى په حكم سره د انسان د ګټې دپاره كار كوي.دا كوم تصادف نه دى،بلكې ټول كائنات د الله تعالى په حكم په منظم ډول روان دي،دا نظام نه په خپله جوړ شوئ،او نه په خپله روان پاتې كيږي،بلكې د الله تعالى د حكمت او حكم تابع دى)او بېشكه د دې(دقيق نظام په جوړولو او چلولو) كې د الله تعالى د (قدرت او معرفت ) نبنې دي د هغو خلكو دپاره چې عقل استعمالوي(يعني د الله تعالى معرفت هغه خلک حاصلولئ شي چې عقل

استعمالوي او په قرآني او کائناتي آياتونو کې غور او فکر کوي،او څوک چې عقل نه استعمالوي،د معرفت د لارې په ځای د ګمراهۍ په لاره روان دي خو متاسفانه چې پخپله ناپوهۍ نه پوهيږي،يعنې ناپوهې پوهه او ګمراهې د الله تعالی د معرفت لار ګڼې.)

وَمَا ذَرَأَ لَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُخۡتَلِفًا أَلۡوَٰنُهُۥٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَذَّكَّرُونَ (13)

| |
|---|
| وَمَا او هر څه ذَرَأَ چې هغه جل جلاله پيدا کړي لَكُمۡ ستاسو دپاره فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې مُخۡتَلِفًا أَلۡوَٰنُهُۥٓۚ رنګونه يې مختلف دي إِنَّ ببشکه فِي ذَٰلِكَ په دې (بيلابيل رنګونو) کې لَأٓيَةٗ (د الله تعالی د قدرت او معرفت) نښې دي لِّقَوۡمٖ د هغو خلکو دپاره يَذَّكَّرُونَ چې نصيحت اخلي (13) |

ترجمه:

او هرڅه چې الله تعالی په ځمکه کې ستاسو دپاره پيدا کړي دي،رنګونه يې مختلف دي،پرته د شک څخه په دې(مختلفو رنګونو) کې (د الله تعالی د قدرت او معرفت )نښې دي د هغو خلکو دپاره چې:نصيحت اخلي.

(يعنې ټول نباتات،ميوې،حيوانات او نور مخلوقات د خاورې،اوبو او د لمر د انرژۍ څخه جوړيږي،خو بيا هم: يو شين دی،بل ژيړ،بل سور،بل تور،بل سپين.

دا د يوې سرچينې څخه رنګونو کې دومره لوی بدلون د انسان عقل حيرانوي.

نو په دې کې د الله تعالی د معرفت او قدرت نښه دا ده چې: یو حکیم خالق دا تنوع په قصدي توګه جوړوي،نه دا چې پخپله، بې عقله طبیعت يې کوي.)

وَهُوَ ٱلَّذِي سَخَّرَ ٱلۡبَحۡرَ لِتَأۡكُلُواْ مِنۡهُ لَحۡمٗا طَرِيّٗا وَتَسۡتَخۡرِجُواْ مِنۡهُ حِلۡيَةٗ تَلۡبَسُونَهَاۖ وَتَرَى ٱلۡفُلۡكَ مَوَاخِرَ فِيهِ وَلِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ (14)

وَهُوَ او هغه«جل جلاله» ٱلَّذِي هغه ذات دی سَخَّرَ چې مسخر کړی يې دی ٱلۡبَحۡرَ بحر لِتَأۡكُلُواْ د دې دپاره چې وخورئ تاسو مِنۡهُ د هغه څخه (یعني د بحر څخه) لَحۡمٗا غوښه طَرِيّٗا تازه وَتَسۡتَخۡرِجُواْ او راوباسئ مِنۡهُ د هغه څخه حِلۡيَةٗ ګاڼه(د زينت او ښایست سامان لکه موتي«مروارید» او مرجان) تَلۡبَسُونَهَاۖ چې تاسو يې اغوندئ وَتَرَى او ته وینې ٱلۡفُلۡكَ کشتۍ مَوَاخِرَ څیرونکې (د اوبو) فِيهِ په هغه (بحر) کې وَلِتَبۡتَغُواْ تر څو تاسو ولټوئ مِن فَضۡلِهِۦ د هغه«جل جلاله» فضل(حلال رزق) وَلَعَلَّكُمۡ او شاید تاسو(د الله تعالی د نعمتونو) تَشۡكُرُونَ شکر ایستونکې شئ. (14)

ترجمه:

او الله تعالی هغه ذات دی چې:تاسو ته يې بحر د دې دپاره مسخر کړئ دی چې تاسو ترې (د ماهیانو)تازه غوښې وخورئ،او داسې ګاڼې(یعني د زينت او ښایست سامان) ترې راوباسئ چې تاسو يې اغوندئ(لکه موتي«مروارید» او مرجان)،او ته ګورې چې په بحر کې بیړۍ(د سفر او تجارت دپاره) ګرځې راګرځې،د دې دپاره چې تاسو(د بحري سفر او تجارت د لارې) د الله تعالی فضل(یعني حلال مال) ولټوئ نو ښایي چې تاسو د الله تعالی د نعمتونو شکر ایستونکې شئ.

وَأَلْقَىٰ فِي ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ وَأَنْهَٰرًا وَسُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ (15)

وَأَلْقَىٰ او هغه«جل جلاله» کیښودل فِي ٱلْأَرْضِ په ځمکه کې
رَوَٰسِيَ کلک غرونه أَن تَمِيدَ د دې دپاره چې ونه خوځيږي
بِكُمْ په تاسو باندې وَأَنْهَٰرًا او(جارې يې كړل)سيندونه وَسُبُلًا
او(جوړې يې كړې) لارې لَّعَلَّكُمْ تر څو چې تاسو تَهْتَدُونَ
سمه لار ومومئ(چې منزل ته مو ورسوي) (15)

ترجمه:

الله تعالى په ځمكه كې كلک غرونه كيښودل،تر څو چې په تاسو باندې ونه خوځيږي.او سيندونه (يې په كې جارې كړل)،او لارې (يې په كې جوړې كړې)،تر څو چې سمه لار ومومئ.

---

(غرونه د ځمكې د قشر د ثبات يوه وسيله ده،او د ځمكې د سطحې د نامنظم خوځښت د كمېدو په نظام كې رول لري.

سيندونه د انسان ژوند،كرنې،ځارويو او ټول طبيعي چاپيريال ته د الله تعالى ستر نعمتونه دي.

د انسان د هدايت او تګ راتګ دپاره الله تعالى د ځمكې په اوږدو كې لارې جوړې كړې دي لكه د غرونو تر منځ لارې(درې)،د دښتو لارې،د ځارويو او انسانانو د تلو راتلو لارې،د ښارونو تر منځ طبيعي لارې ،دې ټولو انسانانو ته اسانتياوې برابرې كړې دي.دا د دې دپاره چې تاسو د الله تعالى د قدرت نښې ووينئ او پوه شئ چې د كائناتو جوړښت بې هدفه نه دی،او تاسو د ژوند د سمې لارې(اسلام) خوا ته راشئ،او د سفر په وخت

کې لاره پیدا کړئ،نو دا مبارک آیت هم جسمي هدایت بیانوي(د لارې موندل)،او هم روحاني هدایت(د الله تعالی پیژندل)

وَعَلَٰمَٰتٍۚ وَبِٱلنَّجۡمِ هُمۡ يَهۡتَدُونَ (16)

| |
|---|
| وَعَلَٰمَٰتٍۚ (او په ځمکه کې د لارو د معلومولو دپاره فطرې) نښې دي وَبِٱلنَّجۡمِ او په ستورو باندې (هم) هُمۡ هغوی يَهۡتَدُونَ لاره مومي (16) |

ترجمه:

(۱)

او(په ځمکه کې د لارې د پیژندلو دپاره طبیعي) نښې ایښودل شوي دي.

------------------------------------------------------------

(مثلاً د یو ښار څخه بل ښار ته تللو دپاره الله تعالی د لارې د پیژندلو دپاره فطرې نښې ایښې دي،لکه:د ونو څخه به تیر شې بیا دښته راځې د دښتې څخه وړاندې ځنګل راځې،د ځنګل څخه چې تیر شې بیا سیند راځې،د سیند څخه به د کشتۍ پواسطه تیر شې بیا د دوه غرونو تر منځ دره راځې کله چې د درې څخه تیر شې ښار ته به ورسیږې.دلته ونې،دښته،ځنګل،سیند،کشتۍ،غرونه، دره او د خاص ښار شکل فطرې نښې دي.په قدیمو سفرونو کې خلکو تل د دغو نښو په وسیله لار معلومولې.اوس ساینس هم وایي:چې غرونه،دریابونه، د ځمکې جوړښت د طبیعي نیویګیشن سیستم په توګه کار کوي.)

حیوانات،مرغان،حتی حشرات د ځمکې د نښو په مرسته مهاجرت کوي،دا هغه څه دي چې قرآن یې د «علامات»په نوم یادوي.

(۲)او په ستورو باندې هم دوی لاره مومي.

---

دا د خلکو پخوانۍ طريقه وه چې د شپې مهال به سفرکوونکو کاروانونو،د سمندر ملاحانو او بدوي عربو د ستورو په مرسته لار معلوموله.

حتې تر اوسه پورې د طيارو پيلوټانو او کشتيو چلوونکو ته د ستورو په وسيله د سفر کولو علم د ايمرجنسي نيويګيشن په توګه ورزده کول کيږي،ځکه چې:ممکن «جي پي ايس» خراب شي،ممکن برق قطع شي،ممکن د جنګ په حالت کې «جي پي ايس»جام يا بند شي.نو ستورې د بيک اف هدايت حيثيت لرې.همدارنګه ساينسي تحقيقات وايې چې ځنې خاص حيوانات.ماهيان، او مرغان هم په ستورو سفر کوي.

او دا تحقيق چې ځنې مرغان،حيوانات او ماهيان هم په ستورو سفر کوي ساينس په ۱۹۵۰م کې کړی ،حال دا چې قران دا خبره ۱۴۰۰ کاله پخوا ذکر کړي ده،ځکه چې په آيت کې «هم» يعني هغوی يا دوی استعمال شوی دی،چې :يوازې انسان ته نه بلکې هر مخلوق،حيوان،مرغه او ماهيانو ته هم راځې.

<u>په پای کې:</u>

د ځمکې د لارو طبيعي نښې،او د آسمان د ستورو د لارښوونې پوسيله سفر کول،د داسې يو نظام ښکندونه کوي چې د تصادف د مخې نه،بلکې د يوې قصدي نقشې او پلان لاندې روان دی.

أَفَمَن يَخْلُقُ كَمَن لَّا يَخْلُقُۗ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ (17)

أَفَمَن نو آيا هغه څوک يَخۡلُقُ چې هر شی پيدا کوي كَمَن د
هغه چا په شان دی لَّا يَخۡلُقُۚ چې هيڅ شی نشي پيدا کولای؟
أَفَلَا تَذَكَّرُونَ نو ولې فکر نکوئ؟ (17)

ترجمه:

آيا هغه څوک چې هرشی پيدا کوي،د هغه چا په شان کيدای شي چې هيڅ شی نشي پيدا کولای؟نو ولې فکر نه کوئ؟(ولې د خالق او مخلوق فرق نکوئ)

---

دلته د خالق او د مخلوق د مقايسې رد دی:

الله تعالی په دې ايت کې يوه منطقي پوښتنه کوي:ايا هغه څوک چې هر شی پيدا کوي،قدرت لرې،او د کائناتو باثباته نظام يې رامنځ ته کړئ،آيا د هغه چا په شان کيدای شي چې هيڅ شی يې نه پيدا کړئ او نه يې پيدا کولای شي؟ هيڅکله نه.

دا د بتانو،انسانانو،جوړو شوو څيزو يا هر هغه چا رد دی چې د الله تعالی سره د شريک په توګه ګڼل کيږي،نو الله تعالی فرمايي:ولې فکر نه کوئ؟چې څوک مو پيدا کوي،څوک رزق درکوي،څوک مو د ژوند نظام چلوي،نو عبادت او بندګي هم يوازې د هغه کوئ،حکومت،قانون او فرمان هم يوازې د هغه«جل جلاله» منئ.

وَإِن تَعُدُّواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ لَا تُحۡصُوهَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ (18)

وَإِن او که تَعُدُّواْ تاسو وشمیرئ نِعۡمَةَ نعمتونه ٱللَّهِ د
الله تعالی لَا تُحۡصُوهَآۗ شمیرلئ یې نه شئ إِنَّ ببشکه ٱللَّهَ
الله تعالی لَغَفُورٞ ډېر بخښونکی رَّحِيمٞ مهربان دی (18)

ترجمه:

که تاسو وغواړئ چې د الله تعالی نعمتونه وشمیرئ،هیڅکله به یې ونه شمیرلای شئ،ببشکه الله تعالی ډېر بخښونکی او مهربان دی.(۱۸)

---

الله تعالی د انسان پام دې ته اړوي،چې د هغه په بدن،ژوند،کورنی،عقل،هوا،اوبو،خوراک،حافظه،علم او هر څه کې الله تعالی داسې ډېر نعمتونه ورکړي دي چې:نه شمیرل کیږي،نه پرې احاطه کیدای شي،نه یې انسان حق ادا کولای شي،هر نعمت که وګورو،پخپله لسګونه نور نعمتونه لري.

مثلاق د انسان وجود د ۴۰ ټریلین حجرو څخه جوړ شوئ دی،هره حجره یوه لویه کارخانه او د الله تعالی یو غټ نعمت دی،خو که مونږ وغواړو چې دا نعمتونه وشمارو او په هر یو باندې شکر وباسو،نو دا ناممکنه ده،ځکه که مونږ وغواړو چې د یو ټریلیون پورې حساب وکړو په داسې حال کې چې:په هره ثانیه کې یو عدد ووایو،او هیڅ وقفه مو هم نه وي اخستي،خوراک او څکاک مو هم نه وي کړئ،بیا هم تقریباً دوه دیرش زره«۳۲۰۰۰-» کلونه د یو ټریلین د شمیرلو دپاره ضرور دي.

سره د دې چې انسان د نعمتونو د شمیرلو او پوره شکر کولو څخه عاجز دی.خو الله تعالی فرمايي: إِنَّ ٱللَّهَ لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ الله تعالی ستاسو د شکر د کمښت باوجود ببښنه کوي،الله تعالی په خپلو بندګانو ډېر مهربان دی،چې دا انسان ته د امید دروازه پرانیزي.

وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعۡلِنُونَ (19)

| |
|---|
| وَٱللَّهُ او هغه«جل جلاله» يَعۡلَمُ پوهيږي مَا په هغه څه تُسِرُّونَ چې تاسو يې پټوئ(په زړونو کې) وَمَا او په هغه څه تُعۡلِنُونَ چې تاسو يې ښکاره کوئ (19) |

ترجمه:

الله تعالی هغه هر څه ښه پيژني چې تاسې يې پټ ساتئ،او هغه څه چې تاسو يې ښکاره کوئ.(١٩)

-----------------------------------------------------------------دا

مبارک آيت انسان ته يادونه کوي چې:

الله تعالی ته پټې او ښکاره خبرې دواړه معلومې دي.

انسان څه فکر کوي،څه نيت لري،څه پلانونه لري،او څه خبرې په ژبه کوي—-تول الله تعالی ته معلوم دي،نو انسان بايد د پټو ګناهونو او ناوړه نيتونو څخه ځان وساتي،ځکه الله تعالی د زړونو رازونه هم پيژني.

وَٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَخۡلُقُونَ شَيۡـًٔا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ (20) أَمۡوَٰتٌ غَيۡرُ أَحۡيَآءٖۖ وَمَا يَشۡعُرُونَ أَيَّانَ يُبۡعَثُونَ (21)

| |
|---|
| وَٱلَّذِينَ او هغه(بتان،قبرونه وغيره) چې يَدۡعُونَ دوی يې بولي(يعني د کومک دپاره ورته اواز کوي،عبادت يې کوي) مِن دُونِ ٱللَّهِ پرته د الله تعالی څخه لَا يَخۡلُقُونَ (دغه بتان او قبرونه) نشي پيدا کولای شَيۡـًٔا هيڅ شی وَ حال دا چې هُمۡ دوی پخپله يُخۡلَقُونَ پيداکيدونکي دي(مخلوق دی يعنې پيدا |

شوي دي) (20) أَمۡوَٰتٌ (دغه بتان،قبرونه وغيره) مړه دي غَيۡرُ
أَحۡيَآءٖۖ ژوندي نه دي وَمَا يَشۡعُرُونَ او دوی نه پوهيږي أَيَّانَ
يُبۡعَثُونَ چې کله به راژوندي کړل شي(چې کله به راپورته کړل
شي)(21)

ترجمه:

او هغه(بتان،قبرونه وغيره)چې مشرکان يې پرته د الله تعالی څخه بلي(د مشکلاتو حل او کومک ورڅخه غواړي،او عبادت يې کوي ، حقيقت دا دی چې دا غلط معبودان) هيڅ شی نه پيدا کولای شي،(او نه څه کولای شي)حال دا دی چې دوی پخپله مخلوق دی(پيدا کيږي)(۲۰) دوی مړه دي،ژوندي نه دي،او نه پوهيږي چې دوی به کله(دوهم ځل ژوندي)راپاڅول شي.(۲۱)

---

قرأن د عقل،فکر او دليل د لارې د توحيد حقيقت څرګندوي:

هغه معبودان چې مشرکان يې عبادت کوي،بې روحه دي،د ژوند ورتيا نلري.هغوی احساس، شعور،قدرت او پوهه نلري،نه د قيامت د ورځې خبر دي،او نه د خلکو د ستونزو.

نو څوک چې د خپل ځان څخه خبر نه وي،هغه به د خلکو د مشکلاتو څخه څنګه خبر شي؟

هغه چې د خپل ځان سره کومک نشي کولای،هغه به د خلکو سره څه کومک وکړي؟

هغه چې هيڅ شی نشي پيدا کولای،هغه به چا ته لور او ځوی څنګه ورکړي؟

إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۚ فَٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ قُلُوبُهُم مُّنكِرَةٞ وَهُم مُّسۡتَكۡبِرُونَ (22)

| |
|---|
| إِلَٰهُكُمۡ معبود ستاسو إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۚ یواځې یو معبود دی فَٱلَّذِينَ خو هغه خلک لَا يُؤۡمِنُونَ چې باور نلرې بِٱلۡأٓخِرَةِ په آخرت باندې قُلُوبُهُم د هغوی زړونه مُّنكِرَةٞ منکر دي(د حق څخه) وَهُم او(په حقیقت کې) دوی مُّسۡتَكۡبِرُونَ کبرجن دي (22) |

ترجمه:

ستاسو معبود یواځې یو معبود دی،خو هغه خلک چې په آخرت(حساب او عذاب)یقین نلرې،د هغوی زړونه(حق) نه مني( د خپلې خوښې معبودان ځانونو ته نیسي،او د الله تعالی سره یې شریکوي،څوک د بتانو عبادت کوي،څوک د قبرونو او څوک د انسانانو عبادت او بندګي کوي، په حقیقت کې) دوی کبرجن دي(یعني د دوی انکار د تکبر له امله دی، د حق منل ورته د ځان د لوړتیا خلاف،او خپل سپکوالی ښکاري.)

لَا جَرَمَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡتَكۡبِرِينَ (23)

| |
|---|
| لَا جَرَمَ بیشکه أَنَّ چې ٱللَّهَ الله تعالی يَعۡلَمُ پوهیږي مَا په هر هغه څه يُسِرُّونَ چې دوی یې پټوي(په زړونو کې) وَمَا او په هر هغه څه يُعۡلِنُونَۚ چې دوی یې ښکاره کوي إِنَّهُۥ بیشکه هغه«جل جلاله» لَا يُحِبُّ نه خوښوي ٱلۡمُسۡتَكۡبِرِينَ کبرجن (23) |

ترجمه:

بېشکه الله تعالی په هغه څه ښه پوهیږي چې دوی(یعني مشرکان او کافران)یې پټوي،اوپه هغه څه چې دوی یې ښکاره کوي،بېشکه الله تعالی تکبر کوونکي نه خوښوي.

---

یعني الله تعالی د انسان په پټو او ښکاره خبرو،نیتونو،فکرونو او پټو پلانونو تولو پوهیږي،یوه خبره او یو کار ترې پټ نه دی،نو مشرکان او کافران که څه هم په ښکاره تکبر کوي،خو الله تعالی ته د هغوی پټ نیتونه او پلانونه هم معلوم دي.یعني اکثره خلک په خوله د آخرت،او حساب خبرې کوي،خو الله تعالی ته د دوی زړونه معلوم دي چې کوم دین او قانون چې په قرآن کې دی،دوی پرې یقین نلري.

وَإِذَا قِيلَ لَهُم مَّاذَآ أَنزَلَ رَبُّكُمۡ قَالُوٓاْ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ (24)

<u>په آیت د ښه پوهیدو دپاره دا ولولئ</u>

کله چې د نبي علیه السلام د نبوت اوازه هرې خوا ته خوره شوه،نو د مکې مشرکان او کافران به چې هر چیرته تلل،او یا به که د هر ځای څخه خلک مکې ته راتلل نو د مکې د مشرکانو او کافرانو څخه به یې پوښتنه کوله چې په تاسو کې چې کوم نبي مبعوث شوئ دی،الله تعالی په هغه څه قسم کتاب نازل کړئ دی؟یعنې:دا قرآن څه قسم کتاب دی او څه قسم مضامین او موضوعات په کې دي؟نو دوی د دې دپاره چې خلک نبي علیه السلام ته رانشي او ایمان رانوړي،نو د اسلام او قرآن پسې به یې منفي تبلیغات کول،او ورته به یې ویل چې:قرآن خو هسې د پخوانیو خلکو کیسې دي.

باید ذکر شي چې د مکې د مشرکانو او کافرانو پیروان تر اوسه پورې لګیا دي،پیسې مصرفوي،هرقسم ممکنه وسایل یې په کار اچولي، د اسلام

او قرآن پسې منفي تبليغات کوي،او د مکې د مشرکانو خبرې تکراروي يعنې وايې چې:قرآن د پخوانيو خلکو کيسې دي،تر څو د اسلام څخه د خلکو نفرت پيدا کړي. آيت ته توجه وکړئ.

| |
|---|
| وَإِذَا او کله چې قِيلَ وويل شي لَهُم دوی ته مَّاذَآ چې څه شی أَنزَلَ نازل کړئ رَبُّكُمۡ رب ستاسو(په نبي عليه السلام) قَالُوٓاْ دوی وايې أَسَٰطِيرُ کيسې ٱلۡأَوَّلِينَ د پخوانيو خلکو. (24) |

ترجمه:

او کله چې دوی ته وويل شي(يعنې چې د مشرکانو څخه خلک د ځان د پوهيدلو دپاره پوښتنه وکړي)چې ستاسو رب (په محمد«صلی الله عليه وسلم باندې» څه شی نازل کړئ دی؟ نو دوی (ورته) وايې د پخوانيو خلکو کيسې(يې نازل کړي دي).

لِيَحۡمِلُوٓاْ أَوۡزَارَهُمۡ كَامِلَةٗ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَمِنۡ أَوۡزَارِ ٱلَّذِينَ يُضِلُّونَهُم بِغَيۡرِ عِلۡمٍۗ أَلَا سَآءَ مَا يَزِرُونَ (٢٥)

(هغه مشرکان او مشران چې: (پرته د وحې د علم څخه) په ناپوهۍ سره خلک د غيرالله بندګۍ او قانون منلو يعنې شرک اکبر ته دعوتوې،او د سمې لارې څخه يې منع کوي، د دوی جزا به داسې وي!)

| |
|---|
| لِيَحۡمِلُوٓاْ چې وړي به دوی أَوۡزَارَهُمۡ بارونه د خپلو(ګناهونو) كَامِلَةٗ پوره-پوره يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ د قيامت په ورځ وَمِنۡ أَوۡزَارِ او بارونه د ٱلَّذِينَ هغو خلکو(د ګمراکولو د ګناه) يُضِلُّونَهُم چې دوی يې ګمراه کوي بِغَيۡرِ عِلۡمٍۗ په ناپوهۍ سره أَلَا |

خبردار سَآءَ ډېر بد دي مَا هغه(د ګناه بارونه) يَزِرُونَ
چې دوی به يې وړي(د حشر په ميدان کې په اوږو باندې) (۲۵)

ترجمه:

(هغه مشرکان او مشران چې: په ناپوهی سره خلک د غیرالله بندګی او قانون منلو يعني شرک اکبر ته دعوتوي،او د سمې لارې څخه يې منع کوي، د دوی جزا به داسې وي!)

چې د قيامت په ورځ به يې خپل ټول ګناهونه په اوږو بار وي،او د هغو خلکو ګناهونه به هم پرې باروي چې دوی يې په ناپوهی سره ګمراه کوي(يعني د ګمراهي داسې لارې جوړوي چې د علم،يقين او وحې په بنیاد نه وي)،خبردار چې:دوی به ډېر بد بار په اوږو وړي(د حشر په ميدان کې)

---

په نن وخت کې:

(۱) جعلي حديثونه خورول،د دين په اړه شخصي نظرونه د دين په نوم وړاندې کول،د علم پرته فتوی ورکول.

د حشر په ميدان کې به په دوی د خپلو ګناهونو څخه علاوه د هغو خلکو د ګمراه کولو ګناه هم بار وي چې د دوی په خبرو فريب خوري

(۲) د تاو تريخوالي فتوی د قرآن په نوم خپرول.چې دوی به په هر قتل،ويجاړتيا او فساد کې شريک او مجرم وي،او ګناه به يې وربانديې بار وي.

(۳) فحشا،حرام فلمونه او عکسونه خپرول.

هغه کسان چې فحشا،ناوړه میوزیک او د رقص ویډیوګانې جوړوي او خپروي،نو د هر لیدونکي د ګناه برخه ورپسې لیکل کیږي،او د حشر په میدان کې به پرې بار وي.

(۴) غلط شریعت،غلط تصوف،او بدعتونه خپرول:

د شریعت د مسایلو غلط بیانول،د ځان څخه عبادتونه جوړول یا بدعتونه،جعلي کرامتونه،دروغجنې کیسې،د طریقت په نوم د شریعت خلاف کړنې.

نو هر څوک چې غلطه لاره تعقیب کړي،د ګناه برخه یې د جوړونکي په غاړه ده.یعنې څوک چې غلطه لاره جوړوي ــــ د هغه ګناه دوه چنده کیږي (۱) خپله ګناه (۲) د هر پیرو د ګناه برخه.مثالونه ډېر زیات دي خو د اوس دپاره دومره بس دی.

قَدۡ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ فَأَتَى ٱللَّهُ بُنۡيَٰنَهُم مِّنَ ٱلۡقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيۡهِمُ ٱلسَّقۡفُ مِن فَوۡقِهِمۡ وَأَتَىٰهُمُ ٱلۡعَذَابُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَشۡعُرُونَ (26)

| |
|---|
| قَدۡ بېشکه (لکه د اوسنیو او د نبي علیه السلام د زماني د فریبکارانو پشان ) مَكَرَ دسیسې جوړې کړې وې ٱلَّذِينَ هغو خلکو (هم) مِن قَبۡلِهِمۡ چې د دوی څخه مخکې(تیر شوي) وو فَأَتَى ٱللَّهُ نو د الله تعالی (عذاب) راغئ بُنۡيَٰنَهُم په ودانی د دوی مِّنَ ٱلۡقَوَاعِدِ د بنسټونو څخه(د تاداونو څخه ) فَخَرَّ نو راوغورزېده عَلَيۡهِمُ په دوی باندې ٱلسَّقۡفُ چت (د دوی د ودانۍ) مِن فَوۡقِهِمۡ د دوی د پاسه وَأَتَىٰهُمُ او راغئ دوی ته ٱلۡعَذَابُ عذاب مِنۡ حَيۡثُ د هغه ځای څخه لَا يَشۡعُرُونَ چې دوی ګمان نه کولو (26) |

ترجمه:

د اوسنیو او د نبي علیه السلام د زماني څخه وړاندې هم ځینو خلکو(د حق د منځه وړلو دپاره)دا ډول دسیسې او فریبونه جوړول، خو الله تعالی یې د دسیسو او فریبونو ودانۍ د بیخه ونړولي او(د خپلو کورونو) چتونه وربانديې د پاسه راوغوزیدل،او د داسې طرف څخه وربانديې عذاب نازل شو چې دوی یې تصور هم نه کاوه.

---

په تاریخ کې هر قوم، هر حکومت او هر زورور چا چې د الله تعالی د نظام څخه انکار کړئ ،د هغه«جل جلاله»د حکم پر ځای یې خپل قوانین جوړ کړي،ظلم او سرکشي یې کړي – هیح یو د الله تعالی د سنتو څخه نه دی خلاص شوی،ټول په هغو عذابونو او زوال سره ختم شوي چې تصور یې هم نه کاوه.دایو ثابت خقیقت دی چې کله چې ظلم او سرکشې د حد څخه ډېر شي او د الله تعالی امر راورسیږي نو هیڅ قدرت یې مخه نشي نیولای.

نمرود د الله تعالی د نظام څخه انکار وکړو،ځان یې خدای وباله،د الهې قوانینو په ځای یې خپل قوانین تطبیقول په خلکو شروع کړل،کله یې چې ظلم ډېر زیات شو نو الله تعالی د یو کمزورې میاشې په وسیله هلاک کړو.فرعون یې په اوبو کې غرق کړو،ابوجهل او د مکي مشرکان یې په بدر کې د مسلمانانو پلاس هلاک کړل،

اوسنې فرعونیان او نمرودیان هم کله یې چې ظلم او سرکشي د حد څخه تجاوز وکړي – د الله تعالی د سنتو څخه نشي خلاصیدلای،د ناڅاپي

کودتاګانو،داخلي اختلافاتو،ملي قیام،یا اقتصادي بحرانونو پواسطه په څو ورځو یا میاشتو کې لوی لوی نظامونه د منځه ځي،داسې چې:نه یې تصور کړی وي،نه انتظار،او نه یې د مخنیوي توان لرې،دا هغه الهي عذابونه دي چې:ظالم یې هیڅ اټکل نه کوي.مهلت باید په غلطه معنی وانه خستل شي،ځینې خلک ګڼې چې:مونږ ظلم کوو،خو هیڅ نه کیږي،نو ښای مونږ په حقه یو!

خو دا فکر غلط دی.

د الله تعالی د طرفه ورکول شوی مهلت د امتحان دپاره وي،نه د معافیت لپاره،کله چې ظلم د حد څخه تجاوز وکړي،د الله تعالی د سنتو وخت راشي،د ظلم او قدرت ماڼۍ د بیخه نړیږي، زورور په داسې لاره تباه کیږي چې هیڅ تصور یې نه وي کړی.

ثُمَّ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يُخۡزِيهِمۡ وَيَقُولُ أَيۡنَ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ كُنتُمۡ تُشَٰٓقُّونَ فِيهِمۡۚ قَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ إِنَّ ٱلۡخِزۡيَ ٱلۡيَوۡمَ وَٱلسُّوٓءَ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ (27)

ثُمَّ وروسته به يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ د قیامت په ورځ يُخۡزِيهِمۡ هغه«جل جلاله» رسواکړي هغوی وَيَقُولُ او وایې به(الله تعالی) أَيۡنَ چیرته دي شُرَكَآءِيَ شریکان زما ٱلَّذِينَ هغه(شریکان) كُنتُمۡ تُشَٰٓقُّونَ چې تاسو جګړه کوله فِيهِمۡۚ د هغوی په اړه( د حق د پلویانو سره) قَالَ ٱلَّذِينَ هغه خلک به ووایې أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ چې هغوی ته علم ورکول شوی(پغمبران،علما) إِنَّ بیشکه ٱلۡخِزۡيَ رسوایي(ذلت) دی ٱلۡيَوۡمَ نن ورځ وَٱلسُّوٓءَ او بد عذاب دی عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ کافرانو ته (27)

ترجمه:

(د دنیا د عذاب څخه) وروسته به الله تعالی هغوی د قیامت په ورځ ذلیل او رسوا کړي،او ورته به وفرمايي:راوښاياست! اوس چیرته دي،زما هغه شریکان چې د هغوی دپاره تاسو(د حق د پلویانو سره) جګړه کوله.هغه خلک به ووايي:کومو چې په دنیا کې علم درلود(پیغمبران او علماء حق)،«چې نن د کافرانو دپاره رسوايي او بدمرغي ده»

ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِيٓ أَنفُسِهِمۡۖ فَأَلۡقَوُاْ ٱلسَّلَمَ مَا كُنَّا نَعۡمَلُ مِن سُوٓءِۭۚ بَلَىٰٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ (28)

ٱلَّذِينَ ( ظالمان او کبرجن)هغه خلک دي تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ (چې کله يې د مرګ) فرښتې راونیسي (یا کله يې چې د مرګ فرښتې روح اخلي) ظَالِمِيٓ أَنفُسِهِمۡۖ په داسې حال کې چې په خپلو ځانونو ظلم کوونکي وي(دشرک او کبر په سبب) فَأَلۡقَوُاْ ٱلسَّلَمَ (سترګې به يې وغړیږي) نو تسلیم به شي (او فرښتو ته به وايي چې) مَا كُنَّا نَعۡمَلُ مِن سُوٓءِۭۚ مونږ خو هیڅ بد کار نه دی کړئ بَلَىٰٓۚ (فرښتې په ورته ووايي) ولې نه (تاسو بد کارونه کړي دي) إِنَّ بیشکه ٱللَّهَ الله تعالی عَلِيمُۢ پوه دی بِمَا په هغه څه كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ چې تاسو به کول (28)

ترجمه:

(ظالمان او کبرجن هغه خلک دي چې کله يې) د مرګ فرښتې روح قبض کوي،په داسې حال کې چې هغوی په خپلو ځانونو (د شرک او سرکشی په سبب)ظلم کړی وي(سترګې به يې وغړیږي،په حقیقت به پوه شي، د عاجزی لار به ونیسي)نو تسلیم به شي(او فرښتو ته به ووايي) چې مونږ

خو هیڅ بد کار نه دی کړی(یعنې:کله چې د مرګ په وخت کې فرښتې د کافرانو روح اخلي،هغوی به بې وسه شي،او په عاجزۍ سره به ووايي:مونږ تسلیم یو....مونږ خو هیڅ بد کار نه دی کړی،فرښتې به ورته ځواب ورکړي)چې ولې نه (بلکې بد کارونه مو کړي دي،ځکه چې) بېشکه الله تعالی په هغه هرڅه باندې ښه پوه دی،چې تاسو به کول(یعنې ستاسو هر څه د الله تعالی په علم کې دي،د منکریدلو هیڅ چانس نشته)

فَٱدۡخُلُوٓاْ أَبۡوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ فَلَبِئۡسَ مَثۡوَى ٱلۡمُتَكَبِّرِينَ (29)

| |
|---|
| فَٱدۡخُلُوٓاْ نو(مشرکانو او کبرجنو ته به فرښتې وایې چې) ننوځئ أَبۡوَٰبَ دروازو جَهَنَّمَ د جهنم ته خَٰلِدِينَ همیشه اوسیدونکې فِيهَاۖ په هغې(جهنم) کې فَلَبِئۡسَ او ډېر بد مَثۡوَى ځای د اوسیدلو دی(جهنم) ٱلۡمُتَكَبِّرِينَ د کبرجنو دپاره. (29) |

ترجمه:

نو(مشرکانو او کبرجنو ته به فرښتې وایې چې) د جهنم په دروازو ورننوځئ،هلته یعنې جهنم کې ستاسو تل اوسیدل دي،او حقیقت دا دی چې د کبرجنو دپاره جهنم ډېر بد استوګنځای دی.

۞وَقِيلَ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ مَاذَآ أَنزَلَ رَبُّكُمۡۚ قَالُواْ خَيۡرٗاۗ لِّلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٞۚ وَلَدَارُ ٱلۡأٓخِرَةِ خَيۡرٞۚ وَلَنِعۡمَ دَارُ ٱلۡمُتَّقِينَ (30)

مخکې ذکر شو چې کله د مشرکانو او کافرانو څخه پوښتنه وشي چې په نبي عليه السلام الله تعالى څه شی نازل کړئ؟کافرانو به ورته ویل د پخوانیو خلکو کیسې.اوس د متقیانو په اړه فرمایې:

۞وَقِيلَ او (کله) چې وویل شي لِلَّذِينَ هغه خلکو ته ٱتَّقَوۡاْ چې متقیان دي(د الله تعالی څخه ویریږي) مَاذَآ چې څه شی أَنزَلَ نازل کړئ رَبُّكُمۡۚ رب ستاسو(په نبي علیه السلام) قَالُواْ دوی(ورته) وایې خَيۡرٗاۗ خیر (ډېر ښه شی). لِّلَّذِينَ هغو خلکو دپاره أَحۡسَنُواْ چې نیکې یې کړي فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا په دې دنیا کې حَسَنَةٞۚ نیک بدله ده وَلَدَارُ او ښیشکه کور ٱلۡأٓخِرَةِ د آخرت خَيۡرٞۚ ډېر بهتر دی وَلَنِعۡمَ او ښیشکه ډېر ښه دی دَارُ (جنتې)کور ٱلۡمُتَّقِينَ د متقیانو . (30)

ترجمه:

(د بله پلوه کله چې) د متقیانو څخه پوښتنه کیږي چې ستاسو رب څه شی نازل کړی،نو دوی جواب ورکوي:خیر(ډېر ښه شی) یې نازل کړئ دی.دغه راز نیکوکارانو دپاره په دنیا کې(هم) نیکه بدله ده،خو پرته د شک څخه د آخرت کور ډېر بهتر دی،او یقیناً د متقیانو (جنتې) کور ډېر ښه دی.

جَنَّٰتُ عَدۡنٖ يَدۡخُلُونَهَا تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ لَهُمۡ فِيهَا مَا يَشَآءُونَۚ كَذَٰلِكَ يَجۡزِي ٱللَّهُ ٱلۡمُتَّقِينَ (31)

(د متقیانو دپاره دي) جَنَّٰتُ عَدۡنٖ دایمي جنتونه يَدۡخُلُونَهَا چې دوی به داخلیږي هغې ته تَجۡرِي بهیږي به مِن تَحۡتِهَا د هغې لاندې ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ نهرونه لَهُمۡ فِيهَا دوی ته به په هغې کې مَا يَشَآءُونَۚ هغه څه وي چې زړونه یې غواړي كَذَٰلِكَ همداسې يَجۡزِي بدله ورکوي ٱللَّهُ الله تعالی ٱلۡمُتَّقِينَ متقیانو ته (31)

ترجمه:

(د متقيانو دپاره)دايمي جنتونه دي چې هغوی به پکې داخلیږی،داسې جنتونه چې لاندې ترې نهرونه بهيږي.

دوی ته به په دې جنتونو کې هر هغه څه وي چې زړه يې غواړي،الله تعالی متقيانو ته دغسې بدل(جزا) ورکوي.

ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ طَيِّبِينَ يَقُولُونَ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمُ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ (32)

ٱلَّذِينَ هغه کسان تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ چې فرښتې يې روح اخلي طَيِّبِينَ د سپيڅلتيا په حال کې(يعني چې د شرک او لويو ګناهونو څخه پاک وي،نو) يَقُولُونَ فرښتې ورته وايي سَلَٰمٌ سلام دې وي عَلَيۡكُمُ په تاسو ٱدۡخُلُواْ داخل شئ(ننوځئ) ٱلۡجَنَّةَ جنت ته بِمَا په سبب د هغو(اعمالو) كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ چې تاسو به کول(په دنيا کې) (32)

ترجمه:

هغه متقيان چې:فرښتې يې د پاکوالي په حالت کې روح اخلي(يعني:عقيده او اعمال يې د شرک،کفر او لويو ګناهونو څخه پاک وي،او د الله تعالی په اطاعت کې يې ژوند کړئ وي، نو) فرښتې به ورته وايي:سلام دې وي پر تاسو! د خپلو اعمالو په سبب جنت ته داخل شئ.

هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَوۡ يَأۡتِيَ أَمۡرُ رَبِّكَۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ ٱللَّهُ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ (33)

مشرکان او کافران چې:د بې حسابه نښو او دلايلو سره سره بيا هم ايمان نه راوړي،نو !

هَلۡ آيا يَنظُرُونَ دوى انتظار کوي إِلَّآ پرته له دې أَن چې تَأۡتِيَهُمُ راشي دوى ته ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ فرښتې (د روح د قبضولو دپاره) أَوۡ يا يَأۡتِيَ راشي أَمۡرُ حکم رَبِّكَۚ د رب د ستا(يعنې په ټولو خلکو عام عذاب يا قيامت راشي،چې په دې صورتونو کې، بيا ايمان راوړل هيڅ ګټه نکوي) كَذَٰلِكَ په همدې ډول فَعَلَ کړي وو ٱلَّذِينَ هغو خلکو مِن قَبۡلِهِمۡۚ چې د دوى څخه مخکې وو (د حق نافرمانې يې وکړه نو هلاک شول) وَمَا ظَلَمَهُمُ خو ظلم ونه کړ په هغوى ٱللَّهُ الله تعالى وَلَٰكِن ليکن كَانُوٓاْ وو أَنفُسَهُمۡ خپل ځانونه د هغوى يَظۡلِمُونَ ظلم کوونکې(يعنې:هغوى پخپله په خپلو ځانونو ظلم کاوه،د شرک او سرکشۍ په کولو سره) (33)

ترجمه:

آيا دا کافر خلک د بل څه انتظار باسي؟پرته د دې چې فرښتې ورته راشي(د روح د قبض کولو لپاره)،يا ستا د رب حکم(عذاب يا قيامت)راشي،همداسې د دوى څخه مخکې قومونو هم کړي وو(د حق نافرمانې يې وکړه نو هلاک شول)،خو الله تعالى په هغوى هيڅ ظلم نه وو کړى،ليکن هغوى پخپله په خپلو ځانونو ظلم کاوه(د شرک او سرکشۍ په کولو سره)

---

مشرکان او کافران چې:د بې حسابه نښو او دلايلو سره سره بيا هم ايمان نه راوړي،نو !

کافران(دایمان راوړلو دپاره) د بل څه انتظار نه باسي پرته د دې څخه چې یا ورته د مرګ فرښتې د روح قبض کولو دپاره راشي،او یا د الله تعالی عمومي عذاب یا قیامت راشي،او دوی هر څه په سترګو وګوري،او بیا ایمان راوړي،مګر د مرګ،عذاب او قیامت په ورځ ایمان راوړل هیڅ ګټه نکوي. لکه څنګه چې اوسنې کافران د ښکاره نښو سره سره حق نه مني او ایمان نه راوړي،همدارنګه پخوانیو کافرانو هم د حق څخه انکار،د رسولانو نافرمانې،او د حق د منځه وړلو کوششونه کړي وو لکه عادیان،ثمودیان،فرعونیان...یو هم د الله تعالی د سنتو څخه بچ نشو،هلاک شول،لیکن الله تعالی د هغوی په هلاک کولو کې هیڅ ظلم نه دی کړئ،بلکې هغوی پخپله د شرک،سرکشۍ او د حق په ردولو سره په خپله په خپلو ځانونو ظلم کړی.

فَأَصَابَهُمْ سَيِّئَاتُ مَا عَمِلُواْ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ (34)

فَأَصَابَهُمْ نو وروروسیدلي دوی ته سَيِّئَاتُ بدې (نتیجې) مَا د هغو(عملونو) عَمِلُواْ چې هغوی کړي وو وَ او حَاقَ راتاو شو بِهِم په هغوی (او نازل شو په هغوی) مَّا هغه(عذاب) كَانُواْ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ چې هغوی به ورپورې ټوقې کولې (34)

ترجمه:

نو د خپلو بدو عملونو(نتیجې)وروروسیدلې،او هغه (عذاب)وربانديې راغی د کوم پورې چې:هغوی ټوقې او مسخرې کولې.

---

د هغوی بد کارونه – لکه کفر،د رسول انکار،ظلم،او فساد يې د عذاب سبب شول،او عذاب وربانديې داسې راغی چې ټول يې داسې محاصره کړل،چې:نه ورته د تيښتې ځای پاتې شو او نه د يوې شيبې مهلت.

هغه عذاب چې ورپورې به يې مسخرې کولې،ويل به يې: چيرته دی عذاب؟رادې شي!

خو کله چې راغی،بيا يې خندا او ټولې مسخرې ختمې شوې.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ لَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا عَبَدۡنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖ نَّحۡنُ وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمۡنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ فَهَلۡ عَلَى ٱلرُّسُلِ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ (٣٥)

وَقَالَ او وويل ٱلَّذِينَ هغو خلکو أَشۡرَكُواْ چې هغوی شرک کړی وو لَوۡ که شَآءَ ٱللَّهُ الله تعالی غوښتلي وای مَا عَبَدۡنَا عبادت به مو نه کاوه مِن دُونِهِۦ پرته د هغه«جل جلاله» څخه مِن شَيۡءٖ د هيڅ شي نَّحۡنُ مونږ وَلَآ او نه ءَابَآؤُنَا زمونږ نيکونو وَلَا حَرَّمۡنَا او نه به مو حرام کړی وو مِن دُونِهِۦ غير د هغه«جل جلاله» د حکم څخه مِن شَيۡءٖۚ هيڅ شی كَذَٰلِكَ همدغه شان(بهانې) فَعَلَ ٱلَّذِينَ هغو خلکو(هم) کړې وې مِن قَبۡلِهِمۡۚ چې د هغوی نه مخکې وو فَهَلۡ نو آيا عَلَى ٱلرُّسُلِ په پيغمبرانو (د پغمبرانو(په غاړه) إِلَّا پرته ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ د روښانه پيغام رسولو(څخه نور څه مسؤليت هم شته؟) (٣٥)

ترجمه:

مشرکان وايي:

كه الله تعالى غوښتي واى،نو نه به مونږ او نه به زمونږ پلرونو او نيكونو د هغه«جل جلاله ځخه پرته دبل چا عبادت كړاى واى،او نه به مو د هغه«جل جلاله» د حكم ځخه پرته كوم شى حرام ګڼلى واى( د مكې مشركانو ځينې رواجونه او د ځينو ځارويو غوښې حرامې كړي وي،لكه ځنګه چې اوس هم مشركانو د غواګانو غوښې..... حرامې كړي دي).

همدغه شان(بهانې او پلمې) د دوى ځخه مخكې خلكو هم جوړي كړي وي.

نو د پيغمبرانو په غاړه د روښانه پيغام رسولو پرته نور ځه مسؤليت نشته(يعنې: د پيغمبرانو او د حق د داعيانو ذمه واري خلكو ته د الله تعالى د پيغام رسول دي،منل او نه منل د خلكو كار دى،دا د پيغمبرانو او داعيانو كار نه دى چې په زوره حق د چا په زړه كې ورننباسي،يا يې زړه بدل كړي او حق ورباندې ومنې)

---

دا چې مشركان وايې چې:كه د الله تعالى خوښه نه وه نو مونږ او زمونږ پلرونو به نه د غيرالله عبادت كړى وو او نه به مو كوم شى حرام كړئ وو،ځكه دا د الله تعالى په قدرت كې ده چې مونږ منع كړي،دا چې چې نه مو منع كوي،دا د دې دليل دى،چې مونږ او زمونږ پلرونو چې ځه كړي او كوو يې،مونږ صحيح يو،او دا هر ځه د الله تعالى په خوښه كوو،او زمونږ حرامول الله تعالى منلي دي.

مشركان د خپلې سرغړونې پړه د الله تعالى په تقدير اچوي.

دوى دروغ وايې! ځكه: الله تعالى حق روښانه كړى،او انسان ته يې اراده،عقل او د انتخاب حق وركړى،نو د غلطۍ پړه د انسان پخپله غاړه ده.

وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَۖ فَمِنۡهُم مَّنۡ هَدَى ٱللَّهُ وَمِنۡهُم مَّنۡ حَقَّتۡ عَلَيۡهِ ٱلضَّلَٰلَةُۚ فَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ (36)

ټکي په ټکي ترجمه:

وَلَقَدۡ او ببشکه بَعَثۡنَا لیږلی دی مونږ. فِي كُلِّ أُمَّةٖ په هر قوم کې رَّسُولًا یو رسول(د دې پیغام سره) أَنِ چې ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ یوازې د الله تعالی بندګي کوئ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَۖ او د طاغوت د بند ګی ځخه ځانونه وساتئ فَمِنۡهُم نو د دې(قومونو) نه ځینې مَّنۡ هغه څوک وو(چې د الله تعالی پیغام یې ومنلو،او د هغوی د دې انتخاب په اساس) هَدَى ٱللَّهُ الله تعالی ورته هدایت وکړ وَمِنۡهُم او د دې(قومونو) څخه ځینې مَّنۡ هغه خلک وو(چې د الله تعالی پیغام یې ونه منلو،د پیغمبرانو مخالفت یې وکړ،او د دوی د دې انتخاب په اساس) حَقَّتۡ مسلط شوه عَلَيۡهِ په دوی باندې ٱلضَّلَٰلَةُۚ ګمراهي فَسِيرُواْ نو وګرځئ فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې فَٱنظُرُواْ او وګورئ كَيۡفَ كَانَ چې څنګه شو عَٰقِبَةُ انجام ٱلۡمُكَذِّبِينَ د تکذیب کوونکو(د حق د رد کوونکو.) (36)

روانه ترجمه:

او یقیناً مونږ په هر قوم کې یو پیغمبر لیږلی دی(د دې پیغام سره) چې یوازې د الله تعالی بندګي کوئ،او د طاغوت د بندګۍ څخه ځانونه وساتئ(څوک چې د الله تعالی د اطاعت او بندګۍ څخه سرکشي کوي،طاغوت دی،هغه که انسان وي یا پیری،کومه حکومتي اداره وي یا په خپله دولت،خو که هغوی د الله تعالی اطاعت نه کوي، تاسو د هغوی اطاعت مه کوي،که هغوی د الله تعالی قانون نه مني، تاسو د هغوی قانون

مه منئ،که هغوی د الله تعالی خبره نه منې، تاسو د هغوی خبره مه منئ،او مه د هغوی خبره د الله تعالی په خبره سوروئ).

نو په دې قومونو کې ځینې خلکو( چې د الله تعالی پیغام قبول کړو،نو د دوی د انتخاب په اساس)الله ورته هدایت وکړ،او ځینو خلکو (چې د پیغمبرانو دعوت یې رد کړو او مخالفت یې وکړ،نو د دوی د مخالفت د انتخابولو په سبب) ګمراهې وربانديې مسلط شوه.نو تاسو (د عبرت حاصلولو دپاره)په ځمکه کې وګرځئ او وګورئ چې د دې تکذیب کوونکو انجام څنګه شو.(عادیان،ثمودیان،فرعونیان.....ټول هلاک شو،چې کنډرې یې تر اوسه هم شته.ستاسو په مخکې څومره لوی لوی ظالمان او کبرجن هره ورځ هلاکیږي،تاسو یې ګورئ،خو بیا هم عبرت نه اخلئ)

إِن تَحۡرِصۡ عَلَىٰ هُدَىٰهُمۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَن يُضِلُّۖ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ (37)

نبي علیه السلام او هر داعي ته خطاب دی چې:د خلکو په ایمان راوړلو ډیر حریص وي،او غواړي چې هر څوک باید دعوت ومنې او ایمان راوړي،او که څوک یې دعوت رد کړي نو ډیر زیات خفه کیږي.فرمایي:

ټکي په ټکي ترجمه:

إِن که تَحۡرِصۡ ته حرص کوې(ډیر کوشش کوې) عَلَىٰ په هُدَىٰهُمۡ هدایت د هغوی(چې په سمه لار روان شي) فَإِنَّ ٱللَّهَ خو بېشکه الله تعالی لَا يَهۡدِي هدایت نه کوي مَن هغه چا ته يُضِلُّۖ چې هغه«جل جلاله» یې( د هغه د خپل انتخاب په سبب)

گمراه کوي وَمَا او نشته لَهُم د هغوی دپاره مِّن نَّٰصِرِينَ
هيڅ مرسته کوونکی. (37)

روانه ترجمه:

که ته ډېر حرص کوي چې هغوی په سمه لار روان شي،خو بېشکه الله تعالی هغه چا ته هدايت نه کوي چې هغه«جل جلاله» يې (د خپل انتخاب په سبب) گمراه کوي،او د دوی دپاره هيڅوک مرسته کوونکی نشته(چې د الله تعالی د عذاب څخه يې خلاص کړي)

وَأَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ لَا يَبۡعَثُ ٱللَّهُ مَن يَمُوتُۚ بَلَىٰ وَعۡدًا عَلَيۡهِ حَقًّا وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ (38)

ټکي په ټکي ترجمه:

وَأَقۡسَمُواْ او هغوی قسمونه کوي بِٱللَّهِ په الله تعالی باندې جَهۡدَ ډېر سخت أَيۡمَٰنِهِمۡ قسمونه د هغوی (په دې خبره چې) لَا يَبۡعَثُ نه ژوندي کوي ٱللَّهُ الله تعالی مَن څوک يَمُوتُ چې مړه کيږي بَلَىٰ ولې نه! (خامخا به ژوندي کيږي،قيامت او بيا راژوندې کيدل) وَعۡدًا يوه وعده ده عَلَيۡهِ په هغه«جل جلاله» باندې حَقًّا حقه(ربښتيا) وَلَٰكِنَّ خو أَكۡثَرَ ډېر ٱلنَّاسِ خلک لَا يَعۡلَمُونَ نه پوهيږي. (38)

روانه ترجمه:

او دوی(يعني کافران) په الله تعالی باندې ډېر سخت قسمونه خوري(د دې خبرې) چې:الله تعالی به هغه خلک بيا راژوندي نکړي چې مري.

(الله تعالی د دوی دا خبره ردوي او فرمايي:) ولې نه!(خامخا به يې راژوندي کوي،قيامت او بيا راژوندي کول) د الله تعالی يوه حقه وعده ده(چې هيڅ شک په کې نشته. خو اکثره خلک (د الله تعالی په قدرت او حکمت )نه پوهيږي.(د انسان قسمونه حقيقت نه بدلوي،حقيقت د الله تعالی وعده ده ،نه د انسان ګومان)

لِيُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِي يَخۡتَلِفُونَ فِيهِ وَلِيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّهُمۡ كَانُواْ كَٰذِبِينَ (39)

الله تعالی به ټول انسانان د قيامت په ورځ د قبرونو څخه ژوندې راپورته کړي!

ټکي په ټکي ترجمه:

| |
|---|
| لِيُبَيِّنَ تر څو چې ښکاره شي( واضحه شي) لَهُمُ هغوی ته ٱلَّذِي هغه څه يَخۡتَلِفُونَ چې دوی اختلاف کوي فِيهِ په هغه کې(يعنې پس د مرګه بيا ژوندې کيدل او قيامت نه منې) وَلِيَعۡلَمَ او تر څو چې پوه شي ٱلَّذِينَ هغه خلک كَفَرُوٓاْ چې انکار يې کړئ(د قيامت او بيا راژوندې کيدلو څخه) أَنَّهُمۡ چې بېشکه دوی كَانُواْ كَٰذِبِينَ دروغجن وو. (39) |

روانه ترجمه:

(الله تعالی به ټول انسانان د قيامت په ورځ د قبرونو څخه ژوندې راپورته کړي!)

تر څو چې دوی ته هغه څه واضحه شي چې دوی پکې اختلاف کوي،او تر څو چې (د قيامت او بعثت څخه) منکران په دې هم پوه شي،چې دوی دروغجن وو.

إِنَّمَا قَوۡلُنَا لِشَيۡءٍ إِذَآ أَرَدۡنَٰهُ أَن نَّقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ (40)

د قيامت قائميدل او بيا راژوندې كول الله تعالى ته هيڅ سخت كار نه دى،فرمايي:

ټكي په ټكي ترجمه:

| |
|---|
| إِنَّمَا ببشكه قَوۡلُنَا زمونږ وينا لِشَيۡءٍ د يو شي(د كولو) دپاره إِذَآ كله چي أَرَدۡنَٰهُ مونږ د هغه(شي د كولو) اراده وفرمايوو(دا ده) أَن چي نَّقُولَ مونږ وايوو لَهُۥ هغه(شي يا كار ته چي) كُن وشه فَيَكُونُ نو هغه وشي (40) |

روانه ترجمه:

(د قيامت قائميدل او بيا راژوندې كول الله تعالى ته هيڅ سخت كار نه دى،فرمايي)

ببشكه كله چي الله تعالى د يوشي د رامنځ ته كيدو اراده وفرمايي،يوازي ورته فرمايي«وشه» نو هغه شى واقع كيږي.

(يعني كله چي الله تعالى د كوم شي اراده وفرمايي،نو دهغه دپاره د هيڅ سبب،وسيلي يا وخت ضرورت نشته – يوازې د هغه«جل جلاله» امر«كُنْ» بس دى،چي هر څه رامنځ ته شي او وشي)

وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ فِي ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا ظُلِمُواْ لَنُبَوِّئَنَّهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗۖ وَلَأَجۡرُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَكۡبَرُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ (41)

ټکي په ټکي ترجمه:

وَٱلَّذِينَ او هغو کسانو هَاجَرُواْ چې هغوی هجرت وکړ فِي ٱللَّهِ
د الله تعالی دپاره مِنۢ بَعۡدِ مَا وروسته د دې ظُلِمُواْ چې پرې
ظلم وشو لَنُبَوِّئَنَّهُمۡ خامخا به مونږ دوی ته ځای ورکړو فِي
ٱلدُّنۡيَا په دنیا کې حَسَنَةٗۖ ډېر ښه(ځای او ښه ژوند) وَلَأَجۡرُ او
بېشکه اجر ٱلۡأٓخِرَةِ د آخرت أَكۡبَرُۚ ډېر زیات لوی دی لَوۡ
که چیرته كَانُواْ يَعۡلَمُونَ دوی پوهیدل. (41)

روانه ترجمه:

او هغه خلک چې د الله تعالی دپاره یې وروسته له دې چې پرې ظلم وشو،هجرت وکړ؛خامخا به مونږ هغوی ته په دنیا کې ښه ځای او ښه ژوند ورکړو،او د آخرت اجر خو لا ډېر لوی دی،که چیرته دوی پوهیدلای.

---

یعني که په چا باندې هجرت فرض(لازمي) وی،یعني په دین پابندې وي،لمونځ،روژه او ایمان نشي ښکاره کولای،او حرامو ته مجبوریږي،د هجرت وسه یې کیږي،خو د مال،کور او جایداد د محبت په خاطر هجرت نه کوي،نو که چیرته دوی ته د الله تعالی دپاره د هجرت اجر معلوم وو،چې په دنیا او آخرت کې الله تعالی ښه بدل ورکوي،حتماً به یې هجرت کړئ وو او د مال محبت به یې مخه نه وه نیولې.

ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ (42)

دا د مخکینې ۴۱ آیت دوام دی،او د الله تعالی په لار کې د هجرت کوونکو مؤمنانو دوه ستر صفتونه بیانوي:

ټکي په ټکي ترجمه:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ٱلَّذِينَ | (دوی) هغه خلک دي | صَبَرُواْ | چې صبر یې وکړ | وَعَلَىٰ | |
| رَبِّهِمۡ | او په خپل رب باندې | يَتَوَكَّلُونَ | توکل کوي/باور لري (42) | | |

روانه ترجمه:

(د الله تعالی په لار کې هجرت کوونکې) هغه خلک دي،چې صبر یې کړی،او په خپل رب باندې توکل کوي.

---

یعنې دا دومره اسانه کار نه دی چې د عاقبت څخه ناخبره څوک د خپل کور،مال او وطن څخه تیریږي،او د ایمان د ساتلو دپاره هجرت کوي.دا کار هماغه څوک کولای شي،چې د ظلم،تکلیف او سختیو په وړاندې صبر کوي،او یوازې په الله تعالی یې توکل او باور وي،نه په مال نه په خلکو او نه په قدرت.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِمۡۖ فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ (43)

ټکي په ټکي ترجمه:

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| وَمَآ أَرۡسَلۡنَا | (ای محمد«صلی الله علیه وسلم» مونږ نه دي | | | | | |
| لیږلي(پیغبران) | مِن قَبۡلِكَ | ستا څخه مخکې | إِلَّا | مګر | رِجَالٗا | |
| سړي(انسانان مولیږلي دي) | نُّوحِيٓ | چې مونږ وحې کولې | إِلَيۡهِمۡۖ | | | |
| هغوی ته | فَسۡـَٔلُوٓاْ | (اوس تولو خلکو ته خطاب دی) نو پوښتنه | | | | |
| وکړئ | أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ | (د آسماني کتابونو) د پوهانو او عالمانو | إِن | | | |
| كُنتُمۡ | که تاسو(داسې) یاستئ | لَا تَعۡلَمُونَ | چې نه پوهیږئ (43) | | | |

روانه ترجمه:

(ای محمد«صلی الله علیه وسلم»)مونږ د ستا څخه مخکې هیڅوک نه دی لیږلئ،پرته د انسانانو چې مونږ ورته وحې کولې(یعنې ټول پیغمبران انسانان وو،فرښتې نه وې. اوس ټولو خلکو ته خطاب دی،فرمایې:)نو که تاسو نه پوهیږئ،د (اسماني کتابونو)د پوهانو او عالمانو څخه پوښتنه وکړئ.

بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلزُّبُرِۗ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلذِّكۡرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيۡهِمۡ وَلَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ (44)

ټکي په ټکي ترجمه:

| |
|---|
| بِٱلۡبَيِّنَٰتِ (مونږ پخواني پیغمبران هم) د ښکاره نښو (دلایلو/معجزو) وَٱلزُّبُرِۗ او کتابونو سره (لیږلي وو) وَأَنزَلۡنَآ او نازل کړ مونږ إِلَيۡكَ تا ته ٱلذِّكۡرَ ذکر(قرآن) لِتُبَيِّنَ د دې دپاره چې ته روښانه کړې(تشریح کړې/بیان کړې) لِلنَّاسِ انسانانو ته مَا هغه څه چې نُزِّلَ نازل شوي إِلَيۡهِمۡ هغوی ته وَلَعَلَّهُمۡ ښایې چې هغوی يَتَفَكَّرُونَ فکر(غور) وکړي. (44) |

روانه ترجمه:

(مونږ پخواني پیغمبران) د څرګندو نښو او کتابونو سره لیږلي وو،او (ای محمد«صلی الله علیه وسلم») تا ته مو ذکر(قران) نازل کړ،د دې دپاره چې ته خلکو ته هغه څه روښانه کړې،چې هغوی ته نازل شوي دي،ښایې چې هغوی فکر(او غور)وکړي.

---

پیغمبر علیه السلام یوازې د قرآن راوړونکی نه دی،بلکې تشریح

کوونکی،وضاحت کوونکی او عملي ښوونکی هم دی،دا مبارک آیت د سنت لوی دلیل دی.

دلته په ښکاره توګه معلومیږي چې:قرآن یوازې د تلاوت کتاب نه دی ،بلکې د پوهیدلو،فکر، تدبر او عمل کولو،کتاب دی.

أَفَأَمِنَ ٱلَّذِينَ مَكَرُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن يَخۡسِفَ ٱللَّهُ بِهِمُ ٱلۡأَرۡضَ أَوۡ يَأۡتِيَهُمُ ٱلۡعَذَابُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَشۡعُرُونَ (45)

دا مبارک آیت هغو خلکو ته خبرداری دی چې د اسلام پر ضد او بدې دسیسې جوړوي.فرمایې:

تکي په تکي ترجمه:

| |
|---|
| أَفَأَمِنَ نوآیا ځانونه خوندې(او په امن کې) ګڼي ٱلَّذِينَ هغه خلک مَكَرُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ چې بدې دسیسې جوړوي أَن (د دې خبرې څخه) يَخۡسِفَ چې ننباسي ٱللَّهُ الله تعالی بِهِمُ هغوی ٱلۡأَرۡضَ په ځمکه (کې) أَوۡ یا يَأۡتِيَهُمُ راشي دوی ته ٱلۡعَذَابُ عذاب مِنۡ حَيۡثُ د هغه ځای څخه لَا يَشۡعُرُونَ چې دوی ګومان هم نکوي؟ (45) |

روانه ترجمه:

آیا هغه کسان چې بدې دسیسې جوړوي،ځانونه خوندي ګڼي له دې څخه چې الله تعالی به یې په ځمکه کې ننباسي(لکه د قارون پشان)،او یا به پرې د هغه ځایه عذاب راشي چې هغوی ته هیڅ احساس هم نه وي؟

---

څوک چې د حق پر ضد سازش او دسیسې جوړوي،باید د الله تعالی د نیونې ځان خوندي ونه ګڼي.

أَوْ يَأْخُذَهُمْ فِي تَقَلُّبِهِمْ فَمَا هُم بِمُعْجِزِينَ (46)

دا آیت د ۴۵ آیت دوام دی.

ټکي په ټکي ترجمه:

| |
|---|
| أَوْ یا يَأْخُذَهُمْ به ونیسي هغوی فِي تَقَلُّبِهِمْ د دوی د ګرځیدو راګرځیدو (سفر او ورځني مصروفیت په حال) کې فَمَا هُم نو بیا به نه وي دوی بِمُعْجِزِينَ عاجز کوونکي(د الله تعالی،چې د هغه«جل جلاله» د نیولو او عذاب څخه ځانونه خلاص کړي) (46) |

روانه ترجمه:

مخکي ذکر شو چې یا به یې په ځمکه کې ننباسې،یا به د داسې ځای نه پرې عذاب راشي چې هغوی یې ګمان هم نه کوي،اوس فرمایې چې:

یا به الله تعالی دوی د هغوی د ګرځیدو راګرځیدو او ورځني مصروفیت په حال کې ونیسي،خو هغوی به د الله تعالی د عذاب څخه د ځانونو د خلاصولو توان ونلري.

أَوْ يَأْخُذَهُمْ عَلَىٰ تَخَوُّفٍ فَإِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ (47)

دا مبارک آیت د ۴۶ آیت دوام دی.

ټکي په ټکي ترجمه:

| |
|---|
| أَوْ یا يَأْخُذَهُمْ به یې ونیسي عَلَىٰ په تَخَوُّفٍ تدریجي ډول فَإِنَّ بېشکه رَبَّكُمْ ستارب لَرَءُوفٌ ډېر مهربان رَّحِيمٌ (او) رحیم دی (47) |

روانه ترجمه:

مخکې ذکر شو چې یا به يې په ځمکه ننباسي،یا به پرې د داسې ځایه
عذاب راولي چې دوی به يې ګمان هم نکوي،یا به يې د ورځنې
مصروفیاتو په حال کې ونیسي.اوس په دې مبلرک آیت کې فرمایې چې:

یا به يې الله تعالی په تدریجي ډول ونیسي؛(یعنې ورو ورو به يې
مالونه،دولتونه او کاروبارونه کم کړي،قوت او عزت به يې ختم
کړي،اوزړونه به يې بې سکونه کړي،تر دې که توبه ونه باسي،په هلاکت
به پای ته ورسیږي.او په دې ډول عذاب کې الله تعالی انسان ته د توبې او
رجوع فرصت ورکوي،) ځکه چې پرته د شک څخه الله تعالی ډېر
مهربان او رحیم دی.

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَىٰ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَيۡءٖ يَتَفَيَّؤُاْ ظِلَٰلُهُۥ عَنِ ٱلۡيَمِينِ وَٱلشَّمَآئِلِ
سُجَّدٗا لِّلَّهِ وَهُمۡ دَٰخِرُونَ (48)

تکي په تکي ترجمه:

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ آیا دوی نه ګوري إِلَىٰ مَا هغه څه ته خَلَقَ ٱللَّهُ
چې الله تعالی پیدا کړي مِن شَيۡءٖ د هر یو شي نه يَتَفَيَّؤُاْ چې
بدلیږي(ګرځي) ظِلَٰلُهُۥ سیورې د هغوی عَنِ ٱلۡيَمِينِ د ښي
طرف نه وَٱلشَّمَآئِلِ او د چپ طرفونو نه سُجَّدٗا سجده کوونکې
(اطاعت کوونکي) لِّلَّهِ الله تعالی ته وَهُمۡ او دوی(ټول)
دَٰخِرُونَ عاجز او بې وسې دي(د الله د قانون نه انکار نشي کولای)
(48)

روانه ترجمه:

آیا دوی د الله تعالی هر پیدا شوي شي ته نه ګورې(بلکې ګورې) چې:سیورې یې د(ورځې په دوران کې) د ښي او چپ طرفونو څخه(په منظم او دوامدار ډول ) الله تعالی ته سجده کوونکې(د الله تعالی د قانون اطاعت کوونکې) بدلیږي،او دوی (ټول) عاجز او بې وسې دي(د الله تعالی د قانون څخه انکار نشي کولای)

---

د شیانو سیورې د لمر مخې ته د ځمکې د دوراني حرکت له امله پیدا کیږي چې:په منظم او دوامدار ډول د الله تعالی د قانون او تقدیر مطابق بدلیږي(ګرځې) ،بې نظمې او ګډوډي نشي کولای،ځکه چې ټول سیورې،ځمکه لمر.... د الله تعالی په وړاندې عاجز او بې وسې دي،په کائناتو کې یو شی هم د الهي نظام د قوانینو څخه سرکشي نشي کولای،پرته د انسان څخه چې د امتحان دپاره ورکول شوی اختیار غلط استعمالوي،او د الله تعالی د نظام نه بغاوت او سرکشې کوي،لازمه خو دا ده چې:که بې عقله نباتات ،حیوانات او جمادات د الله تعالی د نظام څخه سرکشې نه کوي،نو انسان خو د عقل د نعمت سره باید هیڅکله سرکشي ونکړي.

وَلِلَّهِ يَسۡجُدُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن دَآبَّةٖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَهُمۡ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ (49)

تکي په تکي ترجمه:

| |
|---|
| وَلِلَّهِ او خاص الله تعالی ته يَسۡجُدُ سجده کوي(تابع دي) مَا هغه څه فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ چې په آسمانونو کې دي وَمَا او هغه څه فِي ٱلۡأَرۡضِ چې په ځمکه کې دي مِن دَآبَّةٖ د هر ژوندي موجود څخه وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ او فرښتې (هم الله تعالی ته سجده کوي) وَهُمۡ او هغوی لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ تکبر نکوي. (49) |

روانه ترجمه:

او خاص الله تعالی ته سجده کوي(تابع دي) هغه څه چې په آسمانونو کې دي،او هغه څه چې په ځمکه کې دي د ژوندیو موجوداتو څخه،او فرښتې (هم الله تعالی ته سجده کوي) په داسې حال کې چې دوی(هیڅکله) تکبر نکوي.

---

ټول مخلوق:انسان،حیوان،نبات،فرښتې د الله تعالی تابع دي،سجده دلته د اطاعت معنی لري،نه دا چې ټول بدني سجده کوي.فرښتې د الله تعالی امر ته بشپړ تابع دي،هیڅکله تکبر او سرغړونه نکوي،ټول کائنات د الله تعالی تابع دي؛تکبر یوازې د انسان ستونزه ده،کوم انسان چې تکبر کوي،د فطرت پر ضد روان دی ،چې انجام یې هلاکت دی.

يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ۩ (50)

د ۴۹ آیت دوام دی،دلته د فرښتو دوه صفتونه بیانیږي،«۱»خوف(د الله تعالی د عظمت څخه ویره)،«۲» اطاعت (بې چون و چرا فرمانبرداری).

ټکي په ټکي ترجمه:

يَخَافُونَ دوی ویریږي رَبَّهُم د خپل رب څخه مِّن فَوْقِهِمْ چې د هغوې دپاسه دی(چې د دوی پورته دی) وَيَفْعَلُونَ او کوي مَا هغه څه يُؤْمَرُونَ چې امر ورته کیږي.۩ (50)

روانه ترجمه:

دوی ویریږي د خپل رب څخه چې د هغوی دپاسه دی(چې د هغوی پورته دی.مقصد مکاني پورته والی نه دی،الله تعالی د ځای محتاج نه دی،بلکې:د قدرت،حاکمیت او عظمت پورته والی دی)،او هغه څه کوي چې ورته امر کیږي.

۞وَقَالَ ٱللَّهُ لَا تَتَّخِذُوٓاْ إِلَٰهَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِۖ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ فَإِيَّٰيَ فَٱرۡهَبُونِ (51)

| |
|---|
| ۞وَقَالَ ٱللَّهُ او الله تعالی فرمایلي دي لَا تَتَّخِذُوٓاْ چې مه نیسئ إِلَٰهَيۡنِ دوه معبودان ٱثۡنَيۡنِۖ دوه(د تاکید اوټینګار دپاره) إِنَّمَا بېشکه حقیقت دا دی چې: هُوَ هغه «جل جلاله» إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ یوازې یو معبود دی فَإِيَّٰيَ نو خاص زما څخه فَٱرۡهَبُونِ وویرږئ (51) |

روانه ترجمه:

د الله تعالی فرمان دی چې: دوه (او زیات ) معبودان مه نیسئ،بېشکه حقیقت دا دی چې هغه«جل جلاله» یوازې یو معبود دی (بل شریک نلرې،نو فرمایي چې:) یوازې زما څخه وویریږئ(یعني چې معبود یوازې الله تعالی دی،نو نظام، قانون او اطاعت هم باید د الله تعالی وي او ویره هم باید د هغه«جل جلاله» څخه وي)

وَلَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَهُ ٱلدِّينُ وَاصِبًاۚ أَفَغَيۡرَ ٱللَّهِ تَتَّقُونَ (52)

| |
|---|
| وَلَهُۥ او د هغه «جل جلاله» دي مَا هغه څه فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ چې په آسمانونو کې دي وَٱلۡأَرۡضِ او(هغه څه) چې په ځمکه کې دي وَلَهُ ٱلدِّينُ وَاصِبًاۚ او د هغه «جل جلاله» تل پاتې دین |

(نظام او قانون په آسمانونو او ځمکه کې دی) أَفَغَيۡرَ نو آيا پرته
ٱللَّهِ د الله تعالى څخه تَتَّقُونَ تاسو(د بل چا څخه) ویریږئ (52)

روانه ترجمه:

هرڅه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي(ټول)د هغه«جل جلاله دي»،او خاص د هغه دين(نظام او قانون په ټولو کائناتو کې)چليږي،نو آيا د الله تعالى څخه پرته تاسو د بل چا څخه ویریږئ؟

---

نو چې ټول کائنات د الله تعالى ملکيت دی،او نظام او قانون يې پکې چليږي،او ټول حيوانات،نباتات او جمادات يې د نظام او قانون څخه سرغړونه نه کوي،او حکم يې مني،نو انسان او پيريان يې هم بايد قانون ومني،او د امتحان دپاره ورکول شوی اختيار غلط استعمال نکړي،بلکې لکه د ټولو کائناتو پشان په ځمکه کې هم د الله تعالى نظام او قانون جاري کړي.

وَمَا بِكُم مِّن نِّعۡمَةٖ فَمِنَ ٱللَّهِۖ ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فَإِلَيۡهِ تَجۡـَٔرُونَ (53)

وَمَا او هر څه بِكُم چې ستاسو سره دي مِّن نِّعۡمَةٖ د کوم نعمت څخه فَمِنَ ٱللَّهِۖ نو د الله تعالى له طرف څخه دي ثُمَّ بيا إِذَا کله چې مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ مصيبت درسيږي فَإِلَيۡهِ نو هغه«جل جلاله» ته تَجۡـَٔرُونَ فرياد کوئ (53)

روانه ترجمه:

او تاسو ته چې هر نعمت درپه برخه شوئ دی،نو د الله تعالى د لورې دی.بيا کله چې په تاسو کوم مصيبت(او تکليف)راځي،نو هغه«جل

جلاله» ته فریاد کوئ(دا فطري توحید دی،چې د مصیبت په وخت کې هر ځوک صرف الله تعالی ته فریاد کوي او کومک ورځخه غواړي)

ثُمَّ إِذَا كَشَفَ ٱلضُّرَّ عَنكُمۡ إِذَا فَرِيقٞ مِّنكُم بِرَبِّهِمۡ يُشۡرِكُونَ (54)

۵۳ ایت کې ذکر شو چې کله په تاسو مصیبت راشي،نو یوازې الله تعالی ته فریاد او زارې کوئ.اوس فرمايې:

| |
|---|
| ثُمَّ بیا إِذَا چې کله كَشَفَ هغه«جل جلاله» لرې کړې ٱلضُّرَّ مصیبت عَنكُمۡ ستاسو ځخه إِذَا هماغه وخت(ناڅاپه) فَرِيقٞ یوه ډله مِّنكُم د ستاسو ځخه بِرَبِّهِمۡ د خپل رب سره يُشۡرِكُونَ شریکان نیسې (54) |

روانه ترجمه:

خو کله چې الله تعالی له ستاسو ځخه مصیبت لرې کړي،نو ناڅاپه ستاسو ځخه یوه ډله د خپل رب سره شریکان نیسې.

---

تر ټولو خطرناک شرک هغه دی چې د نجات وروسته راځي،کله چې انسان ځان بسیا وبولي.

دا شرک په سجده کې نه وي،بلکې په فکر،منطق،اطاعت او تکیه کې وي.

(۱)

«نجات» څه شی دی؟

د مصیبت ځخه خلاصون،د خطره ژغورل،د سخت حالت نه وتل.

مثالونه: ناروغي ښه شي.جګړه ختمه شي،فقر کم شي،زندان نه خلاص شي،امتحان پاس شي.

(۲) د مصيبت په وخت کې انسان څه کوي؟

قرآن فرمايي:کله چې مصيبت راشي انسان الله تعالى ته فرياد کوي.

مثالونه:ناروغ وايي:يا الله روغ مې کړه،بې کاره وايي:يا الله کار راکړه،ډوبېدونکی وايي:يا الله ومې ژغوره،دې وخت کې انسان بل څوک نه يادوي،يوازې الله تعالى ته مخ اړوي،دا خالص توحيد دی.

(۳) اوس نجات راغی،مصيبت او تکليف ختم شو.

ناروغ روغ شو،کار پيدا شو،خطر کم شو.

اوس امتحان شروع کيږي.

(۴) د نجات څخه وروسته شرک څنګه پيدا کيږي؟

ساده تعريف:

د نجات څخه وروسته شرک دا دی چې انسان الله تعالى هير کړي،او د ژوند واګې بيرته بل چا ته وسپاري.

دا شرک سجده نه غواړي،بلکې فکر بدلوي.

ډېر ساده مثال(ډېر مهم)

ناروغ د ناروغۍ په وخت کې وايي:يا الله روغ مې کړه.

خو کله چې روغ شي بيا وايي: «ډاکټر ډېر هوښيار و» «دا دوا معجزه وه» «پيسې وې،نو کار وشو».

دا خبرې که داسې وشي چې: الله تعالى ياد نشي،زړه په ډاکټر وتړل شي،نو دا د نجات څخه وروسته شرک دی.

بل مثال: د فقر په وخت کې وايي:« یا الله، روزي راکړه»

خو کله چې روزي راشي بیا وايي:«دا زما عقل و» «دا زما کوشش او زور و»

اصلي ستونزه چیرته ده؟ اصلي ستونزه دا نه ده چې سبب یاد شي،بلکې اصلي ستونزه دا ده چې:سبب خدای وګرځول شي.

صحیح خبره: «الله تعالی روغ کړ،ډاکټر سبب و»

خطرناکه خبره: «ډاکټر روغ کړ»

ولې قرآن وايې چې«یوه ډله»؟

ځکه:

هر څوک داسې نه کوي،خو اکثره خلک يې کوي.نو الله فرمايې:«فريق منكم»

باید ذکر شي چې د نجات نه وروسته شرک هغه وخت وي چې الله تعالی یوازې د خطر خدای پاتې شي،خو د ژوند خدای بل څوک وګرځي.

مهمه نکته

دا شرک اکثره شعوري نه وي،انسان ځان مشرک نه ګڼي،خو عمل يې بدل شوی وي.

لِيَكۡفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡۚ فَتَمَتَّعُواْ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ (55)

لِيَكۡفُرُواْ د دي دپاره چې انکار وکړي(د دې دپاره چې کفر وکړي)
بِمَآ په هغه څه باندې(په هغه نعمتونو باندې) ءَاتَيۡنَٰهُمۡۚ چې مونږ
ورکړي دي هغوی ته فَتَمَتَّعُواْ (اوس ورته الله تعالی فرمايي) نو
خوند واخلئ فَسَوۡفَ ډېر ژر به تَعۡلَمُونَ پوه شئ (55)

روانه ترجمه:

د ۵۴ آیت دوام دی،هلته ذکر شو چې: ستاسو څخه ځيني خلک د مصيبت څخه نجات پيدا کول د الله تعالی په ځای اسبابو ته منسوبوي،ډاکټر جوړ کړم،په خپل عقل مې دولت وګټلو......وغيره،.اوس فرمايي:

د دې دپاره چې انکار وکړي(ترڅو چې ناشکري او کفر وکړي)په هغه څه باندې(په هغو نعمتونو باندې) چې مونږ هغوی ته ورکړي دي.اوس ورته الله تعالی فرمايي:نو(لږ وخت) خوند واخلئ(دلته امر د اجازې دپاره نه دی بلکې تهدید او خبرداری دی) ډېر ژر به پوه شئ(چې انجام مو څه دی؟)

---

مثلاً:سړی غریب و،دعا یې کوله،مال اودولت راغئ،الله تعالی یې هیر کړ،نو قرآن فرمايي:اوس مزې کوه،دا مهلت دی،دا حالت دوام نکوي،زر به حساب راشي،حقیقت به ښکاره شي،خپل انجام سره به مخ شي،که دنیا کې نه وي نو په آخرت کې حتمي.

وَيَجۡعَلُونَ لِمَا لَا يَعۡلَمُونَ نَصِيبٗا مِّمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡۗ تَٱللَّهِ لَتُسۡـَٔلُنَّ عَمَّا كُنتُمۡ تَفۡتَرُونَ (56)

وَيَجۡعَلُونَ او ګرځوي دوی(او مقرروي دوی) لِمَا د هغه څه دپاره لَا يَعۡلَمُونَ چې دوی يې نه پيژني نَصِيبٗا يوه برخه مِّمَّا د هغه څه نه رَزَقۡنَٰهُمۡۗ چې مونږ دوی ته رزق ورکړی تَٱللَّهِ په الله قسم لَتُسۡـَٔلُنَّ چې خامخا به وپوښتل شئ عَمَّا د هغه څه په اړه كُنتُمۡ تَفۡتَرُونَ چې دروغ مو جوړول (56)

روانه ترجمه:

او دوی د هغو شيانو دپاره چې نه يې پيژني،د هغه رزق څخه يوه برخه مقرروي چې مونږ دوی ته ورکړئ دی؛

په الله قسم،خامخا به تاسو وپوښتل شئ د هغو دروغو په اړه چې تاسو به جوړول.

---

يعنې مشرکان د بتانو،جعلي معبودانو او مړو په اړه نه پوهيږي چې هغوی د دوی خبرې اوريږي که نه؟ ګټه رسوي که نه؟ ضرر رسوي که نه؟ ليکن بيا هم دوی پرته د علم او دليل نه د هغوی نذرونه منې،قربانۍ کوي،عشر ورکوي،اطاعت او قانون يې مني.

وَيَجۡعَلُونَ لِلَّهِ ٱلۡبَنَٰتِ سُبۡحَٰنَهُۥ وَلَهُم مَّا يَشۡتَهُونَ (57)

وَيَجۡعَلُونَ او منسوبوي دوی لِلَّهِ الله تعالی ته ٱلۡبَنَٰتِ لونړې سُبۡحَٰنَهُۥ (حال دا چې) هغه«جل جلاله پاک دی(له دې نسبتونو څخه) وَلَهُم او د ځان دپاره مَّا هغه څه(غواړي) يَشۡتَهُونَ چې دوی يې خوښوي (57)

روانه ترجمه:

او دوی الله تعالی ته لوڼې منسوبوي،حال دا چې هغه«جل جلاله» پاک دی (د داسې نسبتونو څخه،نه يې لور شته،نه ځوی او نه ښځه )،او د خپل ځان دپاره هغه څه غواړي چې دوی يې خوښوي(يعني زامن).

اوس هم مشرکان الله تعالی ته د اولاد نسبت کوي مثلاً عيسايان عيسی عليه السلام او ځينې يهوديان عزير عليه السلام د خدای ځوی ګڼي......خو د مکې مشرکانو د اولاد هغه جنس چې د هغوی بدې شو يعني د ښځينه جنس اولاد نسبت يې الله تعالی ته کولو،ويل به يې چې فرښتې د الله تعالی لوڼې دي.

وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِٱلۡأُنثَىٰ ظَلَّ وَجۡهُهُۥ مُسۡوَدّٗا وَهُوَ كَظِيمٞ (58)

| |
|---|
| وَإِذَا او کله چې بُشِّرَ زيری ورکول شي أَحَدُهُم يو چا ته د هغوی بِٱلۡأُنثَىٰ د لور(د زيږيدلو،نو) ظَلَّ وَجۡهُهُۥ مُسۡوَدّٗا مخ يې (د خفګان) نه تور شي وَهُوَ كَظِيمٞ په داسې حال کې چې د غصې (او غم نه ډک) وي. (58) |

روانه ترجمه:

او کله چې په هغوی کې يو چا ته د لور(د زيږيدلو) زيری ورکول شي،مخ يې(د خفګان نه)تور شي په داسې حال کې چې (زړه يې د خفګان او)غصې څخه ډک وي.(ځکه چې د لور زيږيدل ورته شرم او د ځان ذلت ښکاري)

يَتَوَٰرَىٰ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ مِن سُوٓءِ مَا بُشِّرَ بِهِۦٓۚ أَيُمۡسِكُهُۥ عَلَىٰ هُونٍ أَمۡ يَدُسُّهُۥ فِي ٱلتُّرَابِۗ أَلَا سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ (٥٩)

د ۵۸ ایت دوام دی.

يَتَوَٰرَىٰ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ د خلکو نه پټیږي مِن سُوٓءِ مَا بُشِّرَ بِهِۦٓ د هغه بد زیرې له امله چې ورکول شوی (د ځان سره وایې) أَيُمۡسِكُهُۥ عَلَىٰ هُونٍ چې آیا هغه(لور)د شرم (او ذلت» سره (ژوندی د ځان سره) وساتي أَمۡ يَدُسُّهُۥ فِي ٱلتُّرَابِۗ (او) که په خاورو کې یې(ژوندی) ښخه کړي أَلَا خبردار سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ډېر بد قضاوت دی چې دوی یې کوي. (۵۹)

روانه ترجمه:

د خلکو څخه پټ ګرځي،(په دې خاطرچې:)د دې بد خبر د اوریدو څخه به وروسته څنګه د چا سره مخامخ کیږي،(او د ځان سره فکر کوي) چې آیا د شرم او ذلت سره سره یې (د ځان سره ژوندی)وساتي،او که(ژوندی یې) په خاورو کې ښخه کړي.

خبردارډېر بد قضاوت دی چې دوی یې کوي.

---

دا یو تاریخي حقیقت دی چې د جاهلیت د وخت ځینو عربو به خپلې لوڼې ژوندۍ ښخولې. خو قرآن دا پیښنه یوازې د تاریخ د ثبت لپاره نه ده راوړې، بلکې د انسان د هغه ذهني انحراف د ښکاره کولو لپاره ده چې کله انسان خپل نفس او رواج د حق پر ځای کیږدي، نو ظلم ورته عادي ښکاري.

کله چې مونږ د نن زماني حالت ته ګورو، نو وینو چې که څه هم دا ظالمانه عمل په خپل هغه شکل نه شته، خو په بل او لا خطرناک شکل موجود دی.

د نن انسان ځان متمدن بولي، خو په حقیقت کې هر کال په نړۍ کې لسګونه میلیونونه ماشومان، په ځانګړي ډول نجونې، د مور په رحم کې وژل کیږي.

دا عمل که څه هم د طب، قانون یا ازادۍ په نوم ترسره کیږي، خو په اصل کې د بېګناه ژوند ختمول دي.

د جاهلیت د وخت مشرک به ماشوم ته لږ تر لږه د دنیا د لیدو فرصت ورکاوه، خو د نن انسان دا فرصت هم ترې اخلي او دنیا ته د راتلو څخه مخکې یې وژني.

فرق یوازې په وسیله کې دی، نه په اصل جرم کې.

پخوا به دا عمل د خاورو په وسیله کېده، نن د طبي وسایلو له لارې ترسره کیږي.

پخوا دا ظلم فردي و، نن سیستماتیک او قانوني شوی دی.

قرآن کریم د اولاد د وژلو په اړه عمومي اصل بیان کړی دی فرمايي: «ولا تقتلوا النفس» یعنې هېڅ نفس مه وژنئ.

دا حکم د ژوند د هر پړاو لپاره دی، که هغه د رحم دننه وي یا بهر. همدارنګه الله تعالی فرمايي: «قد خسر الذين قتلوا أولادهم سفهًا بغير علم» یعنې تاواني شول هغه کسان چې خپل اولادونه یې د ناپوهۍ له امله ووژل.

له دې څخه څرګندیږي چې اسلام د لور او زوی تر منځ توپیر نه کوي، بلکې هر ژوند ته ارزښت ورکوي.

د سورة النحل دا آيتونه موږ ته دا درس راکوي چې تمدن، علم او پرمختګ هغه وخت ارزښت لري چې د انسانيت او وجدان ساتنه پکې وشي. که نه نو يوازې نومونه بدليږي، خو جاهليت ژوندی پاتې کيږي.

لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ مَثَلُ ٱلسَّوۡءِۖ وَلِلَّهِ ٱلۡمَثَلُ ٱلۡأَعۡلَىٰۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ (60)

| |
|---|
| لِلَّذِينَ د هغو خلکو دپاره لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ چې په آخرت ايمان نلري مَثَلُ ٱلسَّوۡءِۖ بد صفت دی وَلِلَّهِ او د الله تعالی دپاره ٱلۡمَثَلُ ٱلۡأَعۡلَىٰۚ تر ټولو لوړ صفت دی وَهُوَ او هغه«جل جلاله» ٱلۡعَزِيزُ ډېر زورور ٱلۡحَكِيمُ (او) د حکت څښتن دی. (60) |

روانه ترجمه:

هغه خلک چې په آخرت ايمان نه لري،د بد صفت وړ دي؛

او د الله تعالی دپاره تر ټولو لوړ او کامیل صفت دی،او هغه«جل جلاله» ډېر غالب او د حکمت څښتن دی.

وَلَوۡ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِظُلۡمِهِم مَّا تَرَكَ عَلَيۡهَا مِن دَآبَّةٖ وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمۡ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗىۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمۡ لَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ سَاعَةٗ وَلَا يَسۡتَقۡدِمُونَ (61)

په دې مبارک ايت کې د دې سوال جواب هم دی چې:مشرکان او کافران دومره ظالمان دي،نو الله تعالی جزا ولې نه ورکوي؟

| |
|---|
| وَلَوۡ يُؤَاخِذُ او که چیرته نیولای ٱللَّهُ الله تعالی ٱلنَّاسَ خلک (سمدستي) بِظُلۡمِهِم په سبب د ظلمونو د هغوی مَّا تَرَكَ (نو) پرېښي به يې نه وای عَلَيۡهَا په هغې (یعنې په ځمکه) باندې مِن |

دَآبَّةٍ هيڅ يو ژوندى موجود وَلَٰكِن ليكن يُؤَخِّرُهُمۡ هغوى ته مهلت وركوي إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّىۖ د يو معلوم وخت پورې فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمۡ خو كله يې چې معلوم وخت راشي لَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ سَاعَةً نه يوه شيبه وروسته كيږي وَلَا يَسۡتَقۡدِمُونَ او نه يوه شيبه مخكې كيږي (61)

روانه ترجمه:

كه الله تعالى د هغوى د ظلمونو په سبب خلک سمدستي نيولاى،نو د ځمكې په مخ باندې به يې هيڅ يو ژوندى موجود نه و پرېښى،ليكن الله تعالى هغوى ته د معلوم وخت پورې مهلت وركوي،خو كله چې د هغوى معلوم(ټاكلى) وخت راشي،نو نه يوه شيبه وروسته كيږي،او نه يوه شيبه مخكې كيږي.

---

(۱):بايد پوه شو چې:د دنيا د امتحان نظام د انسان د شتون سره تړلى دى.

تر څو چې انسان په ځمكه كې د امتحان دپاره وي،د دنيا نظام به روان وي.

خو كله چې الله تعالى وغواړي چې د انسان امتحان ختم كړي،نو بيا دې نظام ته نور ضرورت نشته،او هغه وخت ټول موجودات ختميږي.

نو مسئله دا نه ده چې: انسان مړ شي نو ژوندي موجودات په ظلم مري، بلكې خبره دا ده چې :د دنيا نظام د انسان د امتحان د مقصد دپاره دى،نو كله چې مقصد ختم شي،نظام هم بنديږي.

(۲):د معلوم وخت(اجل مسمى) نه په اصل كې د قيامت وخت مراد دى،خو په ضمني ډول د هر انسان مرګ هم پكې داخل دى.

وَيَجۡعَلُونَ لِلَّهِ مَا يَكۡرَهُونَۚ وَتَصِفُ أَلۡسِنَتُهُمُ ٱلۡكَذِبَ أَنَّ لَهُمُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ لَا جَرَمَ أَنَّ لَهُمُ ٱلنَّارَ وَأَنَّهُم مُّفۡرَطُونَ (62)

وَيَجۡعَلُونَ لِلَّهِ مَا او هغوی(یعني مشرکان) الله تعالی ته هغه څه منسوبوي يَكۡرَهُونَۚ چې پخپله ترې نفرت کوي(د ځان دپاره یې بد او سپک ګڼي) وَتَصِفُ أَلۡسِنَتُهُمُ ٱلۡكَذِبَ او ژبې یې دا دروغ وایي أَنَّ لَهُمُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ چې ګني د دوی دپاره ښه انجام (جنت) دی لَا جَرَمَ پرته د شک څخه (حقیتت دا دی) أَنَّ لَهُمُ ٱلنَّارَ چې د دوی دپاره اور دی وَأَنَّهُم مُّفۡرَطُونَ او دا چې دوی د ټولو مخکې داخلېدونکي دي(په اور کې) (62)

روانه ترجمه:

او دوی الله تعالی ته هغه څه منسوبوي،چې پخپله یې بد ګڼي،او ژبې یې دا دروغ وایي چې:ګني د دوی دپاره ښه انجام(جنت) دی،(خو)بېشکه(حقیقت دا دی) چې د دوی دپاره اور دی،او دوی به تر ټولو مخکې ورننوزي.

---

د مکې مشرکانو لوڼې د خپل ځان لپاره سپکې او بدې ګڼلې، خو الله تعالی ته به یې منسوبولې او ویل به یې: فرښتې د الله لوڼې دي

د نن زماني مشرکان هم تر هغوی کم نه دي؛

دوی په خپل مال، واک او اقتدار کې د بل چا شریکول ځان ته بد ګڼي،

خو د الله تعالی په پاچاهی او واک کې:

بتان، قبرونه، غواګانې، اولیا او حتی پیغمبران شریکان ګرځوي

او بیا هم:

ځانونه جنتيان بولي

ځانونه د الله مقربين ګڼي

حال دا چې الله تعالى فرمايي: دوی دروغجن دي،

او د دوی انجام دوزخ دی.

تَٱللَّهِ لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰٓ أُمَمٖ مِّن قَبۡلِكَ فَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ ٱلۡيَوۡمَ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ (63)

تَٱللَّهِ قسم په الله! لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَآ ببشکه ليږلي وو مونږ پيغمبران إِلَىٰٓ أُمَمٖ مِّن قَبۡلِكَ ستا څخه مخکې امتونو ته فَزَيَّنَ لَهُمُ خو ښايسته کړل هغوی ته ٱلشَّيۡطَٰنُ شيطان أَعۡمَٰلَهُمۡ د هغوی (بد)اعمال فَهُوَ نو هغه(شيطان) وَلِيُّهُمُ ٱلۡيَوۡمَ نن(د حساب په ورځ) د هغوی ملګری دی وَلَهُمۡ او د دوی دپاره عَذَابٌ أَلِيمٞ دردناک عذاب دی. (63)

روانه ترجمه:

قسم په الله!ببشکه مونږ د ستا څخه مخکې امتونو ته رسولان ليږلي وو،خو شيطان هغوی ته د هغوی بد اعمال ښايسته کړل،نو هغه (شيطان)نن(د حساب په ورځ) د هغوی ملګرى دى ،او د دوی دپاره دردناک عذاب دی.

---

جن وي که انسان،خو چې شرک او ګناه ته دعوت ورکوي ، د ګناه نه ثواب جوړوي،او د خلکو په سترګو پټۍ تړي هغه شيطان دی.

نن که څوک شرک کوي،خو وايي:

«دا خو زمونږ عقیده ده،دا خو مینه ده»

قبر ته سجده کوي،خو وايې:

«دا خو احترام دی،عبادت نه دی»

د الله تعالی واک نورو ته ورکوي،خو وايې:

«دا خو وسیله ده»

یعني بد کار ورته ښکلی ښکارېږي،او ځان پر حق ګڼي،دا هماغه څه دي چې آیت فرمایي: «فَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ»(شیطان ورته د هغوی (بد)اعمال ښایسته کړي دي.

نو کله چې باطل انسان ته ښکلي ښکاره شي ،نو پوه شه چې دا د شیطان لاس دی،نه د الله تعالی رضا.

وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِي ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ (64)

| |
|---|
| وَمَآ او نه دی أَنزَلۡنَا نازل کړی مونږ عَلَيۡكَ په تا باندې ٱلۡكِتَٰبَ دا کتاب(دا قرآن) إِلَّا مګر(د دې دپاره مو نازل کړی لِتُبَيِّنَ چې ته روښانه کړې لَهُمُ هغوی ته ٱلَّذِي هغه څه ٱخۡتَلَفُواْ چې هغوی اختلاف کړی فِيهِ په هغه کې وَهُدٗى او هدایت وَرَحۡمَةٗ او رحمت لِّقَوۡمٖ د هغه قوم(د هغو خلکو) دپاره يُؤۡمِنُونَ چې ایمان راوړي. (64) |

روانه ترجمه:

او مونږ پر تا باندې دا کتاب(يعنې قرآن) نه دی نازل کړی،مګر د دې دپاره چې ته خلکو ته هغه څه روښانه کړې چې هغوی په کې اختلاف کړی،او د ايمان راوړونکو دپاره هدايت او رحمت دی.

---

خلک د دين په مسئلو کې سره جنګيږي،هره ډله خپله خبره«حق» بولي،رواج،مشران او احساسات دليل ګرځوي.

نو دا آيت فرمايي:فيصله د قرآن ده ،نه د خلکو.

که اختلاف د توحيد،شرک،بدعت،حلال او حرام وي،نو حل يې اکثريت او مشران نه دي،بلکې حل يې قرآن او د نبي عليه السلام سنت دي.

قرآن د اختلاف د زياتولو دپاره نه ،بلکې د اختلاف د ختمولو دپاره نازل شوی.

وَٱللَّهُ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَآۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةً لِّقَوۡمٍ يَسۡمَعُونَ (٦٥)

| |
|---|
| وَٱللَّهُ او الله تعالى أَنزَلَ نازل کړي مِنَ ٱلسَّمَآءِ د آسمان څخه مَآءً اوبه فَأَحۡيَا نو ژوندى يې کړه بِهِۦ په هغې(اوبو سره) الارضَ ځمکه بَعۡدَ وروسته مَوۡتِهَآ د هغې د مرګ(وچوالي) څخه إِنَّ فِي ذَٰلِكَ بېشکه په دې کې لَأٓيَةً نښه ده(د الله تعالى د قدرت) لِّقَوۡمٍ د هغه قوم دپاره (د هغو خلکو دپاره ) يَسۡمَعُونَ چې غوږ نيسي(او فکر کوي) (٦٥) |

روانه ترجمه:

او الله تعالی د آسمان څخه اوبه نازل کړي،او په هغوی یې ځمکه د هغې د مرګ وروسته ژوندۍ کړه؛بېشکه په دې کې نښه ده(د الله تعالی د قدرت)د هغو خلکو دپاره چې غوږ نیسي(او فکر او غور کوي)

---

دا مثال د بعث بعد الموت(د مړو د بیا ژوندي کیدلو) دلیل دی،لکه څنګه چې ځمکه د وچوالي څخه وروسته بیا شنه او ژوندۍ کیږي.همداسې انسان هم بیا راژوندی کیږي.

وَإِنَّ لَكُمْ فِي ٱلْأَنْعَٰمِ لَعِبْرَةً ۖ نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهِۦ مِنۢ بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشَّٰرِبِينَ (66)

وَإِنَّ او بېشکه لَكُمْ ستاسو دپاره فِي ٱلْأَنْعَٰمِ په څارویو کې لَعِبْرَةً ۖ لوی عبرت دی نُّسْقِيكُم مونږ څښوو په تاسو(مونږ څکوو په تاسو) مِّمَّا د هغه څه څخه فِي بُطُونِهِۦ چې د هغوی په خیټو کې مِنۢ بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ د نیم هضم شوې غذا او وینې د منځه لَّبَنًا خَالِصًا پاکې شیدې دي سَآئِغًا اسانه تیریدونکې(او خوندورې) دي لِّلشَّٰرِبِينَ د څښونکو دپاره (66)

<u>روانه ترجمه:</u>

او بېشکه په څارویو کې ستاسو دپاره لوی درس دی؛مونږ تاسو ته د هغوی د ګیډو څخه د نیمي هضمي شوي غذا(چټلی) او وینې د منځه پاکې او خلصې شیدې درڅښوو(یعني نه وینه ده او نه چټلې دا په دې معنې چې نه په معده او کولمو کې د خوړو څخه مسقیماً جوړیږي او نه د وینې څخه بلکې د یو دریم سیستم یعني د شیدو د غدو پواسطه جوړیږي) چې د څکونکو دپاره ډیرې خوندورې او اسانه تیریدونکې دي.

---

<u>شیده څنګه جوړیږي؟</u>

اوس ساينس وايې:

غذايي مواد د هاضمې د سيستم پواسطه هضميږي،هضم شوي مواد د کولمو د ديوال دلارې وينې ته جذبيږي،او د وينې د دوراني سيستم پواسطه ټول بدن ته رسيږي،د شيدو جوړونکو غدواتو پواسطه خاص غذايي مواد د وينې څخه فلتر کيږي،او د نوموړو غدواتو په واسطه شيده جوړيږي.او پاتي نيم هضم شوي مواد په فاضله موادو«فرث» بدليږي.

د يوناني(پخواني طب نظريات)

Hippocrates – 4th Century BC

بقراط به ويل:شيده د مور د وينې بدل شوى شکل دى،وينه په سينو(تيونو)کې سپينيږي.

جالينوس:

Galen -2nd Century AD

جالينوس چې د طب تر ټولو اغيزمن شخصيت و(تر اسلام مخکې او وروسته)،ويل:د وينې شکل په سينو کې بدليږي،يعنې شيده بدله شوي وينه ده،د شيدو جلا غدې او فلتر يې نه پيژندلو.دا نظريات د روم،فارس او عربو د لارې د اسلام د راتلو مخکې عام شوي وو.

د قرآن د نزول په وخت کې د عربو عام تصور دا وو چې:

شيدې د معدې محصول دى،يعنې خواړه په معده کې په شيدو بدليږي.يعنې دوه نظريات موجود وو(١) د خوراک څخه مستقيماً په معده يعنې د هاضمې په سيستم کې جوړيږي (٢) بدله وينه يا په سينو کې د وينې شکل بدليږي.

لیکن قرآن دواړه نظریات رد کړل،ویې فرمایل:« مِنۢ بَيۡنِ فَرۡثٖ وَدَمٖ لَّبَنًا خَالِصٗا» یعنې شیدې نه«فرث» دی،یا: نه د خوړو څخه په معده کې جوړیږي،یا: نه د هاضمې په سیستم کې جوړیږي.

او نه وینه ده.یا:نه په سینو کې د وینې بڼه بدلیږي، یا:نه د وینې په دوراني سیستم کې جوړیږي.

یعنې نه دا او نه هغه،بلکې د دوی د منځه د یو دریم مستقل نظام پواسطه جوړیږي(یعنې د انتخابې فلتر پواسطه د وینې څخه خاص مواد فلتر کیږي،او د شیدو جوړولو د غدو پواسطه ترې شیده جوړیږي).

دې ته خاموش علمې اعجاز ویل کیږي،ځکه:قرآن ونه فرمایل:حجره،غده،هورمون،کیمیاوي فورمول.....(او که داسې یې فرمایلی وای،نو خلک به پرې نه پوهیدل).

قرآن دغلطو نظریو دروازه وتړله،داسې جمله یې وکاروله چې:پخپل وخت کې حیرانوونکې وه او نن هم غلطه نه ده.

که قرآن د یوناني طب تکرار کړی وای نو نن به غلط ثابت شوی وای.او که د عامو عربو فکر یې نقل کړی وای،نو نن به رد شوی وای.

باید ذکر شي چې اعجاز تل دا نه وي چې هر څه تشریح شي؛ځینې وخت اعجاز دا وي چې د غلطې خبرې ځان وژغوري،هلته چې ټول یې کوي.

وَمِن ثَمَرَٰتِ ٱلنَّخِيلِ وَٱلۡأَعۡنَٰبِ تَتَّخِذُونَ مِنۡهُ سَكَرٗا وَرِزۡقًا حَسَنًاۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ (67)

وَمِن او د ثَمَرَٰتِ میوو ٱلنَّخِيلِ د خرماوو وَٱلۡأَعۡنَٰبِ او انګورو تَتَّخِذُونَ (چې هم) جوړوی تاسو مِنۡهُ د دغو څخه سَكَرٗا نشه کوونکی څښاک وَرِزۡقًا حَسَنًاۚ او (هم) ښه(پاک) رزق إِنَّ بېشکه فِي ذَٰلِكَ په دې کې لَأٓيَةٗ نښه ده(د الله تعالی د قدرت) لِّقَوۡمٖ د هغو خلکو دپاره يَعۡقِلُونَ چې عقل کاروي/فکر کوي (67)

روانه ترجمه:

او د کجورو او انګورو د مېوو څخه تاسو نشه کوونکی څښاک هم جوړوئ اوښه،پاک رزق هم؛بېشکه په دې کې نښه ده د هغو خلکو دپاره چې عقل کاروي.

---

دا مبارک آیت د واقعیت بیان دی،نه حکم.

د یو نعمت څخه انسان هم خیر جوړوي او هم شر.

عقل دا دی چې انسان ښه(خیر) انتخاب کړي.

وَأَوۡحَىٰ رَبُّكَ إِلَى ٱلنَّحۡلِ أَنِ ٱتَّخِذِي مِنَ ٱلۡجِبَالِ بُيُوتٗا وَمِنَ ٱلشَّجَرِ وَمِمَّا
يَعۡرِشُونَ (68) ثُمَّ كُلِي مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ فَٱسۡلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلٗاۚ يَخۡرُجُ مِنۢ
بُطُونِهَا شَرَابٞ مُّخۡتَلِفٌ أَلۡوَٰنُهُۥ فِيهِ شِفَآءٞ لِّلنَّاسِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ
(69)

وَأَوۡحَىٰ او الهام کړه(او په زړه کې واچوله/او فطري پوهه ورکړه) رَبُّكَ رب ستا إِلَى ٱلنَّحۡلِ د شاتو مچی ته(داخبره) أَنِ چې ٱتَّخِذِي جوړ کړه مِنَ ٱلۡجِبَالِ له غرونو بُيُوتٗا کوروونه وَمِنَ ٱلشَّجَرِ او له ونو وَمِمَّا او له هغو(چتونو او ځالو) يَعۡرِشُونَ

چې خلک يې جوړوي. (68) ثُمَّ بيا كُلِي خوره مِن كُلِّ د
هر قسم ٱلثَّمَرَٰتِ ميوو فَٱسۡلُكِي نو(د هر قسم ميوو د خوراک
لپاره باغونو ته د تلو او راتلو دپاره) اختياروه سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلٗاۚ د
خپل رب اسانه شوي(هوارې شوي) لارې يَخۡرُجُ
راوځي(خارجيږي) مِنۢ بُطُونِهَا د خيټو د دوی څخه(يعني د شاتو
د مچيو د خيټو څخه) شَرَابٞ يو څښاک (مشروب/ شات)
مُّخۡتَلِفٌ أَلۡوَٰنُهُۥ چې مختلف دي رنګونه د دې(شاتو) فِيهِ په دې
(مشروب/ شاتو) کې شِفَآءٞ شفا ده لِّلنَّاسِۚ د خلکو دپاره إِنَّ
بېشکه فِي ذَٰلِكَ په دې کې لَأٓيَةٗ يوه لويه نښه ده (د الله تعالی د
قدرت) لِّقَوۡمٖ د هغو خلکو دپاره يَتَفَكَّرُونَ چې فکر او غور
کوي. (69)

تکی په تکی ترجمه:

او ستا رب د شاتو مچۍ ته الهام وکړ( فطري پوهه يې ورکړه/په زړه کې يې ورته واچوله) چې:د غرونو،له ونو،او له هغو(چتونو او بکسو) څخه چې خلک يې جوړوي،کورنه جوړ کړه (۶۸)

بيا د هر ډول ميوو څخه خوره،نو (د هرقسم ميوو د خوړلو دپاره باغونو ته د تلو او راتلو دپاره) د خپل رب اسانه(او هوارې )لارې اختياروه.

د دې(مچيو) د خيټو څخه يو څښاک(مشروب/شات) وځي چې مختلف رنګونه لري(زيړ،تور، سپين،او سور،او)په دې(شاتو) کې د خلکو دپاره شفا ده،(او)بېشکه په دې کې د (الله تعالی د قدرت)ډېره لويه نښه ده د هغو خلکو دپاره چې فکر(او غور) کوي.

.

(۱) په دې مبارکو آیاتونو کې قران ټول فعلونه او ضمایر مؤنث استعمال کړي دي،(د یوې مجبوره قاعدې په اساس نه بلکې انتخاب یې کړی) یعنې قرآن یوازې د شاتو د مچی مؤنث(ښځې) جنس ذکر کړی دی،مطلب دا چې کارګرې مچی یوازې ښځې دي،او نران د شاتو په جوړیدلو کې برخه نه اخلي.حال دا چې د ۱۷ پیړۍ څخه دمخکې په دنیا کې هیڅوک نه پوهیدلو چې شات یوازې د ښځو مچیو پواسطه جوړیږي. شکسپیر او د هاغه وخت خلکو دا خیال وو،چې نران کار کوي او کله چې ځالي یا بکسي ته راشي،نو پاچا ته اطلاع او رپورټ ورکوي،خو ساینسي تحقیقاتو ثابته کړه چې دا خبره غلطه ده،او د قرآن د خبرې تائید کوي،وایې: چې په ځاله یا بکسه کې هم ښځې مچی کار کوي،او د بهر څخه هم د ګلانو شیره ښځې مچی راوړي،او ځاله یا بکسه کې پاچا نه وي،بلکې ملکه وي.نو په ۷مه پیړۍ کې پرته د میکرسکوب او ماډرن ټیکنالوجي څخه د داسې معلومات ورکول د قرآنکریم د حقانیت ثبوت دی.

(۲)

فرمایي: فَٱسۡلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلٗاۚ «نو د خپل رب په تجویز شوو اسانه لارو باندې ځئ»

د شاتو مچی کوشش کوي چې د نزدې ګلانو څخه شیره راوړي،خو د قحطۍ او ضرورت په وخت کې د ۸ــــ۱۰ کیلومتره او حتی تر ۱۲ کیلومترو پورې هم د ګلانو پسې ځي،او د ګلانو څخه د شیرې د راټولولو وروسته بیرته پرته د دې چې لار غلطه کړي، خپلو ځالو ته راځي.

د شاتو مچیو ته الله تعالی دا استعداد ورکړی چې: د لمر موقعیت د قطب نما پشان کاروي،او د خپل داخلي بیولوژیکي ساعت په مرسته پوهیږي،چې لمر به د وخت په تیریدو کې چیرته وي،نو لاره نه

غلطوي.د ګلونو او خپلې ځالي بوی پيژني.«وان فريش» چې په ۱۹۷۳ کې يې د شاتو د مچيو د ريسرچ په سبب د نوبل جايزه اخستي وه،هغه وايي،کله چې د شاتو مچۍ يو نوی باغ پيدا کړي،نو بيا دا مچۍ ځالي ته راځي،او خپلو ټولو ملګرو او کاريګرو ته د نوي باغ په باره کې معلومات ورکوي،او باغ ته د تلو مکمله نقشه او هدايت ورکوي،يو قسم حرکتونه کوي چې بالکل هغه باغ ته د تلو د لارې مکمله نقشه جوړوي،يعنې په ډېرو عجيبو حرکتونو او اشارو ملګرې او کاريګر پوهوي چې کومې کومې لارې باغ ته د تلو دپاره استعمال کړي.

(۳)

فرمايي: « يَخْرُجُ مِنْۢ بُطُونِهَا شَرَابٌ» د دوی د ګيډو څخه يو مشروب يعنې شات راوځي.

زيا خلک فکر کوي چې ګنې شات د مچيو فضله مواد يا متيازې دي،ليکن په آيت مبارک کې نه فضله مواد ذکر شوي او نه ورته اشاره شوي ده.

اوس ساينسي تحقيقاتو ثابته کړي چې د شاتو مچۍ دوه معدې لري،يوه معده يې د هغې خوراکي موادو لپاره ده چې پخپله يې خوري،او بله معده يې د ګلانو د شيرې د ذخيره کولو دپاره ده،يعنې کله چې د مختلفو ګلانو شيره څښي نو په دې معده کې يې ذخيره کوي،او کله چې ډکه شي نو ځالي يا بکسې ته يې راوړي،که مو ليدلي وي:په کوم سورې چې بکسې ته مچۍ ننوځي،د دې سورې څخه ګرد چاپيره ډېرې مچۍ ناستي وي دا سکوريتي يا محافظې مچۍ دي،نو هره مچۍ چې د بهر څخه راځي او ځالي يا بکسې ته ننوځي نو اول د دې محافظوې مچيو پواسطه تالاشي کيږي،که چيرته په خراب ګل يا مرداری باندې ناسته وي،نو بکسې يا ځالي ته يې نه پرېږدي،وزرونه يې پرې کوي او لاندې يې غورزوي،او

که صحیح او پاکه وي،نو د ننوتلو اجازه ورکوي—کله چې دننه ننوځې،نو بیا راوړل شوي شیره د خپلې خولې د لارې د خپلې ګېډې څخه راوباسي او د هغې مچۍ په خوله کې یې وراچوي کومه چې په ځاله یا بکسه کې کار کوي،او هغه یې بیا په هغو سوریو کې وراچوي،کوم چې د ګاریګرو مچیو پواسطه د شاتو دپاره جوړ شوي دي.

شات ډېر پاک دي ځکه چې په جوړېدلو کې یې د دومره احتیاط څخه کار اخستل کیږي،که فرضاً د شاتو مچۍ څوک وچیچې نو نیش یې په سړي کې پاتي کیږي،خو که مچۍ د نیش د راوښکلو کوشش وکړي،نو کولمې یې هم پسې وروځې او مړه کیږي.شاید دا د دې دپاره وي چې د دې مچۍ او نیش پواسطه یې کوم میکروب د انسان څخه شاتو ته لاړ نشي.(والله اعلم) او په شاتو کې د انسانانو دپاره شفا ده ،چون دا لوی بحث دی فعلاً ترې تیریږو.آخرنۍ خبره دا ده ، فرمایي: إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ (69)«بېشکه د شاتو په مچیو او شاتو کې ډېره لویه نښه ده د هغو خلکو دپاره چې غور او فکر کوي.

که غور او فکر وکړو وبه ګورو چې ډېر یو منظم نظام موجود دی،ټولي مچۍ د ملکې حکم او فرمان مني،ټولو ته کارونه ویشل شوي دي،ځینې د ګبین سورې جوړوي،ځینې د نوو بچیوو خدمت کوي،ځینې د کور څخه دباندې د شیرې راوړلو پسې ځي،ځینې د دښمن د حملې دپاره اماده دي،ځینې د هغو مچیو چې د بهر څخه شیره راوړي،تالاشي کوي،ځینې د هغو مچیوو څخه چې شیره ځالی یا بکسې ته راننباسي،شیره ترې اخلي او د شاتو په سوریو کې یې وراچوي،او ځینې بیا دې شیرې ته د وزرونو پواسطه پکی وهي،تر څو چې کلکه او یخه شي،او دا ټولي مچۍ پرته د

جنګ او جګړې په خپلو کې په ډېره مينه او محبت سره په منظم ډول کار کوي.

که ښه فکر او غور وکړو:دې مچيوو د ګبين د جوړولو انجينرۍ،او د نوو مچيوو د روزلو دپاره نرسنګ،او د نظم د جوړولو دپاره قانون،،د دښمن نه د دفاع دپاره عسکرۍ ټرينينګ،او د ګلالنو د شيرۍ څخه د شاتو د جوړولو تخنيک څنګه او د چا څخه زده کړی دی؟

جواب صرف يو دی چې دا هرڅه الله تعالی د دوی په فطرت کې اچولي دي.

وَٱللَّهُ خَلَقَكُمۡ ثُمَّ يَتَوَفَّىٰكُمۡۚ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡ لَا يَعۡلَمَ بَعۡدَ عِلۡمٖ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٞ قَدِيرٞ(70)

وَٱللَّهُ او الله تعالی خَلَقَكُمۡ پيدا کړي ياستئ تاسو ثُمَّ بيا يَتَوَفَّىٰكُمۡۚ مړه کوي تاسو وَمِنكُم او ځينې د ستاسو مَّن هغه څوک دي يُرَدُّ چې رسول کيږي(اړول کيږي) إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ ډېر کمزورې عمر ته(لکه د ماشومتوب) لِكَيۡ تر دې (چې د ډېري کمزورۍ په سبب) لَا يَعۡلَمَ هغه نه پوهيږي بَعۡدَ وروسته عِلۡمٖ د پوهې شَيۡـًٔاۚ هيڅ شی(يعني وروسته د پوهيدلو څخه،بيرته هرڅه ترې هير شي،لکه څنګه چې په ماشومتوب کې و) إِنَّ ٱللَّهَ بېشکه الله تعالی عَلِيمٞ ډېر پوه قَدِيرٞ (او) ډېر ځواکمن دی. (70)

روانه ترجمه:

الله تعالی تاسو پیدا کړي یاست،بیا مو مړه کوي،او په تاسو کې ځینې داسې دي چې تر ډېر کمزوره عمره رسول کیږي،تر دې چې په څه د پوهیدو وروسته بیرته په هیڅ شي نه پوهیږي(یعنې د کمزورۍ او زوړ عمر په سبب د ټول عمر زده کړي شیان ترې هیر شي،او یو فیلسوف به هم د ماشومانو په شان خبرې کوي) بېشکه (یوازې ) الله تعالی ډېر عالم او ځواکمن دی(یعني یوازې د الله تعالی علم او ځواک تل پاتي دی)

---

انسان باید د دې څخه عبرت واخلي،چې د هغه علم او قدرت مؤقتي دی،د هر چا دپاره صرف د هغه عمر کافي دی چې غرور یې مات کړي،خوانې او ښایست یې د منځه وړي،خو هغه هیڅ نشي کولای،علم یې د منځه وړي خو هغه هیڅ نشي کولای،طاقت یې د منځه منځه وړي خو هغه هیڅ نشي کولای،که ژوندی هم وي،خو د یو ماشوم به هم احتیاج وي،دا په دې معنی چې:انسان نه تل ځواکمن پاتې کیږي،نه تل عالم پاتي کیږي.

عاجزې،شکر او فکر د دې آیت اصلي پیغام دی.

وَٱللَّهُ فَضَّلَ بَعۡضَكُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ فِي ٱلرِّزۡقِۚ فَمَا ٱلَّذِينَ فُضِّلُواْ بِرَآدِّي رِزۡقِهِمۡ عَلَىٰ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ فَهُمۡ فِيهِ سَوَآءٌۚ أَفَبِنِعۡمَةِ ٱللَّهِ يَجۡحَدُونَ (71)

وَٱللَّهُ او الله تعالی فَضَّلَ غوره کړي دي بَعۡضَكُمۡ ځینې ستاسو عَلَىٰ په بَعۡضٖ ځینې نورو فِي ٱلرِّزۡقِۚ په رزق کې(یعني ځوک شتمن او ځوک غریب....) فَمَا ٱلَّذِينَ فُضِّلُواْ بِرَآدِّي رِزۡقِهِمۡ خو هغوی چې غوره شوي(خو هغوی چې شتمن دي) نه ورکوي خپل رزق (نه ورکوي خپله شتمني) عَلَىٰ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ خپلو غلامانو ته (خپلو غریبانو کاریګرو ته،په دومره اندازه) فَهُمۡ

چې هغوی(ټول) فِيهِ په هغه(مال یا شتمنۍ ) کې سَوَآءٌ برابر شي(په اختیار کې) أَفَبِنِعۡمَةِ ٱللَّهِ يَجۡحَدُونَ نو ایا د الله تعالی د نعمت نه دوی انکار کوي (71)

روانه ترجمه:

الله تعالی په رزق کې ستاسو ځینې پر ځینو نورو غوره کړي دي(یعني ځوک غریب دی ځوک مالدار....)خو هغه کسان چې زیات رزق(شتمني) ورکول شوي،دوی خپل رزق(یا شتمنې/مال،په دومره اندازه)خپلو غلامانو ته نه ورکوي،چې بیا ټول په کې برابر شي(یعني غریبانو او غلامانو سره کومک کوي،خو دومره نه چې ورسره په مال کې برابر یا شریک شي،ځکه چې فطرتاً ځوک دا کار نکوي)،نو آیا دوی د الله تعالی د نعمت نه انکار کوی؟(نو قران پوښتنه کوي!چې انسان پخپله د ځان دپاره نه غواړي چې په ملکیت کې دې داسې کس ورسره برابر شي چې پرې واک لرې،نو بیا ولې: د الله تعالی ملکیت او ربوبیت د نورو سره شریکوي)

---

دا مبارک آیت د شرک د رد دپاره یوخالص عقلي دلیل دی، قران دلته داسې یو حقیقت یادوي چې هر انسان یې مني یعنې:

انسانان په رزق کې برابر نه دي،دا فطري فرق او د ژوند د نظام برخه ده.لیکن دا هم یو حقیقت دی چې: شتمن انسان د غریب مرسته کوي،خو هیځکله دومره مرسته نه کوي چې غریب ورسره په مال کې برابر یا شریک شي.

نو په دې دلیل چې:انسان پخپله دا نه مني چې د هغه مال او ملکیت دې د داسې چا سره شریک یا برابر شي،چې پرې واک لرې.

نو قرآن پوښتنه کوي!کله چې ته د خپل ځان دپاره شریک او برابر نه منې، نو بیا ولې:

د الله تعالی نعمتونه،د الله تعالی ملکیت او د الله تعالی ربوبیت د نورو سره شریکوې؟

ټول نعمتونه مالونه،اولادونه.........الله تعالی درکوي،او نسبت یې بتانو،انسانانو ،زیارتونو........ته کوي.کوم چې شرک اکبر دی او انسان د اسلام د دایرې څخه وباسي.

باید ذکر شي چې:غلام د هغه وخت تر ټولو کم اختیاره انسان و،قران تر ټولو ښکاره مثال راوړي چې:هر څوک یې سمدستې درک کړي.

دا د غلامۍ تائید نه دی،بلکې د ذهنونو د قانع کولو دپاره مثال دی.

وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ أَزۡوَٰجٗا وَجَعَلَ لَكُم مِّنۡ أَزۡوَٰجِكُم بَنِينَ وَحَفَدَةٗ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِۚ أَفَبِٱلۡبَٰطِلِ يُؤۡمِنُونَ وَبِنِعۡمَتِ ٱللَّهِ هُمۡ يَكۡفُرُونَ ﴿٧٢﴾

وَٱللَّهُ او الله تعالی جَعَلَ پیدا کړي لَكُم تاسو ته مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ ستاسو د نسل څخه أَزۡوَٰجٗا ښځې وَجَعَلَ او پیدا کړي یې دي لَكُم تاسو ته مِّنۡ أَزۡوَٰجِكُم ستاسو د ښځو څخه بَنِينَ زامن وَحَفَدَةٗ او لمسیان وَرَزَقَكُم او رزق یې درکړی مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِۚ د پاکو(شیانو)څخه أَفَبِٱلۡبَٰطِلِ يُؤۡمِنُونَ نو(الله تعالی پوښتنه کوي) آیا بیا(هم د الله تعالی د دې ښکاره نعمتونو سره سره) دوی په باطلو(معبودانو او شرک) یقین لري وَبِنِعۡمَتِ ٱللَّهِ او د الله تعالی په نعمتونو باندې هُمۡ يَكۡفُرُونَ دوی ناشکري کوي. ﴿٧٢﴾

روانه ترجمه:

او الله تعالی ستاسو د جنس څخه ستاسو لپاره ښځې پیدا کړي،او د همدغو ښځو څخه یې تاسو ته زامن او لمسیان درکړل،او تاسو ته یې پاکي روزۍ درکړي،نو(الله تعالی پوښتنه کوي:چې د الله تعالی د دې ښکاره نعمتونه سره سره) آیا بیا (هم) دوی په باطلو(معبودانو او شرک)ایمان راوړي،او د الله تعالی د نعمت ناشکري کوي؟( ټول نعمتونه یعني کورونه،ښځې ،اولادونه،مالونه او رزق الله تعالی ورکړې،خو نسبت یې بتانو،زیارتونو او انسانانو ته کوي،او د الله تعالی په ځای دوی ته سجدې،نذرونه او چاپلوسې کوي)

وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًا مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ شَيْـًٔا وَلَا يَسْتَطِيعُونَ ﴿٧٣﴾

وَيَعْبُدُونَ او عبادت کوي دوی مِن دُونِ ٱللَّهِ پرته د الله تعالی څخه مَا هغه څه ته لَا يَمْلِكُ چې اختیار نلري لَهُمْ دوی ته رِزْقًا د رزق(د ورکولو) مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ د آسمانونو څخه وَٱلْأَرْضِ او د ځمکې څخه شَيْـًٔا د هیڅ شي وَلَا يَسْتَطِيعُونَ او نه(یې د کولو)توان لري ﴿٧٣﴾

روانه ترجمه:

او دوی د الله تعالی څخه پرته د هغو شیانو عبادت کوي چې:نه دوی ته د آسمانونو او ځمکې څخه د روزۍ(د ورکولو) څه واک لري،او نه(یې د کولو) توان او قدرت لري.(نه د ورولو، نه د زرغونولو او نه د رزق ورکولو اختیار لري،او نه یې د کولو توان لري)

د دې مبارک ایت ډېر مثالونه په نني ژوند کې مونږ ګورو!

(۱)د قبرونو او پیرانو نه حاجت غوښتل،ځینې خلک قبرونو ته ځي،د وفات شوو اولیاوو،پیرانو او بزرګانو څخه اولاد،روزي او شفا غواړي،حال دا چې: هغوی پخپله مړه دي،نه روزي ورکولی شي ،نه باران ورولی شي،نه مرض لرې کولی شي،دا هماغه څه دي چې آیت یې ردوي: هغه چې هیڅ قدرت نلرې،عبادت او فریاد ورته کول ولې؟

(۲) د پیسو او مقام عبادت.

خو اول باید په دې پوه شو چې:عبادت د زړه بشپړه توجه،توکل،او یقین ته وایې، که دا توجه،توکل او یقین په غیرالله وي(مثلاً بت،پیسې،انسان....) نو هغه شی معبود ګڼل کیږي،او د زړه دا عمل (توجه،توکل او یقین) د هغه شي عبادت خو په غلطه لار.اوس که د زړه توجه،توکل او یقین صرف په پیسو وي،نو د زړه دا عمل د پیسو عبادت دی،او پیسې معبود.

نن ډېرو خلکو:

پیسو ته خپل ژوند وقف کړی،د مقام دپاره هر څه قربانوي،حرام کار ته هم چمتو کیږي،لیکن:پیسې نه عمر زیاتوي،نه مرګ شاته کوي،نه زړه ته سکون ورکوي.

کله چې څوک پر الله تعالی توکل پریږدي او په مال توکل وکړي،دا هم د آیت عملي بڼه ده.

(۳)په ډاکټر،درمل،او اسبابو مطلق باور:

اسلام اسباب نه ردوي،خو ستونزه دا ده چې انسان وایې«چې یوازې ډاکټر مې ژغوري» یا «دا درمل هر څه کوي»

حال دا چې:

ډاکټر یوازې سبب دی،شفا ورکوونکی الله تعالی دی.نو که زړه د الله تعالی څخه واوړي او یوازې د اسبابو پورې وتړل شي،دا هم د ایت خلاف دی.

(۴) په زورورو انسانانو مطلق تکیه: ځینې خلک:

په چارواکو،مشرانو یا زورورو خلکو داسې تکیه کوي لکه د دوی نجات ورکونکي چې وي. حال دا چې انسان کمزوری دی،نن شته،سبا نه وي،د رزق او عزت مالک یوازې الله تعالی دی.

فَلَا تَضْرِبُواْ لِلَّهِ ٱلْأَمْثَالَۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٧٤﴾

د باطلو معبودانو په اړه پخوا هم او اوس هم مشرکان عقیده لري چې:دوی د الله تعالی په دربار کې اختیار لرې،د الله تعالی نازولي دي،زمونږ سره مرسته هم کوي،او الله تعالی ته مو سفارش هم کوي.نو الله تعالی فرمایي:

| |
|---|
| فَلَا تَضْرِبُواْ مه بیانوئ لِلَّهِ الله تعالی ته ٱلْأَمْثَالَۚ مثالونه(د مخلوق،یعني الله تعالی د مخلوق پشان مه ګڼئ،الله بې مثاله دی) إِنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ بېشکه الله تعالی پوهیږي وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ او تاسو نه پوهیږئ ﴿٧٤﴾ |

روانه ترجمه:

د باطلو معبودانو په اړه پخوا هم او اوس هم مشرکان عقیده لري چې:دوی د الله تعالی په دربار کې اختیار لرې،د الله تعالی نازولي دي،مونږ الله تعالی ته نشو رسیدلای،دوی مونږ الله ته رسوي،همدوی زمونږ مشکلات حلوي،او الله تعالی ته مو سفارش هم کوي.نو الله تعالی فرمایي:

الله ته (د مخلوق) مثالونه مه بیانوئ (یعني الله تعالی بې مثاله دی، د انسانانو یا د دنیا د بادشاهانو سره یې مه مقایسه کوئ،چې وزیرانو،والیانو او قوماندانانو ته یې د سلطنتي نظام د چلولو دپاره یوڅه اختیارات ورکړي وي،خو نور یې نه ګوري چې هغوی څه کوي،او څه نه کوي.برعکس:الله تعالی نه وزیران نیولي،نه والیان او نه قوماندانان،بلکې ټول کائینات د هغه «جل جلاله» په مشیت او اراده چلیږي،هیڅ شی نه تري پټ دی او نه د هغه«جل جلاله» د قدرت د دایرې څخه بهر دی،هر څوک چې هر چیرته وي هغه«جل جلاله» ورسره دی،او د شاه رګ څخه ورته نژدې دی،د هر چا سوال اوري او د حکمت مطابق جواب ورکوي.).

بېشکه الله تعالی پوهیږي او تاسو نه پوهیږئ.

۞ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا عَبْدًا مَّمْلُوكًا لَّا يَقْدِرُ عَلَىٰ شَىْءٍ وَمَن رَّزَقْنَٰهُ مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنفِقُ مِنْهُ سِرًّا وَجَهْرًا ۖ هَلْ يَسْتَوُۥنَ ۚ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ﴿٧٥﴾

۞ ضَرَبَ بیانوي ٱللَّهُ الله تعالی مَثَلًا مثال عَبْدًا د یو بنده مَّمْلُوكًا غلام لَّا يَقْدِرُ عَلَىٰ شَىْءٍ چې د هیڅ شی توان نلري وَمَن او(بل) هغه څوک رَّزَقْنَٰهُ چې هغه ته مونږ رزق ورکړی مِنَّا زمونږ د طرف نه رِزْقًا حَسَنًا ښه رزق فَهُوَ او هغه يُنفِقُ نفقه کوي (مصرفوي) مِنْهُ د هغې (رزق) څخه سِرًّا پټ وَجَهْرًا ۖ او ښکاره هَلْ يَسْتَوُۥنَ ۚ آیا دوی دواړه سره برابر دي؟ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ تولې ستاینې خاص الله تعالی لره دي بَلْ بلکې أَكْثَرُ اکثره هُمْ د هغوی لَا يَعْلَمُونَ نه پوهیږي ﴿٧٥﴾

روانه ترجمه:

الله تعالی مثال بیانوي د یو بنده چې د بل چا غلام وي،او د هیڅ کار توان او صلاحیت نلرې،او بل هغه سړی چې مونږ ورته پراخه روزي او سرمایه ورکړې،او هغه تري په پټه او ښکاره انفاق او لګښتونه کوي،نو آیا دوی دواړه سره برابر دي؟ (نه،هیڅکله نه،نو بیا دا څنګه کیدی شي چې بې وسه مخلوق«بتان،قبرونه،انسانان» د قادر الله تعالی سره برابر شي چې رازق،مالک او هر څه د هغه«جل جلاله» په اختیار کې دي؟).

تولې ستاینې خاص الله تعالی لره دي خو د دوی زیاتره نه پوهیږي.

---

د آیت پیغام:

الله تعالی قادر،رازق او مالک دی .

مخلوق بې وسه او محتاج دی.

د الله تعالی او مخلوق تر منځ هیڅ برابري نشته.

وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا رَّجُلَيۡنِ أَحَدُهُمَآ أَبۡكَمُ لَا يَقۡدِرُ عَلَىٰ شَيۡءٖ وَهُوَ كَلٌّ عَلَىٰ مَوۡلَىٰهُ
أَيۡنَمَا يُوَجِّههُّ لَا يَأۡتِ بِخَيۡرٍۖ هَلۡ يَسۡتَوِي هُوَ وَمَن يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَهُوَ عَلَىٰ صِرَٰطٖ
مُّسۡتَقِيمٖ (۷۶)

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَضَرَبَ ٱللَّهُ | او الله تعالی بیانوي | مَثَلًا | یو(بل) مثال | رَّجُلَيۡنِ | د |
| دوه سړیو | أَحَدُهُمَآ | چې یو د دې دواړو | أَبۡكَمُ | ګونګ دی | لَا |
| يَقۡدِرُ عَلَىٰ شَيۡءٖ | د هیڅ شی توان نلرې | وَهُوَ | او هغه | كَلٌّ | یو |
| پیټی(بار) دی | عَلَىٰ مَوۡلَىٰهُ | په خپل بادار(مالک) باندې | أَيۡنَمَا يُوَجِّههُّ | | |
| هر چیرته یې چې لیږي | لَا يَأۡتِ بِخَيۡرٍۖ | هیڅ خیر(ګټه) نه رواړي | | | |
| هَلۡ | آیا | يَسۡتَوِي هُوَ | برابر دی دغه(سړی) | وَمَن | او هغه څوک |

يَأۡمُرُ چې امر کوي بِٱلۡعَدۡلِ ۙ په عدل/انصاف سره وَهُوَ او
پخپله هم عَلَىٰ په صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ سمه لار(روان) وي (۷۶)

روانه ترجمه:

او الله تعالی یو بل مثال بیانوي:دوه سړي دي؛یو يې ګونګ دی،د هيڅ شي توان نلري،او پخپل مالک پيټی(بار) دی،چې هر چیرته یې ولیږي هيڅ خير او ګټه نه رواړي،؛آیا دا سړی برابر دی د هغه چا سره چې د عدل امر کوي او پخپله په نيغه لار روان وي؟

د آیت پيغام:

بې وسه،ګونګ او بې ګټې معبودان د عبادت وړ نه دي.

الله تعالی حق،عادل،لارښوونکی او د هر خير سرچينه ده.

د حق او باطل تر منځ هېڅ برابري نشته.

بې وسه او بې ګټې انسان د هغه انسان برابر نه دی چې حق وايې ،انصاف کوي او په سمه لار روان وي.

ناشکره بنده د الله تعالی نعمت خوري خو د خير کار ترې نه کيږي نو يوازې يو بار وي.خو شکر ګزار بنده د الله تعالی نعمت د عبادت او د خلکو د خدمت دپاره کاروي او د خير سرچينه ګرځي.نو حق او باطل،شکر او ناشکري،هدايت او ګمراهي هيڅکله برابر نه دي.

وَلِلَّهِ غَيۡبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَمَآ أَمۡرُ ٱلسَّاعَةِ إِلَّا كَلَمۡحِ ٱلۡبَصَرِ أَوۡ هُوَ أَقۡرَبُۚ
إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ (۷۷)

وَلِلَّهِ او خاص الله ته دی غَيْبُ پټ علم (غيب) ٱلسَّمَٰوَٰتِ د آسمانونو وَٱلْأَرْضِ ۚ او ځمکي وَمَآ او نه دی أَمْرُ کار ٱلسَّاعَةِ د قیامت إِلَّا مګر كَلَمْحِ پشان د رپیدو ٱلْبَصَرِ د سترګي أَوْ یا هُوَ هغه أَقْرَبُ ۚ لا نزدې دی (بلکي د سترګي د رپ نه هم څه کم) إِنَّ ٱللَّهَ بیشکه الله تعالی عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ په هر شي باندې قَدِيرٌ قادر دی (۷۷)

روانه ترجمه:

د اسمانونو او ځمکي غیب (پټ علم) یوازې الله ته دی،او د قیامت کار خو یوازې د سترګو د رپېدو پشان دی،بلکي تر دې هم نږدې دی؛بېشکه الله تعالی پر هر څه قادر دی.

---

د آیت پیغام:

(۱)د غیب علم یوازې الله تعالی دی(النحل ۷۷).انسان نه پوهیږي چې سبا به څه وشي،نه د مرګ په وخت پوهیږي،نه د قیامت په نیټه.....

قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ٱلْغَيْبَ إِلَّا ٱللَّهُ ۚ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ (النمل ۶۵) (دوی ته) ووایه :په آسمانونو او ځمکه کې هیڅوک پرته د الله تعالی څخه د غیبو علم نلري.(نو نه نبي،نه ولي،نه پیر——هیڅوک په خپلواکه توګه د غیب علم نلري.

پیغمبر«صلی الله علیه وسلم» فرمایي:

حدیث ۱: نبي ﷺ هم علمِ غیب نه لري

قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ:

«لَوْ كُنْتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ، وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ»

که زه په غیب پوهیدلی،نو ډېر خیر به مې ځان ته راټول کړی وای او هیڅ زیان به رانه رسیدی نه و راغلی.

نو چې: نبي«صلی الله علیه وسلم» په غیب نه پوهیده،نو ولي ، پیر،کاهنان پرې څنګه پوهیدلی شي؟(پرته د الله تعالی څخه هیڅوک پرې نه پوهیږي) ............

حواله

صحيح البخاري، كتاب التفسير، باب قوله: ولو كنت أعلم الغيب

صحيح مسلم، كتاب الفضائل

حدیث ۲: د غیب پنځه کیلیانې یوازې د الله سره دي

قَالَ النَّبِيُّ ﷺ:

«مَفَاتِيحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ، لَا يَعْلَمُهُنَّ إِلَّا اللَّهُ»

د غیب پنځه کیلیانې دي،چې یوازې الله تعالی پرې پوهیږي.

حواله

صحيح البخاري، كتاب الاستسقاء

صحيح البخاري، حديث نمبر: 1039

(۲):

قیامت د الله تعالی دپاره ډېر اسانه دی،د سترګو په رپ یا د سترګو د رپ څخه به هم په کم وخت کې راشي.

وَٱللَّهُ أَخْرَجَكُم مِّنۢ بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمْ لَا تَعْلَمُونَ شَيْـًٔا وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَٱلْأَفْـِٔدَةَ ۙ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ (۷۸)

وَٱللَّهُ او الله تعالی أَخْرَجَكُم راویستلي یئ تاسو مِّنۢ بُطُونِ د خیټو څخه أُمَّهَٰتِكُمْ ستاسو د مورګانو لَا تَعْلَمُونَ په داسې حال کې چې تاسو نه پوهیدلی شَيْـًٔا په هیڅ شي وَجَعَلَ او درېې کړو لَكُمُ تاسو ته ٱلسَّمْعَ د اوریدلو صلاحیت وَٱلْأَبْصَٰرَ او د لیدلو صلاحیت وَٱلْأَفْـِٔدَةَ ۙ او د فکر او فیصلې صلاحیت(عقل) لَعَلَّكُمْ د دې دپاره چې تاسو تَشْكُرُونَ شکر وباسئ (۷۸)

روانه ترجمه:

او الله تعالی تاسو د خپلو مورګانو د خیټو څخه رایستلي یئ،په داسې حال کې چې تاسو په هیڅ شي نه پوهیدئ،نو تاسو ته یې د اوریدلو،لیدلو او د فکر او فیصلې صلاحیت درکړ،تر څو چې شکر وباسئ.

---

دا د انسان عاجزې ښایې،چې دنیا ته د راتګ په وخت کې نه علم لري او نه طاقت،نه ښه پیژني نه بد،نه ځان پیژني،نه دنیا.

الله تعالی ورته د علم د حاصلولو دپاره د اوریدلو نعمت،د لیدلو نعمت او عقل ورکړي،انسان د همدې وسایلو په استعمال سره علم حاصلوي،خو دا هرڅه د دې لپاره چې شکر وباسي.

نو که انسان:اوریدل،لیدل او عقل د حق په ضد وکاروي نو دا ناشکري ده.
خو که:

دا نعمتونه د دین،علم او نیکی لپاره وکاروي نو دا شکر دی،

شکر یوازې الحمدلله ویل نه دي،بلکې:د حق اوریدل،د حلالو لیدل،او د حق فیصله کول شکر دی.

أَلَمْ يَرَوْاْ إِلَى ٱلطَّيْرِ مُسَخَّرَٰتٍ فِى جَوِّ ٱلسَّمَآءِ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا ٱللَّهُۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ (٧٩)

| |
|---|
| أَلَمْ يَرَوْاْ آیا دوی نه ګوري إِلَى ٱلطَّيْرِ مرغانو ته مُسَخَّرَٰتٍ چې تابع شویدي(چې د حکم پابند دي) فِى جَوِّ ٱلسَّمَآءِ پاس په هوا کې مَا يُمْسِكُهُنَّ دوی نه ساتي (د غورزیدلو نه) إِلَّا ٱللَّهُۗ مګر الله تعالی(یې ساتي) إِنَّ فِى ذَٰلِكَ بېشکه په دې کې لَـَٔايَٰتٍ ښکاره نښې دي لِّقَوْمٍ د هغو خلک دپاره يُؤْمِنُونَ چې ایمان راوړي (٧٩) |

رروانه ترجمه:

ایا هغوی مرغانو ته نه ګوري چې پاس په هوا کې د حکم پابند دي،هیڅوک (د غورزیدلو ځخه) هغوی نه ساتي،مګر الله تعالی (یې ساتي) بېشکه په دې کې د ایمان لرونکو دپاره ښکاره نښې دي.

---

مرغان ازاد ښکارې خو د الله تعالی د ټاکلي نظام تابع دي.

د مرغه د وزر جوړښت،وزن،د هوا کثافت،جاذبه.....ټول یو ځای په داسې دقیق حد کې تنظیم دي چې که په هر یو کې ډېر کم بدلون راشي،نو مرغه نشي الوتلئ— (ساینس دی تنظیم ته فاین ټیونینګ وایې)

وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنۢ بُيُوتِكُمۡ سَكَنًا وَجَعَلَ لَكُم مِّن جُلُودِ ٱلۡأَنۡعَٰمِ بُيُوتًا تَسۡتَخِفُّونَهَا
يَوۡمَ ظَعۡنِكُمۡ وَيَوۡمَ إِقَامَتِكُمۡ ۙ وَمِنۡ أَصۡوَافِهَا وَأَوۡبَارِهَا وَأَشۡعَارِهَآ أَثَٰثًا وَمَتَٰعًا إِلَىٰ
حِينٍ (٨٠)

وَٱللَّهُ او الله تعالی جَعَلَ ګرځولې دي لَكُم تاسو ته مِّنۢ بُيُوتِكُمۡ کورونه ستاسو سَكَنًا د اوسیدو (او ارام)ځایونه وَجَعَلَ او جوړې کړي يې دي لَكُم تاسو ته مِّن جُلُودِ ٱلۡأَنۡعَٰمِ د څارويو د پوستکو څخه بُيُوتًا خېمې تَسۡتَخِفُّونَهَا چې وړل يې اسان دي يَوۡمَ ظَعۡنِكُمۡ د سفر په ورځ(د سفر په مهال) وَيَوۡمَ إِقَامَتِكُمۡ ۙ او د اوسيدو په ورځ(او د اوسيدو په مهال) وَمِنۡ أَصۡوَافِهَا او د هغوی د وړيو وَأَوۡبَارِهَا او د هغوی د پشم وَأَشۡعَارِهَآ او د هغوی د ويښتانو يې أَثَٰثًا وَمَتَٰعًا د کور سامان او د ګټې شیان (درکړي) إِلَىٰ حِينٍ تر يو ټاکلي وخت پورې (٨٠)

روانه ترجمه:

الله تعالی ستاسو دپاره کورونه د اوسیدو او ارام ځایونه ګرځولې دي،او د څارويو د څرمنو يې تاسو ته داسې خېمې جوړې کړي دي،چې د سفر پر مهال يې وړل اسانه وي،او د اوسیدلو پر وخت(هم ترې ګټه اخستل کيږي،او د هغوی د وړيو،پشم،او ويښتانو يې د کور سامان او د ګټې شیان درکړي دي،تر يو ټاکلي وخت پورې.

---

الله تعالی تل د انسان د ضرورت مطابق اسانتیاوې برابرې کړې دي.

نن ورځ:ټيکنالوجي،موډرن سامانونه،موټر.......او مختلف وسایل ټول د همدې نعمتونو عصري بڼه ده.يعنې د ژوند اسانتیاوې نن ورځ هم د الله تعالی د حکمت او مهرباني نښه ده.

وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّمَّا خَلَقَ ظِلَٰلًا وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلْجِبَالِ أَكْنَٰنًا وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَٰبِيلَ تَقِيكُمُ ٱلْحَرَّ وَسَرَٰبِيلَ تَقِيكُم بَأْسَكُمْ ۚ كَذَٰلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهُۥ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُونَ (٨١)

وَٱللَّهُ او الله تعالی جَعَلَ پیدا کړل لَكُم تاسو ته مِّمَّا د هغو شیانو څخه خَلَقَ چې پیداکړي یې دي ظِلَٰلًا سیوري وَجَعَلَ او جوړ یې کړل لَكُم ستاسو دپاره مِّنَ ٱلْجِبَالِ د غرونو څخه أَكْنَٰنًا د پناه(خوندي) ځایونه وَجَعَلَ او پیدا یې کړل لَكُمْ ستاسو دپاره سَرَٰبِيلَ جامې تَقِيكُمُ چې ساتي تاسو ٱلْحَرَّ د ګرمۍ نه وَسَرَٰبِيلَ او پیدا یې کړي ستاسو دپاره داسي) جامې تَقِيكُم چې ساتنه کوي ستاسو بَأْسَكُمْ ۚ پخپل(منځي) جنګونو کې كَذَٰلِكَ همدا رنګه يُتِمُّ هغه«جل جلاله» پوره کوي نِعْمَتَهُۥ خپل نعمتونه عَلَيْكُمْ په تاسو باندې لَعَلَّكُمْ د دې لپاره تُسْلِمُونَ چې تاسو تسلیم شئ (٨١)

روانه ترجمه او تفسیر:

او الله تعالی تاسو ته د خپلو پیداکړو شیانو(ونو،دیوالونو،کورونو....) څخه سیوري جوړ کړل(ځکه چې سیوري د انسان فطري ضرورت دی)،او د غرونو څخه یې تاسو ته خوندي(پناه ځایونه)جوړ کړل(ځکه غرونه د طبیعي سرپناه حثیت لري،د ګرمۍ،یخنۍ او دښمن څخه ساتنه کوي،د ځمکې په ټینګښت کې لکه د میخونو پشان مرسته کوي،دا انسان ته یادونه کوي چې:حتی طبیعت د الله تعالی په امر د هغه خدمت کوي)،او ستاسو دپاره یې جامې پیدا کړي چې له ګرمۍ مو وساتي(جامې د بدن او عزت ساتنه کوي یعني بدن د یخنۍ او ګرمۍ څخه ساتي او عزت پټوي)،او داسي جامې (هم) چې په جنګونو کې مو ساتنه وکړي(لکه زغرې په اوس وخت کې ضد مرمي لباسونه،هلمټ....).همدا رنګه الله تعالی خپل نعمت پر تاسو پوره کوي،تر څو تاسو(د هغه«جل جلاله فرمان ته) تسلیم شئ.(یعني دا

ټول نعمتونه تصادفي نه دي،بلکي مقصد يې دا دی چې انسان شکر وباسي،او د الله تعالی اطاعت ومني)

فَإِن تَوَلَّوْاْ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ﴿٨٢﴾

| |
|---|
| فَإِن خو که چیرته تَوَلَّوْاْ دوی مخ واړوي(د حق دمنلو څخه) فَإِنَّمَا نو بېشکه خبره دا ده عَلَيْكَ چې په تا باندې ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ یوازې روښانه پيغام رسول دي.﴿٨٢﴾ |

روانه ترجمه:

خطاب پيغمبر«صلی الله علیه وسلم» ته او حکم د قيامت پورې هر داعي ته دی.

خو که دوی (د حق د منلو څخه )مخ واړوي،نو پر تا باندې یوازې روښانه پيغام رسول دي.(هدايت د الله تعالی کار دی)

*********************************************

د هر داعي کار خلکو ته په ،سمه توګه د الله تعالی پيغام رسول دي،د مخاطب د عقل،کلتور او حالت په پام کې نيولو سره بايد د نرمو الفاظو څخه کار واخلي،خلک ملامت نکړي،زور،تحقير او سپکاوی ونه کاروي،زور ،جبر او مجبوررول په دين کې نشته، داعي یوازې پيغام رسوي،زړه بدلول د الله تعالی کار دی،نه منل یا رد کیدل د دعوت ناکامي نه ده،مهمه دا ده چې حق ورسيږي،انبیاو«علیهم السلام» هم رد لیدلی خو دعوت يې نه دی پرايښی،په دې سبب چې خلک يې نه مني،دعوت باید

پرې نه ښودل شي،نتيجه بايد الله تعالی ته وسپارل شي،او د مايوسۍ څخه ځان وساتل شي.

يَعْرِفُونَ نِعْمَتَ ٱللَّهِ ثُمَّ يُنكِرُونَهَا وَأَكْثَرُهُمُ ٱلْكَٰفِرُونَ﴿٨٣﴾

| | |
|---|---|
| يَعْرِفُونَ (هغه خلک چې د حق نه مخ اړوي،او ناشکري کوي) هغوی ښه پيژني نِعْمَتَ نعمت ٱللَّهِ د الله تعالی ثُمَّ بيا يُنكِرُونَهَا ترې انکار کوي وَأَكْثَرُ او اکثره هُمُ هغوی ٱلْكَٰفِرُونَ کافران دي﴿٨٣﴾ | |
| | |

روانه ترجمه:

(هغه خلک چې د حق نه مخ اړوي،او ناشکري کوي) هغوی د الله تعالی نعمتونه ډېر ښه پيژني خو(د کبر او ضد له مخې) ترې انکار کوي،او زياتره دوی کافران دي(د حق منلو ته تيار نه دي).

---

دا آيت د هغو خلکو حالت بيانوي چې:

د الله تعالی نعمتونه لکه ژوند،رزق،صحت،امن،......او عقل په ښه ډول پيژني

خو بيا هم:

يا يې الله تعالی ته نه منسوبوي،يا يې شکر نه ادا کوي،يا يې د بتانو،انسانانو،يا خپل زور او عقل نتيجه بولي.

(١) مثال:

«يو انسان وايي زه د ډاکټر او دوا د برکته ښه شوم»

خو دا نه وايې:

« الله تعالی شفا راکړه،ډاکټر وسیله وه »

(۲) مثال: يو کس وايي:

دا مال او دولت زما د سخت کار،کوشش او عقل نتیجه ده

خو دا نه وايې:

عقل،صحت ، طاقت او د کار توفیق الله تعالی راکړی.

(۳) مثال:

يو ځوان وايي زه ډېر هوښيار يم،ځکه کامیاب شوم

خو دا يې هير کړي چې:عقل،او حافظه د الله تعالی نعمتونه دي.

(۴)

« «نن خلک وايي ساینس او ټیکنالوجي هر څه کوي»

خو دا نه مني چې:د ساینس او ټیکنالوجي سبب،د انسان عقل د الله تعالی نعمت دی،او د کائناتو قوانین يې تخلیق دی.

﴿٨٤﴾ وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِن كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِينَ كَفَرُوا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ

| |
|---|
| وَيَوْمَ او په کومه ورځ نَبْعَثُ چې مونږ راپاڅوو مِن كُلِّ أُمَّةٍ د هر يو امت څخه شَهِيدًا يو شاهد(پيغمبر) ثُمَّ بيا (يعنې د پيغمبرانو د شاهدۍ ویلو څخه وروسته به) لَا يُؤْذَنُ اجازه نه |

| |
|---|
| ورکول کیږي لِلَّذِينَ هغو خلکو ته كَفَرُواْ چې کفر يې کړی دی( د خبرو کولو) وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ او نه به د توبې ويستلو(او د الله تعالی د راضي کولو)) موقع ورکول شي. (۸۴) |

روانه ترجمه:

د قيامت په ورځ چې مونږ د هر امت څخه يو شاهد(يعنې د هغوی نبي يا رسول په خپل امت د شاهدۍ ورکولو دپاره د حشر ميدان ته)راولوو،بيا به (د هغوی د شاهدۍ ورکولو وروسته) کافرانو ته نه(د خبرو کولو)اجازه ورکول کیږي،او نه به د توبې ويستلو(او د الله تعالی د راضي کولو) موقع ورکول کیږي.

---

وَيَوْمَ نَبْعَثُ «او هغه ورځ چې مونږ به راپاخوو.......»

تفسير:

«دا د قيامت ورځ ده،الله تعالی د خلکو پام را اړوي: چې دا ورځ هېره نه کړئ.»

مِن كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا «د هرامت څخه يو شاهد»

تفسير:

«د هر امت څه به د هغوی پيغمبر راوستل کیږي، پيغمبر به وايي:

ما دوی ته د الله تعالی پيغام پوره رسولی و.

ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ «بيا کافرانو ته اجازه نه ورکول کیږي»

تفسير:

کله چې هر پيغمبر په خپل امت شاهدي ورکړي، نو نور به بيا هغوی ته نه د خبرو کولو اجازه ورکول کیږي چې د دنيا پشان بهانې جوړې کړي

وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ «او نه به د توبې ویستلو موقع ورکول کیږي»

تفسیر:

یعنې د هغوی څخه به دا نه غوښتل کیږي چې:

توبه وباسي،ببښنه وغواړي،خپل عمل سم کړي،دا په دې معنې چې نه به د توبې چانس ورکول شي او نه به دا موقع ورکول شي چې خپل رب راضي کړي،ځکه چې د راضي کولو ځای دنیا ده،آخرت صرف د حساب ځای دی.

وَإِذَا رَءَا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ٱلْعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ﴿٨٥﴾

| |
|---|
| وَإِذَا او کله چې رَءَا ووینې ٱلَّذِينَ هغه خلک ظَلَمُواْ چې ظلم یې کړی وي ٱلْعَذَابَ عذاب فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ نو نه به د هغوی نه(عذاب) کم کړل شي وَلَا هُمْ او نه به هغوی ته يُنظَرُونَ مهلت ورکول شي﴿٨٥﴾ |

روانه ترجمه:

کله چې ظالمان عذاب ووینې،نو نه به یې عذاب کم شي،او نه به ورته د خلاصون دپاره مهلت ورکول شي.

وَإِذَا «او کله چې....»

تفسیر:

دا دقيامت وخت ته اشاره ده،هغه شيبه چې عذاب ښکاره شي.

رَءَا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ٱلۡعَذَابَ «هغه خلک چې ظلم یې کړی وي،عذاب ووینې.

تفسير:

تر ټولو لوی ظلم شرک او کفر دی یعنې د الله تعالی سره مخلوق شریکول او د حق څخه انکار کول.نو کله چې دا خلک عذاب په سترګو ووینې،نور شک ورته نه پاتې کیږي،خو ډیر به ناوخته وي،که هرڅومره زاری او خواری وکړي،خو کومه د عذاب فیصله چې د دوی په اړه په الهي عدالت کې شوې وي.د هغې مطابق به عذاب ورکول کیږي.

فَلَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمۡ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ﴿٨٥﴾«او نه به ترې عذاب کم شي،او نه به مهلت ورکول شي.

د دې مثال داسې دی:

تصور وکړه:

یو کس ته محکمې د محکمې قانون تشریح شوی،خبرداری ورکول شوی،خو هغه قصداً سرغړونه کوي.

د محکمې په ورځ:

قاضي سزا اعلانوي.

مجرم وایې: «لږ سزا کمه کړئ» «لږ وخت راکړئ»

خو قاضي وایې:

«وخت ختم شو» «فیصله دې عملي شي»

وَإِذَا رَءَا ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ شُرَكَآءَهُمۡ قَالُواْ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ شُرَكَآؤُنَا ٱلَّذِينَ كُنَّا نَدۡعُواْ مِن دُونِكَۖ فَأَلۡقَوۡاْ إِلَيۡهِمُ ٱلۡقَوۡلَ إِنَّكُمۡ لَكَٰذِبُونَ﴿٨٦﴾

وَإِذَا او كله چې (د قيامت په ورځ) رَءَا وګورې ٱلَّذِينَ هغه خلک أَشۡرَكُواْ چې شرک يې کړی و(په د نيا کې) شُرَكَآءَهُمۡ خپل(جوړ شوي) شريکان قَالُواْ نودوی(مشريکان) به ووايي: رَبَّنَا ای زمونږه ربه! هَٰٓؤُلَآءِ دغه (کسان) شُرَكَآؤُنَا زمونږ(هغه) شريکان دي ٱلَّذِينَ کوم چې كُنَّا نَدۡعُواْ بلل مونږ مِن دُونِكَۖ پرته د ستا نه فَأَلۡقَوۡاْ بيا به هغوی(شريکان) واپس کړي (جواب به ورکړي) إِلَيۡهِمُ دوی ته(مشريکانو ته) ٱلۡقَوۡلَ دا خبره إِنَّكُمۡ بېشکه تاسو لَكَٰذِبُونَ دروغجن يئ(ياستئ) ﴿٨٦﴾

روانه ترجمه:

کله چې (د قيامت په ورځ د حشر په ميدان کې) مشريکان هغه کسان وويني چې دوی به (د الله تعالى) شريکان ګڼل،نو دوی (يعنې مشرکان) به وايي: ای زمونږه ربه!دا هماغه(شريکان) دي چې مونږ پرته ستا څخه رابلل(دعا او عبادت به مو ورته کولو)،نو هغوی يعنې شريکان به ورته ووايي چې:بېشکه تاسو دروغجن ياستئ.

يعنې کله چې هغه ورځ راشي چې نه به هيڅ پټه خبره پټه پاتي شي او نه به دروغ د حقيقت ځای ونيسي.

د حشر په پراخه ميدان کې به مشرکان هغه بتان او انسانان وګورې چې په دنيا کې به يې مشکل کشا ګڼل،سجدې او عبادت به يې ورته کولو،او د الله تعالى د حکم او قانون په ځای به يې د هغو حکم او قانون منلو.

نو څه وخت چې د هغوی کمزورې او عاجزې ووينې،نو پوه به شي چې مونږ خو لا څه،دوی خو حتی د خپل ځان سره هم څه نشي کولای.نو زړونه به په درزيدو او پښې به په رپيدو شي،او د وارخطايي په حال کې به فرياد وکړي او وايې به: «ای زمونږه ربه! دا هغه بتان او انسانان دي چې مونږ يې پيروي کوله،ستا سره مو شريکان نيولي وو،ستا په ځای به مونږ د دوی مرسته غوښتله او عبادت به مو ورته کاوه»

يو درونده فيصله کوونکی جواب به راشي. غلط شريکان او معبودان به ورته مخ راواړي او ورته به ووايي:«تاسو دروغ واياست!

مونږ تاسو نه وئ مجبور کړي.

دا تاسو وئ چې مونږ ته مو د الله تعالی صفتونه ټاکلي وو،او دا لار مو پخپله خوښه غوره کړي وه»

نو مخکې د هغې ورځې څخه چې دا خبرې واورو بايد خپل عبادات او اعمال پاک کړو.

وَأَلْقَوْاْ إِلَى ٱللَّهِ يَوْمَئِذٍ ٱلسَّلَمَ ۖ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يَفْتَرُونَ﴿٨٧﴾

| |
|---|
| وَأَلْقَوْاْ او دوی به وړاندې کړي إِلَى ٱللَّهِ الله تعالی ته يَوْمَئِذٍ په هغې ورځ(د قيامت) ٱلسَّلَمَ ۖ تسليميدل وَضَلَّ او ورک به شي عَنْهُم د دوی نه مَّا هغه (شريکان او معبودان) كَانُواْ يَفْتَرُونَ چې دوی به په دروغو جوړول(په دنيا کې) ﴿٨٧﴾ |

روانه ترجمه:

او د قیامت په ورځ به دوی(کافران او مشریکان) الله تعالی ته بشپړه غاړه کیږدي،او هغه ټول دروغ به ترې ورک شي چې په دنیا کې به یې جوړول.

---

دلته د قیامت د یوې داسي شیبې انځور دی،چې هلته به هیڅ غږ نه وي،نه د انکار،نه د مخالفت،او نه د تکبر.

فرمایې:چې دوی ټول به د الله تعالی په وړاندې بشپړه غاړه کیږدي.

هغو خلکو چې په دنیا کې به یې سر نه ټیټاوه،د الله تعالی حکمونه به یې ردول،ځانونه یې ازاد او خپلواک ګڼل،د قیامت په ورځ به مجبوره شي،چې د عاجزۍ سرونه ټیټ کړي،او بشپړه تسلیمي وښیي.

خو ایا دا تسلیمېدل به ګټه وکړي؟

نه!

ځکه دا به د ایمان تسلیمېدل نه وي،دا به د ماتې تسلیمېدل وي.

او بیا فرمایې:هغه ټول دروغ به ترې ورک شي چې دوی به جوړول.

یعنې هغه ټول جعلي شریکان او معبودان،هغه ټول جوړ شوي قانونونه،هغه دروغجن باورونه او هغه پلمې چې په دنیا کې به یې د حق پر وړاندې جوړولي،په هغې ورځ به ټول ورک شي،هیڅوک به یې د دفاع او ملاتړ دپاره پاتي نشي.

<u>نو مخکې د دې څخه چې د قیامت په ورځ د مجبوریت نه تسلیم شو،باید نن د اختیار په حالت کې تسلیم شو،ځکه نن چې څوک الله تعالی ته غاړه کیږدي،سبا به هلته سرلوړی او خوشاله وي.</u>

ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ زِدۡنَٰهُمۡ عَذَابًا فَوۡقَ ٱلۡعَذَابِ بِمَا كَانُواْ يُفۡسِدُونَ (٨٨)

ٱلَّذِينَ هغه خلک كَفَرُواْ چې كافران دي وَصَدُّواْ او منع کوي (خلک) عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ د الله تعالی د لارې څخه زِدۡنَٰهُمۡ مونږ به زیات کړو دوی ته عَذَابًا یو عذاب فَوۡقَ دپاسه ٱلۡعَذَابِ (د بل) عذاب بِمَا كَانُواْ يُفۡسِدُونَ په سبب د هغه فساد چې دوی به(په دنیا کې)کولو (٨٨)

روانه ترجمه:

هغه کسان چې کفر يې وکړ،او خلک يې د الله تعالی د لارې څخه منع کړل،(نو) زیات به کړو مونږ دوی ته-- یو عذاب د(بل) عذاب دپاسه،د هغه فساد په سبب چې دوی به په دنیا کې کولو.

---

کفر یوازې دا نه دی چې څوک یوازې په ژبه د حق څخه انکار وکړي،بلکې دا هم کفر دی چې حق وپیژنل شي،خو بیا د دنیا،شهرت،عزت او ګټې دپاره پټ کړل شي.نن د الله تعالی د لارې څخه منع کول یوازې په زور نه کیږي،بلکې:د میډیا پواسطه هم کیږي،په سکرین هم کیږي،په خبرونو،ډرامو،فلمونو،او پوسټونو هم کیږي.

کله چې په فلم کې لمونځ وروسته پاتې وښودل شي،او ګناه ازادي معرفي شي،نو دا یوازې تفریح نه ده،بلکې دا د فکر جوړول دي.

کله چې په ټولنیزو شبکو کې د دین مسخره کول عادي شي،او حرام او بې حیایي د فیشن او رواج نوم واخلي،نو دا هم د الله تعالی د لارې منع کول دي.

همدارنګه ځیني خلک د دین په نوم خلک غولوي،او ځیني خلک د میډیا په نوم خلک غولوي،خو پایله یې یوه ده:

«خلک د الله تعالی څخه لرې کول»

کله چې یو کس د دین په نوم خلک زیارتونو او قبرونو ته هڅوي،چې مشکل کشا دي، او بل وایي:چې دین پریږده،ژوند ازادي ده،نو دواړه د حق پر وړاندې خنډ جوړوي.

نو ځکه الله تعالی فرمایي چې مونږ به دوی ته د یو عذاب دپاسه بل عذاب زیاتوو.

ولې؟

ځکه دا خلک یوازې خپله نه بې لارې کیږي،بلکې زرګونه ذهنونه خرابوي.

دا ایت مونږ ته خبرداری راکوي:

که ستا ژبه،ستا قلم،ستا کیمره او ستا سکرین خلک د الله تعالی څخه لرې کوي،نو دا د ډېر لوی مسؤلیت خبره ده.

نن کفر کله په انکار کې وي،کله د دین په جامه کې،او کله د میډیا په پرده کې.

نو باید چې ځان وساتو:

چې د دین پلورونکي نشو،او د ګمراهۍ خپرونکي نه شو.

وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِى كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا عَلَيْهِم مِّنْ أَنفُسِهِمْ ۖ وَجِئْنَا بِكَ شَهِيدًا عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ ۚ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ تِبْيَٰنًا لِّكُلِّ شَىْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ﴿٨٩﴾

وَيَوْمَ او هغه ورځ نَبْعَثُ چې راپورته کړو مونږ فِى كُلِّ أُمَّةٍ
په هر امت کې شَهِيدًا يو شاهد عَلَيْهِم په هغوی باندې مِّنْ
أَنفُسِهِمْ ۖ د هغوی د خپلو خلکو څخه وَجِئْنَا او راولو بِكَ تا
شَهِيدًا شاهد عَلَىٰ هَٰؤُلَآءِ ۚ په دې خلکو(د مکې په قريشو او اهل
عربو) و او(دې دپاره) نَزَّلْنَا نازل کړی مونږ عَلَيْكَ په تا
باندې ٱلْكِتَٰبَ دا کتاب(قرآن) تِبْيَٰنًا چې څرګنده(ښکاره)تشريح
ده لِّكُلِّ شَىْءٍ د هر شي دپاره وَهُدًى او هدايت دی وَرَحْمَةً
او رحمت دی وَبُشْرَىٰ او زيری دی لِلْمُسْلِمِينَ د مسلمانانو
دپاره. ﴿٨٩﴾

روانه ترجمه:

او هغه ورځ چې مونږ به په هر امت کې د هغوی د خپلو خلکو څخه يو شاهد راپورته کړو،او(ای محمد«صلی الله عليه وسلم») مونږ به تا په دوی(يعنې د مکې په قرشو او اهل عربو) باندې شاهد راولو.

او مونږ د دې دپاره په تا باندې دا کتاب(قرآن) نازل کړی،چې د هرشي څرګنده او روښانه تشريح،هدايت،رحمت او د مسلمانانو دپاره زيری دی.

---

دا آيت د قيامت د عدالت بشپړ نظام بيانوي.

امت يعنې څوک؟

امت يوازې د يو وخت خلک نه دي.

امت يعنې:

د رسول الله«صلی الله عليه وسلم» د زمانې صحابه.

د هغوی وروسته تابعين.

بيا علما،داعيان.او د قيامت پورې ټول مسلمانان.

يعنې د هرې زمانې مسلمانان د همدې امت برخه دي.

په قيامت کې د شاهدۍ اصل څه دی؟

په قيامت کې شاهدي داسې نه ده لکه په دنيا کې چې څوک د چا د پټ جرم ځارنه وکړي،او بيا پرې شاهدې ووايې:چې دا جرم يې کړی دی.

بلکې په قيامت کې شاهدې په دې بنسټ ده چې:

«آيا د الله تعالى حکم وررسول شوی و،که نه؟»

نو ځکه الله تعالى فرمايې:

«د خپلو خلکو څخه شاهد»

يعنې:هغه څوک چې خلکو ته يې حکم رسولی،چې دا وکړئ،او دا مه کوئ.

نبي«صلى الله عليه وسلم» څنګه شاهد دی؟ (ډېر مهم ټکی)

هغه عليه السلام دا نه وايې چې:

فلانې په پلانۍ ورځ لمونځ وکړ که نه.

بلکې د نبي عليه السلام شاهدي دا ده:

«ای الله! ما خپل امت ته ستا احکام ورسول،لمونځ مې وروښود،حلال او حرام مې ورته بيان کړل،قرآن مې وررساوه»

نو:

نبي عليه السلام د رسالت د اداء کولو شاهد دی،نه د امت د ټولو عملونو د څار شاهد.

نو د صحابه،علماوو او داعيانو رول څه دی؟

صحابه کرام:

رسول الله صلی الله علیه وسلم به په صحابه کرامو شاهد وي چې ما تاسو ته د دين احکام پوره درسولي و.

تابعين او وروسته نسلونه:

صحابه کرام به په دوی شاهدان وي.

علما او داعيان:

دوی به د خپل وخت پر خلکو شاهدان وي.

وايې به:

«ای الله!مونږ دې خلکو ته ستا پیغام رسولی وو،نصیت مو ورته کړی وو.

د نن مسلمانان:

زمونږ علما،خطيبان،او ښوونکي زمونږ په وړاندې د شاهدۍ مقام لري

ولې دا نظام عادلانه دی؟

تر څو هيڅ څوک دا ونه وايي چې:

«زه نه پوهېدم»

«چا راته نه وو ويلي»

«دين راته نه و رسيدلی»

په اخر کې یو ځل بیا باید تکرار شي چې:

امت د قیامت د ورځې پورې دی.

شاهدې د علم غیب پر بنسټ نه ده.

بلکې د پیغام د رسولو پر بنسټ ده.

مهم معلومات د علم غیب په اړه:

قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمْ عِندِى خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ(الانعام-۵۰)
ترجمه:ووایه:زه تاسو ته نه وایم چې زما سره د الله تعالی خزانې دي،او نه زه غیب پوهیږم.

وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ لَٱسْتَكْثَرْتُ مِنَ ٱلْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِىَ ٱلسُّوٓءُ(الاعراف-۱۸۸) ترجمه:که زه غیب پوهیدلی،نو ډیر خیر به مې ځان ته راټول کړی و،او هیڅ زیان به رانه رسیدلی.

نو بیا ځینې غیبي خبرې څنګه شوې ؟

عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِۦٓ أَحَدًا(۲۶) إِلَّا مَنِ ٱرْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ(الجن-۲۷)

ترجمه:الله تعالی په غیبو پوه دی،او خپل غیب هیڅ چا ته نه ښیې،مګر هغه رسول ته چې خوښ یې کړي.

نو نبي علیه السلام د خپل ذات له مخې غیب نه پوهیږي،خو الله تعالی ځینې غیبي خبرونه ورښیې.

دا خبره ولې مهمه ده؟

ځکه چې:

علم غیب د الله تعالی ځانګړی صفت دی.نو:

که څوک نبي علیه السلام یا بل انسان ته مطلق علم غیب ورکړي---- دا غلو (افراط) دی.

او که نبي علیه السلام ته د الله تعالی د ورکړل شوو غیبي خبرونو څخه انکار وکړي------- دا تفریط دی.

اسلام منځنی او عادلانه لار غوره کوي، لنډه جمله: «نبي «صلی الله علیه وسلم» د الله تعالی رسول دی،نه د الله تعالی شریک.غیب صرف د الله تعالی صفت دی،او یوازې الله تعالی پرې پوهیږي،رسول ته یوازې هغه ښودل کیږي چې الله تعالی وغواړي.

۞ إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَٱلۡإِحۡسَٰنِ وَإِيتَآيِٕ ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَيَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِ وَٱلۡبَغۡيِۚ يَعِظُكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ(٩٠)

۞ إِنَّ بېشکه ٱللَّهَ الله تعالی يَأۡمُرُ امر کوي بِٱلۡعَدۡلِ په عدل سره(چې عدل کوئ) وَٱلۡإِحۡسَٰنِ او په احسان سره(چې احسان کوئ) وَإِيتَآيِٕ او په ورکولو(د حقونو) سره ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ خپلوانو ته وَيَنۡهَىٰ او منع کوي عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ د بي حیایی نه وَٱلۡمُنكَرِ او د ناروا کارونو نه وَٱلۡبَغۡيِۚ او د ظلم(او سرکشی)نه يَعِظُكُمۡ هغه «جل جلاله»نصیحت کوي تاسو ته لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ دې دپاره چې تاسو پند واخلئ.(٩٠)

روانه ترجمه:

بېشکه:الله تعالی حکم کوي په انصاف،او په احسان او خپلو خپلوانو ته د حق په ورکولو سره؛

او منع کوي د بې حیایۍ،او له بدۍ او د ظلم اوتیري څخه؛

او الله تعالی تاسو ته نصیحت کوي،د دې لپاره چې پند واخلئ.

---

که د ټول قرآن څخه یوازې یو آیت د انسان د ژوند د سمولو دپاره کافي وي ،نو هغه همدا آیت دی. دا د انسان د ژوند اساسي قانون دی.

(۱)

<u>الله تعالی د عدالت او انصاف حکم کوي؛</u>

خو انصاف یوازې په محکمه کې نه دی. انصاف دا دی: چې په کور کې د اولاد تر منځ فرق ونشي،په دوکان کې وزن کم نشي،په دفتر کې د رشوت او زور د لارې د چا حق ونه خوړل شي،په دین کې د الله تعالی صفات او د ربوبیت حق بتانو او انسانانو ته ور نه کول شي. نن نړۍ کې ولې عدالت او انصاف نشته؟ ځکه چې انسان انصاف پریښی،او خپل نفس یې قاضي ګرځولی.

(۲)

<u>الله تعالی د احسان حکم کوي</u>

احسان دا نه دی چې یوازې حق ورکړي.احسان دا دی: چې بخښنه وکړي،که څه هم بدل اخستلای شې،مرسته وکړي که څه هم مجبور نه یې، نرمې وکړي که څه هم سختي کول درته اسانه وي.

«نن انسان وایي: دا زما مسؤلیت نه دی» خو «الله تعالی فرمایي:احسان د مؤمن نښه ده»

(۳)

اللہ تعالی د خپلوانو د حقونو د ورکولو حکم کوي.

ا- خپلوانو ته د هغوی حق ورکول دا«مهرباني» نه ده،بلکې د هغوی حق دی.

ب- خپلوان څوک دي؟ مور او پلار،ښځه او اولاد،ورونه او خویندې،تره،ماما،ترور،عمه او نور نږدې خپلوان(د استطاعت مطابق)

ث- د خپلوانو اساسي حقونه:

مالي حق: که ته شتمن یې،او خپلوان دې محتاج وي، نو: مرسته کول احسان نه،بلکې فرضي حق دی. مثلاً:خور کونډه ده محتاج ده، ورور توان لري، دلته مرسته کول حق دی،نه خیرات.

د توجه حق:سلام کول،پوښتنه کول،دوستي نه پرې کول.

د عزت او درناوي حق: بد رد نه ویل،سپکاوی نه کول،په خلکو کې یې بد نه یادول.

د مرستې حق: په ناروغۍ،غم او بې وسۍ کې د خپلوانو په تا حق دی،دلته چوپ پاتې کیدل د حق ضایع کول دي

که په لنډ ډول ووایو:خپلوانو ته حق ورکول،معنا دا ده:چې د هغوی اړتیا د پامه مه غورځوه،هغوی د پردیو نه مخکې دي،هغه عبادت چې خپلوان په کې هیر شي نیمګړی دی.

(۴)

الله تعالی د بې حیایۍ څخه منع کوي.

نن بې حیایۍ د فیشن نوم اخستئ،ګناه ته ازادي وایې،او فحاشی ته هنر وایې.

خو الله تعالی فرمایې:دا فحشاء ده،انسان سپکوي.

(۵)

الله تعالی د بدۍ او ظلم څخه منع کوي.

بدي یوازې قتل نه دی،بلکې بدي دا هم ده چې: دروغ عادي شي،حق پټ شي،کمزوري وځپل شي.

ظلم دا نه دی چې یوازې توره راپورته شي،دا هم ظلم دی چې سړی په حق پوهیږي خو چوپ پاتې شي.

وَأَوۡفُواْ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ إِذَا عَٰهَدتُّمۡ وَلَا تَنقُضُواْ ٱلۡأَيۡمَٰنَ بَعۡدَ تَوۡكِيدِهَا وَقَدۡ جَعَلۡتُمُ ٱللَّهَ عَلَيۡكُمۡ كَفِيلًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا تَفۡعَلُونَ (٩١)

| |
|---|
| وَأَوۡفُواْ او پوره کړئ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ په عهد د الله تعالی سره إِذَا هر کله چې عَٰهَدتُّمۡ تاسو عهد کوئ وَلَا تَنقُضُواْ او مه ماتوئ ٱلۡأَيۡمَٰنَ قسمونه بَعۡدَ وروسته تَوۡكِيدِهَا د محکم کولو د هغوی(وروسته د کلک قسم خوړلو څخه د الله په نوم) وَ په داسې حال کې چې: قَدۡ یقیناً جَعَلۡتُمُ ګرځولی تاسو ٱللَّهَ الله تعالی عَلَيۡكُمۡ په خپلو ځانونو باندې كَفِيلًاۚ شاهد إِنَّ بېشکه ٱللَّهَ الله تعالی يَعۡلَمُ پوهیږي مَا په هغه څه تَفۡعَلُونَ چې تاسو یې کوئ (٩١) |

ترجمه:

او پوره کوئ ژمنه د الله تعالی سره کله چې ژمنه کوئ، او قسمونه د اخستلو(قسم کولو/قسم خوړولو) څخه وروسته مه ماتوئ په داسې حال کې چې تاسو الله تعالی په خپل ځان شاهد نیولی وي،بېشکه الله تعالی ستاسو د ټولوعملونو څخه باخبر دی.

.................................................................................

.................................................................................

ته هره ورځ،هره لحظه،هره پریکړه او هر لمونځ کې د الله تعالی سره عهد کوې،کله چې ته وایې «إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ»-ته د الله سره عهد کوې چې یا الله زه خاص تا ته عبادت کوم او یوازې ستا څخه مرسته غواړم.

کله چې وایې:«لا اله الا الله»

هماغه شیبه دې وویل چې :یا الله! زه ستا یم،ستا حکم منم،ستا قانون منم،دا ساده جمله نه ده ،دا دژوند تړون دی. خو راځو حقیقت ته:

نن مونږ:

کلمه وایو،خو احکام نه منو.قرآن لولو ،خو فیصله پرې نه کوو.الله تعالی رب بولو،خو قانون یې نه منو.

نو دا څه دي؟ دا د عهد ماتول دي.

تاجر وایې:«په الله قسم دی چې ګټه نشته»،خو:په تله کې کمی وي،په مال کې عیب وي،او دروغ یې د سودا وسیله وي،

دا یوازې اخستونکی نه غولوې،بلکې د الله تعالی سره خپل عهد ماتوې.

ځینې خلک:

د دين په نوم چندې ټولوي،د جنت ضمانتونه ورکوي،خلک د زيارتونو،پيرانو او قبرونو سره تړي،خو د خلکو زړونه د الله تعالى څخه لرې کوي،حقيقت دا دى چې:دا د الله تعالى د عهد سره ښکاره خيانت دى.

د میډیا زمانه ---- د عهد نوې جنايتونه:

نن:

فحشا ته«تفريح» وايې،سود ته«اقتصادي ضرورت» وايې،بې حيايۍ ته«ازادي» وايې،حرامو ته فيشن وايې، او دا هر څه د پوسټونو او ويډيو ګانو د لارې خپروي.

اى هغه ځوکه چې ته دا لايک او شريکوې! ته يوازې لايک نه کوې،بلکې ته د الله تعالى سره خپل عهد ماتوي.

اى هغه کسه! خصوصاً اى ځوانه! ته چې وايې: «زما زړه پاک دى»

خو:

سترګې دې حرام ګورې،ژبه دې دين مسخره کوې،موبايل دې د فحشا ډک دى،که زړه دې پاک واى،نو ژوند به دې دومره ناپاک نه و.عبادت او خيراتونه دې د تصويرونو او په ميډيا کې خلکو ته د ځان ښودلو دپاره دي، دا عبادت نه دى ،دا ريا او عهد ماتول دي.

الله تعالى:

ستا ښکاره هم ويني،ستا پټ نيت هم ويني،ستا خاموش خيانت هم ويني.

ته خلک غولولاى شي،خو الله تعالى ته دوکه نشي ورکولاى.

که نن شپه مرګ راشي:

ستا موبایل به درسره قبر ته ولاړ شي؟ که ستا عهد؟الله تعالی ګناه ببنې،خو د دین په نوم دروغ نه ببني.

وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّتِي نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِنۢ بَعْدِ قُوَّةٍ أَنكَٰثًا تَتَّخِذُونَ أَيْمَٰنَكُمْ دَخَلًۢا بَيْنَكُمْ أَن تَكُونَ أُمَّةٌ هِىَ أَرْبَىٰ مِنْ أُمَّةٍ ۚ إِنَّمَا يَبْلُوكُمُ ٱللَّهُ بِهِۦ ۚ وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ مَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ(۹۲)

وَلَا تَكُونُواْ او مه کیږئ كَٱلَّتِي پشان د هغې ښځې نَقَضَتْ چې سپړل یې غَزْلَهَا تارونه خپل مِنۢ بَعْدِ وروسته د قُوَّةٍ مظبوطو(جوړولو)څخه أَنكَٰثًا توټې توټې تَتَّخِذُونَ ګرځوئ تاسو (خورئ تاسو) أَيْمَٰنَكُمْ قسمونه دَخَلًۢا (د یو بل د) د دوکه کولو دپاره) بَيْنَكُمْ په خپلو منځونو کې أَن تَكُونَ تر څو چې شي أُمَّةٌ هِىَ هغه یوه ډله أَرْبَىٰ زیاته اوچته(او غالبه په کومه کې چې ستاسو ګډه ده) مِنْ أُمَّةٍ ۚ د (هغې) ډلې څخه(چې ستاسو ګډه په کې نه وي،اګر که په حقه هم وي،یعنې تاسو صرف خپله ګډه په نظر کې نیسئ نه حق،لیکن) إِنَّمَا ببشکه صحیح خبره دا ده بله نه ده يَبْلُوكُمُ چې تاسو امتحانوي ٱللَّهُ الله تعالی بِهِۦ ۚ په دې سره(چې آیا تاسو د حق طرف نیسئ که د خپلو ګټو او خواهشاتو؟) وَلَيُبَيِّنَنَّ او خامخا به ښکاره کړي لَكُمْ تاسو ته يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ د قیامت په ورځ مَا هغه څه كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ چې تاسو پکې اختلاف کوئ.(یعنې ټول به یوه شئ چې دا هرڅه ستاسو د امتحان سوالونه وو،او د ټولو صحیح جوابونه به هلته درته وښودل شي (۹۲)

روانه ترجمه:

او د هغې ښځې غوندې مه کیږئ چې تارونه به یې کلک تاوول،بیا به یې بیرته شکول او ټوټې ټوټې به یې کړل،او تاسو خپل قسمونه په خپلو

منځونو کې یو بل ته د دوکه کولو دپاره کاروئ،د دې دپاره چې هغه ډله زیاته اوچته(او غالبه شي په کومه کې چې تاسو خپله ګټه ګورئ)،په هغې(بله) ډله باندې(چې تاسو ته پکې خپله ګټه نه ښکارې،اګر که په حقه هم وي،یعنې تاسو صرف خپله ګټه په نظر کې ده،نه حق،خو پرته د شک څخه صحیح خبره دا ده چې:الله تعالی ستاسو څخه امتحان اخلي،تاسو امتحانوي په دې خبره(چا آیا تاسو د حق طرف نیسئ او که د خپلو ګټو او خاهشاتو؟) او بېشکه د قیامت په ورځ به الله تعالی هغه هرڅه تاسو ته ښکاره کړي،چې تاسو به په دنیا کې پکې اختلاف کولو.(یعنې ټول به پوه شئ چې دا هر څه په دنیا کې ستاسو د امتحان سوالونه وو،او د ټولو سوالونو صحیح جوابونه به هلته دروښودل شي،او د جنت او دوزخ فیصله به ستاسو د جوابونو په اساس کیږي)

---

د ښځې تارونه جوړول او پرته د څه ګټې اخستلو بیرته شکول،دا د اکثره مسلمانانو هغه بې ثباته وعدې دي چې:پینځه وخته یې د الله تعالی سره په هر لمونځ کې کوي:چې ته مې رب یې، زه دې بنده یم،ستا حکمونه منم،صرف ستا عبادت کوم،او صرف ستا څخه مرسته غواړم............خو د سلام د ګرځولو سره سمدستي اکثره مسلمانان یو په یو امام خپلې او مقتدیان خپلې وعدې ماتوي، دروغ به شروع شي،بدعات به شروع شي،د پوهې سره به د ګټې دپاره په حق چوپ پاتي کیږي ، دوکاندار به په دکان کې د پخوا پشان په دروغو قسمونه شروع کړي،حکومتي کار کونکې د مدیر ،مامور او ریس صاحبانو به په یو لاس کې تسبح وي او په بل لاس به رشوت اخلې،زورو به په غریبو هماغسې

ظلم کوي لکه د لمونځ څخه مخکې.........،الله تعالی به ورته ګورې او بنده به ورسره خپلې وعدې ماتوي.

همدارنګه اکثره مسلمانان په خپل منځې کاروبار کې د الله په نوم وعدې او قسمونه یوازې یو دبل د غولولو او دوکه کولو دپاره کوي،سیایست مدار به خلکو ته وایې:زه ستاسو سره وعده او د الله په نوم قسم خورم چې زه به ستاسو خدمت کوم،خو کله چې خلک ووټ ورکړي،کامیاب شي،نو ټول قسمونه مات کړي،او ټول خدمت یوازې خپلو خواهشاتو،خپتې،او خپلو اولادونو ته کوي عام خلک یې څوکیدار د دروازې څخه دننه هم نه پریږدي،خپلوان یې مقرر شي او ولس بې برخې پاتې شي.........

اکثره خلک یوازې د هغې ډلې طرفداری او برترۍ غواړي چې ګټه یې پکې وي، اګر که په ناحقه هم وي،خو په مقابیل کې بله ډله که په حقه هم وي،خو که ګټه یې نه وي،د هغې کمزورې او د منځه وړل غواړي،خو حقیقت دا دی چې دا هرڅه د الله تعالی امتحان دی،الله تعالی نه د چا نیکۍ ته احتیاج دی او نه د چا د بدۍ پروا لري،دا ټول د امتحان سوالونه دي،او د قیامت په ورځ به الله تعالی د ټولو سوالونو صحیح جوابونه انسانانو ته وروښیې.

وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَلَٰكِن يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ ۚ
وَلَتُسْـَٔلُنَّ عَمَّا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ(٩٣)

| |
|---|
| وَلَوْ او که شَآءَ ٱللَّهُ الله تعالی غوښتلي وو لَجَعَلَكُمْ خامخا به یې ګرځولي وئ تاسو أُمَّةً وَٰحِدَةً یو امت (یوه ډله) وَلَٰكِن خو يُضِلُّ هغه«جل جلاله» ګمراه کوي مَن هغه څوک يَشَآءُ چې هغه«جل جلاله» یې وغواړي وَيَهْدِى او هغه«جل جلاله» هدایت کوي مَن هغه چا ته يَشَآءُ ۚ چې هغه«جل جلاله» یې وغواړي |

وَلَتُسْـَٔلُنَّ　او خامخا به تاسو پوښتل کيږئ　عَمَّا　د هغه څه په اړه
كُنتُمْ تَعْمَلُونَ　چې تاسو يې کوئ(۹۳)

روانه ترجمه:

او که الله تعالی غوښتلي وای(چې په تاسو کې دې اختلاف نه وي) نو ټول به يې يو امت ګرځولي واست(وئ).(خو د الله تعالی د حکمت تقاضا وه چې داسې يې ونکړل،ځکه چې دنيا د امتحان د پاره پيدا شوي،او د امتحان دپاره دا هرڅه اختلاف،ظلم،بې انصافې........ضرور دي،او که دا نه وو نو بيا خو په کې امتحان نه اخستل کيدلو)

خو د الله تعالی چې چا ته خوښه وشي ګمراه کوي يې،او چا ته چې يې خوښه وشي لار ورښيي،او خامخا به ستاسو څخه ستاسو د کړنو پوښتنه وشي.

---

کله چې بنده د نیکۍ اراده وکړي،او د الله تعالی علم او حکمت يې د پوره کولو فیصله وکړي نو د الله تعالی د ارادې پواسطه د هغه نیکه اراده پوره شي،ځکه چې بنده خپله اراده پخپله نشي پوره کولای،همدارنګه که یو سړی پخپله د ګمراهۍ ارده وکړي،او د الله تعالی علم او حکمت يې د پوره کولو فیصله وکړي چې د ګمراهۍ مستحق دی،نو بیا د الله تعالی د ارادې پواسطه يې د ګمراهۍ اراده پوره کیږي،ځکه چې د الله تعالی د ارادې څخه پرته په کائناتو کې یوشی هم نشي خوځیدلای،او نه څه کولای شي،په حقیقت کې ټول کارونه د الله تعالی د ارادې پواسطه کیږي،او د انسان سره حسا ب د هغه د خپلې ارادې/اختیار په اساس کوي.

وَلَا تَتَّخِذُوٓاْ أَيۡمَٰنَكُمۡ دَخَلَۢا بَيۡنَكُمۡ فَتَزِلَّ قَدَمُۢ بَعۡدَ ثُبُوتِهَا وَتَذُوقُواْ ٱلسُّوٓءَ بِمَا صَدَدتُّمۡ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۖ وَلَكُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ(۹۴)

| |
|---|
| وَلَا تَتَّخِذُوٓاْ او مه ګرځوئ(او مه کاروئ) أَيۡمَٰنَكُمۡ قسمونه خپل دَخَلَۢا (د یوبل) د دوکه کولو لپاره بَيۡنَكُمۡ په خپلو منځونو کې فَتَزِلَّ هسې نه چې وښویږي قَدَمُۢ کوم قدم بَعۡدَ وروسته (پس) ثُبُوتِهَا د ټینګښت د هغه نه وَتَذُوقُواْ او تاسو مزه وڅکئ ٱلسُّوٓءَ د ډېر بد انجام بِمَا په دې سبب صَدَدتُّمۡ چې تاسو خلک منع کول عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۖ د الله تعالی د لارې څخه وَلَكُمۡ او ستاسو دپاره عَذَابٌ عَظِيمٞ ډېر لوی عذاب دی.(۹۴) |

ترجمه:

او په خپلو منځونو کې د یوبل د دوکه کولو او فساد لپاره قسمونه مه کاروئ

(هسې نه چې ستاسو د خرابو اخلاقو په سبب د کوم کس چې اسلام منلو او ایمان راوړلو ته اماده دی،بیرته يې:)

پېښي د ټيګښت ښخه وروسته وښوېږي

(او ايمان رانوړي،يعني:د اسلام ښخه متاثير شوى وي،د اسلام صداقت يې منلى وي،نژدې وي چې کليمه ووايې او مسلمان شي،خو کله چې دروغجن، قسم خواره او په دين معامله کوونکي مسلمانان وګورې،نو زړه يې بيرته مات شي او وايې:که دا دين وي نو مونږ يې نه غواړو،او دا ټر ټولو لوى تاوان دى ځکه د داسې کسانو په سبب نور خلک د الله تعالى د لارې ښخه اوړي.،نو که داسې وکړئ:)

په دې سبب چې د الله تعالى د لارې ښخه مو خلک منع کول د ډېر بد انجام مزه به وڅکئ

(يعني د دنيا ذلت،د خلکو بې باوري،د زړه بې سکوني،او ټر ټولو ښخه سخته: د آخرت سزا،ځکه چې په آخرت کې:) ستاسو لپاره ډېر لوى عذاب دى.

وَلَا تَشۡتَرُواْ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلًاۚ إِنَّمَا عِندَ ٱللَّهِ هُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٩٥﴾

وَلَا تَشۡتَرُواْ او تاسو مه اخلئ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ د الله تعالى په عهد سره ثَمَنٗا قَلِيلًاۚ لږه بيه(دنياوي مال او دولت) إِنَّمَا بېشکه حقيقت دا دى چې:هغه څه عِندَ ٱللَّهِ چې د الله تعالى سره دي هُوَ هغه خَيۡرٞ ډېر بهتر دي لَّكُمۡ تاسو ته إِن که كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ تاسو پوهيږئ.(٩٥)

او د الله تعالى په عهد سره لږه بيه(يعني د دنيا مال) مه اخلئ

(يعني:مسلمان چې هر ځل کليمه وايې او لمونځ کوي،د الله تعالى سره وعده کوي چې:ته مې رب يې،ته مې رازق يې،زه دې بنده يم،ستا ټول

حکمونه منم ،خاص تا ته عبادت کوم او خاص ستا ښخه مرسته غواړم.نو الله تعالی فرمايي:بنده! وعده خلافي مه کوه،زما حکمونه د دنیا د ناچیزه او فاني مال او دولت په مقابل کې مه خرڅوه.

د لړې بيې مطلب دا دی:

که څوک د رشوت،څوکۍ،شهرت،ګټې او د خلکو د خوشالۍ دپاره:حق پریږدي ،وعده ماتوي،دروغ وايې،نو دا د الله تعالی د لوظ خرڅول دي.)

او هغه څه چې د الله تعالی سره دي هغه ستاسو دپاره ډېر بهتر دي.که چیرته تاسو پوهیږئ.

(یعني د الله تعالی حکمونه او وعدې د فاني دنیا دپاره مه ماتوئ،کوم اجر،عزت او کامیابي چې ستاسو د پاره د الله تعالی سره ده هغه د دنیا د مال، دولت او کامیابۍ ښخه ډیره بهتره ده،اګر که دلته تاسو ته تاوان هم ښکارې خو اخر انجام یې ډېربهتر یعنې د جنت لوی نعمت .)

مَا عِندَكُمْ يَنفَدُ ۖ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ بَاقٍ ۗ وَلَنَجْزِيَنَّ ٱلَّذِينَ صَبَرُوٓاْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ(۹۶)

مَا هغه څه عِندَكُمْ چې ستاسو سره دي يَنفَدُ ۖ ختمیږي وَمَا او هغه څه عِندَ ٱللَّهِ چې د الله تعالی سره دي بَاقٍ ۗ پاتې کیدونکي دي وَلَنَجْزِيَنَّ او مونږ به خامخا بدل ورکړو ٱلَّذِينَ هغو خلکو ته صَبَرُوٓاْ چې صبر یې کړئ أَجْرَ د اجر هُم د هغوی بِأَحْسَنِ مَا (د هغوی د ټولو عملونو نه)،د ډېر ښه عمل په حساب(مطابق/معیار) كَانُواْ يَعْمَلُونَ چې هغوی کول.(۹۶)

مخکې ذکر شو چې د دنیا د دولت،عزت او شهرت دپاره د الله تعالی حکمونه او وعدې مه ماتوئ،اوس فرمايي:ځکه چې د دنيا ټول شيان فاني دي،يا به يې تاسو پرېږدی او يا به تاسو پرېږدي.فرمايي:

مَا عِندَكُمۡ يَنفَدُ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ بَاقٖ «هغه څه چې ستاسو سره دي ختميدونکي دي،او هغه چې د الله تعالی سره دي،همیشه او تل پاتي دي» یعني:

ستاسو کورونه، ښځې، اولادونه، جایدادونه، کاروبارونه، څوکۍ، عزت او شهرت ـــ دا ټول فاني دي.

يوه ورځ، که ستاسو خوښه وي که نه، يا به تاسو دا پرېږدې او يا به دا تاسو پرېږدي.

خو د الله تعالی جنت او د هغه نعمتونه تل پاتې او همیشه دي:

نو ولې د دې څو ورځنيو، مؤقتي شيانو په بدل کې تل پاتي نعمتونه خرڅوئ؟

وَلَنَجۡزِيَنَّ ٱلَّذِينَ صَبَرُوٓاْ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ(۹۶)

«او حتماً به مونږ هغو خلکو ته چې صبر يې کړئ،د هغوی اجر د هغوی د ټولو څخه د ډېر غوره ښه عمل په حساب ورکوو»

(د دې مثال داسې دی لکه یو سړی چې یوه ورځ د ۱۰۰ افغانیو کار وکړي،او بله ورځ د ۸۰ افغانیو کار وکړي،او بله ورځ د ۷۰ افغانیو کار وکړي،خو ماک ورته پیسې د هماغې ورځې په حساب ورکړي،په کومه يې چې ډېر ښه کار کړی دی یعني د هرې ورځې ۱۰۰ سل افغانۍ ورکړي،همداسې الله تعالی صابرينو ته هم، مثلاً که لس ښه عملونه يې کړي وی،د هغه عمل په حساب د ټولو ثواب ورکوي کوم يو چې په لس واړو عملونو کې ډېر ښه او د زیات ثواب مستحق وي،چې دا د الله تعالی

فضل دی.صبر سخت دی ځکه يې ثواب هم زيات دی،خو صبر دا نه دی چې ځوک په مخ څپیړه درکړي او ته ورته بل مخ هم ونیسي،یا په حق چوپ پاتي شي،صبر دا دی چې ته د الله د حکم خلاف کار ونکړي که څه هم نفس او ګټه دې ورته هڅوي،صبر په حق باندې کلک ودریدل دي،لمونځ کوې که څه هم چې ستړی يې،حلال خورې که څه هم ګټه دې کمه وي،وعده پوره کوي که څه هم تاوان دې وي،یو دوکاندار چې دروغ نه وايي دا صبر دی.رشوت مخې ته وي خو ته يې نه اخلې،حرام اسانه وي خو ته ترې تیریږي،ظلم عام وي خو ته انصاف کوي،ناروغي راشي،تاوان راشي،اولاد مال یا ځوکی لاړه شي خو ته شکایت نکوي بلکې د الله تعالی امتحان يې ګڼې،دا صبر دی.

مَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةً طَيِّبَةًۖ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ(۹۷)

| |
|---|
| مَنْ هرڅوک چې عَمِلَ صَٰلِحًا چې نیک عمل وکړي مِّن ذَكَرٍ د نارینه څخه أَوْ یا أُنثَىٰ د ښځې څخه وَ خو په داسې حال کې هُوَ چې هغه مُؤْمِنٌ مؤمن وي فَلَنُحْيِيَنَّهُۥ نو مونږ به خامخا ژوند ورکړو هغه ته حَيَوٰةً طَيِّبَةًۖ پاک ژوند وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ او مونږ به حتماً بدل ورکړو هغوی ته(په اخرت کې) أَجْرَهُم د اجر د هغوی بِأَحْسَنِ مَا (د هغوی د ټولو عملونو نه)،د ډېر ښه عمل په حساب(مطابق/معیار) كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ چې هغوی به کول. (۹۷) |

مَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةً طَيِّبَةًۖ

«هر څوک چې نیک عمل وکړي،که نارینه وي یا ښځه،په داسې حال کې چې مؤمن وي،نو خامخا به مونږ هغه ته پاک ژوند ورکړو،»

(دلته شرط ایمان او نیک عمل دی، نه: جنس،نه نسب،نه مال.

«حياة طيبة» يعني پاک،ارام او مطمئن ژوند – که څه هم مال لږ وي.خو زړه ارام وي،ضمیر مطمئن وي،الله تعالی راضي وي.دا جنت نه دی،خو د جنت مخکینی خوند دی.په روزمره ژوند کې ګورو: یو غریب، خو ایماندار سړی --- ژوند یې ارام وي.

او یو شتمن،خو حرامخور -- زړه یې بې قراره وي.

نیکانو او ایماندارو ته اجر څنګه ورکول کیږي؟

وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ(۹۷)

«او خامخا به هغوی ته د هغوی اجر د هغوی،د ترټولو غوره عمل په حساب ورکوو.»

(دا خبره په مخکې ایت کې واضح شوې یعني: د دې مثال داسې دی لکه یو سړی چې یوه ورځ د ۱۰۰ افغانیو کار وکړي،او بله ورځ د ۸۰ افغانیو کار وکړي،او بله ورځ د ۷۰ افغانیو کار وکړي،خو ماک ورته پیسې د هماغې ورځې په حساب ورکړي،په کومه یې چې ډېر ښه کار کړی دی یعني د هرې ورځې ۱۰۰ سل افغانۍ ورکړي،همداسې الله تعالی صابرینو،نیکانو او مؤمنانو ته هم، مثلاً که لس ښه عملونه یې کړي وی،د هغه عمل په حساب د ټولو ثواب ورکوي، کوم یو چې په لس واړو عملونو کې ډېر ښه او د زیات ثواب مستحق وي،چې دا د الله تعالی فضل دی.)

فَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ(۹۸)

فَإِذَا او كله چې قَرَأۡتَ ٱلۡقُرۡءَانَ ته قرآن لولې فَٱسۡتَعِذۡ نو پناه غواړه بِٱللَّهِ په الله تعالى سره مِنَ د ٱلشَّيۡطَٰنِ شيطن ٱلرَّجِيمِ رټل شوي نه.(۹۸)

فَإِذَا قَرَأۡتَ ٱلۡقُرۡءَانَ فَٱسۡتَعِذۡ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ(۹۸)

«نو كله چې ته قرآن لولې،نو په الله تعالى سره پناه غواړه(يعني اعوذ باالله وايه) د شيطن رټل شوي نه».

شيطان څنګه كار كوي؟

مثلاً: ته قرآن لولې، خو:موبايل دې مخې ته پروت دى،پيغامونه راځي،ذهن دې بلې خوا ته ځي،شيطان وسوسه در اچوي:يوه شيبه وګوره،بيا به يې ولولې.

يا: قرآن ته ننوځې،خو فيصله دې لا د مخه كړي وي چې هغه آيتونه به لولې كوم چې ستا نظر ثابت كړي،شيطان دلته وايي :يوازې همدا آيتونه ولوله نور پرېږده.

يا ته قرآن لولې،خو: يوازې د نورو د اصلاح دپاره،نه د ځان دپاره، شيطان درته وايي:ته بالكل سم يې ،دا آيتونه د نورو دپاره دي.

ځيني خلک قرآن لولي،خو: د سياست،شهرت او د بحث د ګټلو دپاره،شيطان دلته وايي: «قرآن ستا وسله ده».

نو دلته اعوذ بالله دا معنى لري چې:

يا الله! تمركز فكري راكړه،يا الله! ما د تعصب څخه وساته،يا الله! دا آياتونه لومړى په ما تطبيق كړه، يا الله! قرآن زما لاربنود كړه نه وسله.

ولې ځيني خلک قرآن لولي،خو اثر نه اخلي؟

(۱)

ډېر خلک قرآن د رسم یا د خلکو د نظر د جلبولو دپاره لولي چې خلک وواېي چې دا خو ډېر دینداره دی،خو په زړه کې یې د اصلاح او زده کړې هدف نه وي،نو دا تلاوت زړه ته نه ننوزي.

(۲)

کله چې قرآن لولي خو ذهن دې په موبایل،تلویزون یا نورو شیانو کې مصروف وي.

(۳)

قرآن یوازې د لوستلو کتاب نه دی،د عمل کتاب دی،که څوک یوازې آیتونه لولي،او په ژوند کې یې عملي نکړي،اثر نکوي،مثلاً:لکه څوک چې د دروغو څخه د منع کیدلو ایت تلاوت کوي خو په خپله دروغ وایې.

(۴)

شیطان وسوسه اچوي چې سړی ووایې:چې «دا آیت زما دپاره نه دی» «زه ښه سم یم،نور خلک دې ته اړتیا لري»

(۵)

چې قرآن یوازې د ژبې د تمرین یا تکرار دپاره لوستل کیږي،په معنی نه پوهیدل،غور فکر او تدبر نه کول، هره ورځ قرآن لولي خو یوازې لفظونه تکراروي،په ژوند کې یې نه عملي کوي.

حل څه دی؟

قرآن یوازې هغه وخت اثر کوي چې د زړه،زهن او عمل سره یوځای وي،نیت سم وي،تمرکز،تدبر او عمل،او د تلاوت څخه د مخه د اعوذ بالله ویل تر څو د شیطان وسوسې بندې شي.

إِنَّهُۥ لَيۡسَ لَهُۥ سُلۡطَٰنٌ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ(٩٩)

| |
|---|
| إِنَّ بېشکه ہُ هغه(یعني شیطان) لَيۡسَ نشته لَهُۥ هغه ته(یعني شیطان ته) سُلۡطَٰنٌ هیڅ زور(اختیار) عَلَى په ٱلَّذِينَ هغو خلکو ءَامَنُواْ چې ایمان یې راوړئ وَ او (د ایمان راوړلو سره سره) عَلَىٰ په رَبِّهِمۡ خپل رب يَتَوَكَّلُونَ توکل کوي. (٩٩) |

بېشکه د شیطان په هغو خلکو تسلط نه وي چې ایمان یې راوړی وي او په خپل رب توکل کوي.

إِنَّمَا سُلۡطَٰنُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَوَلَّوۡنَهُۥ وَٱلَّذِينَ هُم بِهِۦ مُشۡرِكُونَ (١٠٠)

| |
|---|
| إِنَّمَا بېشکه خبره دا ده سُلۡطَٰنُهُۥ چې د هغه(شیطان) برلاسی عَلَى په ٱلَّذِينَ هغو خلکو دی يَتَوَلَّوۡنَهُۥ چې په خپله اراده(اختیار) د هغه وسوسې مني، او پیروي یې کوي وَ ٱلَّذِينَ او په هغو خلکو هُم چې هغوی بِهِۦ د هغه(یعني د شیطان د وسوسو) په سبب مُشۡرِكُونَ شرک کوونکې دي (١٠٠) |

«بېشکه شيطان په هغو خلکو برلاسی او غالب دی،چې هغوی پخپل اختيار او اراده سره د هغه وسوسې منې او پيروي يې کوي،او د هغه ( د پيروی او لمسون) په سبب شرک کوي(د الله تعالی سره) »

يَتَوَلَّوْنَهُۥ « يعني:په خپله خوښه د شيطان ملګرتيا او پيروي کول.»

مثال:

د يو سړي په فکر کې راځي که دروغ ونه وايې تاوان دی(همدا شيطاني وسوسه ده)،خو عقل ،فطرت او دين ورته وايي: چې دروغ بد او ستره ګناه ده،ليکن سړی په شعوري ډول يعني د پوهې سره د عقل فطرت او دين خلاف فيصله کوي ، د شيطان وسوسه په خپله خوښه منې،او دروغ وايې،همدې ته د شيطان ملګرې او پيروي وايې،چې سړی يې پخپله خوښه کوی،ځکه شيطان په فکر کې د وسوسې اچولو څخه زيات نور هيڅ شی په فزيکي ډول نشي کولای.

---

وَإِذَا بَدَّلْنَآ ءَايَةً مَّكَانَ ءَايَةٍ ۙ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ قَالُوٓاْ إِنَّمَآ أَنتَ مُفْتَرٍۭ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ(١٠١)

| |
|---|
| وَإِذَا او کله چې بَدَّلْنَآ بدل کړو مونږ ءَايَةً يو آيت مَّكَانَ په ځای ءَايَةٍ ۙ د بل آيت وَٱللَّهُ نو الله تعالی أَعْلَمُ ښه پوهيږي بِمَا په هغه څه چې يُنَزِّلُ نازلوي يې قَالُوٓاْ (خو)هغوی(يعني کافران) وايې إِنَّمَآ چې بېشکه خبره دا ده أَنتَ چې ته مُفْتَرٍۭ ۚ دروغ جوړونکی يې(معاذالله) بَلْ (داسې نه ده) بلکې أَكْثَرُ اکثره هُمْ هغوی لَا نه يَعْلَمُونَ پوهيږي.(١٠١) |

دا مبارک آیت د کافرانو د دې اعتراض جواب دی:چې وايي: قران محمد(صلی الله علیه وسلم) پخپله جوړ کړی،ځکه که د الله تعالی کلام و نو احکام به يې نه بدليدل.فرمايي:

او کله چې مونږ د يو حکم په ځای بل حکم نازل کړو،نو الله تعالی ښه پوهيږي په هغه څه چې نازلوي يې.

(يعني الله تعالی هر حکم د خپل علم او حکمت له مخې د وخت او د خلکو د حالت مطابق نازلوي،

مثلاً د شرابو په باره کې: په لومړي پړاو کې فرمايي: وَمِن ثَمَرَٰتِ ٱلنَّخِيلِ وَٱلۡأَعۡنَٰبِ تَتَّخِذُونَ مِنۡهُ سَكَرًا وَرِزۡقًا حَسَنًاۗ (النحل:٦٧) ترجمه:«د کجورو او انګورو څخه تاسو هم نشه کوونکې شي جوړوئ،او هم ښه رزق.»

دلته شراب حرام اعلان نه شول،خو الله تعالی نشه کونکی شی او ښه رزق بيل بيل ياد کړل،يعنی اشاره وشوه چې ښه شی نه دی.

دوهم پړاو: تاوان يې ډېر دی. يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡخَمۡرِ وَٱلۡمَيۡسِرِۖ قُلۡ فِيهِمَآ إِثۡمٞ كَبِيرٞ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَإِثۡمُهُمَآ أَكۡبَرُ مِن نَّفۡعِهِمَاۗ (البقرة:٢١٩) «يعني په شرابو کې يو څه ګټه شته خو ګناه او زيان يې ډېر لوی دی».دلته: لا هم بشپړ حرام نشول،خو ذهنونه تيار شول چې دا بد کار دی.

دريم پړاو:د لمانځه پر وخت منع: يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقۡرَبُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنتُمۡ سُكَٰرَىٰ (النساء:٤٣) -«د نشې په حالت کې لمونځ ته مه نژدې کيږئ» نو خلک مجبور شول چې يا شراب پريږدي،او يا يې د لمانځه په وخت کې ونه څښي.

څلورم وروستی پړاو: مکمل حرام. يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡخَمۡرُ وَٱلۡمَيۡسِرُ وَٱلۡأَنصَابُ وَٱلۡأَزۡلَٰمُ رِجۡسٞ مِّنۡ عَمَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِ فَٱجۡتَنِبُوهُ «شراب ناپاک دي،د

شیطان کار دی،باید پرېښودل شي»(المائدة:۹۰) صحابه کرامو:د دې حکم په اوریدو سره شراب توی کړل او پرې یې ښودل.

دا ولې په یو ځل حرام نه شول؟ ځکه چې: شراب د عربانو عادت وو،که په یو دم حرام شوي وای،پرېښودل به یې خلکو ته ډېر سخت وو.

نو الله تعالی :خلکو ته وخت ورکړ،عقلونه یې ورو ورو تیار کړل،دا هماغه خبره ده چې آیت فرمایې:الله تعالی ښه پوهیږي په هغه څه چې نازلوي یې(کله او ولې).

خو کافران دا خبره د پیغمبر«صلی الله علییه وسلم» په ضد کاروي،او نبي علیه السلام ته:) وایې:چې دا خبرې ته د ځانه جوړوي(یعنې دا ستا خپلې خبرې دي،د الله تعالی کلام نه دی.خو ستونزه په قرآن کې نه ده،ستونزه د خلکو په پوهه کې ده،فرمایې:) هغوی اکثره نه پوهیږي.(یعنې د کافرانو دا تور د عقل او پوهې له مخې نه دی،بلکې د ناپوهۍ له امله دی.

---

قُلْ نَزَّلَهُ رُوحُ ٱلْقُدُسِ مِن رَّبِّكَ بِٱلْحَقِّ لِيُثَبِّتَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَهُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ (۱۰۲)

قُلْ (کافرانو ته) ووایه نَزَّلَهُ نازل کړی دا (قرآن) رُوحُ ٱلْقُدُسِ جبریل علیه السلام مِن رَّبِّكَ ستا د رب د طرفه بِٱلْحَقِّ په حقه سره لِيُثَبِّتَ د دې دپاره چې محکم کړي(ایمان) ٱلَّذِينَ د هغو خلکو ءَامَنُوا۟ چې ایمان یې راوړی وَهُدًى او لارښودنه ده وَبُشْرَىٰ او زیری دی لِلْمُسْلِمِينَ د مسلمانانو دپاره (۱۰۲)

دا مبارک ایت هم د کافرانو د دې خبرو رد کوي چې ګڼې قرآن د انسان کلام دی،فرمایې:

(کافرانو ته ) ووايه: دا قرآن جبريل عليه السلام زما د رب له لورې په رښتيا سره د دې دپاره نازل کړی دی چې د هغو خلکو (ايمانونه) محکم کړي چې ايمان يې راوړی،او مسلمانانو ته (د ژوند او عمل د سمې لارې)ښوونکی او (د جنت او د الله تعالی په نعمتونو) زيری ورکونکی دی.

---

وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّهُمْ يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُ بَشَرٌ ۗ لِّسَانُ ٱلَّذِى يُلْحِدُونَ إِلَيْهِ أَعْجَمِىٌّ وَهَٰذَا لِسَانٌ عَرَبِىٌّ مُّبِينٌ (١٠٣)

وَلَقَدْ او يقيناً نَعْلَمُ پوهيږو مونږ أَنَّهُمْ چې هغوی(يعني کافران) يَقُولُونَ وايي إِنَّمَا بېشکه خبره دا ده يُعَلِّمُ چې ښوونه کوي(د قرآن) هُ هغه عليه السلام ته بَشَرٌ ۗ يو انسان (خو الله تعالی د هغوی دا خبره ردوي، فرمايي چې:) لِّسَانُ ژبه ٱلَّذِى د هغه سړي يُلْحِدُونَ چې هغوی(يعني کافران) کوته نيسي إِلَيْهِ هغه ته(چې نبي عليه السلام ته قرآن ښيي) أَعْجَمِىٌّ عجمي ده(يعني په عربي نه پوهيږي) وَ حال دا چې هَٰذَا دا (قرآن) لِسَانٌ عَرَبِىٌّ مُّبِينٌ روښانه فصيحه عربي ژبه ده(يعني قرآن د عربي ژبې يو واضحه،روښانه او فصيح متن دی) (١٠٣)

د اهم د کافرانو د دې خبرې رد دی چې ګڼي قرآن نبي عليه السلام د يو نصراني عجمي څخه زده کوي، الله تعالی فرمايي:

بېشکه:مونږ پوهيږو چې هغوی(يعني کافران) وايي:چې نبي عليه السلام ته يو انسان قرآن ورزده کوي(ليکن) هغه انسان ته چې هغوی ګوته نيسي،(يعني هغه ته نسبت کوي د دې خبرې چې نبي عليه السلام ته قرآن ښايي،قرآن فرمايي) چې د هغه ژبه عجمي ده،حال دا چې قرآن خو روښانه او فصيحه عربي ژبه ده(نو دا څنګه ممکنه ده چې يو عجم سړی چې په

خپله هم سم په عربي ژبه نه پوهیږي،هغه دې داسې کلام ولیکي چې د عربو لوی لوی ادیبان يې په فصاحت او بلاغت کې مقابیله نشي کولای)

إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ لَا يَهۡدِيهِمُ ٱللَّهُ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ (۱۰۴)

| |
|---|
| إِنَّ بیشکه ٱلَّذِينَ هغه خلک لَا يُؤۡمِنُونَ چې ایمان نه راوړي بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ د الله تعالی په آیاتونو باندې لَا يَهۡدِيهِمُ ٱللَّهُ الله تعالی هغوی ته هدایت نه کوي وَلَهُمۡ او د هغوی دپاره عَذَابٌ أَلِيمٌ دردناک عذاب دی (۱۰۴) |

«بیشکه هغه کسان چې د الله تعالی په آیاتونو ایمان نه راوړي»(قصداً یې ردوي،د حق د ښکاره کېدو څخه وروسته یې هم نه مني،دا جاهل ناپوهان نه دي،بلکې عنادي منکران دي)،«الله تعالی هغوی ته هدایت نه کوي»(د ددې دا معنی نه ده چې:الله تعالی ظالم دی«نعوذبالله» یا بې سببه څوک بې لارې کوي،بلکې معنی دا ده:کله چې انسان په خپله د حق دروازه وتړي،الله تعالی هم د هدایت توفیق ترې اخلي.)،«او د هغوی لپاره دردناک عذاب دی».(دا د دنیا او آخرت سزا ته اشاره ده،د دې انکار نتیجه ده چې حق یې وپیژاند،خو ویې نه مانه.)

إِنَّمَا يَفۡتَرِي ٱلۡكَذِبَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰذِبُونَ (۱۰۵)

| |
|---|
| إِنَّمَا بیشکه خبره دا ده يَفۡتَرِي چې جوړوي ٱلۡكَذِبَ دروغ ٱلَّذِينَ هغه کسان(بیشکه خبره دا ده:چې هغه خلک د ځانه دروغ جوړوي) لَا يُؤۡمِنُونَ چې ایمان نه راوړي بِـَٔايَٰتِ په آیاتونو |

ٱللَّهِۖ د الله تعالی وَأُوْلَٰٓئِكَ او دغه خلک هُمُ همدوی ٱلْكَٰذِبُونَ
حقیقي دروغجن دي. (١٠٥)

«یوازې هماغه خلک دروغ جوړوي چې د الله تعالی په آیتونو ایمان نه راوړي،او همدوی حقیقي دروغجن دي.»

(یعنې دروغ ویل د رسول الله صلی الله علیه وسلم کار نه دی،بلکې د هغو خلکو عادت دی چې د الله تعالی آیتونه نه مني.)

---

مَن كَفَرَ بِٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ إِيمَٰنِهِۦٓ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُۥ مُطْمَئِنٌّۢ بِٱلْإِيمَٰنِ وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِٱلْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ(١٠٦)

مَن څوک چې كَفَرَ کفر کوي بِٱللَّهِ پر الله تعالی مِنۢ بَعْدِ إِيمَٰنِهِۦٓ وروسته د هغه د ایمان(راوړلو) څخه إِلَّا مَنْ پرته د هغه چا نه أُكْرِهَ چې مجبور شي(په زور سره د کفر کلیمې ویلو ته) وَ حال دا چې قَلْبُهُۥ زړه یې مُطْمَئِنٌّۢ مطمئن(ټینګ) وي بِٱلْإِيمَٰنِ په ایمان وَلَٰكِن لیکن مَّن هغه څوک شَرَحَ چې پرانیزي بِٱلْكُفْرِ د کفر لپاره صَدْرًا سینه فَعَلَيْهِمْ نو په هغوی باندې غَضَبٌ غضب دی مِّنَ ٱللَّهِ د الله تعالی وَلَهُمْ او د دوی لپاره عَذَابٌ عَظِيمٌ ډېر لوی عذاب دی.(١٠٦)

«څوک چې د ایمان راوړلو وروسته په الله تعالی کفر کوي»(یعنې بیرته د کفر الفاظ وایي او کافر کیږي،سزا یې شته)

«خو هغه کس نه چې په زور سره(کفر کولو ته) مجبور شي،او زړه يې لا هم په ايمان ټينګ وي.

ليکن: هغه څوک چې په خپله خوښه او خوشالئ خپله سينه (بيرته)د کفر دپاره پرانيزي،نو په همدغو خلکو د الله تعالى غضب دى،او د دوى لپاره ډېر لوى عذاب دى.»

(مفسرين وايي:دا آيت د عمار بن ياسر رضى الله عنه په اړه نازل شو،مشرکانو سخت عذاب ورکړ،په ژبه يې د کفر خبرې وکړي،خو زړه يې پر ايمان ټينګ و،الله تعالى وفرمايل:که زړه پر ايمان مطمئن او ټينګ وي،نو ژبه چې د زور له امله څه ووايي،ګناه نه ده.)

---

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ ٱسْتَحَبُّواْ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا عَلَى ٱلْـَٔاخِرَةِ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْكَٰفِرِينَ (١٠٧)

| |
|---|
| ذَٰلِكَ دا(غضب او عذاب) بِأَنَّهُمُ ځکه دى چې هغوى ٱسْتَحَبُّواْ خوښ کړ ٱلْحَيَوٰةَ ژوند ٱلدُّنْيَا د دنيا عَلَى ٱلْـَٔاخِرَةِ په آخرت (د آخرت په مقابل کې) وَأَنَّ او ځکه چې ٱللَّهَ الله تعالى لَا يَهْدِى هدايت نه کوي ٱلْقَوْمَ ٱلْكَٰفِرِينَ کافر قوم ته (١٠٧) |

د ١٠٦ آيت دوام دى.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ ٱسْتَحَبُّواْ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا عَلَى ٱلْـَٔاخِرَةِ

«دا(غضب او عذاب په دوى) ځکه دى چې دوى د دنيا ژوند په آخرت غوره کړ»

(يعني دا سزا بې سببه نه ده،دوى دنيا په قصد غوره کړه،ايمان، حق او آخرت يې پرېښود،دا د دوى مجبوري نه وه،بلکې انتخاب و)

وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِى ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ (١٠٧)

«او ځکه چې الله تعالی کافر قوم ته هدایت نه کوي»

(دا د ۱۰۴ آیت تکرار شوی اصل دی،یعني: کله چې انسان په خپله د حق دروازه وتړي،الله تعالی هم د هدایت توفیق ترې اخلي.)

---

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ وَسَمۡعِهِمۡ وَأَبۡصَٰرِهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡغَٰفِلُونَ ﴿١٠٨﴾

أُوْلَٰٓئِكَ دغه ٱلَّذِينَ هغه خلک دي طَبَعَ چې مُهر لګولی ٱللَّهُ الله تعالی عَلَىٰ په قُلُوبِهِمۡ زړونو د هغوی وَسَمۡعِهِمۡ او په غوږونو د هغوی وَأَبۡصَٰرِهِمۡۖ او په سترګو د هغوی وَأُوْلَٰٓئِكَ او دغه خلک هُمُ همدوی ٱلۡغَٰفِلُونَ غافلان دي.

«همدا هغه خلک دي چې:مهر وهلی دی الله تعالی په زړونو د هغوی(چې نه قبلوي حق)،او په غوږونو د هغوی(چې نه اوري حق)،او په سترګو د هغوی(چې نهویني آثار د قدرت)،او همدوی غافلان دي(د غفلت معنی دلته بي خبر نه،بلکې بې پروا ده،یعنې حق ورته ښکاره دی خو اهمیت نه ورکوي.»

(«طبع الله» دا معنی نه لري چې الله تعالی بې سببه څوک بې لارې کوي،بلکې معنی یې دا ده: چې دا خلک د مخکې څخه قصداً حق ردوي،پیغام ورته رسیدلی،حق ورته معلوم دی،بنه پوهیږي چې دا سمه

لار ده او دا کړه،خو د دنیایي ګټو او نفسي خواهشاتو په سبب پخپله خوښه، د پوهې سره سره قصداً د حق د منلو،او د حق په لاره تللو څخه انکار کوي،نو الله تعالی د حق د منلو وړتیا ترې اخلي، مُهر د بنده د ګناهونو او سرکشیو د سزا په توګه لګیږي،یعني مهر د دوی د انتخاب پایله ده،نه د هغوی د پیل حالت.یا په بل عبارت:الله تعالی د هغو خلکو په زړه،غوږ او سترګو مهر لږوي چې پخپله خوښه حق رد کړي،نه دا چې مخکې له مخکې یې مجبور کړي وي.

---

لَا جَرَمَ أَنَّهُمْ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿١٠٩﴾

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لَا جَرَمَ | هیڅ شک نشته | أَنَّهُمْ | چې دوی | فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ | په آخرت | | |
| کې | هُمُ | همدوی | ٱلْخَٰسِرُونَ | تاوانیان دي ﴿١٠٩﴾ | | | |

«هیڅ شک نشته چې همدا خلک په آخرت کې تاوانیان دي»

مطلب دا دی:

چا چې په خپله خوښه کفر غوره کړ،حق یې په قصد رد کړ،تر دې چې زړه ،غوږونه او سترګې یې د حق نه وتړل شوي، نو د دې خلکو وروستۍ نتیجه دا ده: چې په آخرت کې به سخت تاوانیان وي،ځکه ایمان،هدایت او نجات یې د لاسه ورکړي .

«الخاسرون» یوازې مالي تاوان نه دی، بلکې:جنت د لاسه ورکول،د الله تعالی رضا د لاسه ورکول،او ځان د عذاب مستحق کول.

---

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُواْ مِنۢ بَعْدِ مَا فُتِنُواْ ثُمَّ جَٰهَدُواْ وَصَبَرُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ (١١٠)

دا مبارک ایت د داسې خلکو په باره کې دی،چې په داسې ځای او شرایطو کې اوسیږي چې: د زور او ظلم په سبب د کفر د الفاظو په ویلو مجبور شي،یعنې په ژبه د کفر الفاظ ووایې خو په زړه کې یې ایمان وي،او خفه وي،او د نجات نه وروسته هجرت وکړي،او د الله تعالی په لار کې کوشش(جهاد) او صبر وکړي،نو الله تعالی به ورته د هغو کفري الفاظو د ویلو بخښنه وکړي چې د مجبوریت په سبب یې په ژبه ویلي وو.

عمار بن یاسر «رض» او د هغه مور او پلار په مکه معظمه کې د کفارو د ډیرو سختو تکلیفونو او دردونو د رسولو په سبب،اګر چې مور او پلار یې یاسر رضی الله عنه او سُمیه رضی الله عنها شهیدان شول خو د کفر الفاظ یې ونه ویلي،لیکن د دوی ځوی «عمار رضی الله تعالی عنه» د خپل ځان د ویرې د کفر الفاظ وویلي،خو وروسته د نجات څخه په ژړا او انګولا د رسول الله «صلی الله علیه وسلم» په حضور مشرف شو،نو دا آیت نازل شو.

---

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُواْ مِنۢ بَعْدِ مَا فُتِنُواْ ثُمَّ جَٰهَدُواْ وَصَبَرُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ (١١٠)

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ

له دې وروسته،بېشکه ستا رب د هغو کسانو لپاره(د بښنې او رحمت وعده لري)

هَاجَرُواْ مِنۢ بَعْدِ مَا فُتِنُواْ

چې:د ازماېښتونو او کړاوونو څخه وروسته يې هجرت وکړ،

ثُمَّ جَٰهَدُواْ وَصَبَرُوٓاْ

بيايې د حق په لاره کې کوشش(جهاد) وکړ او صبر يې وکړ،

إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعۡدِهَا لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ (١١٠)

بېشکه ستا رب د دې(هجرت،جهاد او صبر کولو) وروسته يقيناً ډېر بښونکی او مهربان دی (يعني کوم د کفر الفاظ يې چې د زور او ظلم په سبب ويلي دي،بخښنه به ورته وکړي)

| |
|---|
| ثُمَّ له دې وروسته إِنَّ بېشکه رَبَّكَ رب ستا لِلَّذِينَ هغو خلکو ته هَاجَرُواْ چې هجرت يې وکړ مِنۢ بَعۡدِ مَا وروسته د هغو ازماېښتونو فُتِنُواْ چې پرې وازمويل شول ثُمَّ بيا يې(يعني د هجرت نه وروسته يې) جَٰهَدُواْ کوشش (جهاد) وکړ وَصَبَرُوٓاْ او صبر يې وکړ إِنَّ بېشکه رَبَّكَ رب ستا مِنۢ بَعۡدِهَا وروسته د دې(هجرت،جهاد او صبر) څخه لَغَفُورٞ خامخا بخښونکی رَّحِيمٞ (او) مهربان دی (١١٠) |

---

يَوۡمَ تَأۡتِي كُلُّ نَفۡسٖ تُجَٰدِلُ عَن نَّفۡسِهَا وَتُوَفَّىٰ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا عَمِلَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ (١١١)

ترجمه:

يَوۡمَ تَأۡتِي كُلُّ نَفۡسٖ

په هغه ورځ(يعنې د قيامت په ورځ چې:) هر څوک به راځي،(د حشر ميدان ته د حساب دپاره)

تُجَٰدِلُ عَن نَّفْسِهَا

نو هر يو به يوازې د خپل ځان دفاع کوي(نه پلار د ځوى وکيل دى،نه ملګرى د ملګري،هر څوک يوازې د خپل حساب ځواب ورکوي)،

وَتُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ

او هر چا ته به د خپلو کړنو پوره پوره بدل ورکول کيږي ،

وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ (١١١)

او په هيڅ چا به ظلم نه کيږي(نه به چا ته زياته سزا ورکول کيږي،او نه د خپل حق نه کم اجر).

(يعنې د قيامت په ورځ به هر انسان يوازې د خپل عمل حساب ورکوي،او د الله تعالى په عدالت کې هيڅ ظلم نشته.)

يَوْمَ په هغه ورځ (يعنې د قيامت په ورځ چې:) تَأْتِى راځي به كُلُّ هر نَفْسٍ انسان (د حشر ميدان ته د حساب دپاره) تُجَٰدِلُ دفاع به کوي عَن نَّفْسِهَا د خپل ځان نه وَ او تُوَفَّىٰ پوره به ورکول کيږي(نه کم نه زيات ) كُلُّ هر نَفْسٍ انسان ته مَّا (بدل) د هغه څه عَمِلَتْ چې هغه کړي دي(په دنيا کې) وَ او هُمْ (په) هغوى لَا يُظْلَمُونَ به ظلم نه کيږي. (١١١)

وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا قَرۡيَةً كَانَتۡ ءَامِنَةً مُّطۡمَئِنَّةً يَأۡتِيهَا رِزۡقُهَا رَغَدًا مِّن كُلِّ مَكَانٍ
فَكَفَرَتۡ بِأَنۡعُمِ ٱللَّهِ فَأَذَٰقَهَا ٱللَّهُ لِبَاسَ ٱلۡجُوعِ وَٱلۡخَوۡفِ بِمَا كَانُواْ يَصۡنَعُونَ ﴿١١٢﴾

وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا قَرۡيَةً كَانَتۡ ءَامِنَةً مُّطۡمَئِنَّةً

او الله تعالی د یو کلي مثال بیان کړ،چې ډاډمن او مطمئن وو

(یعني خلک یې په امن کې وو،نه جګړه وه نه فساد،نه ظلم،په ټول کلي کې عدالت او انصاف و،د هر چا امنیت تأمین و،ټولو خلکو مطمئن او بیغمه ژوند کولو).

يَأۡتِيهَا رِزۡقُهَا رَغَدًا مِّن كُلِّ مَكَانٍ

او د هر ځای څخه ورته پریمانه رزق راتلو.

(یعني اقتصاد یې ښه و،کارو بارونه ښه چلیدل،تجارت یې ښه روان وو،مالونه به د بهر څخه راتلل او تلل،بارانونه او فصلونه پریمانه وو،دا ټول د الله تعالی نعمتونه وو،)

فَكَفَرَتۡ بِأَنۡعُمِ ٱللَّهِ

خو د الله تعالی د نعمتونو ناشکري یې وکړه،

(ظلم،بې عدالتي،کبر او ګناه پکې عامه شوه)

فَأَذَٰقَهَا ٱللَّهُ لِبَاسَ ٱلۡجُوعِ وَٱلۡخَوۡفِ بِمَا كَانُواْ يَصۡنَعُونَ(١١٢)

نو الله تعالی د دوی د کړنو په بدل کې هغوی ته د لوږې او ویرې لباس ورواغوست

(نعمتونه ترې بیرته واخستل شو،د امن په ځای پکې بد امني ،جنګونه،غلاګاني او فسادونه شروع شول،اقتصاد او مالي حالت یې خراب

شو،تجارتونه او فصلونه يې د منځه لاړل،او د سکون او اطمنان په ځای هرې خواته ويره خوره شوه)

---

دا مبارک آيت يوازې د پخوانيو خلکو کيسه نه ده،بلکې د قيامت پورې د هر کلي،هر ښار،هرهيواد او د هر فرد لپاره درس دی ،چې هر کله د الله تعالی د نعمتونو ناشکرې وشي ،ظلم عادي شي،دروغ سياست شي،دين يوازې شعار پاتې شي،نو سقوط حتمې کيږي که ژر وي که ورو.د امن او اطمنان ژوند به يې په بد امنۍ او بې سکونۍ بدل شي،کاروبارونه به يې خراب شي او د اقتصادي مشکلاتو سره به مخ شي........

| |
|---|
| وَ او ضَرَبَ بيان کړ ٱللَّهُ الله تعالی مَثَلًا مثال قَرۡيَةً د يو کلي كَانَتۡ چې و هغه(کلی) ءَامِنَةً په امن مُّطۡمَئِنَّةً (او) مطمئن يَأۡتِيهَا چې راتلو به ورته رِزۡقُهَا رزق د هغه( کلي خلکو ته) رَغَدًا پريمانه مِّن د كُلِّ هر مَكَانٍ ځای نه فَ خو كَفَرَتۡ ناشکرې وکړه (د کلي خلکو) بِ په أَنۡعُمِ نعمتونو ٱللَّهِ د الله تعالی فَ نو أَذَٰقَهَا ورواغوستلو(«ورورڅکلولو» د هغه کلي خلکو ته) ٱللَّهُ الله تعالی لِبَاسَ لباس ٱلۡجُوعِ د ولږې وَ او ٱلۡخَوۡفِ ويرې بِمَا په سبب د هغو (عملونو) كَانُواْ يَصۡنَعُونَ چې دوی به کول (۱۱۲) |

وَلَقَدۡ جَآءَهُمۡ رَسُولٞ مِّنۡهُمۡ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمُ ٱلۡعَذَابُ وَهُمۡ ظَٰلِمُونَ(۱۱۳)

وَلَقَدۡ جَآءَهُمۡ رَسُولٞ مِّنۡهُمۡ

او ببشکه هفوی ته د دوی د منځه پيغمبر راغلی و،

(يعنې د هغوی په ژبه يې ورته د الله تعالی پيغام ورسولو.)

فَكَذَّبُوهُ

خو هغوی هغه علیه السلام دروغجن وباله،(یعنې د پوهېدلو نه وروسته یې د تکبر او ګټې په سبب د الله تعالی پیغام رد کړ)

فَأَخَذَهُمُ ٱلْعَذَابُ

نو عذاب ونیول،(یعنې پیغمبر ته د دروغجن نسبت کول او د الله تعالی د پیغام د نه منلو په سبب عذاب پرې راغئ)

وَهُمْ ظَٰلِمُونَ (١١٣)

او هغوی ظالمان وو.(یعنې الله تعالی په دوی ظلم ونکړ،چې عذاب یې پرې راوستو،بلکې دوی پخپله په ځان ظلم وکړ،ځکه چې په خپله خوښه یې د دنیا د عزت اوتکبر په وجه د پیغمبر دعوت رد کړی وو)

---

نن هم د الله تعالی پیغام د دینې علماوو او داعیانو پواسطه د مختلفو وسیلو لکه کتابونو،تقریرونو او د میډیا پواسطه خلکو ته رسیږي،پیغام روښانه دی،خو ستونزه په منلو کې ده.نن خلک: حق ته زاړه فکرونه وایي،نصیحت ته افراطي خبرې وایې،دین ته د پرمختګ ضد وایې،دا هماغه پخوانی انکار دی،خو په نوې ژبه.نن د عذاب بڼه داسې ده:ذهني فشارونه او خفګان،د کورنیو ړنګیدل،د باور نشتوالی،بې برکته شتمني،جګړې او ناامني.

همدارنګه په بل چا ظلم کول، د بل حق خوړل،په حق سترګې پټول،حلال پریښودل،حرام غوره کول.....دا ټول په حقیقت کې په خپل ځان ظلم کول دي.

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| وَ او | لَقَدْ بېشکه | جَآءَ راغلی و | هُمْ هغوی ته | رَسُولٌ | | | |
| یو رسول | مِّنْهُمْ د هغوی د منځ ځینې | فَ خو | كَذَّبُو هغوی | | | | |

دروغجن وباله ۀ هغه(رسول) فَ نو أَخَذَ ونیول هُمُ هغوی ٱلۡعَذَابُ عذاب وَ او هُمۡ هغوی ظَٰلِمُونَ ظالمان وو. (۱۱۳)

فَكُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَٰلٗا طَيِّبٗا وَٱشۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ إِيَّاهُ تَعۡبُدُونَ ﴿۱۱٤﴾

مخکې ایتونو کې ذکر شو:

کله چې تولنه د الله تعالی د نعمتونو ناشکري وکړي،ولږه،ویره او عذاب پرې راشي،په دې مبارک آیت کې یې د حل لاره ده،فرمایې:حلال وخورئ،پاک وخورئ،شکر وباسئ،یوازې زما عبادت وکړئ.

---

فَكُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَٰلٗا طَيِّبٗا

نو خورئ تاسو د هغه څه څخه چې الله تعالی تاسو ته روزي درکړې ده،حلاله او پاکه.

(یعني سود مه کوئ،غلا مه کوئ،رشوت مه اخلئ،خیانت مه کوئ،د غریب مال مه خورئ،ظلم مه کوئ........صرف حلال مال او پاک مال وګټئ،او هغه څه خورئ چې شریعت حلال کړي دي)

وَٱشۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ

او د الله تعالی د نعمتونو شکر کوئ

(شکر یوازې دا نه دی چې په خوله وایې:« الحمد لله»بلکې عملي شکر باید وایستل شي، د الله تعالی نعمتونه غلط استعمال

نشي.دولت،اقتدار،ځوکی باید د ځان او نورو انسانانو د خیر دپاره استعمال شي نه د شر لپاره،علم او ټیکنالوژۍ باید په ځمکه کې د فساد لپاره استعمال نشي بلکې د بشر د فایدې لپاره.........)

إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ

که چیرې تاسو یوازې د هغه «جل جلاله »عبادت کوئ

(یعنې :قانون،اخلاق،ارزښتونه ټول به د الله تعالی د حکم سره برابر وي)

| |
|---|
| فَ نو كُلُواْ خورئ مِمَّا د هغه څه نه رَزَقَ چې روزي درکړې كُمُ تاسو ته ٱللَّهُ الله تعالی حَلَٰلًا حلال طَيِّبًا (او) پاک وَ او ٱشْكُرُواْ شکر کوئ نِعْمَتَ د نعمت ٱللَّهِ د الله تعالی إِن که چیرې كُنتُمْ یاستئ تاسو(هغه کسان چې) إِيَّا یوازې هُ د هغه «جل جلاله» تَعْبُدُونَ عبادت کوئ. |

إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ ٱلْمَيْتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحْمَ ٱلْخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيْرِ ٱللَّهِ بِهِۦۖ فَمَنِ ٱضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ(١١٥)

مخکې ایت کې ذکر شو چې حلال او پاک خورئ،اوس د هغو حرامو ذکر دی چې باید و نه خوړل شي.

---

إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ ٱلْمَيْتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحْمَ ٱلْخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيْرِ ٱللَّهِ بِهِۦۖ

بېشکه الله تعالی په تاسو باندې مرداره،وینه،د خنزیر غوښه او هغه څاروي حرام کړي دي چې (د حلالیدو په وخت کې) وربانديې د الله تعالی څخه پرته د بل کوم چا نوم اخستل شوئ وي.

( اګر که د حلالیدو په وخت کې «بسم الله » هم ووایې:خو که نیت یې د پیر ،زیارت،بت......خوشالي او رضا وي،بیا هم حرام دی،ځکه مقصد د الله تعالی دپاره نه دی.)

فَمَنِ ٱضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ(۱۱۵)

خو که څوک ډېر مجبور شي،په داسې حال کې چې نه سر غړونکی وي او نه د حده تیریدونکی،نو بېشکه الله تعالی بخښونکی او مهربان دی.

(یعنې:که د ولږې په سبب د چا د مرګ خطر وي،خو په دې شرط چې نه یې د ګناه کولو نیت وي،او نه یې د ضرورت څخه د زیات خوراک نیت وي،یوازې دومره خورې چې ژوند یې د مرګ څخه وژغورل شي،نو د ذکر شوو حرامو شیانو خوراک ورته جایز دی.)

إِنَّمَا بېشکه حَرَّمَ هغه«جل جلاله» حرامه کړې عَلَيْ په کُمُ تاسو ٱلْمَيْتَةَ مرداره وَ او ٱلدَّمَ وینه وَ او لَحْمَ غوښه ٱلْخِنزِيرِ د خنزیر وَ او مَآ هغه(څاروي) أُهِلَّ چې نوم اخستل شوی وي لِغَيْرِ پرته د ٱللَّهِ الله تعالی بِ په هٖۦ هغه (د بل چا، د حلالیدو په وخت کې) فَ خو مَنِ څوک چې ٱضْطُرَّ مجبور شو(د ذکر شوو حرامو په خوړلو،په داسې حال کې چې:) غَيْرَ نه بَاغٍ سرغړوونکی وي وَ او لَا نه عَادٍ د حده تیریدونکی وي فَ نو إِنَّ بېشکه ٱللَّهَ الله تعالی غَفُورٌ بخښونکی رَّحِيمٌ (او) مهربان دی.(۱۱۵)

وَلَا تَقُولُواْ لِمَا تَصِفُ أَلۡسِنَتُكُمُ ٱلۡكَذِبَ هَٰذَا حَلَٰلٌ وَهَٰذَا حَرَامٌ لِّتَفۡتَرُواْ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ لَا يُفۡلِحُونَ(۱۱۶)

په ۱۱۵ ایت کې ذکر شو چې مرداره،وینه،د خوږ غوښه،او هغه څاروي چې د ذبح کیدلو په وخت کې پرې پرته د الله تعالی څخه د غیرالله نوم اخستل شوی وي دا ټول حرام دي،الله تعالی په خپله حلال او حرام وټاکل،اوس خلکو ته خبرداری ورکوي،چې له دې څخه وروسته د ځانه حلال او حرام مه جوړوئ.

---

وَلَا تَقُولُواْ لِمَا تَصِفُ أَلۡسِنَتُكُمُ ٱلۡكَذِبَ هَٰذَا حَلَٰلٌ وَهَٰذَا حَرَامٌ لِّتَفۡتَرُواْ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ لَا يُفۡلِحُونَ(۱۱۶)

او مه وایاست: د هغه څه په اړه چې ستاسو ژبې یې په دروغو بیانوي چې«دا حلال دي او دا حرام دي» د دې لپاره چې په الله تعالی باندې دروغ جوړوئ(یعني د ځانه حکم جوړوئ او نسبت یې الله تعالی ته کوئ)،بېشکه هغه خلک چې په الله تعالی باندې دروغ جوړوي،هیڅکله نه کامیابیږي.

( یعني د الله تعالی حلال: حلال ومنئ،او حرام: حرام ومنئ،او د ځانه حلال او حرام مه جوړوئ،او مه یې نسبت الله تعالی ته کوئ،مثلاً ځینې خلک د غواګانو غوښې د ځان لپاره حراموي،«دا د حلالو حرامول دي»،او ځینې خلک د زیارتونو،پیرانو او بتانو په نوم نذرونه ورکوي او حلال یې بولي،«دا د حرامو حلالول دي».د حرامو او حلالو ټاکنه یوازې د الله تعالی واک دی،څوک چې د ځانه د حلال او حرام حکمونه جوړوي،بدعت کوي،او په الله تعالی دروغ وایې.)

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| وَ او | لَا مه | تَقُولُواْ وایاست: | لِمَا د هغه څه په اړه | تَصِفُ | | | |
| چې بیانوي | أَلۡسِنَتُكُمُ ژبې ستاسو | ٱلۡكَذِبَ دروغ | هَٰذَا چې دا | | | | |
| حَلَٰلٌ حلال دي | وَ او | هَٰذَا دا | حَرَامٌ حرام دي | لِّتَفۡتَرُواْ | | | |

دې دپاره چې جوړ کړئ عَلَى په ٱللَّهِ الله تعالی ٱلْكَذِبَ ۚ
دروغ إِنَّ بېشکه ٱلَّذِينَ هغه خلک يَفْتَرُونَ چې جوړوي
عَلَى په ٱللَّهِ الله تعالی ٱلْكَذِبَ دروغ لَا نه يُفْلِحُونَ
كاميابيږي(١١٦)

مَتَٰعٌ قَلِيلٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (١١٧)

١١٦ ايت فرمايي:څوک چې په الله تعالی دروغ جوړوي نه بريالی کيږي
١١٧ آيت دا خبره نوره هم روښانه کوي،«دا کسان که څه هم اوس خوند اخلي ،خو انجام يې عذاب دی.»

---

مَتَٰعٌ قَلِيلٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ(١١٧)

(د دنيا خو) لږه موده خوند اخيستل دي،او د دوی لپاره ډېر دردناک عذاب دی.

«مَتَٰعٌ قَلِيلٌ» د دوی ټولې ګټې:شهرت،پيسې،د خلکو منل،د دنيا خوندونه،دا ټول لنډمهاله او لږ دي.

« وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ» نو په آخرت کې به يې سخت دردناک عذاب وي،ځکه چې:د دين په نوم يې دروغ وويل، د الله تعالی پورې يې خبرې وتړلې،او خلک يې ګمراه کړل.

مَتَٰعٌ (د دنيا) خوند قَلِيلٌ لږه موده دی وَ او لَهُمْ د دوی
لپاره عَذَابٌ عذاب دی أَلِيمٌ دردناک (١١٧)

وَعَلَى ٱلَّذِينَ هَادُواْ حَرَّمۡنَا مَا قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ مِن قَبۡلُۖ وَمَا ظَلَمۡنَٰهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ(١١٨)

د مخکې آیتونو سره تړاو:

١١٥آیت:حقیقي حرام شیان یې بیان کړل.

١١٦آیت:د ځانه حرام او حلال جوړول یې منع کړل.

١١٧ آیت:د دې کار انجام یې عذاب وښود.

١١٨آیت:اوس د یهودو مثال راوړي.

وَعَلَى ٱلَّذِينَ هَادُواْ حَرَّمۡنَا مَا قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ مِن قَبۡلُۖ وَمَا ظَلَمۡنَٰهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ(١١٨)

او په هغو خلکو چې یهودیان وو،مونږ هغه څه حرام کړل،چې مخکې مو تا ته بیان کړي وو،او مونږ پر هغوی هیڅ ظلم نه دی کړی،بلکې هغوی په خپله په خپلو ځانونو ظلم کاوه.

(الله تعالی په یهودو ځینې شیان حرام کړي وو«هر نوک لرونکی حیوان لکه ځینې مرغان او ځناور،او د غواګانو او پسونو وازدې،پرته د هغو وازدو څخه چې د کولمو،ملا او هډوکو پورې نښتي وي،خو دا حرامونه د اصل شریعت برخه نه وه،بلکې د هغوی د نافرمانی سزا وه

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| وَ | او | عَلَى | په | ٱلَّذِينَ | هغو خلکو | هَادُواْ | چې یهودیان شوي |
| حَرَّمۡنَا | حرام کړل مونږ | مَا | هغه څه | قَصَصۡنَا | چې بیان کړي | | |
| عَلَيۡكَ | مونږ تا ته | مِن قَبۡلُۖ | د دې نه مخکې | وَ | او | مَا | |

ظَلَمْنَٰهُمْ　مونږ ظلم نه دی کړی په دوی　وَلَٰكِن　بلکې　كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمْ
يَظْلِمُونَ　دوی په خپله په ځانونو ظلم کاوه (١١٨)

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ عَمِلُواْ ٱلسُّوٓءَ بِجَهَٰلَةٍ ثُمَّ تَابُواْ مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ
مِنۢ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ(١١٩)

د مخکینیو آیتونو سره تړاو:

(١١٥-١١٨) آیتونه د حرامو،افتراء سزا او عذاب خبرې کوي.

١١٩ ایت د رحمت دروازه خلاصوي،یعني :که څوک خطا شي،د رحمت دروازه بنده نه ده.

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ عَمِلُواْ ٱلسُّوٓءَ بِجَهَٰلَةٍ ثُمَّ تَابُواْ مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ
مِنۢ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ(١١٩)

ترجمه:

بیا هم(سره د دې تولو خبرو): ببشکه ستا رب د هغو خلکو دیاره (ډیر بخښوونکی دی) چې بد کار یې د ناپوهی له امله کړی وي،بیا د هغه(بد کار د کولو) وروسته توبه وباسي،او ځان سم(او اصلاح)کړي،ببشکه ستا رب د دې (توبې او ځان اصلاح کولو)څخه وروسته ډېر ببنونکی او مهربان دی.

یا لا روانه ترجمه:

كه څوک د ناپوهۍ له وجهې ګناه وکړي،بیا پښیمانه شي،توبه وباسي او خپل عمل سم کړي،،نو الله تعالی به یې وبښي،ځکه هغه(ج)ډیر بخښونکی او مهربان دی.

| |
|---|
| ثُمَّ بیا هم( سره د دې ټولو خبرو) إِنَّ بېشکه رَبَّكَ رب ستا لِلَّذِينَ د هغو خلکو د پاره عَمِلُواْ چې کړۍ یې وي ٱلسُّوٓءَ بد کار بِجَهَٰلَةٍ د ناپوهۍ په سبب ثُمَّ بیا تَابُواْ توبه وباسي مِنۢ بَعۡدِ وروسته د ذَٰلِكَ دې(بد کار د کولو څخه) وَ او أَصۡلَحُوٓاْ ځان سم (او اصلاح) کړي إِنَّ بېشکه رَبَّكَ رب ستا مِنۢ بَعۡدِ وروسته د هَا دې( توبې او اصلاح کولو نه) لَغَفُورٞ خامخا بخښونکی(او) رَّحِيمٌ مهربان دی (۱۱۹) |

إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِّلَّهِ حَنِيفًا وَلَمۡ يَكُ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ(۱۲۰)

د مخکې آیتونو سره تړاو

په ۱۱۹ آیت کې: د توبې او رحمت یادونه وشوه.

۱۲۰ آیت د پوره بندګی نمونه(ابراهیم علیه السلام) ښيي.

| |
|---|
| إِنَّ بېشکه إِبۡرَٰهِيمَ ابراهیم علیه السلام كَانَ و أُمَّةً یو امت قَانِتًا بشپړ پرمانبردار لِّلَّهِ الله تعالی ته حَنِيفًا یوازې حق ته مخ اړوونکی (په حق ولاړ و) وَ او لَمۡ نه يَكُ و هغه مِنَ د ٱلۡمُشۡرِكِينَ مشریکانو (د ډلې څخه) (۱۲۰) |

بېشکه ابراهیم علیه السلام یو امت و،د الله تعالی بشپړ فرمانبردار و،یوازې په حق ولاړ و،او د مشرکانو څخه نه و.

«علما وايي: کله چې ټول خلک باطل پرست وي،يو حق پال سړى هم امت بلل کيږي.»

---

شَاكِرًا لِّأَنْعُمِهِۚ ٱجْتَبَىٰهُ وَهَدَىٰهُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ(١٢١)

د مخکې آيت(١٢٠) سره تړاو:

١٢٠ آيت وايي: بشپړ پرمانبردار و،په حق ولاړ و،او مشرک نه و.دا د هغه عليه السلام باطني حالت و.

١٢١ آيت: د هغه عليه السلام د هغه حالت نتيجه بيانوي:عملي شکر يې وويستو،الله تعالى انتخاب کړو،او هدايت يې ورته وکړو.

| |
|---|
| شَاكِرًا (ابراهيم عليه السلام) شكر كوونكى و لِّأَنْعُمِهِۚ د هغه«جل جلاله» د نعمتونو ٱجْتَبَىٰهُ (نو) هغه«جل جلاله»غوره کړ هغه عليه السلام وَ او هَدَىٰهُ هدايت يې وكړ هغه عليه السلام ته إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ سمې لارې ته (الى= ته،صراط= لار،مستقيم= سمه/نيغه/مستقيمه) (١٢١) |

هغه(ابراهيم عليه السلام) د الله تعالى د نعمتونو شكر كوونكى و،نو الله تعالى هغه عليه السلام غوره کړ، او سمې لارې ته يې ورته هدايت وکړ.

---

وَءَاتَيْنَٰهُ فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةًۖ وَإِنَّهُۥ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ(١٢٢)

د مخکيني آيت سره تړاو:

۱۲۱ آیت:د ابراهيم«عليه السلام» کردار،شکر،اخلاص او هدايت بيانوي.

۱۲۲ آیت:د همدې کردار انعام او اجر بيانوي.

وَ او ءَاتَيْنَٰهُ مونږ ورکړي وه هغه«عليه السلام) ته فِى ٱلدُّنْيَا په دنيا کې حَسَنَةًۖ نيکي (يعني نبوت،رسالت،صالح اولاد،عزت....) وَ او إِنَّهُۥ بېشکه هغه«عليه السلام» فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ په آخرت کې(به هم) لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ خامخا د صالحانو څخه وي. (۱۲۲)

مونږ ابراهيم عليه السلام ته په دنيا کې ښه ژوند او عزت ورکړ،او په آخرت کې به هم د له نيکانو څخه وي.

---

ثُمَّ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ أَنِ ٱتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ حَنِيفًاۖ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ(۱۲۳)

د مخکينيو آيتونو سره تړاو:

۱۲۱ آیت:د ابراهيم«عليه السلام» کردار،شکر،اخلاص او هدايت بيانوي.

۱۲۲ آیت:د همدې کردار د دنيا او آخرت اجر بيانوي.

۱۲۳ آیت:رسول الله«صلى الله عليه وسلم» ته حکم دی چې د ابراهيم«عليه السلام) د دين پيروي وکړه.

ثُمَّ بيا وروسته أَوْحَيْنَآ مونږ وحي وکړه إِلَيْكَ تا ته أَنِ چې
ٱتَّبِعْ پيروي وکړه مِلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ د ابراهيم عليه السلام د دين
حَنِيفًاۖ په حق(او توحيد)ولاړ وَ او مَا نه كَانَ و هغه«عليه
السلام» مِنَ د ٱلْمُشْرِكِينَ مشرکانو(د ډلې نه) (۱۲۳)

خطاب رسول الله«صلی الله علیه وسلم» ته دی.

بيا مونږ تا ته وحي وکړه چې د ابراهیم«علیه السلام» د دين پيروي وکړه،هغه چې موحد و،او د مشرکانو څخه نه و.

(يعني:اسلام نوی دين نه دی،بلکې: د ابراهيم عليه السلام د توحيدي لارې دوام دی.)

---

إِنَّمَا جُعِلَ ٱلسَّبْتُ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱخْتَلَفُواْ فِيهِۚ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ(۱۲۴)

د مخکيني ايت ره تړاو:

په ۱۲۳ آيت:کې نبي عليه السلام او اسلامي امت ته حکم دی چې د ابراهيم عليه السلام د دين پيروي وکړئ.

اوس په (۱۲۴)آيت کې د مشرکانو او کتابيانو د دې اعتراض جواب دی،«چې د ابراهيم عليه السلام په دين کې خو تعظيم د خالي (یا شنبې) د ورځې وو،خو نبي عليه السلام او مسلمانان يې نه کوي،نو نبي عليه السلام او مسلمانان څنګه د ابراهيم عليه السلام په دين روان دي چې د خالي په ځای د جمعې د ورځې تعظيم کوي؟.»

جواب دا دی چې:د شنبې ورځ د ابراهیم علیه السلام د دین حصه نه وه،بلکې دا د سزا په توګه په هغو خلکو لازم شوې چې د الله تعالی په حکم کې يې اختلاف وکړ،داسې چې:موسی علیه السلام د الله تعالی په حکم بني اسرائیلو ته د جمعې ورځ د عبادت دپاره وټاکله،خو ځینو خلکو د الله تعالی په حکم کې اختلاف وکړ،او ویې ویل چې مونږ د خالي یا شنبې ورځ غواړو،د الله تعالی د ټاکنې سره یې بحث وکړ،خپله خوښه یې غوره وګڼله،دا اختلاف او سرغړونه وه،نو الله تعالی عذاب پرې نازل نکړو خو: د خالي ورځ یې د سختو بندیزونو سره په هغو خلکو چې اختلاف یې کړئ وو،د سزا په توګه لازم کړه، سزا ځکه بلل کیږي چې،شنبه یوازې د عبادت ورځ نه شوه،بلکې په شنبه کار کول مطلق حرام شول،حتی ښکار،سودا،کسب او د ماهیانو نیول هم بند شو،د امتحان او سخت بندیز ورځ شوه.دا حکم ډېر سخت و،د نافرمانۍ پایله عذاب و،مثلاً: لکه «اصحاب السبت»یا د بني اسرائیلو هغه خلک چې د شنبې دورځې تعظیم او بندیزونه پرې فرض شوي وو، خو د دې ورځې احترام یې ونکړ،په چل یې ماهیان ونیول،نو الله تعالی ډېر سخت عذاب ورکړ،او هلاک یې کړل.دا ښیي چې دا حکم ډېر جدي ازمايښت او سزا وه.(ابن کثیر،طبري...)

إِنَّمَا بېشکه خبره دا ده جُعِلَ چې لازم شو(چې فرض شو) ٱلسَّبْتُ (تعظیم د ورځې د) شنبې عَلَى په ٱلَّذِينَ هغه خلکو ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ ۚ چې اختلاف یې په کې کړئ وو وَإِنَّ او بېشکه رَبَّكَ ستا رب لَيَحْكُمُ به خامخا فیصله وکړي بَيْنَهُمْ د دوی تر منځ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ د قیامت په ورځ فِيمَا په هغو خبرو کې كَانُوا۟ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ چې دوی به په کې اختلاف کاوه..(۱۲۴)

د شنبې حکم یوازې پر هماغو خلکو لازم کړای شو چې پخپله یې په هغه کې اختلاف کړی و،او ببشکه ستا رب به د قیامت په ورځ د هغوی تر منځ د هغو خبرو پریکړه وکړي چې هغوی به په کې اختلاف کاوه.

------------------------------------------------------------------

ٱدْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلْحِكْمَةِ وَٱلْمَوْعِظَةِ ٱلْحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلْهُم بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦۖ وَهُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُهْتَدِينَ (۱۲۵)

د مخکینیو آیتونو سره تړاو:

په ۱۲۴ آیت: کې د خلکو د اعترض او شک جواب دی.یعنې « د شنبې ورځ د ابراهیمي دین حصه نه وه،بلکې په یهودیانو د جزا په توګه د ډیرو سختو بندیزونو سره لازم شوي وه.

۱۲۵ آیت: اوس چې د مشرکانو او کتابیانو د اعتراض جواب او حق واضح شو،نو خلکو ته د حق دین ته د دعوت ورکولو حکم، او د دعوت طریقې بیان شوي.

لفظي ترجمه:

ٱدْعُ دعوت ورکړه (خلکو ته) إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ ستا د رب لارې ته « إِلَىٰ = ته، سَبِيلِ = لار ، رَبِّكَ =ستا د رب» بِٱلْحِكْمَةِ په حکمت سره وَٱلْمَوْعِظَةِ ٱلْحَسَنَةِۖ او په ښکلې نصیحت سره « وَ = او، ٱلْمَوْعِظَةِ =نصیحت ،ٱلْحَسَنَةِۖ = نیک» وَجَٰدِلْهُم او بحث وکړه د هغوی سره بِٱلَّتِى په داسې طریقه سره هِىَ چې هغه (طریقه) أَحْسَنُۚ ډیره بهتره وي إِنَّ بیشکه رَبَّكَ رب ستا هُوَ هغه«جل جلاله» أَعْلَمُ ښه پوه دی بِمَن په هغه چا ضَلَّ چې

| |
|---|
| ګمراه شوی عَن د سَبِيلِهِۦ د هغه«جل جلاله» د لارې نه وَ او هُوَ هغه«جل جلاله» أَعْلَمُ ښه پوه دی بِٱلْمُهْتَدِينَ په هدايت موندنکو باندې (١٢٥) |

ٱدْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلْحِكْمَةِ وَٱلْمَوْعِظَةِ ٱلْحَسَنَةِۖ

خلک د خپل رب لارې ته په حکمت او نيک نصيحت سره راوبله.

وَجَٰدِلْهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحْسَنُۚ

او د هغوی سره په داسې طريقه بحث وکړه چې ډېره ښه وي.

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦۖ

بېشکه ستا رب په هغه چا ډېر ښه پوه دی چې د هغه«جل جلاله» د لارې نه ګمراه شوی دی،

وَهُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُهْتَدِينَ (١٢٥)

او بېشکه هغه«جل جلاله» ډېر ښه پوه دی په لار مندونکو باندې(يعنې په هغه چا چې د الله تعالی په لاره روان دي)

////////////////

(١)

د داعي نيت بايد د الله تعالی د رضا دپاره وي،نه د دې دپاره چې خلکو ته ځان لوی عالم او سم ثابت کړي.

(٢)

باید د مخاطب یا د هر کس حالت په نظر کې ونیول شي،څکه هر انسان جدا جدا حالت لرې لکه عمر،پوهه،مشکلات،تجربې.......

(۳)

عقل،منطق او دلیل باید وکارول شي،څکه نن خلک پوښتنه کوي،بې دلیله خبره نه مني ،مثلاً:د شرعي حکم سره سره د حرامو زیانونه په عقل سره هم ور وښیه.

(۴)

د پیغام رسول باید په نرمو الفاظو وي،څکه سخت الفاظ دروازه تړي،مخاطب(ستا اوریدونکی) د حق د قبلولو څخه تښتوي،او نرم الفاظ دروازه خلاصوي او مخاطب حق ته نژدې کوي.

(۵)

خلکو ته اول امید ورکړه،یعنې اول ورته د الله تعالی رحمت ور وښیه،مثال:«الله تعالی مهربان دی،که په ځان کې بدلون راوړي،توبه وباسې،الله یې قبلوي،بیا ورو ورو مسئولیت وریاد کړه.

(۶)

د بحث او اختلاف ادب باید وساتل شي، مثلاً:ستا خبره مې واوریده،خو زما فکر دا سې دی.

(۷)

خپله ښه نمونه اوسه،څکه:خلک ستا عمل ته ګورې،مثلاً:رښتیا وایه،امانت وساته،نرم چلیره—همدا دعوت دی.

(۸)

ټول بحثونه مه ګټه،کله چوپ پاتې کيدل ښه وي. مثلاً:که بحث ډېر تود شو،نو ووايه چې:ښه ده،بل وخت به پرې وغږېږو.

(٩)

نتيجه په زور مه غواړه،ته يوازې پيغام رسوي،مثلاً نصيحت وکړه،بيايې پرېږده،---- بدلول د الله تعالى کار دى.

(١٠)

د الله تعالى دين خلکو ته سخت مه ښکاره کوه،

وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُواْ بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُم بِهِۦۖ وَلَئِن صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصَّٰبِرِينَ ﴿١٢٦﴾

وَٱصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِٱللَّهِۚ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِى ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ(١٢٧)

إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْ وَّٱلَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ(١٢٨)

تړاو:

په ١٢٥ ايت کې د تبليغ طريقې بيان شوې،خو که ځينې جاهل خلک د ښو اخلاقو او نيکو خبرو با وجود هم دعوت ونه منې،او ايمان رانوړي،او برعکس داعي ته د ډول ډول روحې او فزيکې تکليفونو رسولو کوشش کوي،نو په وروستيو درې آيتونو کې داعي ته لارښودنه کيږي چې: د داسې خلکو په مقابل کې بايد څه ډول چلند او عکس العمل وښيې.ظاهره ده چې مخاطب رسول الله صلى الله عليه وسلم دي،خو حکم د قيامت پورې ټول امت دى.

وَإِنْ او كه عَاقَبْتُمْ تاسو بدل اخلی فَعَاقِبُواْ نو بدل واخلئ
بِمِثْلِ په شان مَا د هغه څه عُوقِبْتُم چې تاسو ته سزا دركول
شوي بِهِۦۖ په هغه وَلَئِن او يقيناً كه صَبَرْتُمْ تاسو صبر
وكړئ(بدل وانخلی) لَهُوَ بېشكه دا(صبر) خَيْرٌ ډېر ښه دی
لِّلصَّٰبِرِينَ صبر كوونكو ته (١٢٦)
وَٱصْبِرْ او صبر وكړه وَمَا او نه دی صَبْرُكَ صبر ستا إِلَّا
مگر بِٱللَّهِۚ د الله تعالی په توفيق سره دی وَلَا تَحْزَنْ او ته مه
خفه كيږه عَلَيْهِمْ په هغوی باندې(چې ايمان نه راوړي) وَلَا تَكُ
او ته مه كيږه فِى ضَيْقٍ زړه تنگی مِّمَّا يَمْكُرُونَ د هغو مكرونو
له امله چې هغوی يې كوي (١٢٧)
إِنَّ ٱللَّهَ بېشكه الله تعالی مَعَ ٱلَّذِينَ د هغو خلكو سره دی ٱتَّقَواْ
چې پرهيزگاره دي وَّٱلَّذِينَ او د هغو خلكو(سره دی) هُم چې
هغوی مُّحْسِنُونَ احسان كوونكې دي.(١٢٨)

روانه ترجمه:

١٢٦:كه بدله اخلئ،نو يوازې هماغومره واخلئ چې درسره شوي وي؛خو كه صبر وكړئ،نو ډېره بهتره ده صبركوونكو ته.

تفسير:

يعني د تبليغ او دعوت په لار كې: كه د خلكو د طرف نه تا ته سختي او تكليف در ورسول شي،نو د قدرت او قوت د حاصلولو په وخت كې ته اجازه لرې،چې څنگه يې درسره كړي،هماغسي ورسره وكړي،او په مساوي ډول ترې بدل واخلې،ليكن د صبر مقام د دې نه لوړ دی، كه صبر وكړي،او بدله وانخلې،نو د دې نتيجه ستا دپاره د بدل اخستلو څخه ډېره

بهتره ده.صبر دلته درې شیان رانغاړي:بدله نه اخستل،غصه کنټرولول،او که توان وي بخښل،او بخښنه د صبر لوړه درجه ده. صبر ځکه غوره دی: چې صبر د نفس کنټرول،د دعوت اخلاق،د شخړې د پراخیدلو بندول،او الله تعالی ته نزدې کیدل دي.

۱۲۷: او صبر کوه؛ستا صبر یوازې د الله تعالی په مرسته دی.پر هغوی مه خفه کیږه(چې ایمان نه راوړي)،او د هغوی د دسیسو له امله زړه مه تنګوه.

تفسیر:

یعنې صبر د ایمان او د الله تعالی په مرسته ولاړ قوت دی،داعي باید د خلکو په انکار زړه مات نکړي،کله خلک:دعوت نه منې،بدې خبرې کوي،مخالفت کوي،الله تعالی فرمایې:په هغوی باندې مه خفه کیږه چې ولې ایمان نه راوړي،ځکه ته د هدایت مالک نه یې،الله تعالی هدایت ورکوي.د هغوی د دسیسو او پلانونو څخه مه ویریږه،خپل کار کوه،،او زړه مه تنګوه.

۱۲۸:بېشکه الله تعالی د هغو خلکو سره دی چې پرهیزګاره دي او نیکي کوونکي دي.

تفسیر:

یعنې د الله تعالی مرسته،ساتنه،ملاتړ او لارښوونه د هغو خلکو سره ده چې د الله تعالی نافرماني نه کوي،انصاف کوي،ظلم نه کوي،ښه عمل کوي،بد په ښو بدلوي او داخلاقو لوړ معیار لرې.

مثال:

ته د خپل نږدې ملګرې سره ناست يې د ماښام وخت دی،ته ورته په نرمۍ وايې:«وروره د لمونځ وخت دی،راځه چې يوځای يې وکړو» ملګری دې درې ډوله غبرګون ښيي:

اول حالت: دربانديې ملنډې وهي، وايې:«ته ډېر ملا شوی يې! ما پرېږده ،ځه خپل کار کوه»

ستا چلند د آيت مطابق: سپکاوی نه کوي.يوازې دومره وايې:«زه صرف نصيحت کوم،مجبوروول نشته» نه جګړه کوي،نه سپکاوی.

دوهم حالت:درته سخت غوسه شي او په ډېره تنده لهجه درته وايې:«بيا دا خبره ونکړې!»

ستا چلند د آيت مطابق:

ځان کنټرولوي،غصه نه کوي،بحث نه غځوې،په زړه کې وايې: «يا الله، ما ته صبر راکړه».هغه ته وايې«ښه ده وروره،څنګه چې تا ته اسانه وي». دا صبر دی—بدله نه اخستل.

۳ حالت: وروسته بيا يوه ورځ ورسره مخ کيږي.

ستا چلند د آيت مطابق:

ته عادي او ښه چلند ورسره کوي:سلام په مينه ورکوي،مرسته ورسره کوي او کله کله په ډېره نرمه لهجه يادونه کوي،هغه ګورې چې ته نصيحت کوي،زور نه کاروي،دا احسان دی(يعنې بدله ترې نه اخلې،او د بدو پر ځای ورسره ښه کوي)،او دا د محسن(احسان کوونکې) اخلاق دي.

تمّت سورة النحل بعونه و توفيقه،و لله الحمد.